**مفهوم عنصر قانونی جرم**

**مادهٔ ۳۲:**

**(۱) عنصر قانونی جـــرم عبـــارت از تصریح عمل جرمی و جزای معـــین آن در این قانون می‌باشد.**

**(۲) اصل قانونیت جرم وجزا در مادهٔ ۷ ایـــن قـــانون تصـــریح گردیـــده است.**

## قسمت دوم

## عنصر مادی جرم

**مفهوم عنصر مادی جرم**

**مادهٔ ۳۳:**

**عنصر مادی جرم عبـــارت اســـت از ارتکاب عمل مخالف قانون یا امتناع از اجرای عملی که قانون بـــه آن حکـــم نموده است به نحوی که ارتکاب یـــا امتناع منجر به نتیجهٔ جرمی گردیده و**

پايلې تمام شي او د عمل او پايلې ترمنځ د سببيت اړيکه موجوده وي.

## د قانون مخالف عمل او د قانوني عمل له اجراء څخه ډډه کول

**۳۴ ماده:**

(۱) د قانون مخالف عمل، د داسې فعل اجراء ده چې ارتکاب يا د هغه پيلول د قانون په واسطه منع او جرم پېژندل شوی وي.

(۲) د قانوني عمل له اجراء څخه ډډه کول، هغه فعل دی چې قانون پر هغه حکم کړی يا د هغه مکلفيت نه ايفا کول دي چې قانون شخص د هغه په اجراء ملزم کړی وي.

## د جرم پايله

**۳۵ ماده:**

د جرم پايله د جرمي عمل له محصول څخه عبارت ده چې د جرمي فعل د ارتکاب يا د قانوني فعل له اجراء څخه د ډډې کولو له امله را منځته کېږي.

رابطهٔ سببيت ميان عمل و نتيجه موجود باشد.

## عمل مخالف قانون و امتناع از اجرای عمل قانونی

**مادهٔ ۳۴:**

(۱) عمل مخالف قانون، اجرای فعلی است که ارتکاب يا شروع به آن توسط قانون منع و جرم شناخته شده باشد.

(۲) امتناع از اجرای عمل قانونی، فعلی است که قانون به آن حکم نموده يا عدم ايفای مکلفيتی است که قانون شخص را ملزم به اجرای آن نموده باشد.

## نتيجهٔ جرم

**مادهٔ ۳۵:**

نتيجهٔ جرم عبارت از محصول عمل جرمی است که از اثر ارتکاب فعل جرمی يا امتناع از اجرای فعل قانونی به وجود می‌آيد.

## د سببیت اړیکه

**۳٦ ماده:**

د سببیت اړیکه د جرمي عمل او د هغه د پایلې ترمنځ د متعارفې اړیکې له شتون څخه عبارت ده.

## د عمل او پایلې ترمنځ اړیکه

**۳۷ ماده:**

(۱) شخص له هغه جرم څخه چې د هغه د جرمي عمل پایله نه وي، مسؤول نه پېژندل کېږي.

(۲) هغه شخص چې د هغه جرمي عمل د دمخه علتونو یا له فعل سره یوځای او یا له وروستیو علتونو څخه د یوه په اعتبار د پایلې په احداث کې سهیم شوی وي، مسؤول پېژندل کېږي.

که څه هم چې شخص د پایلې په احداث کې د خپل جرمي عمل په اغېزمنتوب، علم و نلري.

(۳) که چېرې د شخص عمل په یوازیتوب سره د جرم په احداث کې کافي وشمېرل شي، موصوف له خپل جرمي عمل څخه مسؤول پېژندل کېږي.

## رابطهٔ سببیت

**مادهٔ ۳٦:**

رابطهٔ سببیت عبارت از موجودیت رابطهٔ متعارف میان عمل جرمی و نتیجهٔ آن می‌باشد.

## رابطه میان عمل و نتیجه

**مادهٔ ۳۷:**

(۱) شخص از جرمی که نتیجه عمل جرمی وی نباشد، مسؤول شناخته نمی‌شود.

(۲) شخصی که عمل جرمی وی در احداث نتیجه به اعتبار یکی از علل قبلی یا توأم با فعل و یا علل بعدی، سهیم شده باشد، مسؤول شناخته می‌شود.

گرچه شخص به مؤثریت عمل جرمی خود در احداث نتیجه، علم نداشته باشد.

(۳) هرگاه عمل شخص به تنهایی در احداث نتیجهٔ جرم کافی شمرده شود، موصوف از عمل جرمی خود مسؤول شناخته می‌شود.

## دریيمه برخه

## د جرم معنوي عنصر

### د جرم د معنوي عنصر مفهوم

**۳۸ ماده:**

د جرم معنوي عنصر له جرمي قصد، په جرم او د هغه پر پايلې يا جرمي خطا له علم او خبرتيا څخه عبارت دی.

### جرمي قصد

**۳۹ ماده:**

(۱) جرمي قصد د هغه فعل ارتکاب ته د فاعل د ارادې له سوق څخه عبارت دی چې جرم منځته راوړي، پداسې ډول چې د تر نظر لاندې جرم د پايلې په وقوع يا د بل جرم د پايلې په وقوع تمام شي.

(۲) جرمي قصد د آني، له دمخه اصرار سره يو ځای، ټاکلي او نا ټاکلي قصد ته شاملېږي.

### له د مخه اصرار سره يوځای قصد

**۴۰ ماده:**

قصد هغه وخت له دمخه اصرار سره

## قسمت سوم

## عنصر معنوی جرم

### مفهوم عنصر معنوی جرم

**مادۀ ۳۸:**

عنصر معنوی جرم عبارت است از قصد جرمی، علم و آگاهی به جرم ونتیجۀ آن یا خطای جرمی.

### قصد جرمی

**مادۀ ۳۹:**

(۱) قصد جرمی عبارت است از سوق ارادۀ فاعل به ارتکاب فعلی که جرم را به وجود می‌آورد، به نحوی که منجر به وقوع نتیجۀ جرم مورد نظر و یا وقوع نتیجۀ جرم دیگری شود.

(۲) قصد جرمی شامل قصدآنی، توأم با اصرار قبلی، معین و غیر معین می‌باشد.

### قصد توأم با اصرار قبلی

**مادۀ ۴۰:**

قصد زمانی توأم با اصرار قبلی شمرده

یوځای ګټل کېږي چې مرتکب د جرم له ارتکاب څخه مخکې، د هغه د اجراء لپاره برنامه جوړه کړې وي. له دمخه اصرار سره یوځای قصد شونی دی ټاکلي شخص یا نا ټاکلي شخص ته متوجه وي.

## آني قصد

**۴۱ ماده:**

قصد هغه وخت آني ګڼل کېږي چې شخص د دمخه تصمیم له نیولو پرته، د بهرنیو عواملو تر اغېزې لاندې یا د آني غضب او هیجاناتو په پایله کې، په ارادې سره، د جرمي عمل مرتکب شي.

## ټاکلی قصد

**۴۲ ماده:**

قصد هغه وخت ټاکلی ګڼل کېږي چې د مرتکب اراده معینې پایلې ته متوجه وي. د جرم فاعل د خپل عمل مشخصې او معینې پایلې وړاندوینه کړې وي.

## نا ټاکلی قصد

**۴۳ ماده:**

قصد هغه وخت نا ټاکلی پېژندل کېږي

می‌شود که مرتکب قبل از ارتکاب جرم، برای اجرای آن برنامه ریزی نموده باشد. قصد توأم با اصرار قبلی ممکن است متوجه شخص معین یا غیر معین باشد.

## قصد آنی

**مادهٔ ۴۱:**

قصد زمانی آنی پنداشته می‌شود که شخص بدون اتخاذ تصمیم قبلی، تحت تأثیر عوامل خارجی یا در نتیجهٔ غضب آنی و هیجانات، با اراده، مرتکب عمل جرمی گردد.

## قصد معین

**مادهٔ ۴۲:**

قصد زمانی معین پنداشته می‌شود که ارادهٔ مرتکب متوجه نتیجهٔ معین باشد. فاعل جرم نتیجهٔ مشخص و معین عمل خود را پیش بینی نموده باشد.

## قصد غیر معین

**مادهٔ ۴۳:**

قصد زمانی غیر معین پنداشته می‌شود

چې د مرتکب اراده معينې پايلې ته متوجه نه وي. مرتکب، د ټاکلي عمل يا ټاکلي پايلې قصد و نلري.

**عمدي جرم**

**۴۴ ماده:**

(۱) جرم هغه وخت عمدي پېژندل کېږي چې د هغه د مرتکب سره جرمي قصد محقق وي.

(۲) جرم په لاندې حالتونوکې هم عمدي پېژندل کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې مرتکب د عمل په اجراء يا له قانوني مکلفيت څخه له ډډې کولو او د هغو له پايلو څخه خبر وي خو بيا هم دقانون د مخالف عمل په ارتکاب يا له قانوني مکلفيت څخه په ډډې کولو يې اقدام کړی وي.

۲- په هغه صورت کې چې شخص د قانون يا موافقه ليک پر موجب، د دندې په ترسره کولو مکلفيت ولري او د هغو له ترسره کولو څخه قصداً ډډه وکړي په داسې ډول چې د هغه ډډه کول د

که ارادۀ مرتکب متوجه نتيجه معين نباشد. مرتکب، قصد عمل معين يا نتيجه معين را نداشته باشد.

**جرم عمدی**

**مادۀ ۴۴:**

(۱) جرم وقتی عمدی شناخته می شود که قصد جرمی نزد مرتکب آن محقق باشد.

(۲) جرم در حالات ذيل نيز عمدی شناخته می شود:

۱- در صورتی که مرتکب به اجرای عمل يا امتناع از مکلفيت قانونی و نتايج آن آگاهی داشته ولی با آنهم به ارتکاب عمل مخالف قانون يا امتناع از مکلفيت قانونی اقدام نموده باشد.

۲- در صورتی که شخص به موجب قانون يا موافقت نامه، به انجام وظيفه مکلفيت داشته و از ايفای آن قصداً امتناع ورزد، به نحوی که امتناع وی منجر به وقوع

جرم په واقع کېدو تمام شي.

**خطا یا غیر عمدي جرم**

**۴۵ ماده:**

جرم هغه وخت غیر عمدي یــا خطــا پېژندل کېږي چې د اهـــمال، بـې احتیاطی، غفلت یا د قوانینو او مقرراتو د نه رعایت له امله یې صورت موندلی وي او فاعل د خپل عمل پایلې پیشبیني کړې نه وي.

**جرمي انګېزه**

**۴٦ ماده:**

جرمي انګېزه د جرم د معنوي عنصر په اړوند اغېزه نلري، یوازې د مجازاتو د اقل حد او اکثر حد په ټــاکلو کــې اغېزمنه ګڼل کېږي.

## دریم فصل

## په جرم پیل او د هغه حالتونه

**په جرم پیل**

**۴۷ ماده:**

په جرم پیل د جنایــت یــا جنحــې د ارتکاب په قصد د عمل په اجراء لــه

جرم گردد.

**جرم خطا یا غیرعمدی**

**مادۀ ۴۵:**

جرم زمانی غیر عمدی یا خطا شناخته می شود کــه بــه اثــر اهـــمال، بی احتیاطی، غفلت یا عــدم رعایــت قوانین و مقررات صورت گرفته و فاعل نتایج عمل خود را پیش بینی نه نموده باشد.

**انگیزۀ جرمی**

**مادۀ ۴٦:**

انگیزۀ جرمی در رابطه به عنصر معنوی جرم تأثیر نداشته، صــرف در تعیــین حداقل و حد اکثر مجــازات مــؤثر دانسته می‌شود.

## فصل سوم

## شروع به جرم و حالات آن

**شروع به جرم**

**مادۀ ۴۷:**

شــروع بــه جــرم عبــارت اســت از آغاز به اجرای عمل به قصد ارتکاب

پیلولو څخه عبارت دی پداسې ډول چې د هغه آثار د فاعل له ارادې څخه د بهر اسبابو په پام سره متوقف یا خنثي شوي وي.

## د جرم په ارتکاب کې د تفکــر او تصمیم پړاوونه

**۴۸ ماده:**

د جرم په ارتکاب د تفکر اړوند حالات یا مجرد تصمیم په جرم پیل نـــه ګڼـــل کېږي.

## د تجهیزاتي وسایلو برابـــرول او د مقدماتي اعمالو تر سره کول

**۴۹ ماده:**

(۱) د تجهیزاتي وسایلو برابرول او د مقدماتي اعمالو تر سره کول د جرم د ارتکاب په منظور د وسایلو او آلاتو له برابرولو یا د زمینې له مساعدولو څخه عبارت دي.

(۲) د تجهیزاتي وسایلو برابرول او د مقدماتي اعمالو تر سره کول، جرم نه پېژندل کېږي، خو دا چې د تجهیزاتي وسایلو برابرول او د مقدماتي اعمالو تر

جنایت یا جنحـــه بـــه نحـــوی کـــه نظـــر بـــه اســـباب خـــارج از ارادهٔ فاعل آثار آن، متوقف یا خنثی شـــده باشد.

## مراحل تفکر و تصمیم در ارتکاب جرم

**مادهٔ ۴۸:**

حالات مربوط به تفکر یا مجرد تصمیم به ارتکاب جرم، شروع به جرم شناخته نمی‌شود.

## تهیهٔ وسایل تجهیزاتـــی و انجـــام اعمال مقدماتی

**مادهٔ ۴۹:**

(۱) تهیهٔ وسایل تجهیزاتـــی و انجـــام اعـــمال مقـــدماتی عبـــارت انـــد از فراهم آوری وســـایل و آلات یـــا مساعد ساختن زمینه بمنظور ارتکـــاب جرم.

(۲) تهیـــهٔ وســـایل تجهیزاتـــی و انجام اعمال مقدماتی، جرم شـــناخته نمی‌شـــود، مگـــر ایـــن کـــه تهیـــه وسایل تجهیزاتی و انجـــام اعـــمال

سره کول په خپل ذات کې جرم ګڼـــل شوی وي.

**عقیم یا مستحیل جرمونه**

**۵۰ ماده:**

د هغه جنایت یا جنحې د ارتکاب پـــه قصد د عمل ترسره کول چې پایله یې د جرم په موضوع یا د وسایلو اســـتعمال پورې د اړوندو عواملو لـــه رهګـــذره عقیمه یا مستحیله وي، په جرم د پیل په حکم کې ګڼل کېږي، پدې شرط چې د جرمي پایلې په احداث کې د مرتکـــب باور له تېرو تنې یا مطلق جهالت څخه را پیدا شوی نه وي.

**ارادي انصراف**

**۵۱ ماده:**

هغه شخص چې په آزاده اراده د جرمي عمل له ارتکاب څخه انصراف وکړي، جزايي مسؤولیت نلري.

**په جنایت د پیل مجازات**

**۵۲ ماده:**

په جنایت پیل کـــوونکی پـــه لانـــدې مجازاتو محکومېږي، خو دا چې پدې

مقدماتی به ذات خود جرم شناخته شده باشد.

**جرایم عقیم یا مستحیل**

**مادۀ ۵۰:**

اجرای عمل به قصد ارتکاب جنایت یا جنحه ای که نتیجـــۀ آن از رهگـــذر عوامل مربوط به موضوع جـــرم یـــا استعمال وسایل، عقیم یـــا مســـتحیل باشد، در حکم شروع به جرم شناخته می‌شود، مشروط بر ایـــن کـــه بـــاور مرتکب در احـــداث نتیجـــۀ جرمـــی ناشی از اشتباه یـــا جهالـــت مطلـــق نباشد.

**انصراف ارادی**

**مادۀ ۵۱:**

شخصی که به ارادۀ آزاد از ارتکـــاب عمل جرمی انصراف نماید، مسؤولیت جزایی ندارد.

**مجازات شروع به جنایت**

**مادۀ ۵۲:**

شروع کننده به جنایت به مجازات ذیل محکوم می‌گردد، مگر این که در این

قانون کې بل ډول تصريح شوي وي:
۱- په هغو مواردو کې چې د اصل جرم جزا اعدام وي، په ۲ درجه دوام حبس.
۲- په هغو مواردوکې چې داصل جرم جزا ۱ درجه دوام حبس وي، په طويل حبس.
۳- په هغو مواردوکې چې داصل جرم جزا ۲ درجه دوام حبس وي، په متوسط حبس.
۴- په هغو مواردوکې چې داصل جرم جزا طويل حبس وي، په قصير حبس.

**په جنحې د پيل مجازات**

**۵۳ ماده:**

په جنحې د پيل کوونکي مجازات د هغې جزا چې په قانون کې د اصل جرم لپاره پيشبيني شوې ده، د اقل حد له يو پر څلورمې زياته نه وي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول تصريح شوي وي.

قانون طور ديگری تصريح شده باشد:
۱- در مواردی که جزای اصل جرم، اعدام باشد، به حبس دوام درجه۲.
۲- در مواردی که جزای اصل جرم، حبس دوام درجه۱باشد، به حبس طويل.
۳- در مواردی که جزای اصل جرم، حبس دوام درجه۲ باشد، به حبس متوسط.
۴- در مواردی که جزای اصل جرم، حبس طويل باشد، به حبس قصير.

**مجازات شروع به جنحه**

**مادۀ۵۳:**

مجازات شروع کننده به جنحه از يک چهارم حد اقل جزايی که در قانون برای اصل جرم پيش بينی شده است، بيشتر نمی‌باشد، مگر اين که در اين قانون طور ديگری تصريح شده باشد.

**په جرم پیل کې د جزا د تناسب رعایت**

**۵۴ ماده:**

محکمه مکلفه ده ترڅو په جرم د پیل د جزا په ټاکلو کې، د فعل د ټولنیز خطر ماهیت او اندازه، د فاعل شخصیت او هغه عوامل په پام کې ونیسي چې د جرم د نه ختمېدو سبب شوی دی.

**په قباحت پیل**

**۵۵ ماده:**

په قباحت پیل جرم ندی، مرتکب یې نه مجازات کېږي.

**په جرم پیل کې د تبعي، تکمیلي جزاګانو او تأمیني تدبیرونو رعایت**

**۵٦ ماده:**

په جرم د پیل په مجازاتو د شخص د محکومیت پر وخت په تبعي، تکمیلي مجازاتو او تأمیني تدبیرونو پورې متعلق خاص حکمونه چې د تام جرم په هکله پیشبیني شوي دي، په جرم دپیل د جزا په هکله هم تطبیقېږي.

**رعایت تناسب جزا در شروع به جرم**

**مادهٔ۵۴:**

محکمه مکلف است تا در تعیین جزای شروع به جرم، ماهیت و اندازهٔ خطر اجتماعی فعل، شخصیت فاعل و عواملی را در نظر بگیرد که سبب عدم اتمام جرم گردیده است.

**شروع به قباحت**

**مادهٔ ۵۵:**

شروع به قباحت جرم نبوده، مرتکب آن، مجازات نمی گردد.

**رعایت جزاهای تبعی، تکمیلی و تدابیر تأمینی در شروع به جرم**

**مادهٔ۵٦:**

حین محکومیت شخص به مجازات شروع به جرم، احکام خاص متعلق به جزاهای تبعی، تکمیلی و تدابیر تأمینی که در مورد جرم تام پیش بینی شده است، در مورد جزای شروع به جرم نیز تطبیق می‌گردد.

## څلورم فصل

## د جرم فاعل، شریک او معاون

### د جرم فاعل

**۵۷ ماده:**

(۱) فاعل، هغه شخص دی چې په یوازیتوب یا د نورو په ګډون د جرم د مادي عمل مرتکب شوی وي.

(۲) فاعل د مرتکبه جرم په ټاکلې جزا محکومېږي.

### د جرم شریک

**۵۸ ماده:**

(۱) شریک، هغه شخص دی چې د جرم له مادي اعمالو څخه د یوه یا څو عملونو په ارتکاب کې، آګاهانه او په مستقیم ډول له فاعل یا نورو فاعلینو سره سهیم (برخوال) وي.

(۲) شریک د هغه جرم په مجازاتو چې ګډون یې پکې کړی دی، محکومېږي.

## فصل چهارم

## فاعل، شریک و معاون جرم

### فاعل جرم

**مادۀ۵۷:**

(۱) فاعل، شخصی است که عمل مادی جرم را به تنهایی یا به اشتراک دیگران مرتکب شده باشد.

(۲) فاعل به جزای معینۀ جرم مرتکبه، محکوم می‌گردد.

### شریک جرم

**مادۀ۵۸:**

(۱) شریک، شخصی است که در ارتکاب یک یا چند عمل از اعمال مادی جرم، آگاهانه و به طور مستقیم با فاعل یا فاعلین دیگر سهیم باشد.

(۲) شریک به مجازات جرمی که در آن اشتراک نموده است، محکوم می‌گردد.

## د جرم معاون

**۵۹ ماده:**

(۱) په جرم کې معاونت د سببیت په شکل په مجرمانه عمل کې د دخالت په معني دی، پداسې ډول چې معاون د جرم د مادي عمل په ارتکاب کې مستقیم دخالت ونلري.

(۲) شخص له لاندې حالتونو څخه په یوهٔ کې د جرم معاون پېژندل کېږي:

۱- شخص د جرم ارتکاب ته تحریک، تهدید، تطمیع، یا وهڅوي یا په دسیسې یا فریب یا له قدرت څخه په ناوړې ګټې اخیستنې سره د جرم د وقوع موجب شي.

۲- د جرم په ارتکاب له بل شخص سره موافقه وکړي او جرم د همدې موافقې له امله منځته راشي.

۳- د جرم له فاعل سره په یو ډول نه یو ډول د جرم د ارتکاب په تجهیزاتي یا تسهیلاتي اعمالو کې په هغو د علم په لرلو سره، مرسته وکړي او جرم د همدې مرستې له امله منځته راشي.

## معاون جرم

**مادهٔ ۵۹:**

(۱) معاونت درجرم به معنی دخالت در عمل مجرمانه به شکل سببیت است طوریکه معاون در ارتکاب عمل مادی جرم دخالت مستقیم نداشته باشد.

(۲) شخص در یکی از حالات آتی معاون جرم شناخته می شود:

۱- به ارتکاب جرم شخص را تحریک، تهدید، تطمیع یا تشویق نماید یا با دسیسه یا فریب یا سوء استفاده از قدرت موجب وقوع جرم گردد.

۲- به ارتکاب جرم با شخص دیگری موافقت نماید و جرم به اثر همین موافقت بوجود آید.

۳- فاعل جرم را به نحوی از انحاء در اعمال تجهیزاتی یا تسهیلاتی ارتکاب جرم با داشتن علم به آن، کمک نماید و جرم در اثر همین کمک به وجود آید.

(۳) معاون د مرتکبه جرم له مجـــازاتو څخه په یوه ټیټه درجه جزا محکومېږي. خو داچې پدې قانون کې بل ډول حکم شوی وي.

**سازمان ورکوونکی**

**٦۰ ماده:**

(۱) سازمان ورکوونکی هغه شـــخص دی چې جرمي سازمان موندل شوې ډله جوړه، رهبري، هدایت یا ســــازماندهي کړي.

(۲) سازمان ورکوونکی د مرتکبه جرم د اکثرحد په یو نیم چنـــد مجــــازاتو محکومېږي. پدې شرط چې د حـــبس موده له دېرشو کلونو څخـــه تجـــاوز ونکړي.

**جرمي سازمان موندل شوې ډله**

**٦۱ ماده:**

(۱) جرمي سازمان شوې ډله د دریو تنو یا زیاتو له هغهٔ منسجم تشکل څخـــه عبارت ده چې په منظمه توګه د جنایت یا جنحې د یوهٔ یا څو جرمونو د ارتکاب په موخه، د مستقیم یـــا غیرمســـتقیم

(۳) معاون به جزای یک درجه پائین تر از مجازات جـــرم مرتکبـــه محکـــوم می‌گردد. مگر این که در این قـــانون طور دیگری حکم شده باشد.

**سازمانده**

**مادهٔ ٦۰:**

(۱) ســــازمانده شخصـــی اســـت که گروه ســـازمان یافتـهٔ جرمـــی را تشکیل، رهبری، هدایت یا سازماندهی نماید.

(۲) سازمانده به یـــک و نـــیم چنـــد حد اکثر مجازات جرم مرتکبه محکوم می‌گردد. مشـــروط بـــر ایـــن کـــه مدت حبس از ســـی ســـال تجـــاوز ننماید.

**گروه سازمان یافتهٔ جرمی**

**مادهٔ ٦۱:**

(۱) گروه سازمان یافتهٔ جرمی عبارت است از تشکل منسجم سه نفر یا بیش از آن، که به صورت منظم به هـــدف ارتکـــاب یـــک یـــا چنـــد جـــرم جنایت یا جنحه، جهت حصول مستقیم

منفعت د ترلاسه کولو لپاره، فعالیت وکړي.

(۲) د سازمان موندل شوو جرمونو مرتکبین د مرتکبه جرم په اکثر حد مجازاتو، محکومېږي.

**د اباحت د اسبابو رعایت او د شریک یا معاون په هکله د مسؤولیت خنډونه**

**٦۲ ماده:**

(۱) که چېرې فاعل د اباحت د اسبابو د شتون په دلیل مجازات نشي، شریک او معاون هم نه مجازات کېږي.

(۲) په هغو مواردوکې چې د جرم فاعل د جزایی مسؤولیت د خنډونو د شتون په دلیل مجازات نشي دغه امر د جرم د شریک او معاون د مجازاتو خنډ نه کېږي.

**د جرم غیر متوقعه پایله**

**٦۳ ماده:**

که چېرې د جرم فاعل او شریک د داسې عمل مرتکب شي چې د هغهٔ د پایلې د واقع کېدو قصد ونلري، د هغهٔ

یا غیر مستقیم منفعت فعالیت نماید.

(۲) مرتکبین جرایم سازمان یافته به حد اکثر مجازات جرم مرتکبه، محکوم می‌گردند.

**رعایت اسباب اباحت و موانع مسؤولیت در مورد شریک یا معاون**

**مادهٔ٦۲:**

(۱) هرگاه فاعل به دلیل موجودیت اسباب اباحت مجازات نشود، شریک و معاون نیز مجازات نمی‌گردد.

(۲) در مواردی که فاعل جرم به دلیل وجود موانع مسؤولیت جزایی مجازات نشود این امر مانع مجازات شریک و معاون جرم نمی‌گردد.

**نتیجهٔ غیر متوقعهٔ جرم**

**مادهٔ٦۳:**

هرگاه فاعل و شریک جرم عملی را مرتکب گردند که قصد وقوع نتیجهٔ آن را نداشته باشند، به جزای جرمی که

جرم په جزا چې واقع شوی دی محکومېږي، پدې شرط چې نوموړی جرم د پېشبيني وړ وي او د هغوی د عمل پايله وي.

## د جرم يا جزا د وصف بدلون

۶۴ ماده:

که چېرې د جرمي عمل د ارتکاب په وخت کې، داسې مادي حالات پېښ شي چې د هغو له امله د جرم يا جزا وصف بدلون ومومي، د هغو پايلې پر ټولو فاعلينو، شريکانو او معاونانو تطبيقېږي، پدې شرط چې نوموړي حالات د هغوی د ټولو د عمل په پايله کې منځته راغلي وي.

## د جرم يا جزا د وصف په بدلون کې د خاص حالت راڅرګندېدل

۶۵ ماده:

(۱) که چېرې له شريکانو يا معاونانو څخه د يوهٔ په هکله خاص حالات شتون ومومي چې د هغهٔ په اړه د جرم په وصف کې د بدلون موجب شي، د هغو پايلې پر نورو شريکانو يا معاونانو اغېزه

واقع شده است محکوم می گردند، مشروط بر این که جرم مذکور قابل پیش بینی بوده و نتیجهٔ عمل آنها باشد.

## تغییر وصف جرم یا جزا

مادهٔ۶۴:

هرگاه در اثنای ارتکاب عمل جرمی، حالات مادی رخ دهد که از اثر آن وصف جرم یا جزا تغییر نماید، نتایج آن بالای همه فاعلین، شرکا و معاونین تطبیق می گردد، مشروط بر این که حالات مذکور در نتیجهٔ عمل همه آنها به وجود آمده باشد.

## بروز حالت خاص در تغییر وصف جرم یا جزا

مادهٔ۶۵:

(۱) هرگاه در مورد یکی از شرکا یا معاونین حالات خاصی موجود شود که موجب تغییر وصف جرم در مورد وی گردد، نتایج آن به سایر شرکاء یا معاونین، تأثیر

نلري.

(۲) په شریک یا معاون باندې د خاصو حالاتو پایلې هغهٔ وخت اغېزناکې دي چې پرهغو خبرتیا ولري.

(۳) که چېرې داسې خاص حالات شتون وومي چې له شریکانو او معاونینو څخه د یوهٔ په هکله د جزا د بدلون موجب شي، د هغو پایلې پر نورو شریکانو او معاونانو اغېزه نه اچوي.

## د فاعل په قصد کې بدلون

**٦٦ ماده:**

که چېرې د فاعل قصد یا د هغهٔ د علم څرنګوالي ته په پام سره، د جرم په وصف کې بدلون راشي، نور شریکان، معاونان او فاعلین د جرم ارتکاب ته د هغوی د قصد او د علم له څرنګوالي سره سم، مجازات کېږي.

## د فاعلینو تعدد او مشدده حالت

**٦۷ ماده:**

که چېرې دغه قانون د فاعلینو تعدد د جرم مشدده حالت وګڼي، د جرم په ارتکاب کې د شریک شتون د تعدد په

ندارد.

(۲) نتایج حالات خاص بر شریک یا معاون زمانی مؤثر می‌باشد که به آن آگاهی داشته باشد.

(۳) هرگاه حالات خاصی موجود شود که موجب تغییر جزا در مورد یکی از شرکاء یا معاونین گردد، نتایج آن بر سایر شرکاء یا معاونین، تأثیر وارد نمی‌کند.

## تغییر در قصد فاعل

**مادهٔ٦٦:**

هرگاه نظر به قصد فاعل یا چگونگی علم وی، در وصف جرم تغییر وارد گردد، سایر شرکا، معاونین و فاعلین مطابق قصد و چگونگی علم شان به ارتکاب جرم، مجازات می‌گردند.

## تعدد فاعلین و حالت مشدده

**مادهٔ٦۷:**

هرگاه این قانون تعدد فاعلین را حالت مشددهٔ جرم بداند، موجودیت شریک در ارتکاب جرم در حکم تعدد

حکم کې پېژندل کېږي.

**د منفردې يا تضامني نغدي جـزا تطبيق**

**٦٨ ماده:**

(۱) که چېرې څو تنه فاعلين او شريکان د واحد جرم د ارتکاب له لحاظه، په واحد حکم سره په نغدي جزا محکوم شي، دغه حکم له هغوی څخه پر هر يوهٔ منفرداً تطبيقېږي.

(۲) که چېرې په نغدي جزا حکم د هغې مالي ګټې (مفاد) معادل وي چې د جرم د ارتکاب له لارې ترلاسه شوې يا د هغې د استحصال توقع کېدی شوه، حکم پرهغو محکومينو چې په واحد حکم په نغدي جزا محکوم شوي دي، په تضامني توګه تطبيقېږي، خو داچې قانون بل ډول تصريح کړي وي.

**د جرم له ارتکاب څخه انصراف**

**٦٩ ماده:**

که چېرې فاعل، شريک، سازمانوونکی يا معاون د واقع کېدو په حال کې جرم له ارتکاب څخه په خپله رضا انصراف

شناخته می‌شود.

**تطبیق جزای نقـدی منفـرد یـا تضامنی**

**مادۀ٦٨:**

(۱) هرگاه چند نفر فاعل و شریک از لحاظ ارتکاب جرم واحد، به حکم واحد به جزای نقدی محکوم شوند، این حکم بر هر کدام آنها منفرداً تطبیق می‌شود.

(۲) هرگاه حکم به جزای نقدی معادل مفاد مالی باشد که از رهگذر ارتکاب جرم حاصل گردیده یا توقع استحصال آن برده می‌شد، حکم بالای محکومینی که به حکم واحد به جـزای نقـدی محکوم شده اند، به طور تضامنی تطبیق می‌گردد، مگر این که قـانون طـور دیگری تصریح نموده باشد.

**انصراف از ارتکاب جرم**

**مادۀ٦٩:**

هر گاه فاعل، شریک، سـازمانده یـا معاون از ارتکاب جرم در حال وقوع به رضای خود انصراف و امتناع ورزد،

او ډېره وکړي، تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي، پدې شرط چې د واقع کېدو په حال کې جرم په هکله د جرم د کشف ادارو ته خبر ورکړي یا فاعل داسې عمل ته اړ کړي چې د هغـهٔ د جرمي عمل د ترسره کولو خنډ شي.

مورد تعقیب عدلی قرار نمی‌گیرد، مشروط بر این که راجع به جرم در حال وقوع به ادارات کشف جرم اطلاع دهد یا فاعل را به چنان عملی وادارد که مانع انجام عمل جرمی وی گردد.

## پنځم فصل

## په جرم کې اتفاق

### په جرم کې اتفاق

**۷۰ ماده:**

په جرم کې اتفاق د جنحې یا جنایت د ارتکاب په منظور د دوو یا له دوو څخه د زیاتو اشخاصو له منظم او پرله پسې اتحاد څخه عبارت دی.

### په جرم کې د اتفاق د مرتکب مجازات

**۷۱ ماده:**

په جنحه کې د اتفاق مرتکب په قصیر حبس او په جنایت کې په متوسط حبس محکومېږي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول پیشبیني شوي وي.

## فصل پنجم

## اتفاق در جرم

### اتفاق در جرم

**مادهٔ۷۰:**

اتفاق درجرم عبارت است ازاتحاد منظم و پیهم دو یا بیش از دو شخص بمنظور ارتکاب جنحه یا جنایت.

### مجازات مرتکب اتفاق در جرم

**مادهٔ۷۱:**

مرتکب اتفاق در جنحه، به حبس قصیر و در جنایت به حبس متوسط محکوم می گردد، مگر این که در این قانون طور دیگری پیش بینی گردیده باشد.

**د خبر ورکونې په صورت کې معافیت**

**۷۲ ماده:**

(۱) ددې قانون په ۷۱ ماده کې درج شوي مجازات پر هغو اشخاصو نه تطبیقیږي چې په جرم کې له اتفاق څخه اړوندو مراجعو ته خبر ورکړي، پدې شرط چې خبرتیا د جرم له واقع کېدو څخه د مخه صورت موندلی وي.

(۲) خبر ورکوونکی د واکمنو مراجعو د پلټنې او تفتیش له پیل څخه وروسته پدې شرط له مجازاتو څخه معاف کېږي چې خبرتیا یې د هغهٔ تورن یا تورنو د هویت د تثبیت سبب شي چې نوموړو مراجعو ته معلوم نه وي.

## شپږم فصل

## د جرمونو تعدد

**د مرتبطو جرمونو مادي تعدد**

**۷۳ ماده:**

که چېرې د متعددو جرمونو ارتکاب د متعددو افعالو په پایله کې صورت

**معافیت در صورت اطلاع دهی**

**مادهٔ ۷۲:**

(۱) مجازات مندرج مادهٔ ۷۱ این قانون بر اشخاصی تطبیق نمی‌گردد که از اتفاق در جرم به مراجع مربوط اطلاع دهند، مشروط بر این که اطلاع قبل از وقوع جرم صورت گرفته باشد.

(۲) اطلاع دهنده بعد از آغاز جستجو و تفتیش مراجع ذیصلاح به شرطی از مجازات معاف می‌گردد که اطلاع وی سبب تثبیت هویت متهم یا متهمینی گردد که نزد مراجع مذکور معلوم نباشد.

## فصل ششم

## تعدد جرایم

**تعدد مادی جرایم مرتبط**

**مادهٔ۷۳:**

هرگاه ارتکاب جرایم متعدد در نتیجهٔ افعال متعدد صورت گرفته

مونډلی وي او د واحدې موخې تأمین نوموړي جرمونه پداسې ډول سره جمع کړي وي چې تجزیه ونه مني محکمه له جرمونو څخه د هر یوهٔ په پیشبیني شوې جزاګانو حکم کوي او یوازې د محکوم بها تر ټولو شدیدې جزا په تنفیذ تصریح کوي. دغه امر د تبعي، تکمیلي جزاګانو او تـأمیني تـدابیرو د تنفیـذ خنـډ نه کېږي.

باشد و تأمین هدف واحـد، جـرایم مذکور را طوری با هم جمـع کـرده باشدکه تجزیه را قبول نکند، محکمه به جزاهای پیش بینی شدهٔ هـر یـک از جرایم حکم نموده و تنها به تنفیذ شدید ترین جزای محکـوم بهـا تصـریح می دارد.این امر مانع تنفیذ جزاهـای تبعـی، تکمیلـی وتـدابیر تـأمینی نمی‌گردد.

## په مرتبطو جرمونو د محـکومیت تعدد

## ۷۴ ماده:

هغه شخص چې د جرم د ارتکاب پـه سبب به خفیفه جزا محکوم شوی وي او ورروسته له هغهٔ سره د مرتبط جرم د ارتکاب په علت په لا شـدیده جـزا محکوم شي، پدې صورت کې وروستی جزا په هغهٔ باندې تطبیقېږي او د هغـهٔ حبس موده چې د لومړي محکومیت له امله یې تېره کړې ده، مجراء ورکول کېږي.

## تعـدد محکومیـت بـه جـرایم مرتبط

## مادهٔ۷۴:

شخصی کـه بـه سـبب ارتکـاب جرم به جزای خفیف محکـوم شـده باشد و بعداً به علت ارتکـاب جـرم مرتبط بـه آن بـه جـزای شـدیدتر محکوم گردد، در این صورت جـزای اخیر بـالای وی تطبیـق گردیـده و مدت حبسی که از رهگذر محکومیت اولی سـپری نمـوده، مجـراء داده می‌شود.

**د غیر مرتبطو جرمونو مادي تعدد**

**۷۵ ماده:**

هغه شخص چې د دوو یا له هغو څخه د زیاتوجرمونو مرتکب شي او له هغــوی څخه د یوۀ په هکله د قطعي حکم لــه صادرېدو دمخه، دهغې موخې وحدت چې نوموړي جرمونه سره جمع کړي، شتون ونلري، له نوموړو جرمونو څخه د هر یوۀ په پېشبیني شــوو جزاګــانو محکومېږي او دمحکوم بها جزاګــانې یوه په بلې پسې پرهغۀ باندې تطبیقېږي، خو دا چې پدې قانون کــې بــل ډول پېشبېنې شوې وي.

**د جرمونو معنوي تعدد**

**۷٦ ماده:**

که چېرې د واحد فعل له ارتکاب څخه، متعدد جرمونه منځته راشي، مرتکب د هغۀ جرم په جزا محکومېږي چې جــزا یې تر ټولو شدیده وي. په هغۀ صورت کې چې پېشبیني شوې جزاګانې یوه د بلې مماثلې وي، محکمه له هغوی څخه په یوې حکم کوي.

**تعدد مادی جرایم غیر مرتبط**

**مادۀ۷۵:**

شخصی که مرتکــب دو جــرم یــا بیش از آن گردد و قبل از صدور حکم قطعــی در مــورد یکــی از آنهــا، وحدت هدف که جرایم مذکور را بــا هم جمع کند، موجــود نباشــد، بــه جزاهــای پــیش بینــی شــده هــر یک از جرایم مذکور محکوم می‌گردد و جزاهای محکوم بها یکــی بعــد از دیگری بالای وی تطبیق می‌شود، مگر اینکه در این قانون طــوری دیگــری پیشبینی گردیده باشد.

**تعدد معنوی جرایم**

**مادۀ۷٦:**

هرگاه از ارتکاب فعل واحد، جــرایم متعدد به وجود آید، مرتکب به جزای جرمی محکوم می‌گردد که جــزای آن شدید تر باشد.در صورتی که جزاهای پیش بینی شده مماثــل هــم باشــند، محکمه بــه یکــی از آنهــا حکــم می‌کند.

## په مجازاتو د محکومیت تعدد

**۷۷ ماده:**

که چېرې شخص د جرم د ار تکاب له امله محکوم شوی وي، وروسته د بـــل جرم د ارتکاب په علت په جزا محکوم شي او دغه جرمونه سره مرتبط نه وي، دواړې جزاګانې یوه په بلې پسې پر هغهٔ باندې تطبیقېږي، که څه هم د حـــبس موده له دېرشو کلونـــو څخـــه زیاتـــه وي.

## د نغدي جزا او تأمیني تدابیرو تعدد

**۷۸ ماده:**

نغدي جزا ددې قانون په ۱۴۲ ماده کې د درج شوي حکم په رعایت ســـره او تأمیني تدبیرونه په هره اندازه چې متعدد شي، پرمحکوم علیه باندې تطبیقېږي.

## تعدد محکومیت به مجازات

**مادۀ۷۷:**

هرگاه شخصی به اثر ارتکـــاب جـــرم محکوم گردیده باشد، بعداً به علـــت ارتکـــاب جـــرم دیگـــری محکـــوم به جزا گردد واین جرایم با هم مرتبط نباشند، هر دو جزا یکی بعد از دیگری بالای وی تطبیـــق مـــی‌گردد،گرچـــه مدت حبس از ســـی ســـال، بیشـــتر باشد.

## تعدد جزای نقدی و تدابیر تأمینی

**مادۀ۷۸:**

جزای نقدی با رعایت حکم منـــدرج مادۀ ۱۴۲ این قانون و تدابیر تأمینی به هر اندازه ای که متعدد گردد، بـــالای محکوم علیه تطبیق می‌گردد.

## اووم فصل
## په جرم کې تکرر

**متکرر مجرم**

**۷۹ ماده:**

شخص هغه وخت متکرر مجرم پېژندل کېږي چې د جنحې یا جنایت د ارتکاب له امله په جزا محکوم شوی وي او د قطعي حکم له صادرېدو وروسته اود حیثیت له اعادې دمخه، د بل عمدي جنحې یا جنایت مرتکب شي.

**خاص تکرر**

**۸۰ ماده:**

شخص هغه وخت خاص متکرر مجرم پېژندل کېږي چې د جنحې یا جنایت د ارتکاب له امله په جزا محکوم شوی وي او د قطعي حکم له صادرېدو وروسته او د حیثیت له اعادې دمخه، د لومړني مماثل عمدی جنحې یا جنایت مرتکب شي.

## فصل هفتم
## تکرر درجرم

**مجرم متکرر**

**مادۀ۷۹:**

شخص زمانی مجرم متکرر شناخته می‌شود که به اثر ارتکاب جنحه یا جنایت محکوم به جزا گردیده و بعد از صدور حکم قطعی و قبل از اعادۀ حیثیت، مرتکب جنحه یا جنایت عمدی دیگری گردد.

**تکرر خاص**

**مادۀ۸۰:**

شخص زمانی مجرم متکرر خاص شناخته می‌شود که به اثر ارتکاب جنحه یا جنایت محکوم به جزا گردیده و بعد از صدور حکم قطعی و قبل از اعادۀ حیثیت، مرتکب جنحۀ عمدی مماثل اولی یا جنایت گردد.

**مماثل جرمونه**

**۸۱ ماده:**

هغه جرمونه چې پدې قانون کې په یوهٔ باب کې تصریح شــوي دي، مماثــل جرمونه پیژندل کیږي.

**د بهرنیــو محــاکمو د صــادره حکمونو له بابته تکرار**

**۸۲ ماده:**

د جرم په تکرار کې دبهرني دولــت د محکمې یا د بین المللي محکمې صادره حکـــم د اعتبـــار وړ نــدی، خــو دا چې حکم د نسل وژنې، د بشــریت پرخلاف، جنګي، د دولت پرخلاف د تجاوز (تیري) د جرمونو او پدې قانون کې درج د پیسو د جعل د جرم په هکله صادر شوی وي.

**د جرم د تکرار مجازات**

**۸۳ ماده:**

متکرر مجرم پــه لانــدې مجــازاتو محکومیږي:

۱- په خاصو تکررو جرمونــو کــې، مرتکب په هغو مجازاتو چې د اصــل

**جرایم مماثل**

**مادهٔ۸۱:**

جرایمی که در یک باب در این قانون تصریح یافته اســت، جــرایم مماثــل شناخته می شود.

**تکرار از بابت احکــام صــادرهٔ محاکم خارجی**

**مادهٔ۸۲:**

حکــم صــادرهٔ محکمــهٔ دولــت خارجی یا محکمهٔ بین المللی در تکرار جرم قابل اعتبار نمــی‌باشــد، مگــر ایــن کـــه حکـــم در مـــورد جرایم نسل کشی، ضد بشری، جنگی، تجاوز علیه دولت وجرم جعــل پــول مندرج ایــن قــانون، صــادر شــده باشد.

**مجازات تکرار جرم**

**مادهٔ۸۳:**

مجرم متکرر به مجازات ذیل محکوم می گردد:

۱- در جرایم تکرر خاص، مرتکب به مجـــازاتی کـــه ازدو چنـــد

جرم د مجازاتو داکثر حد له دوه چنده څخه زیات نه وي.

۲- په عامو متکررو جرمونو کې، مرتکب د اصل جرم د مجازاتو د اکثر حد د یو نیم چند په مجازاتو.

حد اکثر مجازات اصل جرم، بیشتر نباشد.

۲- در جرایم متکرر عام ، مرتکب به مجازات حد اکثر یک ونیم چند مجازات اصل جرم.

# دريیم باب
# جزايي مسؤوليت اود هغهٔ خنډونه
## لومړی فصل
## جزايي مسؤوليت

**جزايي مسؤوليت**

**۸۴ ماده:**

(۱) جزايي مسؤوليت يو شخصي امر دی.

(۲) جزايي مسؤوليت هغه وخت منځته راځي چې شخص په آزاده اراده او د عقل او ادراک د صحت په حالت کې د داسې عمل مرتکب شي چې قانون هغه جرم پېژندلی وي.

**د حکمي شخص مسؤوليت**

**۸۵ ماده:**

حکمي شخص د دولتي مؤسسو، دوايرو او تصديو په استثنی، له هغو جرمونو څخه چې د هغو ممثلين، رئيسان يا وکيلان د دندې د اجراء پر وخت د حکمي شخص په نوم او

# باب سوم
# مسؤوليت جزايی و موانع آن
## فصل اول
## مسؤوليت جزايی

**مسؤوليت جزايی**

**مادهٔ ۸۴:**

(۱) مسؤوليت جزايی يک امر شخصی است.

(۲) مسؤوليت جزايی زمانی بوجود می‌آيد که شخص با ارادهٔ آزاد و در حالت صحت عقل و ادراک، مرتکب عملی گردد که قانون آن را جرم شناخته باشد.

**مسؤوليت شخص حکمی**

**مادهٔ ۸۵:**

شخص حکمی به استثنای مؤسسه ها، دواير و تصدی های دولتی از جرايمی که ممثلين، رؤسا يا وکلای آنها در اثنای اجرای وظيفه به نام و حساب شخص حکمی مرتکب

حساب مرتکب کېږي، مسؤول پېژندل کېږي.

## د حکمي شخص مجازات

**۸۶ ماده:**

(۱) حکمي شخص، له احوالو سره سم، په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- نغدي جزا.

۲- د شتمنۍ مصادره.

۳- تر ټاکلي وخت پورې د فعالیت درول.

۴- د اړوندو قوانینو او مقرراتو په رعایت سره انحلال.

(۲) د دې مادې په (۱)فقره کې په درج شوو مجازاتو د حکمي شخص محکومیت، دجرم مرتکب حقیقي شخص په هکله پدې قانون کې دپېشبیني شوو جزاګانو د تطبیق خنډ، نه کېږي.

## له عدلي تعقیب څخه معافیت او د جزایي مسؤولیت تخفیف

**۸۷ ماده:**

(۱) هغه شخص چې په یوهٔ ډول نه یو ډول پدې قانون کې د درج شووجرمونو

می‌گردند، مسؤول شناخته می‌شود.

## مجازات شخص حکمی

**مادهٔ ۸۶:**

(۱) شخص حکمی، حسب احوال، به مجازات ذیل محکوم می‌گردد:

۱- جزای نقدی.

۲- مصادرهٔ دارایی.

۳- متوقف ساختن فعالیت تا زمان معین.

۴- انحلال با رعایت قوانین و مقررات مربوط.

(۲) محکومیت شخص حکمی به مجازات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مانع تطبیق جزاهای پیش بینی شده در این قانون در مورد شخص حقیقی مرتکب جرم، نمی‌گردد.

## معافیت از تعقیب عدلی و تخفیف مسؤولیت جزایی

**مادهٔ ۸۷:**

(۱) شخصی که به نحوی از انحاء با مرتکبین جرایم مندرج این قانون ارتباط

له مرتکبينو سره اړيکــه او همکـــاري ولري خو د جرم له ارتکاب دمخه، له مسؤولو مراجعو سره د مرتکبينو پــه افشاء يا نيولو کې مرسته وکړي، تــر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې همکاري او مرســته د جرم له ارتکاب څخه وروسته صورت موندلې وي او زمينه داسې برابره کړي چې د جرمي ډلې د نورو غړو د نيولو سبب شي، محکمه د پېشــبيني شــوو مجازاتو په تخفيف حکم کوي.

## دوه يم فصل

## د جزايي مسؤوليت خنډونه

**د جزايي مســؤوليت د خنـــډونو ډولونه**

**۸۸ ماده:**

د جزايي مسؤوليت خنډونه عبارت دي له:

۱- جنون او رواني ناروغۍ.

۲- سکر، خوب يا بې هوښي.

۳- طفوليت (ماشومتوب).

و همکاری داشته ولی قبل از ارتکاب جرم، مراجع مسؤول را در افشاء يا گرفتـــاری مـــرتکبين مســـاعدت نمايد، مورد تعقيـــب عـــدلی قـــرار نمی گيرد.

(۲) هرگاه همکـــاری و مســـاعدت مندرج فقرۀ (۱) اين مـــاده بعـــد از ارتکاب جرم صورت گرفته باشـــد و زمينه را طوری فراهم سازد که ســـبب گرفتاری ساير اعضای گروه جرمـــی شود، محکمه به تخفيف مجازات پيش بينی شده حکم می‌نمايد.

## فصل دوم

## موانع مسؤوليت جزايی

**انـــواع موانـــع مســـؤوليت جزايی**

**مادۀ ۸۸:**

موانع مسؤوليت جزايی عبارت انـــد از:

۱- جنون و امراض روانی.

۲- سکر، خواب يا بی هوشی.

۳- طفوليت.

۴- اضطرار.
۵- اکراه.

## لومړۍ برخه

## جنون يا رواني ناروغۍ

د ادراک او شعور زوال

۸۹ ماده:

هغه شخص چې د جرم د ارتکاب په وخت کې د جنون يا نورو رواني ناروغيو په سبب د ادراک او تام شعور نه لرونکی وي، جزايي مسؤوليت نلري نه مجازات کېږي.

د ادراک او شعور نقصان

۹۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې د جنحې يا جنايت د ارتکاب په وخت کې د ادراک يا شعور په نقصان اخته وي، محکمه هغه معذور پېژني، پدې قانون کې درج په مخففه احوالو پورې اړوند حکمونه، د هغهٔ په هکله رعايتوي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص د قباحت مرتکب شي، نه مجازات کېږي.

۴- اضطرار.
۵- اکراه.

## قسمت اول

## جنون يا امراض روانی

زوال ادراک و شعور

مادهٔ ۸۹:

شخصی که حين ارتکاب جرم به سبب جنون يا ساير امراض روانی فاقد ادراک و شعور تام باشد، مسؤوليت جزائی نداشته، مجازات نمی گردد.

نقصان ادراک و شعور

مادهٔ ۹۰:

(۱) شخصی که حين ارتکاب جنحه يا جنايت مبتلا به نقصان ادراک يا شعور باشد، محکمه وی را معذور شناخته، احکام متعلق به احوال مخففهٔ مندرج اين قانون را در مورد وی رعايت می‌نمايد.

(۲) هرگاه شخص مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده مرتکب قباحت گردد، مجازات نمی‌گردد.

**اجباري طبي تدبيرونه**

**۹۱ ماده:**

**(۱) هغه شخص چې د جرم له ارتکاب وروسته او د حکم له صادرېدو دمخه، بې شعوره او بې ادراکه شي او د خپلو اعمالو په تشخیص او کنترول قادر نه وي، د روغتیا تربېرته راګرځېدو پورې، د محاکمې او مجازاتو وړ ندی.**

**(۲) د دې مادې په (۱) فقره کـــې د درج شوي شخص په هکله د محکمې د حکم پربنسټ پدې قـــانون کـــې درج اجباري طبي تدبیرونه تطبیقېږي.**

## دوه یمه برخه

## سکر، خوب یا بې هوښي

**د شخص له ارادې پرته د مخدرو او مسکرو توکو کارول**

**۹۲ ماده:**

**(۱) هغه شخص چې د جرم د ارتکاب په وخت کې د مخدرو یـــا مســـکرو توکود کارولو په سبب، خپل ادراک او شعور بشپړ له لاسه ورکړي، پداســـې**

**تدابیر طبی اجباری**

**مادهٔ ۹۱:**

**(۱) شخصی که بعد از ارتکاب جرم و قبل از صدور حکم، فاقـــد شـــعور و ادراک گردد و قادر به تشـــخیص و کنترول اعمال خود نباشد، الی اعادهٔ صحت، قابل محاکمـــه و مجـــازات نمی‌باشد.**

**(۲) در مورد شخص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به اساس حکم محکمه تدابیر طبی اجباری مندرج این قانون تطبیـــق می‌گردد.**

## قسمت دوم

## سکر، خواب یا بی هوشی

**استعمال مواد مخدر و مسکر بدون ارادهٔ شخص**

**مادهٔ۹۲:**

**(۱) شخصی که حین ارتکاب جرم به سبب استعمال مواد مخدر یا مســـکر، ادراک و شعور خود را کاملاً از دست بدهـــد، در حـــالی کـــه اســـتعمال**

حال کې چې د هغو کارول په جبـــري توګه یا د هغهٔ له ارادې یا رضایت پرته یا له علم پرته صــــورت مونـــدلی وي، جزایي مسؤولیت نلري د هغهٔ پرخلاف جزایي دعوي نه اقامه کېږي.

(۲) هغه شخص چې د بې هوښۍ یـــا خوب په حالت کې د جـــرم مرتکـــب کېږي، جزایي مسؤولیت نلري، دهغه په وړاندې جزایی دعوي نه اقامه کېږي، خو دا چې شخص په دې د علم لرلـــو سره چې د خوب یا بې هوښۍ په حال کې د جرم مرتکب کېږي، عمداً ویده شي یا ځان بې هوښه کړي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوی شـــخص خپـــل ادراک او شعور بشپړ له لاسه نـــه وي ورکړی، ددې قانون د ۹۰ مادې پـــه (۱) فقره کې درج شوی حکم د هغـــهٔ په هکله رعایت کېږي.

آن به شکل جبری یـــا بـــدون اراده و رضایت وی یا بدون علـــم صـــورت گرفته باشد، مسؤولیت جزایی نداشته دعـــوای جزایـــی علیـــه وی اقامـــه نمی‌شود.

(۲) شخصی که در حالت خواب یا بی هوشی مرتکب جـــرم مـــی گـــردد، مسؤولیت جزایی نداشته دعوای جزایی علیه وی اقامه نمی گردد. مگر اینکـــه شخص با علم به اینکـــه در حـــــال خواب یا بی هوشی مرتکـــب جـــرم می شود، عمداً بخوابد یـــا خـــود را بی هوش کند.

(۳) هرگاه شخص مندرج فقره هـــای (۱ و۲ ) این ماده ادراک و شعور خود را کاملاً از دست نداده باشد، حکـــم مندرج فقـــرهٔ (۱) مـــادهٔ ۹۰ ایـــن قـــانون در مـــورد وی رعایـــت می‌گردد.

**د سکر په حالت کې د جرم ارتکاب**

**۹۳ ماده:**

هغه شخص چې مخدر یا مسکر توکي په خپله اراده او رضایت سره وکاروي، د جرم مرتکب شي، مسؤول پېژندل کېږي داسې ګڼل کېږي چې د بشپړ ادراک او شعور په حالت کې د جرم مرتکب شوی دی.

**د جرم د ارتکاب په منظور د مخدرو یا مسکرو توکو کارول**

**۹۴ ماده:**

هغه شخص چې قصداً د جرم د ارتکاب په منظور مخدر یا مسکر توکي وکاروي، محکمه مکلفه ده پدې قانون کې درج په مشدده احوالو پورې اړوند حکمونه د هغهٔ په هکله تطبیق کړي.

**ارتکاب جرم در حالت سکر**

**مادهٔ ۹۳:**

شخصی که مواد مخدر یا مسکر را به اراده و رضایت خود استعمال نموده، مرتکب جرم گردد، مسؤول شناخته شده چنان پنداشته می‌شود که جرم را در حالت ادراک و شعور کامل، مرتکب گردیده است.

**استعمال مواد مخدر یا مسکر به منظور ارتکاب جرم**

**مادهٔ ۹۴:**

شخصی که مواد مخدر یا مسکر را قصداً بمنظور ارتکاب جرم استعمال نماید، محکمه مکلف است تا احکام متعلق به احوال مشددهٔ مندرج این قانون را در مورد وی تطبیق نماید.

## دریمه برخه

## طفولیت (ماشومتوب)

**طفل**

**۹۵ ماده:**

طفل په هغهٔ شخص اطلاقېږي چې اتلس کلونه یې بشپړ کړي نه وي.

**د طفل جزايي نه مسؤولیت**

**۹٦ ماده:**

هغه طفل چې ۱۲ کلونه یې بشپړ کړي نه وي، جزايي مسؤولیت نلري او د هغهٔ پرخلاف جزايي دعوي نه اقامه کېږي.

**له ۱۲ – ۱٦ د سن لرونکي طفل حجز**

**۹۷ ماده:**

هغه طفل چې ۱۲ کاله یې بشپړ او ۱٦ کاله یې بشپړ کړي نه وي، د جنایت د ارتکاب په صورت کې، د هغو مجازاتو د اکثر حد له ربعې څخه په زیاتو چې له ۱۸کلونو څخه د لویو اشخاصو په واسطه د عین جرم لپاره پدې قانون کې

## قسمت سوم

## طفولیت

**طفل**

**مادهٔ ۹۵:**

طفل به شخصی اطلاق می‌گردد که هجده سال را تکمیل نکرده باشد.

**عدم مسؤولیت جزایی طفل**

**مادهٔ ۹٦:**

طفلی که ۱۲ سال را تکمیل نکرده باشد، مسؤولیت جزایی نداشته و دعوای جزایی علیه وی اقامه نمی‌شود.

**حجز طفل دارای سن ۱۲ – ۱٦**

**مادهٔ ۹۷:**

طفلی که ۱۲ سال را تکمیل و ۱٦ سال را تکمیل نکرده باشد، در صورت ارتکاب جنایت، به بیش از ربع حد اکثر مجازات که برای عین جرم توسط اشخاص بزرگ تر از ۱۸ سال در این قانون تعیین گردیده،

ټاکل شوي، نه محکومېږي.

**له ۱٦ – ۱۸ سن لرونکي طفل حجز**

**۹۸ ماده:**

هغه طفل چې ۱٦ کلونه يې بشپړ او ۱۸ کلونه يې بشپړ کړي نه وي، د جنايت د ارتکاب په صورت کې، د هغو مجازاتو د اکثر حد له ثلث څخه چې له ۱۸ کلونو څخه د لويو اشخاصو په واسطه د عين جرم لپاره پدې قانون کې ټاکل شوې، نه محکومېږي.

**په اعدام او حبس يا نغدي جزا د طفل نه محکوميت**

**۹۹ ماده:**

طفل د اعدام، حبس په جزا او يا نغدي جزا نه محکومېږي.

**د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکز کې د حجز د مودې مجرايي**

**۱۰۰ ماده:**

هغه موده چې طفل يې له محاکمې دمخه تر مراقبت لاندې يا د اطفالو د

محکوم نمی شود.

**حجز طفل دارای سن ۱٦ – ۱۸**

**مادۀ ۹۸:**

طفلی که ۱٦ سال را تکمیل اما ۱۸ سال را تکمیل نکرده باشد، در صورت ارتکاب جنایت، به بیش از ثلث حد اکثر مجازاتی که برای عین جرم توسط اشخاص بزرگ تر از ۱۸ سال در این قانون تعیین گردیده است، محکوم نمی شود.

**عدم محکومیت طفل به اعدام، حبس یا جزای نقدی**

**مادۀ ۹۹:**

طفل به جزای اعدام، حبس و یا جزای نقدی محکوم نمی شود.

**مجرایی مدت حجز در مرکز اصلاح وتربیت اطفال**

**مادۀ ۱۰۰:**

مدتی را که طفل تحت مراقبت یا در مرکز اصلاح و تربیت اطفال قبل از

اصلاح او روزنې په مرکز کې تېروي، د هغهٔ د محکوم بها د حجز لــه مــودې څخه کمېږي.

**د تابعیت د تذکرې پر بنسټ د سن تثبیت**

**۱۰۱ ماده:**

(۱) دسرغړونې د ارتکاب پر وخت د طفل سن، د جزایی مسؤولیت د ټاکلو بنسټ پېژندل کېږي.

(۲) د تحقیق او محاکمې په بهیر کې د طفل سن د تابعیت د تذکرې پربنسټ تثبیتېږي.

**د عدلي طب د نظر پربنسټ د سن تثبیت**

**۱۰۲ ماده:**

(۱) که چېرې طفل د تابعیت تــذکره ونلري یا د هغهٔ ظــاهري حــالات د تابعیت په تذکره کې له درج شوي سن سره مطابقت ونلري، څــارنوالي یــا محکمه پدې برخه کې د اهل خبره نظر ترلاسه کوي.

(۲) په هغو مواردو کې چې څارنوالي

محاکمه سپری می‌نمایــد، از مــدت حجــز محکــوم بهــای وی کاســته می‌شود.

**تثبیت سن بــه اســاس تــذکرهٔ تابعیت**

**مادهٔ ۱۰۱:**

(۱) سن طفل در وقت ارتکاب تخلف، اساس تعیین مسؤولیت جزایی شناخته می‌شود.

(۲) سن طفل در جریــان تحقیــق و محاکمه به اساس تذکرهٔ تابعیت تثبیت می‌گردد.

**تثبیت سن به اساس نظــر طــب عدلی**

**مادهٔ۱۰۲:**

(۱) هرگاه طفل تذکرهٔ تابعیت نداشته و یا حالات ظاهری وی باسن منــدرج تــذکرهٔ تابعیــت مطابقــت نداشــته باشد، څارنوالی یا محکمه نظر اهــل خبــــره را در زمینــــه حاصــــل می‌نماید.

(۲) در مواردی که څارنوالی یا محکمه

يا محكمه تشخيص كړي چې د اهل خبره د نظر پربنسټ د سن ټاكل د قضيې د سوابقو يا د طفل د ظاهري حالاتو مغاير دي يا تورن يا دهغه مدافع وكيل اعتراض ولري، محكمه د سن بيا ټاكل طبي پلاوي ته چې له دريو تنو ډاكترانو څخه لږ نه وي، راجع كوي.

### د محكمې د واک حدود

**۱۰۳ ماده:**

هغه طفل چې ۱۲ كلنی سن يې بشپړ او د سرغړونې مرتكب شي او د محاكمې پر وخت ۱۸ كلني بشپړه كړي، د هغهٔ قضيې ته رسيدګي د اړوندې محكمې واک دی.

### محبس ته له ۱۸ كلن څخه د لوړ طفل لېږد

**۱۰۴ ماده:**

كه چېرې طفل د حجز د تېرولو په وخت كې، ۱۸ كلني بشپړه كړي د حجز د پاتې مودې د تېرولو لپاره، اړوند محبس ته لېږدول كېږي. د محبس اداره مكلفه ده، څو هغه شخص

تشخيص نمايد كه تعيين سن به اساس نظر اهل خبره با سوابق قضيه و يا حالات ظاهری طفل مغاير است يا متهم يا وكيل مدافع وی اعتراض داشته باشد، محكمه تعيين مجدد سن را به هيئت طبی كه كمتر از سه نفر داكتر نباشد، راجع می‌نمايد.

### حدود صلاحيت محكمه

**مادهٔ ۱۰۳:**

طفلی كه سن ۱۲ را تكميل ومرتكب تخلف شده و حين محاكمه ۱۸ سالگی را تكميل نمايد، رسيدگی به قضيهٔ وی از صلاحيت محكمهٔ مربوطه می‌باشد.

### انتقال طفل بالاتر از ۱۸ سال به محبس

**مادهٔ ۱۰۴:**

هرگاه طفل حين سپری نمودن حجز، ۱۸ سالگی را تكميل نمايد، جهت سپری نمودن مدت باقی ماندهٔ حجز به محبس مربوط انتقال داده می‌شود. اداره محبس مكلف است تا شخصی را

چې شل کلني يې بشپړه کړې نده، په جلا ځای کې وساتي.

## د طفل د سرغړونو تعدد

**۱۰۵ ماده:**

که چېرې طفل له يوهٔ څخــه د زيــاتو سرغړونو په ارتکاب تورن شي؛ د هغهٔ محاکمه د ټولو سرغړونو له نــاحيې د واحدې دعوي په ضمن کې صــورت ومومي، پدې حالت کې محکمه مکلفــه ده څو ددې قانون له حکمونو سره سم، طفل د هغو جرم په مجازاتو محکــوم کړي چې په قانون کې، د هغو جزا تر نورو شديده پيشبيني شوې وي.

## په څو واړې په حجز محکوميت

**۱۰٦ ماده:**

که چېرې طفل په څو واړې په حجــز محکوم شي، دهغه د محکــوم بهــا د حجز ټوله موده له لسو کلونو څخــه زياته نشي کېدای.

## د طفل د سرغړونو تکرار

**۱۰۷ماده:**

(۱) په جرم کې په تکــرار او تبعــي،

که بيست سالگی را تکميل ننمــوده است، در محل جداگانه نگهداری کند.

## تعدد تخلفات طفل

**مادهٔ ۱۰۵:**

هرگاه طفل به ارتکاب بيش از يــک تخلف متهم گردد؛ محاکمــهٔ وی از ناحيهٔ همه تخلفات ضمن دعوای واحد صورت می‌گيــرد، در ايــن حالــت محکمه مکلف است تا مطابق احکــام اين قانون طفل را به مجازات جرمــی محکــوم نمايــد کــه در قــانون، جزای آن شديد تر پيش بينــی شــده باشد.

## محکوميت به حجز به دفعات

**مادهٔ ۱۰٦:**

هرگاه طفل به دفعات به حجز محکوم گردد، مجموع مدت حجز محکــوم بهای وی از ده سال بيش تــر بــوده نمی تواند.

## تکرار تخلفات طفل

**مادهٔ ۱۰۷:**

(۱) احکام متعلق به تکرار در جرم و

تکميلي جزاګانو پورې اړوند حکمونه پر طفل د تطبيق وړ ندي، تأميني تدابير، مصادره، د محل بندول او هغو محلاتو ته له تللو (تګ) څخه منع چې د اخلاقي انحراف لامل کېږي، لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲) د طفل د سرغړونې تکرار د مجازاتو د تکرار او پدې قانون کې د پيشبيني شوو تدبيرونو د نيولو خنډ نه کېږي.

(۳) د سرغړونو تعدد او د هغو تکرار، د حجز له بديلونو څخه د ګټې اخيستنې خنډ نه کېږي، خو دا چې جرم، جنايت وي.

## له قضايي رأفت څخه د طفل نه محروميت

۱۰۸ ماده:

محکمه مکلف ده طفل ته د حجز د مودې د ټاکلو پر وخت، د دې قانون په ۹۷، ۹۸ او ۹۹ مادو کې د درج شوو حکمونو په رعايت سره، پدې قانون کې د پيشبيني شوي حجز اقل حد په پام

جزاهای تبعی، تکمیلی بر طفل قابل تطبیق نمی باشد، تدابیر تأمینی، مصادره، مسدود ساختن محل و منع از رفتن به محلاتی که باعث انحراف اخلاقی می گردد، از این حکم مستثنی می‌باشد.

(۲) تکرار تخلف طفل مانع تکرار مجازات و اتخاذ تدابیر پیش بینی شده در این قانون نمی‌گردد.

(۳) تعدد تخلفات و تکرار آن، مانع استفاده از بدیل های حجز نمی گردد، مگر این که جرم، جنایت باشد.

## عدم محرومیت طفل از رأفت قضایی

مادهٔ ۱۰۸:

محکمه مکلف است حین تعیین مدت حجز برای طفل، با رعایت احکام مندرج مواد ۹۷، ۹۸ و۹۹ این قانون، حد اقل حجز پیش بینی شده دراین قانون را

کې ونيسي.

## د طفل په واسطه د جنحې ارتکاب

**۱۰۹ ماده:**

که چېرې طفل د جنحې مرتکب شي، محکمه د هغهٔ په هکله لــه لانــدې تدبيرونو څخه يو نيسي:

۱- والدينو ته تسليمول.

۲- حجز په کور کې.

۳- د محاکمې تعويق (ځنډول).

۴- د حجز تعليق.

۵- د ټولنيزو خــدمتونو اختصاصــي مؤسسو ته استول.

۶- د ټولنيزو خدمتونو ترسره کول يا د مراقبت دوره.

۷- د اطفالو د اصلاح او روزنــې د مرکز په خلاصه برخه کې حجز.

۸- د اطفالو د اصلاح او روزنــې د مرکز په تړلې برخه کې حجز.

در نظر بگيرد.

## ارتکاب جنحه توسط طفل

**مادهٔ ۱۰۹:**

هرگاه طفل مرتکب جنحــه گــردد، محکمه يکی از تدابير آتی را در مورد وی اتخاذ می نمايد:

۱- تسليمی به والدين.

۲- حجز در منزل.

۳- تعويق محاکمه.

۴- تعليق حجز.

۵- فرستادن بــه مؤسســه هــای اختصاصی خدمات اجتماعی.

۶- انجام خدمات اجتماعی يــا دورهٔ مراقبت.

۷- حجز در بخش باز مرکز اصلاح و تربيت اطفال.

۸- حجز در بخش بستهٔ مرکز اصلاح وتربيت اطفال.

**د طفل د قانوني استازي د غفلت له امله د جنايت يا جنحې د جرم تكرار**

**۱۱۰ ماده:**

**كه چېرې د طفل د سرغړونې تكرار چې د طفل د قانوني استازي د غفلت او يا د هغهٔ د دندو له عمدي نه ترسره كولو څخه راپيدا وي؛ محكمه له لاندې تدبيرونو څخه يونيسي:**

**۱- طفل د ټولنيزو خدمتونو له مؤسسو څخه يوې يا د اطفالو د اصلاح او روزنې مركز ته سپاري.**

**۲- د طفل قانوني استازی د جنحې د ارتكاب په صورت كې له پنځو زرو ترلسو زرو افغانيو په نغدي جزا او د جنايت د ارتكاب په صورت كې له لسو زرو ترشلو زرو افغانيو په نغدي جزا محكوموي.**

**تكرار جرم جنايت يا جنحه به اثر غفلت نمايندهٔ قانونی طفل**

**مادهٔ ۱۱۰:**

**هرگاه تكرار تخلف طفل كه ناشی از غفلت نمايندهٔ قانونی طفل و يا عدم ايفای عمدی وظايف وی باشد؛ محكمه يكی از تدابير آتی را اتخاذ می‌نمايد:**

**۱- طفل را به يكی از مؤسسه های خدمات اجتماعی و يا مركز اصلاح و تربيت اطفال می‌سپارد.**

**۲- نمايندهٔ قانونی طفل را در صورت ارتكاب جنحه به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی و در صورت ارتكاب جنايت، به جزای نقدی از ده هزار تا بيست هزار افغانی، محكوم می‌نمايد.**

**د طفل خوشې کول يا والــدينو، قانوني ممثل يا سرپرست ته د هغهٔ تسليمي**

**۱۱۱ ماده:**

**(۱) که چېرې هغه طفل چې ۱۸ کلني يې بشپړه کړې نه وي د محکوم بها د حجز دوه ثلثه د اطفالو د اصــلاح او روزنې په مرکز کې تېره کړي، محکمه کولی شي د طفل يا له والدينو څخه د يوهٔ او يا هغهٔ شخص په غوښتنه چې د هغهٔ پر نفس د ولايت حق ولري، د هغهٔ په خوشې کولو امر صادر کړي. پدې شرط چې د حجز د مودې د تېرولو په بهير کې د نوموړي طفل حسن رويه د اطفالو د اصلاح او روزنې د مرکــز د مسؤول په واسطه تصديق او څارنوال هغه تأييد کړي.**

**پدې صورت کې طفل والدينو، قانوني ممثل، قانوني سرپرست يا هغهٔ امــين شخص ته چې په راتلونکې کې د هغــهٔ حسن تربيې ته ژمن شي، تسليمېږي.**

**(۲) که چېرې طفل ۱۸ کلني بشپړه او**

**رهايی طفل يا تســليمی وی بــه والدين، ممثــل يــا سرپرســت قانونی**

**مادهٔ ۱۱۱:**

**(۱) هرگاه طفلی که ۱۸ ســالگی را تکميل نکرده باشد دوثلــث حجــز محکوم بها را در مرکز اصلاح وتربيت اطفال سپری نمايد، محکمه می تواند بنابر مطالبهٔ طفل يا يکی از والدين ويا شخصی که بر نفس وی حق ولايــت داشته باشد، حکم به رهايی وی صادر نمايد. مشروط بر اين که حسن رويــهٔ طفــل مــذکور در جريــان ســپری نمودن مدت حجز توســط مســؤول مــرکــز اصــلاح وتربيت اطــفال تصــديق وڅارنــــوال آن را تائيــد نمايد.**

**در اين صورت طفــل بــه والــدين، ممثل قانونی، سرپرست قــانونی يــا شخص امينی که حسن تربيه وی را در آينده متعهد شود، تسليم داده می شود.**

**(۲) هرگــاه طفــل ۱۸ ســالگی را**

د محکوم بها د حجز دوه ثلثه یې د اطفالو د اصلاح او روزنې په مرکزکې تېره کړې وي، خوشېکول یې هغه وخت صورت مومي چې د خپلې راتلونکې حسن روېې لیکلې ژمنه وکړي.

## د طفل په واسطه د قباحت ارتکاب

**۱۱۲ ماده:**

(۱) که چېرې طفل د قباحت مرتکب شي، محکمه کولای شي د حجز په عوض هغهٔ ته اخطاریه صادره او یا هغه والدینو، قانوني ممثل او یا قانوني سرپرست ته تسلیم کړي. پدې حالت کې د طفل والدین، قانوني ممثل او یا قانوني سرپرست مکلف دي د طفل د حسن تربیت لیکلې ژمنه وکړي.

(۲) که چېرې والدین د ځینو دلایلو له مخې د طفل حسن تربیت په غاړه وانخلي، محکمه طفل له هغو مؤسسو څخه یوې ته چې پدې منظور رامنځته شوې دي، تسلیموي.

تکمیل و دوثلث حجز محکوم بها را در مرکز اصلاح وتربیت اطفال سپری نموده باشد، رهایی وی وقتی صورت می گیرد که حسن رویهٔ آینده خود را کتباً تعهد نماید.

## ارتکاب قباحت توسط طفل

**مادهٔ ۱۱۲:**

(۱) هرگاه طفل مرتکب قباحت گردد، محکمه می‌تواند به عوض حجز برای وی اخطاریه صادر و یا او را به والدین، ممثل قانونی و یا سرپرست قانونی تسلیم نماید. در این حالت والدین، ممثل قانونی و یا سرپرست قانونی طفل مکلف است حسن تربیت طفل را کتباً تعهد نماید.

(۲) هرگاه والدین نظر به دلایلی حسن تربیت طفل را به عهده نگیرد، محکمه طفل را به یکی از مؤسسه های که به این منظور ایجادگردیده، تسلیم می نماید.

**د طفل د قانوني استازي د مکلفيت اتمام**

**۱۱۳ ماده:**

د طفل د قانوني استازي مکلفيت د ۱۸ سن په بشپړېدو سره، ساقطېږي.

**د اعدام د مجازاتو نه تطبيق**

**۱۱۴ ماده:**

هغه شخص چې ۲۰ کلني يې بشپړ کړې نه وي، په اعدام نه محکومېږي.

## څلورمه برخه

## اضطرار

**د اضطرار حالت**

**۱۱۵ ماده:**

اضطرار هغه حالت دی چې شخص له داسې خطر سره مخامخ شي چې د مرګ، شديد ټپ يا ور څخه د هغهٔ يا بل شخص د مال تلف کېدل متصور وي او د هغهٔ د شنډېدو لپاره د جرم مرتکب شي. پدې شرط چې خطر په بله لاره شنډ نکړای شي.

**اتمام مکلفيت نمایندهٔ قانونی طفل**

**مادهٔ ۱۱۳:**

مکلفيت نماينده قانونی طفل با تکميل سن ۱۸، ساقط می‌گردد.

**عدم تطبيق مجازات اعدام**

**مادهٔ ۱۱۴:**

شخصی که ۲۰ سالگی را تکميل نکرده باشد، به اعدام محکوم نمی گردد.

## قسمت چهارم

## اضطرار

**حالت اضطرار**

**مادهٔ ۱۱۵:**

اضطرار حالتی است که شخص در معرض خطری قرار گيرد که خوف مرگ، جراحت شديد يا اتلاف مال وی يا شخص ديگر از آن متصور باشد و برای دفع آن مرتکب جرم گردد. مشروط بر اين که خطر به طريق ديگری دفع شده نتواند.

## د اضطرار په حالت کې جزايي نه مسؤولیت

**۱۱۶ ماده:**

هغه شخص چې د خپل یا بل شخص د نفس یا مال د ژغورلو په منظور له ستر او آني خطر سره مخامخ شي پداسې ډول چې د جرم له ارتکاب پرته د هغهٔ په شنډېدو قادر نه وي، مسؤول نه پېژندل کېږي، پدې شرط چې موصوف قصداً د نوموړي خطر د رامنځته کېدو سبب نشي او د ډډې کولو وړ ضرر له هغهٔ ضرر څخه شدید وي چې له جرم څخه نشأت کوي.

## پنځمه برخه

## اکراه

### اکراه

**۱۱۷ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د داسې مادي یا معنوي قوې تر اغېزې لاندې چې شنډول یې په بل ډول ممکن نه وي د جرم ارتکاب ته مجبور شي، مسؤول نه

## عدم مسؤولیت جزایی در حالت اضطرار

**مادهٔ ۱۱۶:**

شخصی که بمنظور نجات نفس یا مال خود و یا شخص دیگر به خطر بزرگ و آنی مواجه گردد به نحوی که بدون ارتکاب جرم قادر به دفع آن نباشد، مسؤول شناخته نمی شود، مشروط بر این که موصوف قصداً سبب ایجاد خطر متذکره نگردیده و ضرر مورد اجتناب شدید تر از ضرری باشد که از جرم نشأت می‌نماید.

## قسمت پنجم

## اکراه

### اکراه

**مادهٔ ۱۱۷:**

(۱) شخصی که تحت تاثیر قوه مادی یا معنوی ای که دفع آن طور دیگری ممکن نباشد مجبور به ارتکاب جرم گردد، مسؤول شناخته

پېژندل کېږي.

(۲) شخص هغه وخت مکره ګڼل کېږي چې د ځان، د بدن د غړو او يا د آزادۍ د له لاسه ورکولو له نېږدې پېښېدونکي خطر سره مخامخ شي او نوموړی خطر په بل ډول شنډ کېدی نشي او د جرم مرتکب شي څو خطر له ځانه، له اقاربو يا بل شخص څخه لرې کړي.

(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې د قتل ارتکاب، د جزايي مسؤوليت د رفع کېدو موجب نه کېږي.

## دریيم فصل

## د اباحت اسباب

### د اباحت اسباب اود هغو ډولونه

۱۱۸ ماده:

(۱) جرمي عمل د اباحت له اسبابو څخه د يوه د شتون په صورت کې جرم نه ګڼل کېږي او د مرتکب د جزايي مسؤوليت موجب نه کېږي.

(۲) د اباحت اسباب په لاندې توګه

نمی شود.

(۲) شخص زمانی مکره دانسته می‌شود که با خطر قریب الوقوع از دست دادن جان، اعضای بدن و یا آزادی مواجه گردد و خطر مذکور به شکل دیگری دفع شده نتواند و مرتکب جرم شود تا خطر را از خود، اقارب یا شخص دیگری دور سازد.

(۳) ارتکاب قتل در حالت مندرج فقرۀ (۱) این ماده موجب رفع مسؤولیت جزایی نمی گردد.

## فصل سوم

## اسباب اباحت

### اسباب اباحت و انواع آن

مادۀ ۱۱۸:

(۱) عمل جرمی در صورت موجودیت یکی از اسباب اباحت، جرم شناخته نشده و موجب مسؤولیت جزایی مرتکب نمی‌گردد.

(۲) اسباب اباحت قرار ذیل

دي:

۱- د مجني عليه رضايت.

۲- د دندې ترسره کول.

۳- د آمر د امر تعميل.

۴- مشروع دفاع.

**د مجني عليه رضايت**

**۱۱۹ ماده:**

په لاندې حالتونو کې دعمل ارتکاب چې د مجني عليه په رضايت واقع شوی وي، جرم نه پېژندل کېږي:

۱- د ورزشي لوبو د اجراء په حالت کې، پدې شرط چې د ورزشي منل شوو قواعدو او اصولو په حدودو کې يې صورت موندلی وي.

۲- د ناروغ، خاوند (همسر)، ولي، وصي يا تر درېيمي درجې پورې د هغه د اقاربو په موافقه د جراحی عملياتو يا نورو اړينو طبي اقداماتو د اجراء په حالت کې، پدې شرط چې د طبابت د حرفې له فني اصولو سره سم يې صورت موندلی وي. د جراحی د هغو عاجلو عملياتو اجراء چې د طبابت د

است:

۱- رضايت مجنی عليه.

۲- ايفای وظيفه.

۳- تعميل امر آمر.

۴- دفاع مشروع.

**رضايت مجنی عليه**

**مادۀ ۱۱۹:**

ارتکاب عمل در حالات ذيل که به رضايت مجنی عليه واقع شده باشد،جرم شناخته نمی‌شود:

۱- در حالت اجرای بازی های ورزشی، مشروط بر اين که در حدود قواعد و اصول قبول شدۀ ورزشی صورت گرفته باشد.

۲- در حالت اجرای عمليات جراحی يا ساير اقدامات ضروری طبی به موافقۀ مريض، همسر، ولی، وصی يا اقارب وی الی درجه سوم، مشروط بر اين که مطابق اصول فنی حرفۀ طبابت صورت گرفته باشد. اجرای عمليات عاجل جراحی که

حرفې له فني اصولو سره سم يې صورت موندلی وي، له دې حکم څخه مستثني دي.

د دندې ترسره کول

۱۲۰ ماده:

(۱) د هغې دندې د ترسره کولو په وخت کې د عمل ارتکاب چې د دولت مامور د قانون په حکم د هغه په ترسره کولو مکلفيت ولري، جرم نه ګڼل کېږي.

(۲) د جرمي عمل ارتکاب په لاندې حالتونو کې د دندې اجراء پېژندل کېږي:

۱- په هغه حالت کې چې د قانون له حکمونو سره سم، د ښه نيت په لرلو سره د مؤظف مامور څخه د دندې د اجراء په وخت کې صادر شوی وي.

۲- په هغه حالت کې چې مؤظف مامور عقيده وکړي چې د نوموړې دندې اجراء د هغه له قانوني واکونو څخه ده.

مطابق اصول فنی حرفهٔ طبابت صورت گرفته باشد، از این حکم مستثنی است.

ايفای وظيفه

مادهٔ ۱۲۰:

(۱) ارتکاب عمل در اثنای ايفای وظيفه ای که مامور دولت به حکم قانون به انجام آن مکلفيت داشته باشد، جرم شناخته نمی شود.

(۲) ارتکاب عمل جرمی در حالات آتی ايفای وظيفه شناخته می شود:

۱- در حالتی که از مامور مؤظف مطابق به احکام قانون با داشتن حسن نيت حين اجرای وظيفه صدور يافته باشد.

۲- در حالتی که مامور مؤظف عقيده نمايد که اجرای وظيفه مذکور از جمله صلاحيت های قانونی وی است.

**د آمر د امر تعميل**

**۱۲۱ ماده:**

د عمل ارتکاب په لاندې حالتونو کې د آمر د امر تعميل دی، جرم نه پېژندل کېږي:

۱- د واکمن مقام د امر د تطبيق په حالت کې چې د هغوی د امر له اطاعت څخه د قانون د حکمونو سره سم مکلفيت ولري.

۲- په هغه حالت کې چې مؤظف مامور عقيده ولري چې د واکمنو مقاماتو د امر تعميل د هغه د قانوني وجايبو له ډلې څخه دي.

**د ښه نيت تثبيت**

**۱۲۲ ماده:**

د دې قانون په ۱۲۱ ماده کې په درج شوو حالتونو کې، مؤظف مامور، مکلف دی ثابته کړي چې د جرمي عمل ارتکاب له معقولو اسبابو څخه راپيدا شوی او د لازم احتياط له رعايت وروسته يې صورت موندلی دی.

**تعميل امر آمر**

**مادۀ۱۲۱:**

ارتکاب عمل در حالات آتی تعميل امر آمر بوده جرم شناخته نمی شود:

۱- در حالت تطبيق امر مقام ذيصلاحی که از اطاعت امر آنها مطابق به احکام قانون مکلفيت داشته باشد.

۲- در حالتی که مامور مؤظف عقيده داشته باشد که تعميل امر مقامات ذيصلاح از جمله وجايب قانونی وی است.

**تثبيت حسن نيت**

**مادۀ۱۲۲:**

در احوال مندرج مادۀ ۱۲۱ اين قانون، مامورمؤظف، مکلف است ثابت نمايد که ارتکاب عمل جرمی ناشی از اسباب معقول بوده و بعد از رعايت احتياط لازم صورت گرفته است.

## د بشریت پرخلاف په جرمونوکې د آمر امر

**۱۲۳ ماده:**

د نسل وژنې، بشري ضد، جنګـي، د دولت پرخلاف د تجاوز او ځورونې د جرمونو د ارتکاب لپاره د آمر امر د دې قانون په ۱۲۱ ماده کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي.

## د آمر پر امر د اعتراض د حق نلرل

**۱۲۴ ماده:**

که چیرې مؤظف مامور د قـانون پـه حکم د واکمنو مقامـاتو پـر امـر د اعتراض حق ونلری، د جرمي عمـل د ارتکاب په صورت کې، د دې قانون په ۱۲۰، ۱۲۱، ۱۲۲ موادو کې د درج شوو حکمونو په رعایـت سـره، نـه مجازات کېږي. پدې صورت کې آمر، مسؤول پېژندل کېږي.

## مشروع دفاع

**۱۲۵ ماده:**

(۱) د مشروع دفاع په منظور د عمل ارتکاب، جرم نه پېژندل کېږي.

## امـر آمـر در جـرایم علیـه بشریت

**مادهٔ ۱۲۳:**

امر آمر برای ارتکاب جـرایم نسـل کشی، ضد بشری، جنگـی، تجـاوز علیـه دولـت و شـکنجه از حکم مندرج مادهٔ ۱۲۱ ایـن قـانون مستثنی می باشد.

## نداشتن حق اعتراض بر امر آمر

**مادهٔ ۱۲۴:**

هرگاه مأمور مؤظف به حکم قانون حق اعتراض برامرمقامـات ذیصـلاح را نداشته باشد، در صورت ارتکاب عمل جرمی با رعایـت احکـام منـدرج مـواد ۱۲۰،۱۲۱ و۱۲۲ ایـن قانون، مجازات نمی‌گـردد. در ایـن صـورت آمـر، مسـؤول شـناخته می‌شود.

## دفاع مشروع

**مادهٔ ۱۲۵:**

(۱) ارتکاب عمـل بمنظـور دفـاع مشروع، جرم شناخته نمی‌شود.

(۲) مشروع دفاع تر تهديد لاندې شخص ته اجازه ورکوي، ترڅو له هرهغه جرمي عمل څخه د دفاع په منظور چې د دفاع کوونکي يا بل شخص ځان، ناموس آزادۍ ته د تجاوز خطر يا مالي ضرر رامنځته کوي، د لازمو وسايلو له کارونې څخه ګټه واخلي.

## دمشروع دفاع دحق رامنځته کېدل

**۱۲۶ ماده:**

د مشروع دفاع حق هغهٔ وخت رامنځته کېږي چې دفاع کوونکی د معقولو اسبابو او منطقي دلايلو له مخې يقين وکړي چې د هغهٔ يا د بل شخص ځان، ناموس، آزادۍ يا مال باندې د تجاوز خطر متوجه وي.

## د مشروع دفاع شرايط

**۱۲۷ ماده:**

(۱) دفاع هغه وخت مشروع ګڼل کېږي چې پدې قانون کې د درج شوو شرايطو په حدودو کې يې صورت موندلی وي.

(۲) دفاع مشروع به شخص مورد تهديد اجازه مى‌دهد تا از استعمال وسايل لازم به منظور دفاع از هر عمل جرمى اى که خطر تجاوز بر جان، ناموس، آزادى يا ضرر مالى براى دفاع کننده يا شخص ديگرى ايجاد مى‌کند، استفاده نمايد.

## ايجاد حق دفاع مشروع

**مادهٔ ۱۲۶:**

حق دفاع مشروع هنگامى بوجود مى‌آيد که دفاع کننده روى اسباب معقول و دلايل منطقى يقين نمايد که خطر تجاوز بر جان، ناموس، آزادى يا مال خودش يا شخص ديگرى متوجه باشد.

## شرايط دفاع مشروع

**مادهٔ ۱۲۷:**

(۱) دفاع زمانى مشروع دانسته مى‌شود که در حدود شرايط مندرج اين قانون صورت گرفته باشد.

(۲) د مشروع دفاع حق تر دغو شرایطو لاندې منځته راځي:

۱- د قانون خلاف او غیر عادلانه عمل په وړاندې دفاع.

۲- د بالفعلي یا نږدې پېښېدونکې حملې او تعرض په وړاندې دفاع.

۳- د متجاوز شخص له حملې سره د دفاع همزمان والی.

۴- د تهدید له خطر سره د دفاع متناسبوالی.

۵- دفاع د خطر د شنډولو یوازینۍ وسیله وي.

٦- دفاع کوونکی په قصدي ډول د مقابل لوري د جرمي عمل د رامنځته کولو سبب شوی نه وي.

## د مشروع دفاع وخت

**۱۲۸ ماده:**

د مشروع دفاع حق د خطر تر دوامه پورې ادامه مومي او د هغه په زوال سره پای مومي.

(۲) حق دفاع مشروع تحت شرایط ذیل بوجود می‌آید:

۱- دفاع در برابر عمل خلاف قانون و غیر عادلانه.

۲- دفاع در برابر حمله و تعرض بالفعل یا قریب الوقوع.

۳- همزمان بودن دفاع با حمله شخص متجاوز.

۴- متناسب بودن دفاع با خطر مورد تهدید.

۵- دفاع یگانه وسیلهٔ دفع خطر باشد.

٦- دفاع کننده قصداً سبب ایجاد عمل جرمی طرف مقابل نشده باشد.

## زمان دفاع مشروع

**مادهٔ ۱۲۸:**

حق دفاع مشروع تا دوام خطر ادامه یافته و با زوال آن خاتمه می‌یابد.

## په مشروع دفاع کې د قتل ارتکاب

**۱۲۹ ماده:**

د مشروع دفاع د حق د کارولو پر بنسټ، د عمد قتل ارتکاب جواز نلري، خو داچې له لاندې اعمالو څخه د يوۀ په وړاندې د دفاع په منظور يې صورت موندلی وي:

۱- د هغۀ عمل په وړاندې دفاع چې په معقولو دلايلو، له هغۀ څخه د مړينې يا شديد ټپي کېدو وېره شتون ولري.

۲- د جنسي تجاوز يا پر هغۀ د آني تهديد په وړاندې دفاع.

۳- د اختطاف يا برمته کولو (ګروګان ګيرۍ) د عمل په وړاندې دفاع.

۴- د خطرناک عمدي اور اچونې (حريق) د عمل په وړاندې دفاع.

۵- د هغۀ غلا په وړاندې دفاع چې ددې قانون له حکمونو سره سم جنايت وي.

۶- د اوسېدنې کور يا د هغۀ ملحقاتو ته د شپې لخوا د غير مجاز داخلېدو

## ارتکاب قتل در دفاع مشروع

**مادۀ۱۲۹:**

ارتکاب قتل عمد به اساس استعمال حق دفاع مشروع جواز ندارد، مگر این که بمنظور دفاع در برابر یکی از اعمال ذیل صورت گرفته باشد:

۱- دفاع در برابر عملی که خوف مرگ یا جراحت شدید از آن به دلایل معقول موجود باشد.

۲- دفاع در برابر تجاوز جنسی یا تهدید آنی به آن.

۳- دفاع در برابر عمل اختطاف یا گروگان گیری.

۴- دفاع در برابر عمل حریق عمدی خطرناک.

۵- دفاع در برابر سرقتی که مطابق احکام این قانون جنایت باشد.

۶- دفاع در برابر عمل داخل شدن غیر مجاز از طرف شب به منزل

عمل په وړاندې دفاع.

**امنيتي مؤظف تـه د لاس رسـي (توسل) شونتيا**

**۱۳۰ ماده:**

که چېرې د خطر د شنډولو لپاره امنيتي مؤظف تـه لاسرسـی شـونی وي، د مشروع دفاع حق نه رامنځته کېږي.

**د امنيتي مؤظف په وړاندې دفاع**

**۱۳۱ ماده:**

د امنيتي مؤظف په وړاندې دفاع، پـه هغهٔ صورت کې چې خپله دنده د قانون له حکمونو سره سمه او په ښه نيت سره ترسره کړي، که څه هم چې د دنـدې په بهير کې دخپل قـانوني واک لـه حدودو څخه تجاوز وکـړي، جـواز نلري. خو داچې په معقولـو دلايلـو سره د هغهٔ له عمل څخه د مړينې يـا سخت ټپي کېدو يا په ناموس يا آزادۍ د تعرض ويره ثابته وي.

مسکونی يا ملحقات آن.

**امکـان توسـل بـه مؤظـف امنيتی**

**مادهٔ ۱۳۰:**

هرگاه توسل به مؤظف امنيتی جهـت دفع خطر ممکن باشد، حـق دفـاع مشروع بوجود نمی‌آيد.

**دفاع در برابر مؤظف امنيتی**

**مادهٔ ۱۳۱:**

دفاع مشروع در برابر مؤظف امنيتـی در صورتی که وظيفهٔ خود را مطـابق احکام قـانون و بـا حسـن نيـت انجام دهد، گرچه در جريان وظيفه از حدود صلاحيت قانونی خود تجـاوز نمايد، جواز ندارد. مگر اين که خوف مرگ يا جراحت شـديد يـا خـوف تعرض به نـاموس يـا آزادی ناشـی از عمل آن به دلايل معقـول ثابـت باشد.

## د مشروع دفاع له حـــق څخـــه د تجاوز مجازات

**۱۳۲ ماده:**

**هغه شخص چې په ښه نیت سره پـــدې قانون کې درج د مشروع دفاع د حق له حدودو څخه يې تجاوز کـــړی وي، عمل يې په هغهٔ صورت کې چې جنايت وي په جنحه او که جنحه وي د قباحت جزا ته راټيټيږي.**

## مجازات تجاوز از حـــق دفـــاع مشروع

**مادۀ۱۳۲:**

**شخصی که با حسن نیت از حدود حق دفاع مشروع مندرج این قانون تجاوز نموده باشـــد، جـــزای عمـــل وی در صورتی که جنایت باشد، به جنحـــه و اگر جنحه باشد، به جزای قباحت تنزیل می یابد.**

## څلورم باب

## جزا، د هغې ډولونه او تأميني تدبيرونه

## لومړی فصل

## د جزا عمومي حکمونه

**جزا**

**۱۳۳ ماده:**

جزا له هغې مؤيدې څخه عبارت ده چې په قانون کې د جرمي عملونـــو لپـــاره پيشبيني شوې او د محکمې لخـــوا د مرتکب په هکله د دې قانون د اساساتو په رعايت سره، حکم کېږي.

**د جزا موخې**

**۱۳۴ ماده:**

د جزا موخې عبارت دي له:

۱- د غير قانوني عملونو غندل.

۲- د قوانينو د حکمونو رعـــايتول او دعدالت ټينګښت.

۳- دجرمونو لـــه ارتکـــاب څخـــه د محکوم او نورو اشخاصو راګرځول.

۴- د مجرمينو په اصلاح او روزنه کې

## باب چهارم

## جزا، انواع آن و تدابير تأمينی

## فصل اول

## احکام عمومی جزا

**جزا**

**مادهٔ ۱۳۳:**

جزا عبارت از مؤيده ای است که در قانون برای اعمال جرمی پيش بينی شده و از طرف محکمه در مورد مرتکب با رعايت اساسات اين قـــانون، حکـــم می‌شود.

**اهداف جزا**

**مادهٔ ۱۳۴:**

اهداف جزا عبارت اند از:

۱- تقبيح اعمال غير قانونی.

۲- رعايت احکام قـــوانين و تـــأمين عدالت.

۳- بازداشتن محکوم و ساير اشخاص از ارتکاب جرايم.

۴- همکاری در اصـــلاح، تربيـــت و

مرسته او ټولنيزو دندو ته په صادقانه روحيې سره د هغوی د مسؤوليت پذيرۍ د حس رواجول.

۵- ټولنې او زيانمن (قرباني) ته د رسېدلو زيانونو جبران.

٦- د جرم د ارتکاب په خاطر جزا.

۷- د اتباعو او ټولنې د حقوقو تضمين او رعايت.

## د انساني کرامت د مخالفو جزاګانو د ټاکلو ممنوعيت

**۱۳۵ ماده:**

د انساني کرامت مخالفې، تحقيروونکې يا توهينوونکې جزا ټاکل او تطبيق جواز نلري.

## د جزا ډولونه

**۱۳٦ ماده:**

جزا، اصلي، تبعي او تکميلي جزاګانو ته شامله ده.

ترويج حس مسؤوليت پذيری مجرمين با روحيۀ صادقانه به وظايف اجتماعی.

۵- جبران آسيب‌های وارده به جامعه و قربانی.

٦- کيفر به خاطر ارتکاب جرم.

۷- تضمين و رعايت حقوق اتباع و جامعه.

## ممنوعيت تعيين جزای مخالف کرامت انسانی

**مادۀ ۱۳۵:**

تعيين و تطبيق جزای مخالف کرامت انسانی، تحقير آميز يا توهين آميز جواز ندارد.

## انواع جزا

**مادۀ۱۳٦:**

جزا، شامل جزاهای اصلی، تبعی و تکميلی می‌باشد.

## دوه يم فصل

## اصلي جزاګانې

**اصلي جزا**

**۱۳۷ ماده:**

اصلي جزا، هغهٔ مجازات دي چې پدې قانون کې د جرم د ارتکـــاب لپـــاره پيشبيني شوې وي او د نورو جزاګانو د بشپړتيا يا تبعيت لپاره ټاکل شوې نـــه وي.

**د اصلي جزاګانو ډولونه**

**۱۳۸ ماده:**

اصلي جزاګانې د لاندې ډولونو لرونکې دي:

۱- نغدي جزا.

۲- حبس.

۳- اعدام.

## لومړۍ برخه

## نغدي جزا

**د نغدي جزا تعريف**

**۱۳۹ ماده:**

نغدي جزا د دولت خزانې ته د محکوم

## فصل دوم

## جزاهای اصلی

**جزای اصلی**

**مادهٔ ۱۳۷:**

جزای اصلی، مجازاتی است که در این قانون برای ارتکاب جرم پـــیش بینـــی شده و برای تکمیـــل یـــا تبعیـــت از جزاهـــای دیگـــری تعیـــین نشـــده باشد.

**انواع جزاهای اصلی**

**مادهٔ ۱۳۸:**

جزاهای اصـــلی دارای انـــواع ذیـــل می باشد:

۱- جزای نقدی.

۲- حبس.

۳- اعدام.

## قسمت اول

## جزای نقدی

**تعریف جزای نقدی**

**مادهٔ ۱۳۹:**

جزای نقدی عبارت است از مکلـــف

بها د مبلغ په ورکولو د محکوم علیه له مکلفولو څخه عبارت دی.

**د نغدي جزا ډول او د هغې اقل حد**

**۱۴۰ ماده:**

(۱) نغدي جزا په افغاني پیسو ټاکل کېږي.

(۲) هغه نغدي جزا چې د محکمې په حکم ټاکل کېږي، له پنځو زرو (۵۰۰۰) افغانیو څخه لږ نه وي.

(۳) په دې قانون کې درج د نغدي جزاګانو اندازه، د پیسو د ارزښت نوساناتو ته په کتو سره، له هرو پنځو کلونو وروسته تجدید کېږي.

**د نغدي جزا د شرایطو رعایت**

**۱۴۱ ماده:**

محکمه پدې قانون کې د پیشبینې شوې نغدي جزا په ټاکلو کې د اقل حد او اکثر حد ترمنځ لاندې شرایط او احوال رعایتوي:

۱- د جزا د موخو تأمین.

۲- د مرتکب شخصي، ټولنیز او

ساختن محکوم علیه به پرداخت مبلغ محکوم بها به خزانهٔ دولت.

**نوعیت جزای نقدی و حداقل آن**

**مادهٔ ۱۴۰:**

(۱) جزای نقدی به پول افغانی تعیین می‌شود.

(۲) جزای نقدی که به حکم محکمه تعیین می‌شود، از پنج هزار( ۵۰۰۰) افغانی کمترنمی باشد.

(۳) اندازهٔ جزاهای نقدی مندرج این قانون با نظر داشت نوسانات ارزش پول، بعد از هر پنج سال تجدید می گردد.

**رعایت شرایط جزای نقدی**

**مادهٔ ۱۴۱:**

محکمه در تعیین جزای نقدی پیش بینی شده در این قانون بین حد اقل و حد اکثر شرایط و احوال آتی را رعایت می‌نماید:

۱- تأمین اهداف جزا.

۲- احوال شخصی، اجتماعی و

اقتصادي احوال.

۳- د هغهٔ ګټې اندازه چې د جرم لــه ارتکاب څخه ترلاسه شوې ده یا یې د ترلاسه کېدو توقع کېدله.

۴- د هغهٔ حق یا مصلحت ډول چې تر تېري لاندې راغلی دی.

## د نغدي جزا زیاتول

**۱۴۲ ماده:**

محکمه کولای شي په خپل تشخیص یا د څارنوال په غوښتنه د دې قانون پــه ۱۴۱ ماده کې د درج شوو شرایطو او احوالو په رعایت سره د پیشبیني شوې نغدي جزا اکثرحد تر دوه چند پــورې پورته بوځي، پدې شرط چې د نغــدي جزا د اکثر حد پورته بیول، د محکوم علیه د ټولې شتمنۍ په له منځه وړلــو تمام نشي.

## د جنایت په جرم کې د نغدي جزا نه ټاکل

**۱۴۳ ماده:**

په جنایت کې د نغدي جزا ټاکل جواز نلري، خو دا چې دغه قانون صراحتاً پر

اقتصادی مرتکب.

۳- اندازهٔ مفادی که از ارتکاب جرم حاصل گردیده یا توقع استحصـــال آن برده می‌شد.

۴- نوعیت حق یا مصلحتی که مورد تجاوز قرار گرفته است.

## افزایش جزای نقدی

**مادهٔ ۱۴۲:**

محکمه می تواند به اساس تشـــخیص خود یا مطالبه څارنوال، حداکثر جزای نقـــدی پـــیش بینـــی شـــده را بـــا رعایت شرایط و احـــــوال منـــدرج مادهٔ ۱۴۱ این قانون تا دوچند بـــالا ببرد، مشروط براین که بـــالا بـــردن حد اکثر جزای نقدی به ازبین بـــردن کلی دارایی محکـــوم علیـــه منجـــر نشود.

## عدم تعیین جزای نقدی در جـــرم جنایت

**مادهٔ۱۴۳:**

تعیین جزای نقدی در جرم جنایت جواز ندارد، مگر این که این قانون صراحتاً

هغهٔ حکم کړی وي.

د نغدي جزا ورکړه

۱۴۴ ماده:

د نغدي جزا ورکړه د جزايي اجراآتو د قانون له حکمونو سره سم صورت مومي.

## دوه يمه برخه

## د حبس جزا

حبس

۱۴۵ ماده:

حبس له محبسونو څخه په يوهٔ کې چې د دولت لخوا پدې منظور اختصاص شوی دی د محکمې په قطعي حکم د محکوم عليه له زنداني کولو څخه عبارت دی.

د حبس ډولونه

۱۴٦ ماده:

حبس د لاندې ډولونو لرونکی دی:

۱- قصير حبس.

۲- متوسط حبس.

۳- طويل حبس.

به آن حکم نموده باشد.

پرداخت جزای نقدی

مادهٔ۱۴۴:

پرداخت جزای نقدی مطابق به احکام قانون اجراآت جزايی صورت می گيرد.

## قسمت دوم

## جزای حبس

حبس

مادهٔ ۱۴۵:

حبس عبارت است از زندانی ساختن محکوم عليه به حکم قطعی محکمه در يکی از محابس که از طرف دولت به اين منظور اختصاص يافته است.

انواع حبس

مادهٔ ۱۴٦:

حبس دارای انواع ذيل می باشد:

۱- حبس قصير.

۲- حبس متوسط.

۳- حبس طويل.

۴- ۲ درجه دوام حبس.

۵- ۱ درجه دوام حبس.

**د حبس موده**

**۱۴۷ ماده:**

د حبس مودې په لاندې ډول دي:

۱- قصير حبس له دريو مياشتو څخه تر يوه کاله پورې.

۲- متوسط حبس له يوه کاله څخه زيات تر پنځو کلونو پورې.

۳- طويل حبس له پنځوکلونو څخه زيات تر شپاړسو کلونو پورې.

۴- ۲ درجه دوام حبس له شپاړسو کلونو څخه زيات تر شلو کلونو پورې.

۵- ۱درجه دوام حبس له شلو کلونو څخه زيات تر دېرشو کلونو پورې.

۴- حبس دوام درجه۲.

۵- حبس دوام درجه ۱.

**مدت حبس**

**مادهٔ ۱۴۷:**

مدت های حبس قرار ذیل می باشد:

۱- حبس قصير از سه ماه تا يک سال.

۲- حبس متوسط بيش از يک سال تا پنج سال.

۳- حبس طويل بيش از پنج سال تا شانزده سال.

۴- حبس دوام درجه ۲ بيش از شانزده سال تا بيست سال.

۵- حبس دوام درجه ۱ بيش از بيست سال تا سی سال.

## درېيمه برخه
## د حبس د بديل جزاګانې
## لومړۍ فرع
## د حبس د بديل عمومي حکمونه

**د حبس د بديل جزاګانې**

**۱۴۸ ماده:**

د حبس بديل هغه جزا ده چې د جرم پر مرتکب د حبس په عوض، د مقيدې خوشې کېدنې په ډول د محکمې لخوا حکم کېږي.

**د حبس د بديلو جزاګانو ټاکل**

**۱۴۹ ماده:**

د حبس بديلې جزاګانې د مرتکبه جرم ډول اوخصوصيت، دمرتکب شخصيت، د جرم د ارتکاب وارونو، د مجني عليه وضعيت، له جرم څخه راپيدا شوې پايلې او د جرم نورو مخففه لوريو ته په پام سره ټاکل کېږي.

## قسمت سوم
## جزا های بديل حبس
## فرع اول
## احکام عمومی بديل حبس

**جزا های بديل حبس**

**مادۀ ۱۴۸:**

بديل حبس جزائی است که بالای مرتکب جرم به عوض حبس، به شکل رهايی مقيد از طرف محکمه حکم می شود.

**تعيين جزا های بديل حبس**

**مادۀ ۱۴۹:**

جزا های بديل حبس با نظرداشت نوعيت وخصوصيت جرم مرتکبه، شخصيت مرتکب، دفعات ارتکاب جرم، وضعيت مجنی عليه، نتايج ناشی از ارتکاب جرم و سايرجهات مخففۀ جرم تعيين می‌شود.

## د حبس د بدیلو جزاګانو ډولونه

**۱۵۰ ماده:**

د حبس بديلې جزاګانې، د مراقبت له دورې، د عامه خدمتونو له ترسره کولو، له ټولنيزو حقوقو څخه له محروميت او په کورکې له حبس څخه عبارت دي چې د دې فصل له حکمونو سره په مطابقت کې اعماليږي.

## د حبس د بديلو جزاګانو د تطبيق ساحه

**۱۵۱ ماده:**

(۱) محکمه کولاشي د هغـه جـرم مرتکب چې د هغه د قانوني ټاکلې جزا اکثرحد تر پنځو کلونو پورې حبس وي، د دې قانون له حکمونو سره سم د حبس په بديله جزا محکوم کړي.

(۲) محکمه مکلفه ده د حبس له بديلو جزاګانو څخه د ګټې اخيستنې يا نه ګټې اخيستنې دلايل ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم سره سم په خپل حکم کې ذکر کړي.

(۳) د کورني او بهرني امنيت پرخلاف،

## انواع جزا های بدیل حبس

**مادۀ ۱۵۰:**

جزاهای بدیل حبس عبارت اند از دوره مراقبت، انجام خدمات عامه، محرومیت از حقوق اجتماعی وحبس درمنزل که درمطابقت با احکام این فصل، اعمال می‌گردد.

## ساحه تطبیق جزا های بدیل حبس

**مادۀ۱۵۱:**

(۱) محکمه می تواند مرتکب جرمی را که حد اکثر جزای معین قانونی آنها الی پنج سال حبس باشد، مطابق احکام این قانون به جزای بدیل حبس محکوم نماید.

(۲) محکمه مکلف است دلایل استفاده یا عدم استفاده از جزاهای بدیل حبس را مطابق حکم مندرج فقرۀ (۱) این ماده در حکم خود ذکر نماید.

(۳) مرتکبین جرایم علیه امنیت داخلی

تروريستي، د تروريزم د تمويل، جنسي تېري، اداري او مالي فساد جرمونو او د نسل وژنې، بشري ضد، جنگي، د دولت پرخلاف د تجاوز د جرمونو مرتکبين، د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي.

**د حبس د بديلو جزاگانو د تيرولو په وخت کې د جرم ارتکاب**

**۱۵۲ ماده:**

که چېرې محکوم عليه د حبس د بديلې جزا د تيرولو په وخت کې د بل جرم په تور په حبس محکوم شي، د حبس د بديلې جزا پاتې شوې موده په تنفيذي حبس بدله او د نوي جرم له مجازاتو سره يوځای تطبيقېږي.

**د تخفيف په صورت کې د حبس د بديل له جزاگانو څخه د گټې اخيستنې نه جواز**

**۱۵۳ ماده:**

هغه جرمونه چې د هغو قانوني ټاکلې جزا، له پنځو کلونو څخه زيات حبس وي، له پنځو کلونو څخه لږې جزا ته د

وخارجی، تروريستی، تمويل تروريزم، تجاوز جنسی، فساد اداری ومالی وجرايم نسل کشی، ضد بشری، جنگی، تجاوز عليه دولت از حکم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده مستثنی است.

**ارتکاب جرم حين سپری نمودن جزا های بديل حبس**

**مادۀ ۱۵۲:**

هرگاه محکوم عليه حين سپری نمودن جزای بديل حبس به اتهام جرم ديگری محکوم به حبس شود، مدت باقيماندۀ جزای بديل حبس به حبس تنفيذی تبديل و با مجازات جرم جديد يکجا تطبيق می گردد.

**عدم جواز استفاده از جزا های بديل حبس در صورت تخفيف**

**مادۀ ۱۵۳:**

جرايمی که جزای معين قانونی آنها حبس بيش از پنج سال باشد، درصورت تخفيف جزا به کمتر از پنج

تخفیف په صورت کې، د حبس د بدیلې جزا تاکل جواز نلري.

**د حبس د بدیل د نظارت کوونکي مرجع مشخصول**

**١٥۴ ماده:**

محکمه په خپل حکم کې د حبس د بدیلې جزا له تطبیق څخه څارونکې مرجع مشخصوي، هغه د هغو په اجراء مکلفوي.

**د محکمې د دساتیرو د نه رعایت د پایلو تفهیم**

**١٥٥ ماده:**

محکمه د حبس د بدیلې جزا د حکم د صادرولو په وخت کې، د محکمې له دستور څخه د نه رعایت پایلې په صراحت سره په فیصله کې درج او ابلاغوي.

**د حبس د بدیل د تطبیق خنډونه**

**١٥٦ ماده:**

که چېرې د حبس د بدیل پر تطبیق د محکمې د فیصلې د عملي کېدو شونتیا موجوده نه وي یا دا چې محکوم علیه د

سال، تعیین جزای بدیل حبس جواز ندارد.

**مشخص ساختن مرجع نظارت کننده بدیل حبس**

**مادهٔ ۱۵۴ :**

محکمه در حکم خود مرجع نظارت کننده از تطبیق جزای بدیل حبس را مشخص ساخته وی را مکلف به اجرای آن می سازد.

**تفهیم نتایج عدم رعایت دساتیر محکمه**

**مادهٔ ۱۵۵:**

محکمه حین صدور حکم به جزای بدیل حبس، نتایج عدم رعایت از دستور محکمه را به صراحت درفیصله درج و ابلاغ می نماید.

**موانع تطبیق بدیل حبس**

**مادهٔ ١٥٦:**

هرگاه امکان عملی شدن فیصلهٔ محکمه بر تطبیق بدیل حبس موجود نبوده یا این که محکوم علیه قادر به اجرای آن

هغې په اجراء قادر نه وي، موضوع د خنډونو د لرې کولو لپاره واکمنې محکمې ته وړانديز کېږي.

## د حبس د بديلې جزا د تطبيق ډول

**۱۵۷ ماده:**

د حبس د بديلې جزا په طرز او د تطبيق او تنفيذ په ډول او د محکوم عليه د مراقبت او نظارت د څرنګوالي په شرايطو پورې نور اړوند موضوعات، د جلا تقنيني سند په واسطه تنظيمېږي.

## دوه يمه فرعه

## د مراقبت دوره

### د مراقبت موارد

**۱۵۸ ماده:**

د مراقبت دوره هغه موده ده چې د هغې په ترڅ کې محکمه تورن شخص، پدې فصل کې د درج شوو شرايطو په رعايت سره، اکثر حد پنځه کاله له لاندو مواردو څخه د يوهٔ يا څو موردو په اجراء محکوموي:

۱- په ټاکلي ځای کې اوسېدل.

۲- په ټاکلي ځای يا ځايونو کې د

نباشد، موضوع جهت رفع موانع به محکمهٔ ذیصلاح پیشنهاد می گردد.

## طرز تطبيق جزای بديل حبس

**مادهٔ ۱۵۷:**

ساير موضوعات مربوط به طرز و شکل تطبيق وتنفيذ جزای بديل حبس و شرايط چگونگی مراقبت و نظارت محکوم عليه توسط سند تقنينی جداگانه تنظيم می‌گردد.

## فرع دوم

## دورهٔ مراقبت

### موارد مراقبت

**مادهٔ۱۵۸:**

دورهٔ مراقبت مدتی است که طی آن محکمه شخص متهم را با رعايت شرايط مندرج اين فصل، حد اکثرپنج سال به اجرای يک يا چند مورد از موارد ذيل محکوم می‌نمايد:

۱- اقامت درمحل معين.

۲- منع اقامت يا تردد درمحل يا

اوسېدو يا تردد منع.

۳- په مياشتنيو يا له هغو څخه په کمو مشورتي غونډو کې په ګډون کولو ملزمول.

۴- حرفه زده کول يا د زده کړه ييزو او مهارتي دورو تېرول.

۵- له جرم څخه د راپيدا شوو مادي يا معنوي زيان اړوونکو آثارو د لرې کولو يا راکمولو لپاره له مجني عليه سره مرسته او د مجني عليه د رضايت ترلاسه کول.

٦- د پوليسو دفتر يا هغې مرجع ته چې محکمه يې ټاکي، حاضري ورکول.

۷- له هغو اشخاصو سره د معاشرې پرېښودل چې محکمه له هغوی سره معاشرت د محکوم عليه لپاره مضر تشخيصوي.

۸- په هغو ټاکلو کارونو د بوختېدو منع چې د جرم د ارتکاب زمينه برابره کړي.

۹- د ښوونې او روزنې، د کورني او ټولنيز معاشرت د آدابو په زده کولو او هغوی د پابندۍ الزام.

محلات معين.

۳- ملزم ساختن به اشتراک درجلسات مشورتی ماهانه يا کمتر از آن.

۴- حرفه آموزی يا گذراندن دوره های آموزشی ومهارتی.

۵- مساعدت به مجنی عليه درجهت رفع يا کاهش آثار زيان بار مادی يا معنوی ناشی از جرم و کسب رضايت مجنی عليه.

٦- حاضری دادن به دفترپوليس يا مرجعی که محکمه تعيين می‌نمايد.

۷- ترک معاشرت با اشخاصی که محکمه معاشرت با آنها را برای محکوم عليه مضر تشخيص می‌دهد.

۸- منع اشتغال به کارهای معينی که زمينه ارتکاب جرم را فراهم نمايد.

۹- الزام به فراگيری تعليم وتربيه، آداب معاشرت خانوادگی واجتماعی وپابندی به آن.

۱۰- د رواني، رفتاري او جسماني اختلالاتو درملنې ته اقدام.

## د محکوم علیه لخوا د محکمې د حکم نه رعایت

**۱۵۹ ماده:**

(۱) که چېرې محکوم علیه د محکمې حکم رعایت نکړي، محکمه کولای شي د لومړي ځل لپاره تر یونیم چنده د هغهٔ د مراقبت دوره تمدید کړي.

(۲) که چېرې محکوم علیه د محکمې د حکم له اجراء څخه د دوه یم ځل لپاره ډډه وکړي، د حکم صادروونکې محکمه، مراقبت لغو او د مراقبت د دورې پاتې موده په تنفیذي حبس بدلوي.

## د مراقبت د دورې راټیټول

**۱٦۰ ماده:**

که چېرې د محکوم علیه وضعیت، د هغهٔ د رفتار د اصلاح ښودونکی وي، محکمه کولای شي یوازې د یوځل لپاره د مراقبت دوره زیات نه زیات د هغې تر نیمایي پورې راټیټه کړي یا له ځینو

۱۰- اقدام به درمان اختلال‌های روانی، رفتاری وجسمانی.

## عدم رعایت حکم محکمه از طرف محکوم علیه

**مادهٔ ۱۵۹:**

(۱) هرگاه محکوم علیه حکم محکمه را رعایت نه نماید، محکمه می تواند برای بار اول تا یک‌ونیم چند، دورهٔ مراقبت وی را تمدید نماید.

(۲) هرگاه محکوم علیه از اجرای فیصله محکمه برای بار دوم خود داری نماید، محکمهٔ صادر کننده حکم، مراقبت را لغو و مدت باقی مانده دوره مراقبت را به حبس تنفیذی تبدیل می نماید.

## کاهش دوره مراقبت

**مادهٔ ۱٦۰:**

هرگاه وضعیت محکوم علیه نشان دهنده اصلاح رفتار وی باشد، محکمه می‌تواند صرف برای یک بار دورهٔ مراقبت را حد اکثر تا نصف آن کاهش داده یا از برخی دساتیر صادر شدهٔ

نورو صادرشوو دساتيرو څخه تېره شي.

**پر محکوم علیه د مراقبت او نظارت څرنګوالی**

**۱٦۱ ماده:**

(۱) محکمه د مرتکبه جرم ډول او د محکوم علیه شخصیت ته په پام سره پر محکوم علیه د مراقبت او نظارت څرنګوالی مشخصوي.

(۲) محکوم علیه مکلف دی د شغل، دايمي مېشت ځای له بدلون او په بل ځای کې له خپل ځای پرځای کېدو څخه د حکم له تطبیق څخه نظارت کوونکې مرجع ته خبر ورکړي.

## درېیمه فرع

## د عامه خدمتونو ترسره کول

**عامه خدمتونه**

**۱٦۲ ماده:**

(۱) عامه خدمتونه له هغهٔ کار څخه عبارت دي چې د جرم مرتکب د ټولنې په ګټه د هغو په ترسره کولو، د مزد په قسمي ترلاسه کولو یا له هغهٔ څخه پرته،

دیگر صرف نظر کند.

**چگونگی مراقبت و نظارت بر محکوم علیه**

**مادهٔ ۱٦۱:**

(۱) محکمه با نظر داشت نوع جرم مرتکبه وشخصیت محکوم علیه، چگونگی مراقبت ونظارت برمحکوم علیه را مشخص می‌نماید.

(۲) محکوم علیه مکلف است از تغییر شغل، محل اقامت دایمی وجابجایی خود درمحل دیگر، مرجع نظارت کننده از تطبیق حکم را اطلاع دهد.

## فرع سوم

## انجام خدمات عامه

**خدمات عامه**

**مادهٔ ۱٦۲:**

(۱) خدمات عامه عبارت ازکاری است که مرتکب جرم به انجام آن به نفع جامعه با دریافت قسمی مزد و یا بدون آن، محکوم

محکومېږي.

(۲) محکمه د جرم مرتکب د جرم ډول، سن، جنس، جسمي یا رواني توانمني، شغل، مهارت او د هغه اقتصادي او ټولنیزې وضع ته په کتو سره، د عامه خدمتونو په ترسره کولو مکلفوي.

(۳) د عامه خدمتونو د مجازاتو په ټاکلو کې، د محکوم علیه د رضایت اخیستل حتمي دي.

(۴) له ۱۵ کلونو لاندې شخص، د عامه خدمتونو په ترسره کولو محکومېدای نشي.

(۵) محکمه د عامه خدمتونو میزان، د مرتکبه جرم د شدت او خفت د درجې او د مرتکب د شخصیت په تناسب ټاکي.

## د عامه خدمتونو د ترسره کولو ساعتونو میزان

۱٦۳ ماده:

د عامه خدمتونو د اندازې مجموع په ساعت سره ټاکل کېږي او د عامه

می گردد.

(۲) محکمه مرتکب جرم را با نظر داشت نوع جرم، سن، جنس، توانایی جسمی یا روانی، شغل، مهارت و وضع اقتصادی و اجتماعی وی، مکلف به انجام خدمات عامه می‌سازد.

(۳) در تعیین مجازات خدمات عامه، اخذ رضایت محکوم علیه حتمی می باشد.

(۴) شخص زیر ۱۵ سال، به انجام خدمات عامه، محکوم شده نمی‌تواند.

(۵) محکمه میزان خدمات عامه را با تناسب درجه شدت و خفت جرم مرتکبه و شخصیت مرتکب تعیین می نماید.

## میزان ساعات انجام خدمات عامه

مادۀ۱٦۳:

مجموع اندازه خدمات عامه به ساعت تعیین می گردد و میزان ساعات انجام

خدمتونو د ترسره کولـو د سـاعتونو میزان په یوه شپه ورځ کې اقل حد ۴ ساعته او اکثر حد ۸ ساعته دی.

**د عا مه خدمتونو د ترسره کولو پر وخت د کار د شرایطو او ضوابطو رعایت**

**۱٦۴ماده:**

محکمه مکلفه ده په عامه خـدمتونو د حکم پر وخت، د ښـځو او تنکیـو ځوانانو د کار په ځانګړو شرایطو پورې اړوند قوانین او مقـررات، د کـار د روغتیا دسختو، ثقیلو او روغتیا تـه د مضرو کارونو ضوابط رعایت کړي.

**د عامه خدمتونو تعلیق یا تبدیل**

**۱٦۵ ماده:**

محکمه کولی شي د محکـوم علیـه، اړوند مدافع وکیل یـا څارنـوال د غوښتنې پربنسـټ د محکـوم علیـه جسماني وضع او د صحي خـدمتونو اړتیا یا کورنیو ستونزو ته په کتو سره د عامه خدمتونو ترسره کول د محکومیت د دورې په اوږدو کې په مؤقته توګـه

خدمات عامه حـداقل ۴ سـاعت و حداکثر ۸ ساعت در یک شـبانه روز می‌باشد.

**رعایـت شـرایط و ضـوابط کـار حـین انجـام خـدمات عامه**

**مادۀ۱٦۴:**

محکمـه مکلـف اسـت حـین حکم بـه خـدمات عامـه قـوانین ومقررات مربوط بـه شـرایط ویـژه کار زنـان و نوجوانـان، بهداشـت کـار، ضـوابط کارهـای دشـوار، ثقیل ومضر صحت را رعایت نماید.

**تعلیق یا تبدیل خدمات عامه**

**مادۀ ۱٦۵:**

محکمه می‌تواند به اسـاس تقاضـای محکوم علیه، وکیل مدافع یا څارنوال مربوطه، نظر بـه وضـع جسـمانی ونیاز به خدمات صحی یا مشـکلات خـانوادگی محکـوم علیـه، انجام خدمات عامه را به طور مؤقـت حـداکثر تـا سـه مـاه درطـول

زيات نه زيات تر دريو مياشتو تعليق کړي يا هغه د حبس د بديل پر نورو جزاګانو تبديل کړي.

## د عامه خدمتو له ترسره کولو څخه ډ ډه کول

**۱٦٦ ماده:**

که چېرې محکوم عليه له مؤجه عذر پرته، د عامه خدمتونو له ترسره کولو يا د کار د ترسره کولو لپاره له ټاکلو شرايطو څخه تخلف وکړي، لومړی ځل زيات نه زيات تر ۸۰ ساعتونو پورې د هغهٔ د عامه خدمتونو د ترسره کولو په ساعتونو کې زياتېږي، د تکرار په صورت کې، محکمه کولی شي د اړوند څارنوال د وړانديز پربنسټ د هغهٔ د عامه خدمتونو پاتې موده په حبس بدله کړي.

پدې صورت کې محکوم عليه له پاتې ساعتونو څخه د هرو ۸ ساعتونو په وړاندې يوه شپه او ورځ زنداني کېږي.

دورهٔ محکوميت، تعليق کرده يا آن را به سايرجزا های بديل حبس تبديل نمايد.

## خود داری از انجام خدمات عامه

**مادهٔ ۱٦٦:**

هرگاه محکوم عليه بدون عذر مؤجه، از انجام خدمات عامه يا از شرايط مقرر برای انجام کار تخلف ورزد، بار اول حد اکثر تا ۸۰ ساعت، در ساعت های انجام خدمات عامه وی افزود می گردد، در صورت تکرار، محکمه می‌تواند به اساس پيشنهاد څارنوال مربوطه، مدت خدمات عامه باقيمانده وی را به حبس تبديل نمايد.

در اين صورت محکوم عليه در برابر هر ۸ ساعت از ساعات باقيمانده يک شبانه روز زندانی می‌شود.

## څلورمه فرع

## له ټولنيزو حقوقو څخه محروميت

**د حبس د بديل په توګه له ټولنيزو حقوقو څخه د محروميت موارد**

**۱٦۷ ماده:**

محکمه کولای شي پدې فصل کې د درج شوو شرايطو په رعايت سره هغه محکوم عليه چې د قصير حبس د جزا مستوجب وي، د ټاکلي مودې لپاره د حبس د بديلې جزا په توګه په لاندې توګه د ټولنيز حق له يوه يا له يوه څخه له زياتو محروم کړي:

۱- د يوې رتبې يا درجې راټيټول.

۲- د يوه کال لپاره د معاش ديوه پردريمه کسر.

۳- ارتکابي جرم ته په کتو سره له دولتي مشاغلو او په غير دولتي عمومي مؤسسو او بنسټونو کې له شپږو مياشتو څخه تر دووکلونو پورې د خدمت مؤقت انفصال.

## فرع چهارم

## محروميت از حقوق اجتماعی

**موارد محروميت از حقوق اجتماعی منحيث بديل حبس**

**مادۀ ۱٦۷:**

محکمه می‌تواند با رعايت شرايط مندرج در اين فصل، محکوم عليه را که مستوجب جزای حبس قصير باشد، برای مدت معين از يک يا بيش از يک حق اجتماعی منحيث جزای بديل حبس قرار ذيل، محروم کند:

۱- تنزيل يک رتبه يا درجه.

۲- کسر يک سوم معاش برای يک سال.

۳- انفصال مؤقت از مشاغل دولتی و خدمت در مؤسسه ها ونهادهای عمومی غير دولتی با توجه به جرم ارتکابی از شش ماه تا دوسال.

۴- په شغل يا كسب يا ټاكلي حرفه له بوختېدو څخه تر يوۀ كاله پورې منع په هغۀ صورت كې چې جرم د هغۀ په شغل پورې اړوند وي.

۵- له يوۀ څخه تر دريو كلونو پورې د ټاكلي شغل د فعاليت د جواز له ترلاسه كولو محروميت.

٦- د سوداګريزو شركتونو، بانكونو او مؤسسو په مؤسس هيئت او مديره هيئت كې له غړيتوب څخه محروميت او يا له عامل مديريت څخه تر يوۀ كاله پورې محروميت.

۷- له دولتي ادارو يا غير دولتي مؤسسو سره له معاملې يا په مزايده او مناقصه كې له ګډون څخه له يوۀ څخه تر پنځو كلونو پورې محروميت.

۸- له چلونې څخه محروميت، له شپږو مياشتو څخه تر دريو كلونو پورې.

۹- د ټاكلو حسابونو بندول (مسدودول) يا د جاري حساب له پرانيستلو څخه محروميت يا د بانكونو او نورو مالي مؤسسو د آسانتياوو او اعتباراتو له ترلاسه كولو څخه له يوۀ

۴- منع از اشتغال به شغل يا كسب يا حرفه معين در صورتی كه جرم مربوط به شغل وی باشد، تا يک سال.

۵- محروميت ازدريافت جواز فعاليت شغل معين از يک تا سه سال.

٦- محروميت از عضويت درهيئت مؤسس وهيئت مديره شركت‌های تجارتی، بانک‌ها ومؤسسه ها يا محروميت از مديريت عامل تا يک سال.

۷- محروميت از معامله با ادارات دولتی يا مؤسسه های غير دولتی يا شركت درمزايده ومناقصه ازيک تا پنج سال.

۸- محروميت از رانندگی از شش ماه تا سه سال.

۹- مسدود كردن حساب‌های معين يا محروميت از افتتاح حساب جاری ويا محروميت ازدريافت تسهيلات واعتبارات بانک‌ها وساير مؤسسه های مالی از يک تا

څخه تر دريو کلونو پورې محروميت.
۱۰- د وسلې لرونکو مجازو افرادو د وسلې له ګرځولو څخه تر دوو کلونو پورې محروميت.
۱۱- له هېواده د بهرنيو اتباعو اېستل (اخراج) او له يوۀ څخه تر پنځو کلونو پورې افغانستان ته دهغوی د بيا دننه کېدو منع.
۱۲- له شپږو مياشتو څخه تر يوۀ کاله پورې له هېواده د افغاني اتباعو د وتلو منع.

## پنځمه فرع

## په کورکې حبس

### د بديل په توګه په کورکې حبس

**۱۶۸ ماده:**

(۱) محکمه کولای شي پدې فصل کې د درج شوو شرايطو په رعايت سره هغه محکوم عليه چې تر پنځو کلونو پورې د حبس د جزا مستوجب وي، په کورکې د حبس په تېرولو حکم وکړي.
(۲) په کور کې په حبس محکوم نشي کولای له کوره ووځي، خو د ضروري

سه سال.
۱۰- محروميت از حمل سلاح برای افراد مجاز دارندۀ سلاح تا دوسال.
۱۱- اخراج اتباع خارجی ازکشور ومنع ورود مجدد آنها به افغانستان ازيک تا پنج سال.
۱۲- منع خروج اتباع افغانی از کشور از شش ماه تا يک سال.

## فرع پنجم

## حبس درمنزل

### حبس در منزل منحيث بديل

**مادۀ۱۶۸:**

(۱) محکمه می تواند با رعايت شرايط مندرج اين فصل، محکوم عليه را که مستوجب جزای حبس تا پنج سال باشد به سپری نمودن حبس در منزل حکم نمايد.
(۲) محکوم به حبس در منزل نمی تواند از منزل خارج شود، مگر به

چارو د ترسره کولو لپاره د واکمنــــې محکمې په اجازه.

(۳) په کور کې د حبس موده له شپږو میاشتو څخه تر دووکلونو پورې ده.

(۴) په کورکې د محکوم علیه حضور، د هغې الکترونیکي وسیلې له لارې چې د حبس د بدیل د جزاګانو پر تطبیق د نظارت په مرکز کې شتون لري یـــا د ټولنیز مرستندوی په واسطه،کنترولېږي.

(۵) که چېرې محکوم علیه په کور کې د حبس شرایط چې د مخه د محکمې په حکم کې تصریح شوي دي، رعایت نکړي، د بدیل حبس د جزا پاتې موده په تنفیذي حبس بدلېږي.

## څلورمه برخه

## د اعدام جزا

اعدام

**۱۶۹ ماده:**

اعدام د واکمنې محکمې له حکم او د جمهور رئیس له منظورۍ وروســـته د قانون پربنسټ د حقیقــي شـــخص د حیات له ازالې څخه عبارت دی.

اجازۀ محکمۀ ذیصلاح، غرض انجـــام امور ضروری.

(۳) مدت حبس درمنزل از شش ماه تا دوسال می‌باشد.

(۴) حضور محکوم علیه درمنـــزل، از طریق وسیله الکترونیکی که در مرکز نظارت بر تطبیق جزاهای بدیل حـــبس وجود دارد یا توسط مددگار اجتماعی، کنترول می‌گردد.

(۵) هرگاه محکوم علیه شرایط حبس درمنزل را که قبلاً درحکم محکمـــه تصریح شده است رعایت نکند، مدت باقیماندۀ جزای بدیل حبس به حـــبس تنفیذی تبدیل می‌گردد.

## قسمت چهارم

## جزای اعدام

اعدام

**مادۀ۱۶۹:**

اعدام عبارت از ازاله حیات شـــخص حقیقی است به اساس قانون بعـــد از حکم محکمۀ ذیصلاح ومنظوری رئیس جمهور.

**د اعدام د جزا موارد**

**۱۷۰ ماده:**

د اعدام د جزا موارد په لانــدې ډول دي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول تصريح شوي وي:

۱- د نسل وژنې، د بشــريت ضــد، جنگي د دولت پرخلاف د تجاوز، ترور او چاودنې، اختطاف او برمته کولو یا قطاع الطريقۍ جرمونه چــې د هغــو ارتکاب د شخص يا اشخاصو د مړينې سبب شي.

۲- عمد قتل په هغو مواردو کې چــې پدې قانون کې پیشبیني شوي دي.

۳- هغه جرمونه چې په پایله کې يې د افغانستان اسلامي جمهــوري دولــت ځمکه ټوله د بهرني دولت تر حاکمیت لاندې ورکول شي يا د هېــواد ملــي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتيا یا خپلواکۍ ته زیان ورسېږي.

۴- پر ښځه باندې ډله ییــز جنســي تېری.

۵- پر نارينه باندې ډله ییــز جنســي

**موارد جزای اعدام**

**مادۀ ۱۷۰:**

موارد جزای اعدام قرار ذیل اســت، مگر اینکه در این قانون طوری دیگری تصریح گردیده باشد:

۱- جرایم نسل کشی، ضد بشــری، جنگی، تجاوز علیه دولــت، تــرور و انفجار، اختطاف وگروگان گیری یــا قطـــاع الطریقـــی کـــه ارتکـــاب آن سبب مرگ شخص یــا اشــخاص شود.

۲- قتل عمد در مواردی که در ایــن قانون پیش بینی گردیده است.

۳- جرایمی که در نتیجۀ آن اراضــی دولت جمهوری اسلامی افغانستان تماماً تحت حاکمیت دولت خارجی قــرار داده شود یا به حاکمیت ملی، تمامیت ارضی یا استقلال کشور صــدمه وارد گردد.

۴- تجــاوز جنســی گروهــی بــر زن.

۵- تجاوز جنسی گروهی بــر مــرد

تېرى، چې د مجني عليه د مړينې لامل شي.

## درېيم فصل

## تبعي جزاګانې

**تبعي جزا**

**۱۷۱ ماده:**

تبعي جزا هغه مجازات دي چې له اصلي جزا څخه په تبعيت سره پر محكوم عليه د قانون په حكم تطبيقېږي، پرته لـــدې چې د محكمې په حكم كې پر هغـــې تصريح شوې وي.

**د تبعي جزا ډول**

**۱۷۲ ماده:**

هغه شخص چې له لسوكلونو څخـــه د زيات حبس په جزا يا د دې قـــانون د دوه يم كتاب په لومړي او دوه يم باب كې په درج شوو جرمونو كې له لســـو كلونو څخه په لږ حبس محكوم شي، له لاندې حقوقو او امتيازونو څخه هـــم محرومېږي، خو دا چې دقـــانون يـــا محكمې په حكم اعادۀ حيثيت شـــوى وي:

كـــه باعـــث مـــرگ مجنـــى عليـــه گردد.

## فصل سوم

## جزاهای تبعی

**جزای تبعی**

**مادۀ ۱۷۱:**

جزای تبعی مجازاتی است که به تبعیت از جزای اصلی بالای محکوم علیه به حکم قانون تطبیق می‌گردد، بدون این که در حکم محکمه به آن تصریح شده باشد.

**نوعیت جزای تبعی**

**مادۀ ۱۷۲:**

شخصی‌که به جزای حبس بـــیش ازده ســـال یـــا بـــه حـــبس کمتـــر از ده ســـــال در جـــــرایم منـــــدرج باب اول و دوم کتاب دوم این قانون محکـــــوم گـــــردد، از حقـــــوق و امتیازات ذیل نیز محروم می‌شـــود، مگراین‌کـــه بـــه حکـــم قـــانون یـــا محکمـــه اعـــادۀ حیثیـــت شـــده باشد:

۱- په دولتي درې ګونو قواوو او نورو دولتي بنسټونو کې خدمت.
۲- په ټاکنيزو عهدو کې نوماند کېدل.
۳- له نښانونو، مډالونو او دولتي افتخاري القابو څخه استفاده.
۴- د اداري او مالي فساد د جرم د ارتکاب په سبب د محکوميت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مديره هيئت کې غړيتوب.
۵- له ادارو، تصديو، دولتي او مختلطو مؤسسو سره د قرارداد عقد يا د مالي جرمونو د ارتکاب په صورت کې د دولت لخوا د امتياز ترلاسه کول.

## د تبعي جزاګانو نور ډولونه

### ۱۷۳ ماده:

د دې قانون په ۱۷۲ ماده کې درج شوی شخص د محکوميت په موده کې له لاندې حقوقو او امتيازونو څخه هم محروميږي:
۱- په معاملو او دعواوو کې وصايت، وکالت او قيموميت.

۱- خدمت در قوای سه گانه دولتی و ساير نهاد های دولتی.
۲- کانديد شدن در عهده های انتخابی.
۳- استفاده ازنشانها، مدالها و القاب افتخاری دولتی.
۴- عضويت در هيئت مديرهٔ شرکتها، بانکها و مؤسسه ها در صورت محکوميت به سبب ارتکاب جرايم فساد اداری ومالی.
۵- عقد قرارداد با ادارات، تصدیها، مؤسسه های دولتی و مختلط يا کسب امتياز از طرف دولت، در صورت ارتکاب جرايم مالی.

## ساير انواع جزا های تبعی

### مادهٔ ۱۷۳:

شخص مندرج مادهٔ ۱۷۲ اين قانون در مدت محکوميت از حقوق و امتيازات ذيل نيز محروم میگردد:
۱- وصايت، وکالت و قيموميت در معاملات و دعاوی.

۲- په عقودو او معاملو کې شهادت.

۳- د مالونو او املاکو مستقیمه اداره د وقف او وصیت په استثني.

د تبعي جزا اغېزه

۱۷۴ ماده:

که چېرې محکوم علیه دحکم د صادرېدو تر وخته د دې قانون په ۱۷۲ ماده کې له درج شوو حقوقو او امتیازونو څخه برخمن وي، د حکم له قطعیت وروسته، له هغو څخه محرومېږي.

په مالونو کې له ادارې او تصرف څخه د محرومیت رفع

۱۷۵ ماده:

(۱) د ضرورت په حالت کې د مالونو ادارې او په هغو کې له تصرف څخه محرومیت د محکمې په اجازه مؤقتاً لرې کېدی شي.

(۲) د هغهٔ تعهد صحت (سموالی) او نه صحت چې محکوم علیه د محکمې له اجازې پرته متقبل شوی وي، د اړوندې محکمې په اجازې پورې موقوف دی.

۲- شهادت در عقود و معاملات.

۳- ادارهٔ مستقیم اموال و املاک به استثنای وقف و وصیت.

تأثیر جزای تبعی

مادهٔ ۱۷۴:

هرگاه محکوم علیه تا زمان صدور حکم از حقوق و امتیازات مندرج مادهٔ ۱۷۲ این قانون مستفید باشد، بعد از قطعیت حکم، از آن محروم می‌گردد.

رفع محرومیت از اداره و تصرف در اموال

مادهٔ ۱۷۵:

(۱) محرومیت از اداره و تصرف در اموال در حالت ضرورت به اجازهٔ محکمه موقتاً مرفوع شده می‌تواند.

(۲) صحت و عدم صحت تعهدی که محکوم علیه بدون اجازهٔ محکمه متقبل شده باشد، موقوف به اجازهٔ محکمه مربوط می‌باشد.

**د قیم لخوا د محکوم علیه د مالونو اداره**

**۱۷٦ ماده:**

**(۱) محکمه کولی شي له لسو کلونو څخه په زیات حبس د محکوم علیه د غوښتنې پراساس، د هغهٔ د مالونو د ادارې او سرپرستۍ لپاره قیم وټاکي.**

**(۲) محکمه قیم د بالمال ضمانت په ورکولو مکلف کوي او د دې دندې په وړاندې هغهٔ ته مناسب اجرت ټاکي.**

**(۳) د قیم تصرفات د هغهٔ تر ادارې لاندې مالونو په هکله د هغې محکمې د نظارت تابع دي چې قیم یې ټاکلی دی.**

**(۴) د قیم تر ادارې لاندې مالونه د مجازاتو له تطبیق یا د قیمومیت د موعد له تیرېدو وروسته بنا پر هر سبب چې وي، نوموړي محکوم علیه ته مستردېږي.**

**(۵) قیم مکلف دی په تر قیمومیت لاندې مالونو پورې اړوند صورت**

**ادارهٔ اموال محکوم علیه از طرف قیم**

**مادهٔ ۱۷٦:**

**(۱) محکمه می‌تواند به اساس مطالبهٔ محکوم علیه به حبس بیش از ده سال، برای اداره و سرپرستی اموال وی قیم تعیین نماید.**

**(۲) محکمه قیم را به دادن ضمانت بالمال مکلف نموده و اجرت مناسب را در برابر این وظیفه برای وی تعیین می‌نماید.**

**(۳) تصرفات قیم در مورد اموال تحت ادارهٔ وی تابع نظارت محکمه ای می‌باشد که قیم را تعیین نموده است.**

**(۴) اموال تحت ادارهٔ قیم بعد از تطبیق مجازات یا انقضای موعد قیمومیت، بنابر هر سببی که باشد، به محکوم علیه مذکور مسترد می‌شود.**

**(۵) قیم مکلف است تا صورت حساب مربوط به اموال تحت قیمومیت را به**

حساب محکوم علیه ته وړاندې کړي.

**په اعدام د محکوم د مالونو اداره**

**۱۷۷ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د اعدام په جـزا محکومېږي، د حکم د تنفیذ تر وخته، د دې قانون په ۱۷۲ ماده کې له درج شـوو حقوقـو او امتیـازونو څخـه محرومېږي.

(۲) په اعدام د محکوم شخص حقوقي تصرف د وقف او وصیت په اسـتثنې باطل ګڼل کېږي، محکمه کولی شي د هغهٔ د غوښتنې پراساس، د مـالونو د سرپرستۍ او ادارې لپاره قیم وټاکي.

## څلورم فصل

## تکمیلي جزاګانې او د هغو ډولونه

**تکمیلي جزا**

**۱۷۸ ماده:**

(۱) تکمیلي جزا هغه مجازات دی چې پر اصلي جزا بر سېره د محکمې پـه حکم کې تصریح شوې وي.

محکوم علیه ارایه نماید.

**اداره اموال محکوم به اعدام**

**مادهٔ۱۷۷:**

(۱) شخصی که بـه جـزای اعـدام محکوم می‌گردد، تـا زمـان تنفیـذ حکم از حقوق و امتیازات مندرج مادهٔ ۱۷۲ ایـن قـانون محـروم می گردد.

(۲) تصرف حقوقی شخص محکوم به اعدام به استثنای وقف و وصیت، باطل شمرده شده، محکمه می‌تواند به اساس مطالبهٔ وی بـرای سرپرسـتی و ادارهٔ اموال وی قیم تعیین نماید.

## فصل چهارم

## جزاهای تکمیلی و انواع آن

**جزای تکمیلی**

**مادهٔ۱۷۸:**

(۱) جزای تکمیلی مجازاتی است که علاوه بر جزای اصلی در حکم محکمه تصریح گردیده باشد.

(۲) تکميلي جزا ګانې په لاندې توګه دي:

۱- د دې قانون د ۱۷۲ مادې په ۳، ۴ او۵ اجزاوو او د ۱۷۳ مادې په ۱، ۲ او۳ اجزاووکې له درج شوو حقوقو اوامتيازونو څخه محروميت.

۲- د مالونو مصادره.

۳- د حکم خپرول.

**له حقوقو څخه د محکوم عليه محروميت**

**۱۷۹ ماده:**

(۱) محکمه کولي شي تر لسوکلونو پورې د طويل حبس يا متوسط حبس د حکم پروخت د جرم پر اصلي جزا بر سېره، محکوم عليه د دې قانون د ۱۷۲ مادې په ۳، ۴ او ۵ اجزاوو کې له درج شوو حقوقو او امتيازونو څخه هم محروم کړي.

(۲) تکميلي جزا د اصلي جزا له تنفيذ يا د هغې له انقضاء وروسته په هر سبب چې وي، تنفيذېږي.

(۳) محکمه کولی شي په هغهٔ صورت

(۲) جزاهای تکميلی قرار ذيل می باشد:

۱- محروميت از حقوق و امتيازات مندرج اجزای ۳، ۴و ۵ مادهٔ ۱۷۲ و اجزای ۱، ۲ و ۳ مادهٔ ۱۷۳ اين قانون.

۲- مصادره اموال.

۳- نشر حکم.

**محروميت محکوم عليه از حقوق**

**مادهٔ۱۷۹:**

(۱) محکمه می‌تواند هنگام حکم به حبس طويل تا ده سال يا حبس متوسط علاوه بر جزای اصلی جرم، محکوم عليه را از حقوق و امتيازات مندرج اجزای ۳، ۴ و ۵ مادهٔ ۱۷۲ اين قانون، نيز محروم سازد.

(۲) جزای تکميلی بعد از تنفيذ جزای اصلی يا انقضای آن به هر سببی که باشد، تنفيذ می‌گردد.

(۳) محکمه می‌تواند در صورتی که در

چې پدې قانون کې تصریح شوي وي، محکوم علیه له ځینو نورو حقوقــو او امتیازونو څخه هم محروم کړي.

## د مالونو مصادره

**۱۸۰ ماده:**

(۱) مصادره د محکوم علیه د منقولو یا غیر منقولو مالونو او نورو جرمي شیانو له جبري او بلا عوضه اخیستلو څخــه عبارت ده چې د قانون له حکمونو او د واکمنې محکمې له فیصلې سره سم، د هغو ملکیت دولت ته انتقالیږي.

(۲) مصادره یوازې په هغو مواردو کې چې په قانون کې پیشبینې شــوي دي، حکم کېدی شي.

## د محکوم علیه د اړتیا وړ ملکیت نه مصادره

**۱۸۱ ماده:**

(۱) د محکوم علیه ملکیت چې د هغهٔ او د هغهٔ د کورنۍ داعاشې، اباتې او د معیشت د تأمین د نــورو لګښــتونو (مصارفو) لپاره د اړتیا وړ وي، نشــي مصادره کېدی.

این قانون تصــریح گردیــده باشــد، محکوم علیه را از بعضــی حقــوق و امتیازات دیگر نیز محروم سازد.

## مصادره اموال

**مادهٔ۱۸۰:**

(۱) مصادره عبارت اســت از اخــذ جبری و بلاعوض اموال منقول یا غیر منقول محکوم علیه یا ســایر اشــیای جرمی می باشد که مطابق احکام قانون و فیصله محکمهٔ ذیصلاح ملکیــت آن به دولت انتقال می‌یابد.

(۲) مصادره صرف در مواردی که در قانون، پیش‌بینی شده است، حکم شده می‌تواند.

## عدم مصادره ملکیت مورد نیــاز محکوم علیه

**مادهٔ۱۸۱:**

(۱) ملکیــت محکــوم علیــه کــه برای اعاشه، اباته و ســایر مصــارف تأمین معیشــت وی و خــانواده اش مورد نیــاز باشــد، مصــادره شــده نمی‌تواند.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی د ملکیت فهرست، د جلا تقنیني سند په واسطه تثبیتېږي.

## د ثالثو اشخاصو د مصادرې او حقوقو موارد

**۱۸۲ ماده:**

(۱) محکمه د هغو پیسو او شیانو چې د جرم له ارتکاب څخه لاس ته راغلي، د جرم په ارتکاب کې استعمال شوي، د جرم په ارتکاب کې د استعمال په قصد برابر شوي یا له جرم څخه د را پیدا شوو عوایدو یا هغو شیانو چې په خپل ذات کې جرم دی، په مصادرې حکم کوي.

(۲) پر مصادرې حکم، د ثالثو اشخاصو حقوق چې د حسن نیت خاوندان وي نه اخلالوي.

## د حکم د خپرولو موارد

**۱۸۳ ماده:**

(۱) محکمه کولی شي، په ټولیزو رسنیو کې د حکم خپرول د تکمیلي جزا په توګه په فیصله کې تصریح کړي.

(۲) فهرست ملکیت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، توسط سند تقنینی جداگانه تثبیت می‌گردد.

## موارد مصادره و حقوق اشخاص ثالث

**مادهٔ۱۸۲:**

(۱) محکمه به مصادرهٔ پول و اشیائی که از ارتکاب جرم به دست آمده، در ارتکاب جرم استعمال گردیده، به قصد استعمال در ارتکاب جرم تهیه شده یا عواید ناشی از جرم یا اشیائی که به ذات خود جرم بوده، حکم می‌نماید.

(۲) حکم به مصادره، حقوق اشخاص ثالث را که صاحب حسن نیت باشند، اخلال نمی‌کند.

## موارد نشر حکم

**مادهٔ۱۸۳:**

(۱) محکمه می‌تواند، نشرحکم را در رسانه‌های همگانی به حیث جزای تکمیلی در فیصله تصریح نماید.

(۲) حکم د فیصلې د قطعیت تروختـــه پورې نشي خپرېدی.
دغه اقدام د علني محاکمې د جوړولو او د ټولیزو رسنیو له لارې د قضیې د جریان د خپرولو خنډ نه ګرځي.
(۳) د جنسي تجاوز، قذف، توهین او ښکنځلو په جرمونو کې، د مجني علیه موافقت، د حکم په افشاء او خپرولـــو کې حتمي دی.
(۴) که چېرې د قـــذف، تـــوهین او ښکنځلو جرم د رسنیو له لارې صورت موندلی وي، محکمه د دې مـــادې د (۲ او ۳) فقرو د حکم په رعایت سره د هماغې رسنۍ په واسطه د هغـــۀ پـــه خپرولو حکم کوي.

(۲) حکم تا زمان قطعیت فیصله نشر شده نمی‌تواند.
این اقدام مانع برگزاری محاکمۀ علنی و نشر جریان قضیه از طرف رسانه‌های همگانی شده نمی‌تواند.
(۳) در جرایم تجاوز جنسی، قـــذف، توهین و دشنام، موافقت مجنی علیه در افشـــاء و نشـــر حکـــم حتمـــی است.
(۴) هرگـــاه جـــرم قـــذف، تـــوهین و دشنام از طریق رسانه‌هـــا صـــورت گرفته باشد، محکمه به نشـــر آن بـــا رعایت حکم فقرۀ های (۲ و ۳) ایـــن ماده توســـط همـــان رســـانه حکـــم می‌نماید.

## پنځم فصل
## تأميني تدبيرونه
## لومړۍ برخه
## د تأميني تدبيرونو عمومي حکمونه

**تأميني تدبيرونه**

**۱۸۴ ماده:**

تأميني تدبيرونه له هغو اقداماتو څخه عبارت دي چې د ذيصلاح محکمې لخوا د تورن يا محکوم د تربيت يا اصلاح، له ټولنيز ژوندانه سره د هغهٔ د بيا انطباق يا د تورن يا محکوم د خطرناک والي حالت ته په پام سره، د جرم له پېښېدو او تکرار څخه د مخنيوي لپاره نيول کېږي او په فيصله کې ذکر کېږي.

**د تأميني تدبيرونو موارد**

**۱۸۵ ماده:**

(۱) محکمه هغه وخت د دې قانون په پېشبيني شوو تأميني تدبيرونو حکم کوي چې ثابته شي محکوم عليه د

## فصل پنجم
## تدابير تأمينی
## قسمت اول
## احکام عمومی تدابير تأمينی

**تدابير تأمينی**

**مادهٔ۱۸۴:**

تدابير تأمينی عبارت از اقداماتی است که از طرف محکمهٔ ذيصلاح، جهت تربيت يا اصلاح متهم يا محکوم، انطباق مجدد وی به حيات اجتماعی يا جلوگيری از وقوع و تکرار جرم با نظرداشت حالت خطرناک بودن متهم يا محکوم اتخاذ و در فيصله ذکر می‌گردد.

**موارد تدابير تأمينی**

**مادهٔ۱۸۵:**

(۱) محکمه وقتی به تدابير تأمينی پيش بينی شده اين قانون حکم می‌نمايد که ثابت گردد محکوم عليه مرتکب عملی

داسې عمل مرتکب شوی دی چې د قانون په حکم جرم پېژندل شوی او د تورن یا محکوم حالت، د ټولنې ګټو او مصالحو ته خطر وګڼل شي.

(۲) د تورن یا محکوم حالت هغه وخت د ټولنې د ګټو او مصالحو پر خلاف ګڼل کېږي چې په حال او تېر (ګذشته) کې د هغهٔ له روېې څخه او یا د جرم د ارتکاب له حالاتو اوعلتونو څخه د جرم د واقع کېدو قوي احتمال متصور وي.

(۳) محکمه مکلفه ده یوازې د دې قانون په پیشبینې شوو حالاتو او شرایطو کې په تأمیني تدبیرونو حکم و کړي.

## د تأمیني تدبیرونو ډولونه

۱۸٦ ماده:

تأمیني تدبیرونه په لاندې توګه دي:

۱- د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه.

۲- د آزادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه.

۳- د حقوقو سلبوونکي تدبیرونه.

۴- مالي او اقتصادي تدبیرونه.

گردیده است که به حکم قانون جرم شناخته شده و حالت متهم یا محکوم علیه، برمنافع و مصالح اجتماع، خطر پنداشته شود.

(۲) حالت متهم یا محکوم علیه وقتی علیه منافع و مصالح اجتماع خطر پنداشته می شود که از رویهٔ وی در حال و گذشته و یا از حالات و علل ارتکاب جرم، احتمال قوی وقوع جرم متصور باشد.

(۳) محکمه مکلف است صرف در حالات و شرایط پیشبینی شده این قانون به تدابیر تأمینی حکم کند.

## انواع تدابیر تأمینی

مادهٔ۱۸٦:

تدابیر تأمینی قرار ذیل می باشد:

۱- تدابیر سلب کنندهٔ آزادی.

۲- تدابیر تحدید کنندهٔ آزادی.

۳- تدابیر سلب کنندهٔ حقوق.

۴- تدابیر مالی و اقتصادی.

## دوه یمه برخه

## د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه

### د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه

**۱۸۷ ماده:**

د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه، د رواني صحت په مرکزونو کې په رواني مرضونو د مصاب شخص په حجز محکومیت دی.

### په رواني مرضونو د مصاب محکوم علیه حجز

**۱۸۸ ماده:**

محکمه کولی شي د څارنوال یا په رواني مرضونو د مصاب شخص د قانوني نماینده د وړاندیز پر بنسټ، د اهل خبره له تصدیق وروسته، د رواني صحت په مؤسسو کې چې په دې منظور یې تخصیص موندلی په رواني مرضونو د مصاب محکوم علیه په حجز حکم وکړي.

## قسمت دوم

## تدابیر سلب کنندۀ آزادی

### تدابیر سلب کنندۀ آزادی

**مادۀ۱۸۷:**

تدابیر سلب کنندۀ آزادی، محکومیت شخص مصاب به امراض روانی به حجز در مراکز صحت روانی است.

### حجز محکوم علیه مصاب به امراض روانی

**مادۀ۱۸۸:**

محکمه می‌تواند به اساس پیشنهاد څارنوال یا نماینده قانونی شخص مصاب به امراض روانی،بعد از تصدیق نظر اهل خبره، به حجز محکوم علیه مصاب به امراض روانی در مؤسسۀ صحت روانی که به این منظور تخصیص یافته است، حکم نماید.

## د حجز د مودې تمدید

**۱۸۹ ماده:**

(۱) محکمه کولی شي د څارنوال یا په رواني مرضونو د مصاب شخص د قانوني نماینده په غوښتنه او د رواني صحت د اړوندې مؤسسې په تصدیق، د حجز موده د طبي متخصص هیئت غوښتنې ته په پام سره، تمدید کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې در ج د حجز مودې تمدید یا ختم د خپلواک طبی متخصص هیئت په واسطه چې له دریو تنو څخه لږ نه وي، صورت مومي.

## د رپوټ په وړاندې کولو د رواني صحت د مؤسسې مکلفیت

**۱۹۰ ماده:**

(۱) د رواني صحت اړونده مؤسسه مکلفه ده په حجز د محکوم د صحي وضع رپوټ په هرو دریو میاشتو کې واکمنې محکمې ته وړاندې کړي.

(۲) محکمه کولی شي د وړاندې شوي صحي رپوټ پر اساس د حجز په لغو،

## تمدید مدت حجز

**مادۀ۱۸۹:**

(۱) محکمه می‌تواند به تقاضای څارنوال یا نمایندۀ قانونی شخص مصاب به امراض روانی و تصدیق مؤسسۀ صحت روانی مربوط، مدت حجز را نظر به تقاضای هیئت متخصص طبی تمدید نماید.

(۲) تمدید یا ختم مدت حجز مندرج فقرۀ (۱) این ماده توسط هیئت متخصص طبی مستقل که کمتر از سه نفر نباشد، صورت می‌گیرد.

## مکلفیت مؤسسۀ صحت روانی به ارایه گزارش

**مادۀ۱۹۰:**

(۱) مؤسسۀ صحت روانی مربوط مکلف است گزارش وضع صحی محکوم به حجز را در هر سه ماه به محکمۀ ذیصلاح ارایه نماید.

(۲) محکمه می‌تواند به اساس گزارش صحی ارایه شده به لغو حجز،

حکم وکړي.

## د محکوم اجباري درملنه

**۱۹۱ ماده:**

که چېرې په الکولو یا مخدرو موادو معتاد شخص د جنحې یا جنایت د جرم د ارتکاب په علت په حبس محکوم شي، محکمه کولی شي د مرتکبه جرم پر جزا برسېره، د عامې روغتیا د مؤظفې ادارې، پولیسو، څارنوال یا د شخص د قانوني نماینده د وړاندیز پر بنسټ، محکوم علیه ته اجباري درملنه تجویز کړي. پدې صورت کې د درملنې موده د محکوم په حبس کې، محاسبه کېږي.

## د تأمیني تدبیرونو له حکمونو څخه د متخلف مجازات

**۱۹۲ ماده:**

هغه شخص چې پدې قانون کې د درج محکوم بها د تأمیني تدبیرونو له حکمونو څخه تخلف وکړي د شپږو میاشتو په قصیر حبس یا له پنځو زرو څخه تر شلو زرو افغانیو پورې په نغدي

حکم نماید.

## معالجه اجباری محکوم

**مادۀ۱۹۱:**

هرگاه شخص معتاد به الکول یا مواد مخدر به علت ارتکاب جرم جنحه یا جنایت محکوم به حبس گردد، محکمه می‌تواند علاوه بر جزای جرم مرتکبه به اساس پیشنهاد ادارۀ مؤظف صحت عامه، پولیس، څارنوال یا نمایندۀ قانونی شخص، به محکوم علیه معالجه اجباری را تجویز نماید. در این صورت مدت تداوی در حبس محکوم، محاسبه می گردد.

## مجازات متخلف از احکام تدابیر تأمینی

**مادۀ۱۹۲:**

شخصی که از احکام تدابیر تأمینی محکوم بهای مندرج این قانون تخلف ورزد به حبس قصیر شش ماه یا جزای نقدی از پنج هزار تا بیست هزار افغانی، محکوم

جزا، محکومېږي.

د ولایت، وصایت او قیمومیت، مصادرې، حجز او اجباری طبي تدبیرونو د سقوط په تدبیرونو پورې اړوند حکمونه لدې حکم څخه مستثني دي.

## دریمه برخه
## د آزادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه

**په ټاکلي ځای کې له ګرځېدو راګرځېدو څخه د محکوم علیه منع**

**۱۹۳ ماده:**

محکمه هغه وخت په ټاکلي ځای کې د محکوم علیه په ګرځېدو را ګرځېدو د منع حکم کوي چې په هغهٔ ځای کې د هغهٔ شتون په قوي احتمال د جرم د ارتکاب د تکرار سبب شي.

**په ټاکلو ځایونوکې له اوسېدو څخه د محکوم علیه منع**

**۱۹۴ ماده:**

محکمه کولی شي د جنحې یا جنایت

می گردد.

احکام مربوط به تدابیر سقوط ولایت، وصایت و قیمومیت، مصادره، حجز و تدابیر طبی اجباری از این حکم مستثنی است.

## قسمت سوم
## تدابیرتحدید کنندهٔ آزادی

**منع محکوم علیه ازگشت وگذار در محل معین**

**مادهٔ۱۹۳:**

محکمه وقتی به منع محکوم علیه ازگشت وگذار در محل معین حکم می نماید که بودن وی درآن محل به احتمال قوی سبب تکرار ارتکاب جرم گردد.

**منع محکوم علیه از بود و باش در محلات معین**

**مادهٔ۱۹۴:**

محکمه می‌تواند محکوم علیه به جزای

په جزا محکوم علیه پر اصلي جزا برسېره په ټاکلو ځایونو کې له اوسېدو څخه منع کړي. پدې حالت کې محکمه د محکوم علیه شخصي یا ټولنیزه وضع په پام کې نیسي.

## د ازادۍ د تحدیدوونکو تدبیرونو د تطبیق میعاد

**۱۹۵ ماده:**

(۱) د دې قانون په ۱۹۳ او ۱۹۴ مادو کې درج د ازادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه په لاندې توګه تطبیقېږي:

۱- په تنفیذي حبس د محکومیت په صورت کې، د محکوم بها د حبس له تېرېدو یا د مجازاتو له عفو یا مشروطې خوشې کېدنې وروسته.

۲- په تعلیقي حبس د محکومیت په صورت کې، د حکم د تنفیذ د تعلیق په اړه د محکمې د حکم له صادرېدو وروسته.

۳- د حبس په بدیل د محکومیت په صورت کې د حبس د بدیل په اړه د محکمې د حکم له قطعیت وروسته.

جنحه یا جنایت را علاوه برجزای اصلی، ازبود وباش درمحلات معین منع نماید. در این حالت محکمه وضع شخصی یا اجتماعی محکوم علیه رادرنظرمی‌گیرد.

## میعاد تطبیق تدابیر تحدید کنندۀ آزادی

**مادۀ۱۹۵:**

(۱) تدابیر تحدید کنندۀ آزادی مندرج مواد ۱۹۳ و ۱۹۴ این قانون قرار ذیل تطبیق می‌گردد:

۱- در صورت محکومیت به حبس تنفیذی، بعد از سپری شدن حبس محکوم‌بها یا عفو مجازات یا رهایی مشروط.

۲- در صورت محکومیت به حبس تعلیقی، پس از اصدار حکم محکمه مبنی بر تعلیق تنفیذ حکم.

۳- در صورت محکومیت به بدیل حبس، پس از قطعیت حکم محکمه مبنی بر بدیل حبس.

۴- په نغدي جزا د محکومیت په صورت کې د حکم له قطعیت وروسته.
(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو تدبیرونو میعاد له شپږو میاشتو څخه لږ او له دریو کلونو څخه زیاتېدی نشي.

## په ټاکلو ځایونو کې د ګرځېدو راګرځېدو یا اوسېدو د منع د محکومیت لغو یا راټيټول

۱۹٦ ماده:

محکمه کولی شي د دې قانون په ۱۹۴ او ۱۹۵ مادو کې درج د محکوم علیه د ګرځېدو را ګرځېدو یا اوسېدو د منع موده د محکوم علیه په وړاندیز یا د څارنوال یا ددهٔ (شخص) د مدافع وکیل یا دمحل زیست (داوسېدوځای) د مسؤول په غوښتنه لغو یا کم کړي.

۴- در صورت محکومیت به جزای نقدی پس از قطعیت حکم.
(۲) میعاد تدابیر مندرج فقرهٔ (۱) این ماده از شش ماه کمتر و از سه سال بیشتر بوده نمی‌تواند.

## لغو یا کاهش محکومیت منع گشت و گذار یا بود و باش در محلات معین

مادهٔ۱۹٦:

محکمه می‌تواند مدت منع گشت و گذار یا بود و باش محکوم علیه مندرج مواد ۱۹۴و ۱۹۵ این قانون را به پیشنهاد محکوم علیه یا مطالبه څارنوال یا وکیل مدافع وی یا مسؤول محل زیست، لغو یا کم نماید.

## څلورمه برخه

## د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه

**د حقوقو د سلبوونکو تدبيرونو ډولونه**

**۱۹۷ ماده:**

د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه عبارت دي له:

۱- د ولايت، و صايت او قيموميت سقوط.

۲- په ټاکلې پيشه او حرفه له بوختېدو څخه محروميت.

**د ولايت، و صايت او قيموميت اسقاط**

**۱۹۸ ماده:**

د ولايت، وصايت او قيموميت اسقاط د نورو اشخاصو پر نفس يا مال د ولايت، وصايت او قيموميت له سلطې له پيدا شوو اعمالو د محکوم عليه له محرومولو څخه عبارت دي.

## قسمت چهارم

## تدابير سلب كنندهٔ حقوق

**انواع تدابير سلب كنندهٔ حقوق**

**مادهٔ۱۹۷:**

تدابير سلب كنندهٔ حقوق عبارت اند از:

۱- سقوط ولايت، وصايت و قيموميت.

۲- محروميت ازاشتغال به پيشه وحرفهٔ معين.

**اسقاط ولايت، وصايت و قيموميت**

**مادهٔ۱۹۸:**

اسقاط ولايت، وصايت وقيموميت عبارت است ازمحروم ساختن محكوم عليه از اعمال ناشى ازسلطه ولايت، وصايت وقيموميت برنفس يا مال سايراشخاص.

## د ولایت، وصایت او قیمومیت د اسقاط موارد

**۱۹۹ ماده:**

محکمه په هغو حالاتو کې چې ولـي، وصي یا قیم د داسې جرم مرتکب شي چې د هغو په نومړو دندو پورې د اړوندو قانوني مکلفیتونو اجراء اخلال کړي یا د ولایت، وصایت یا قیمومیت د دندې په اجراء کې د هغوی نه کفایت او توانایي ثابت کړي، د ولایت، وصایت یا قیمومیت په اسقاط حکم کوي.

## په ټاکلې پېشه (کسب) یا حرفه له بوختېدو څخه محرومیت

**۲۰۰ ماده:**

د صنعتي، تجارتي یا فني فعالیتونو لـه ترسره کولو څخه د شخص د منع پـه شمول، په پېشې او حرفې له بوختېدو څخه محرومیت دی، پدې شرط چې په هغو بوختېدل قانوناً د یوې رسمي واکمنې مرجع په اجازې پورې تړلي (متعلق) وي.

## موارد اسقاط ولایت، وصایت و قیمومیت

**مادۀ ۱۹۹:**

محکمه درحالاتی که ولی، وصی یا قیم مرتکب جرمی گرددکه اجرای مکلفیت‌های قانونی مربوط به وظایف متذکره آنها را اخلال نماید یاعدم کفایت وتوانایی آنها را در اجرای وظیفه ولایت، وصایت یا قیمومیت ثابت سازد، به اسقاط ولایت، وصایت یا قیمومیت حکم می نماید.

## محرومیت از اشتغال به پیشه یا حرفه معین

**مادۀ۲۰۰:**

محرومیت ازاشتغال به پیشه وحرفه، شامل منع شخص ازانجام فعالیت‌های صنعتی، تجارتی یا فنی می‌باشد. مشروط بر این‌که اشتغال به آن قانوناً متعلق به اجازه یک مرجع باصلاحیت رسمی باشد.

**په ټاکلې پېشه يا حرفه له بوختېدو څخه د محروميت موارد**

**۲۰۱ ماده:**

(۱) که چېرې شخص په پېشه يا حرفه پورې د اړوند و مکلفيتونو له اخلال څخه د راپيدا شوو جرمونو د ارتکاب په سبب، د حبس په جزا محکوم شي، محکمه کولي شي هغه پر اصلي جزا بر سېره له اړوندې پېشې يا حرفې څخه محروم کړي. د دې محروميت موده له يوې مياشتې څخه لږ او له يوۀ کاله څخه زياتېدي نشي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج محکوم عليه په اړونده پېشه يا حرفه له بوختېدو څخه د محکوميت د مودې له ختم وروسته، د لومړني (اولي) عين جرم يا مماثل جرم د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د پنځو کلونو په ترڅ کې، دوباره مرتکب شي پر اصلي جزا برسېره په اړونده پېشه يا حرفه له بوختېدو څخه دهغۀ په محروميت حکم وکړي. ددې‌محروميت

**موارد محروميت از اشتغال به پيشه يا حرفه معين**

**مادۀ۲۰۱:**

(۱) هر گاه شخص به سبب ارتکاب جرايم ناشی از اخلال مکلفيت‌های مربوط به پيشه يا حرفه به جزای حبس محکوم گردد، محکمه می‌تواند وی را علاوه برجزای اصلی ازاشتغال به پيشه ياحرفۀ مربوطه محروم نمايد. مدت اين محروميت از يک ماه کمتر و ازيکسال بيشتر بوده نمی‌تواند.

(۲) هرگاه محکوم عليه مندرج فقرۀ (۱) اين ماده بعد ازختم مدت محکوميت ازاشتغال به پيشه ياحرفه مربوطه طی پنج سال ازتاريخ صدورحکم قطعی عين جرم يا مماثل جرم اولی را دوباره مرتکب گردد، محکمه می‌تواند علاوه برجزای اصلی به محروميت وی ازاشتغال به پيشه ياحرفۀ مربوطه حکم نمايد. مدت اين محروميت از يک سال

له یوه کاله څخه لږ او له دریو کلونو څخه زیاتېدی نشي.

(۳) د دې مادې په (۱ او۲) فقرو کې درج محرومیت، د اصلي مجازاتو له تطبیق وروسته، عملي کېږي.

**د چلونې (راننډګی) په پېشه له بوختېدو څخه منع**

**۲۰۲ ماده:**

که چېرې یو شخص د ترافیکي جرم د ارتکاب په سبب په جزا محکوم شي، محکمه کولای شي د ترافیکي جرم د تکرار په صورت کې، هغه پر اصلي جزا برسېره د چلونې له حق او د چلونې د جواز له نوي کولو څخه له دریو میاشتو څخه تر دریو کلونو پورې محروم کړي.

## پنځمه برخه

## مالي او اقتصادي تدبیرونه

**د مالي او اقتصادي تدبیرونو ډولونه**

**۲۰۳ ماده:**

د مالي او اقتصادي تدبیرونو ډولونه

کمتر و از سه سال بیشتربوده نمی‌تواند.

(۳) محرومیت مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده بعد از تطبیق مجازات اصلی، عملی می‌گردد.

**منع اشتغال به پیشهٔ راندگی**

**مادهٔ۲۰۲:**

هرگاه شخصی به سبب ارتکاب جرم ترافیکی محکوم به جزا گردد، محکمه می‌تواند در صورت تکرار جرم ترافیکی، وی راعلاوه برجزای اصلی از حق راندگی وتجدید جواز راندگی به مدت سه ماه تا سه سال محروم نماید.

## قسمت پنجم

## تدابیر مالی و اقتصادی

**انواع تدابیر مالی و اقتصادی**

**مادهٔ۲۰۳:**

تدابیرمالی واقتصادی عبارت

عبارت دي له:

۱- د شيانو مصادره.

۲- د ځای (محل) بندول.

۳- د حقيقـي شـخص د فعاليـت درول.

۴- د حکمـي شـخص د فعاليـت درول.

د شيانو مصادره

۲۰۴ماده:

که چېرې ضبط شوي شـيان د هغـو شيانو له جملې څخه وي چې د هغـو جوړول، اسـتعمال، سـاتل، واردول، صادرول، وړاندې کول، پېر يا پلور په خپل ذات کې جرم وي، محکمه د هغو په مصادرې حکم کوي، که څه هم چې نوموړي شيان د محکوم عليه ملکيت نه وي يا تورن له محکمې څخه برائـت واخلي.

د فعاليت د ځای بندول

۲۰۵ ماده:

(۱) که چېرې کوم ځـای د جـرم د ارتکاب په خاطر اختصاص موندلی وي،

اند از:

۱- مصادرۀ اشياء.

۲- مسدود ساختن محل.

۳- متوقف ساختن فعاليـت شـخص حقيقی.

۴- متوقف ساختن فعاليـت شـخص حکمی.

مصادرۀ اشياء

مادۀ۲۰۴:

هرگاه اشيای ضـبط شـده ازجملـه اشيايی باشدکه سـاختن، اسـتعمال، نگهداری، توريد، صـدور، عرضـه، خريـد يـا فـروش آن بـه ذات خود جرم باشد، محکمه به مصادرۀ آن حکـم مـی‌نمايد،گرچـه اشـيای مذکورملکيت محکوم عليه نباشد يـا متهم ازمحکمـه برائـت حاصـل کند.

مسدود ساختن محل فعاليت

مادۀ۲۰۵:

(۱) هرگاه محلی بخاطر ارتکاب جرم اختصاص يافته باشد، محکمه عـلاوه

محکمه پدې قانون کې په پیشبیني شوو جزا ګانو برسېره، له یوې میاشتې څخه تر شپږو میاشتو پورې د هغهٔ د بندولو حکم صادروي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج محکوم علیه د محکومیت د دورې له ختمېدو وروسته د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د پنځو کلونو په ترڅ کې لومړنی جرم دوباره مرتکب شي، محکمه کولی شي پر اصلي جـزا برسېره له یوهٔ څخه ترپنځو کلونو پورې د اړوند ځای په بندولو حکم کوي.

(۳) کــه چېــرې ځـــای د جــرم د ارتکاب په خاطر اختصاص شوي نه وي خو له هغهٔ څخه د جرم د ارتکاب په منظور کار اخیســتل شــوی وي، محکمه پدې قانون کې پــر پیشــبیني شوو جزاګانو برسېره په مؤقتي توګه د هغهٔ پر بندولو حکم کوي. دغه موده له یوې میاشتې لږ او له یوهٔ کاله څخــه زیاتېدی نشي.

(۴) د دې مادې په (۱،۲ او۳) فقــرو کې درج شــوي حکمونــه، د نــورو

برجزاهـــای پـــیش‌بینـــی شـــده در ایـــن قـــانون، بـــه مسدودســـاختن آن از یک ماه تا شـــش مـــاه، حکـــم می نماید.

(۲) هرگاه محکوم علیه مندرج فقـــرهٔ (۱) این ماده بعـــد از خـــتم مـــدت محکومیت طی پنج ســـال از تـــاریخ صدور حکم قطعی جرم اولی را دوباره مرتکب گردد، محکمه می تواند علاوه برجـــزای اصـــلی بـــه مســـدودیت محل مربوطه از یک تا پنج سال حکم نماید.

(۳) هرگاه محـــل بخـــاطر ارتکـــاب جـــرم اختصـــاص نیافتـــه امـــا از آن بمنظـــور ارتکـــاب جـــرم کـــار گرفته شده باشد، محکمه علاوه بـــر جزاهای پیش‌بینی شده در این قانون به مسدود ساختن آن به صورت مـــؤقتی حکم می‌نماید. این مدت ازیک مـــاه کمتر و از یـــک ســـال بیشـــتربوده نمی‌تواند.

(۴) احکـــام منـــدرج فقـــره هـــای (۱، ۲ و۳) این ماده، حقوق اشخاص

اشخاصو حقوق چې د حسن نیت لرونکي وي نه اخلالوي.

**د ځای په بندولو د محکومیت آثار**

**۲۰٦ ماده:**

(۱) په ټاکلې کسب یا حرفه له بوختېدو څخه د شخص محرومیت هم د جرم د ارتکاب د ځای د بندولو په حکم کې شامل دی.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د جرم د ارتکاب د ځای د بندولو په صورت کې، شخص نشي کولی د جرم د ارتکاب ځای د جرم له واقع کېدو وروسته د عین کسب او حرفې د پر مخ بیولو په منظور اقاربو یا نورو اشخاصو ته پرېږدي یا یې په اجاره یا کرایه ورکړي.

(۳) د ځای مالک یا بل شخص چې د جرم د ارتکاب په ځای کې د عیني یا انتفاعي حق لرونکی وي، له جرمي عمل سره د نه ارتباط په صورت کې، تر محرومیت لاندې نه راځي.

دیگر را که دارای حسن نیت باشند، اخلال نمی نماید.

**آثار محکومیت به مسدود ساختن محل**

**مادهٔ۲۰٦:**

(۱) حکم به مسدود ساختن محل ارتکاب جرم شامل محرومیت شخص از اشتغال به پیشه یا حرفهٔ معین نیز می‌باشد.

(۲) در صورت مسدود ساختن محل ارتکاب جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، شخص نمی‌تواند محل ارتکاب جرم را بعد از وقوع جرم به اقارب یا سایر اشخاص بمنظور پیشبرد عین پیشه و حرفه واگذار یا به اجاره یا کرایه بدهد.

(۳) مالک محل یا شخص دیگریکه در محل ارتکاب جرم دارای حق عینی یا انتفاعی باشد، درصورت نداشتن ارتباط به عمل جرمی، تحت محرومیت قرار نمی‌گیرد.

شپږم فصل

د جزا ټاکل او د مخففه او مشدده احوالو رعایت

لومړۍ برخه

د جزا د ټاکلو عمومي حکمونه

د جزا په ټاکلو کې د اصـــولو او قواعدو رعایت

۲۰۷ ماده:

د محکمې لخوا د جزا ټاکل د ۲ او ۳ مادو د حکمونـــو او د دې قـــانون د حکمونو په حدودو کې د نورو عمومي اصولو او قواعدو په رعایت سره چې د جرم د ارتکاب مسؤولیت یې تصـــریح کړی، صورت مومي.

د جزا په ټاکلو کـــې د محکمـــې مکلفیت

۲۰۸ ماده:

محکمه مکلفـــه ده د جـــزا د ټـــاکلو پروخت، د جرم انګېزه او ماهیـــت، د

فصل ششم

تعیین جزا و رعایت احوال مخففه و مشدده

قسمت اول

احکام عمومی تعیین جزا

رعایت اصول و قواعد در تعیـــین جزا

مادۀ۲۰۷:

تعیین جزا از طرف محکمه با رعایـــت احکام مواد۲ و ۳ و سایر اصـــول و قواعد عمومی در حدود احکام ایـــن قـــانون کـــه مســـؤولیت ارتکـــاب جرم را تصـــریح نمـــوده، صـــورت می‌گیرد.

مکلفیـــت محکمـــه در تعیـــین جزا

مادۀ۲۰۸:

محکمه مکلف است هنگام تعیین جزا، انگیزه و ماهیت جرم، تناسب خطر و

ارتکابي جرم د ټولنيز يا فردي خطر او زيان تناسب، د تورن شخصيت، احوال او سوابق، د جرم مخففه او مشدده احوال په پام کې ونيسي.

**د قضايي مخففه احوالو استنباط**

**۲۰۹ ماده:**

محکمه پدې قانون کې درج پر قانوني مخففه احوالو برسېره، په جرم او تورن پورې له اړوندې اوضاع څخه قضايي مخففه احوال استنباط کوي.

**د جرمونو او جزا د خصوصي حکمونو د برخې د مشدده احوالو رعايت**

**۲۱۰ ماده:**

محکمه مکلفه ده د جزا د ټاکلو پروخت، پدې قانون کې درج پر عمومي مشدده احوالو برسېره، د هر جرم مشدده احوال په هغه پورې له مختصو حکمونو سره سم رعايت کړي.

زيان اجتماعی يا فردی جرم ارتکابی، شخصيت، احوال و سوابق متهم، احوال مخففه و مشدده جرم را در نظر گيرد.

**استنباط احوال مخففه قضايی**

**مادۀ۲۰۹:**

محکمه علاوه بر احوال مخففه قانونی مندرج اين قانون، احوال مخففۀ قضايی را از اوضاع مربوط به جرم و متهم استنباط می‌نمايد.

**رعايت احوال مشددۀ بخش احکام خصوصی جرايم و جزا**

**مادۀ۲۱۰:**

محکمه مکلف است حين تعيين جزا، علاوه بر احوال مشددۀ عمومی مندرج اين قانون، احوال مشددۀ هر جرم رامطابق احکام مختص به آن رعايت نمايد.

## د مخففه او مشدده احوالو راټولېدل

**۲۱۱ ماده:**

(۱) که چېرې قانوني معاذير، قضايي مخففه او مشدده احوال په يوهٔ جرم کې جمع شي، محکمه لومړی (اول) مشدده احوال، وروسته مخففه معاذير او په آخر کې قضايي مخففه احوال رعايتوي.

(۲) که چېرې مشدده احوال، د مخففه احوالو او قانوني معاذيرو معادل وي، محکمه کولی شي ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوو حالاتو ته له پام پرته، د جرم په پېشبينې شوې اصلي جزا حکم وکړي.

(۳) که چېرې مشدده يا مخففه احوال يا قانوني معاذير د متفاوتو اثراتو لرونکي وي، محکمه کولی شي د عدالت د تأمين په منظور، له هغوی څخه تر ټولو ځواکمن ته ترجيح ورکړي.

## اجتماع احوال مخففه و مشدده

**مادهٔ ۲۱۱:**

(۱) هرگاه معاذير قانونی، احوال مخففه و مشددهٔ قضايی دريک جرم جمع شود، محکمه اولاً احوال مشدده، بعداً معاذير مخففه و اخيراً احوال مخففه قضايی را رعايت می‌نمايد.

(۲) هرگاه احوال مشدده معادل احوال مخففه و معاذير قانونی باشد، محکمه می‌تواند بدون نظرداشت حالات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، به جزای اصلی پيش بينی شده جرم، حکم نمايد.

(۳) هرگاه احوال مشدده يامخففه يا معاذير قانونی دارای اثرات متفاوت باشد، محکمه می‌تواند بمنظورتأمين عدالت، قوی ترين آن‌را ترجيح دهد.

## دوه يمه برخه

## قانوني معاذير او قضايي مخففه احوال

**قانوني معاذير**

**۲۱۲ ماده:**

(۱) قانوني معاذير هغه حالات او موارد دي چې د معافيت، د جزا د تخفيف او يا له جزا څخه د تبرئې موجب کېږي. د جزا د معافيت، تخفيف او تبرئه کوونکي موارد، پدې قانون کې تصريح کېږي.

(۲) محکمه مکلفه ده په خپل حکم کې تبرئه کوونکي معاذير تصريح کړي.

(۳) له جزا څخه تبرئه کوونکي معاذير د جزايي مسؤوليت خنډ کېږي.

(۴)تبرئه کوونکي معاذير د اصلي، تبعي او تکميلي جزا دصادرېدو خنډ کېږي.

**د جزايي مسؤوليت مخففه احوال او د هغه ډولونه**

**۲۱۳ ماده:**

(۱) دجزايي مسؤوليت مخففه احوال له

## قسمت دوم

## معاذير قانونی و احوال مخففهٔ قضایی

**معاذير قانونی**

**مادهٔ ۲۱۲:**

(۱) معاذير قانونی، حالات و مواردی است که موجب معافيت، تخفيف جزا و يا تبرئه از جزا می گردد. موارد معافيت، تخفيف و تبرئه کننده جزا در اين قانون تصريح می گردد.

(۲) محکمه مکلف است در حکم خود معاذير تبرئه کننده را تصريح نمايد.

(۳) معاذير تبرئه کننده از جزا مانع مسؤوليت جزايی می گردد.

(۴) معاذير تبرئه کننده مانع صدور جزای اصلی، تبعی و تکميلی می گردد.

**احوال مخففه مسئووليت جزايی و انواع آن**

**مادهٔ۲۱۳:**

(۱) احوال مخففهٔ مسؤوليت جزايی

هغو حالاتو او اوضاع څخه عبارت دي چې د هغو د يوه يا څو مواردو موجوديت د مرتکب د جزا د تخفيف لامل کيږي.

(۲) د جزايي مسؤوليت مخففه احوال په لاندې توګه دي:

۱- د شريفانه انګيزې پر اساس د جرم ارتکاب.

۲- د روحي قوي هيجان له امله د جرم آني ارتکاب چې د مجني عليه يا ثالث شخص د غير قانوني او تحريکوونکي عمل زيږونده وي.

۳- د مشروع دفاع پروخت د جرم ارتکاب په هغهٔ صورت کې چې د مشروع دفاع له حدود څخه تجاوز صورت موندلی وي.

۴- د تهديد يا له مادي اومعنوي قدرت څخه د راپيدا شوي اجبار يا وظيفوي اجبار له امله دجرم ارتکاب په هغهٔ صورت کې چې د اکراه، د دندې د اجراء او د امر د تعميل د شرايطو له حدودو څخه، تجاوز صورت موندلی وي.

عبارت از حالات و اوضاعی می‌باشد که موجودیت یک یا چند مورد آن باعث تخفیف جزای مرتکب می‌گردد.

(۲) احوال مخففهٔ مسؤولیت جزایی قرار ذیل می باشد:

۱- ارتکاب جرم به اساس انگیزه شریفانه.

۲- ارتکاب آنی جرم از اثر هیجان قوی روحی که زاده عمل غیر قانونی و تحریک آمیز مجنی علیه یا شخص ثالث باشد.

۳- ارتکاب جرم هنگام دفاع مشروع درصورتی که از حدود دفاع مشروع تجاوز صورت گرفته باشد.

۴- ارتکاب جرم از اثر تهدید یا اجبار ناشی از قدرت مادی و معنوی یا اجبار وظیفوی در صورتی که از حدود شرایط اکراه، ایفای وظیفه و تعمیل امر، تجاوز صورت گرفته باشد.

۵- د ترسره شوي جرم له عواقبو څخه دمخنیوي لپاره د مرتکب کوښښ.
٦- له جرم څخه درامنځته شوي وارده زیان داوطلبانه جبران یا د ضرر رفع.
۷- د لومړي ځل لپاره د جرم ارتکاب.
۸- د جرم په ارتکاب د تورن اعتراف یا اقرار او د هغـهٔ د جـدي نـدامت څرګندول پداسې ډول چې د قضیې د واقعیت په تثبیت یا د جرمي شریکانو یا معاونانو په معرفي یا توقیف یا نیونه کې، مرسته وکړي.
۹- د حاملې یا شیدې خوړونکي طفل لرونکې ښځې پـه واسـطه د جـرم ارتکاب.
۱۰- د مجني علیه ابراء.
۱۱- د سن کبر د نارینه لپاره د اویـا سن بشپړېدل او د ښځې لپاره د پنځه شپېته سن بشپړېدل.
۱۲- پدې قانون کې درج نور حالات او یا هغه حالات چې محکمه یې په جرم او تورن پورې له اړوندې اوضـاع او احوالو څخه استنباط کوي.

۵- کوشش مرتکب برای جلوگیری از عواقب جرم انجام یافته.
٦- جبران داوطلبانه خساره وارده یا رفع ضرر ناشی از جرم.
۷- ارتکاب جرم برای بار اول.
۸- اعتـراف یـا اقـرار مـتهم به ارتکاب جرم و ابراز ندامت جـدی وی به نحوی که در تثبیت واقعیـت قضیه یا معرفی یا بازداشت یا گرفتاری شرکا یا معاونین جرمـی، مسـاعدت نماید.
۹- ارتکـاب جـرم توسـط زن حاملـه و یـا دارای طفـل شیرخوار.
۱۰- ابرای مجنی علیه.
۱۱- کبر سن برای مرد اکمال سـن هفتاد و بـرای زن اکـمال سـن شصت وپنج.
۱۲- سایر حالات مندرج این قانون و یا حالاتی که محکمـه از اوضـاع و احوال مربوط به جرم و متهم استنباط می کند.

**د جنایت د جزا پــه ټــاکلوکې د مخففه احوالو آثار**

**۲۱۴ ماده:**

**که چېرې د جنایت په جـــرم کـــې د جزايي مسؤولیت له مخففه احوالو څخه یو یا څو حالته شتون ولري، د هغـــهٔ جزا په لاندې ډول تخفیف مومي:**

**۱- په هغهٔ صورت کې چې د ارتکابي جرم جزا اعدام وي، ۱درجه دوام حبس ته.**

**۲- په هغه صورت کې چې د ارتکابي جرم جزا ۱ درجه دوام حبس وي، ۲ درجه دوام حبس ته.**

**۳- په هغهٔ صورت کې چې د ارتکابي جرم جزا ۲ درجــه دوام حـــبس وي، طویل حبس ته.**

**۴- په هغه صورت کې چې د ارتکابي جرم جزا، طویل حبس وي، متوســـط حبس ته.**

**آثار احوال مخففه در تعیین جزای جنایت**

**مادهٔ۲۱۴:**

**هرگاه یک یا چند حالت از احـــــوال مخففه مسؤولیت جزایی در جـــرم جنایت موجودگردد، جزای آن به شکل ذیل تخفیف می یابد:**

**۱- در صورتی که جزای جرم ارتکابی اعـــدام باشـــد، بـــه حـــبس دوام درجه ۱.**

**۲- در صـــــورتی کـــه جـــزای جرم، حبس دوام درجه ۱ باشد، بـــه حبس دوام درجه ۲.**

**۳- در صورتی کـــه جـــزای جـــرم ارتکابی، حبس دوام درجه ۲ باشد، به حبس طویل.**

**۴- در صورتی کـــه جـــزای جـــرم ارتکابی، حبس طویل باشد، به حـــبس متوسط.**

## د جنحې د جزا په ټاکلو کــې د مخففه احوالو آثار

**۲۱۵ ماده:**

که چېرې د جنحې په جرم کې د جزايي مسؤوليت له مخففه احوالو څخه يو يا څو حالته شتون ومومي، محکمـــه پـــه لاندې ترتيب سره د جزا په تخفيـــف حکم کوي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې پيشـــبينې شوې جزا متوسط حبس وي او اقل حد ولري، له اقل حد څخه لږ ته.

۲- په هغهٔ صورت کې چې پيشـــبينې شوې جزا د قصير حبس اکثر حد وي، د دريو مياشتو حبس ته.

۳- په هغهٔ صورت کې چې حـــبس او نغدي جزا په پيشبينې شوې جزا کـــې شامل وي، له هغوی څخه په يوې.

۴- په هغهٔ صورت کې چې په قـــانون کې پيشبينې شوې جزا حبس يا نغـــدي جزا وي، په نغدي جزا.

## آثار احوال مخففه در تعيين جزای جنحه

**مادۀ۲۱۵:**

هرگاه يک يا چند حالت از احــــوال مخففهٔ مسؤوليت جزايـــی در جـــرم جنحه موجود گردد، محکمه به تخفيف جـــزا بـــه ترتيـــب ذيـــل حکـــم می نمايد:

۱- در صورتی که جزای پيش بينـــی شده حبس متوسط بوده و حـــد اقـــل داشته باشد، به کمتر از حد اقل.

۲- در صورتی که جزای پيش بينـــی شده حد اکثر حبس قصير باشد، بـــه حبس سه ماه.

۳- در صورتی که جزای پيش بينـــی شده شامل حبس و جزای نقدی باشد، به يکی از آن.

۴- در صورتی که جزای پيش بينـــی شده در قانون حبس يا جزای نقـــدی باشد، به جزای نقدی.

**په حکم کې د جزا د تخفیف د دلایلو ذکر**

**۲۱۶ ماده:**

**(۱) که چېرې محکمه د جزایي مسؤولیت د مخففه احوالو د شتون په سبب د جزا په تخفیف حکم وکړي، هغه حالات دې د خپل حکم په اسبابو او دلایلو کې تصریح کړي چې پر موجب یې جزا ته تخفیف ورکړل شوی دی.**

**(۲) که چېرې تورن یا د هغهٔ مدافع وکیل د جزایي مسؤولیت د مخففه دلایلو پر شتون استناد وکړي، په هغهٔ صورت کې چې د محکمې د منلو وړ ونه ګرځي، محکمه مکلفه ده، د هغو د رد دلایل په فیصله کې ذکر کړي.**

**ذکر دلایل تخفیف جزا در حکم**

**مادهٔ۲۱۶:**

**(۱) هرگاه محکمه به سبب موجودیت احوال مخففهٔ مسؤولیت جزایی به تخفیف جزا حکم نماید، حالاتی را که به موجب آن جزا تخفیف داده شده، در اسباب و دلایل حکم خود تصریح می نماید.**

**(۲) هرگاه متهم یا وکیل مدافع وی به موجودیت دلایل مخففه مسؤولیت جزایی، استناد نماید، در صورتی که مورد قبول محکمه واقع نشود، محکمه مکلف است، دلایل رد آن را در فیصله ذکر نماید.**

درییمه برخه

د جزايي مسؤولیت عمومي

مشدده احوال او د هغو ډولونه

د جزايي مسؤولیت عمومي مشدده احوال

۲۱۷ ماده:

د جزايي مسؤولیت عمومي مشدده احوال له هغو احوالو او اوضاع څخه عبارت دي چې د هغو شتون د مرتکب د جزا د شدت سبب کېږي.

د مشدده حالاتو ډولونه

۲۱۸ ماده:

د جزايي مسؤولیت عمومي مشدده احوال عبارت دي له:

۱- په دني یا منحطه انګېزه د جرم ارتکاب.

۲- د مجني علیه له جسمي یا رواني کمزورتیا څخه په ګټې اخیستنې د جرم ارتکاب.

۳- په وحشیانه ډول د جرم ارتکاب یا

قسمت سوم

احوال مشددهٔ عمومی

مسئوولیت جزایی و انواع آن

احوال مشددهٔ عمومی مسئوولیت جزایی

مادهٔ۲۱۷:

احوال مشدده عمومی مسؤولیت جزایی، عبارت از احوال و اوضاعی است که موجودیت آن سبب شدت جزای مرتکب می‌گردد.

انواع حالات مشدده

مادهٔ۲۱۸:

احوال مشدده عمومی مسؤولیت جزایی عبارت اند از:

۱- ارتکاب جرم با انگیزهٔ دنی یا منحط.

۲- ارتکاب جرم با استفاده ازناتوانی جسمی یا روانی مجنی علیه.

۳- ارتکاب جرم طور وحشیانه یا مثله

دمجني عليه مثله كول.

۴- له دندې، موقف اويا نفوذ څخه په ګټې اخيستنې سره د عامه خدمتونو د مؤظف لخوا د جرم ارتكاب.

۵- د هغهٔ شخص لخوا د جرم ارتكاب چې د مجني عليه د جسمي، رواني، ازادۍ د تماميت په ساتنه او د مال ساتنې ته مؤظف وي.

٦- د مجني عليه د اقتصادي حالت له ضعف څخه په ګټې اخيستنې سره د جرم ارتكاب.

۷- د هغهٔ شخص په واسطه د جرم ارتكاب چې د جرم د ترسره كولو په قصد يې مخدر يا مسكر توكي استعمال كړي وي.

۸- د نژادي، قومي، ديني، مذهبي، جنسيتي، سمتي تعصباتو، ټولنيز موقف يا سياسي فكر په سبب د جرم ارتكاب.

۹- نور هغه حالات چې پدې قانون كې پيشبيني شوي دي.

نمودن مجنی علیه.

۴- ارتکاب جرم از طرف مؤظف خدمات عامه با استفاده از وظیفه، موقف ویا نفوذ.

۵- ارتکاب جرم از طرف شخصی که مؤظف به حفظ تمامیت جسمی، روانی، آزادی و نگهداری مال مجنی علیه باشد.

٦- ارتکاب جرم با استفاده از ضعف حالت اقتصادی مجنی علیه.

۷- ارتکاب جرم توسط شخصی که مواد مخدر یا مسکر را به قصد انجام جرم استعمال نموده باشد.

۸- ارتکاب جرم به سبب تعصبات نژادی، قومی، دینی، مذهبی، جنسیتی، سمتی، موقف اجتماعی یا اندیشه سیاسی.

۹- سایر حالات که در این قانون پیشبینی گردیده است.

## په عمومي مشدده احوالوکې د جزا تشدید

۲۱۹ ماده:

که چېرې په جرم کې، مشدده عمومي احوال شتون ولري، محکمه په دې قانون کې درج شوې جزا ته په پام، په لاندې ترتیب سره حکم کوي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د جرم جزا، ۱ درجه دوام حبس وي د ۱ درجې دوام حبس په اکثر حد مجازاتو.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د جرم جزا، ۲ درجه دوام حبس وي، په ۱ درجه دوام حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د جرم جزا طویل یا متوسط حبس وي، د نوموړې جزا له اکثر حد څخه په زیاته جزا، پدې شرط چې د مجازاتو مجموع د اصلي مجازاتو د اکثر حد له یونیم چند څخه تجاوز ونکړي.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د جرم جزا، قصیر حبس وي د قصیر حبس په اکثر حد.

## تشدید جزا در احوال مشددهٔ عمومی

مادهٔ۲۱۹:

هرگاه در جرم، احوال مشددهٔ عمومی موجود باشد، محکمه با نظر داشت جزای پیش بینی شدهٔ مندرج در این قانون، به ترتیب ذیل حکم می نماید:

۱- در صورتی که جزای جرم، حبس دوام درجه۱ باشد، به حد اکثر مجازات حبس دوام درجه۱.

۲- درصورتی که جزای جرم، حبس دوام درجه۲ باشد، به حبس دوام درجه۱.

۳- درصورتی که جزای جرم، حبس طویل یا متوسط باشد، به بیش از حد اکثر جزای مذکور مشروط بر این که مجموع مجازات از یک و نیم چند حد اکثر مجازات اصلی تجاوز نکند.

۴- در صورتی که جزای جرم، حبس قصیر باشد به حد اکثر حبس قصیر.

**په حکم کې د جزا د تشدید دلیل**

**۲۲۰ ماده:**

که چېرې محکمه د عمومي مشدده احوالو د شتون په سبب د جزا په تشدید حکم وکړي، مکلفه ده هغه حالات چې پر موجب يې جزا تشدید شوېده، د خپل حکم په اسبابو او دلایلو کې تصریح کړي.

**دلیل تشدید جزا در حکم**

**مادۀ ۲۲۰:**

هرگاه محکمه به سبب موجودیت احوال مشدده عمومی به تشدید جزا حکم نماید، مکلف است حالاتی را که به موجب آن جزا تشدید گردیده، در اسباب و دلایل حکم خود تصریح نماید.

## اووم فصل

## د حکم د تنفیذ تعلیق

**د حکم د تنفیذ د تعلیق مفهوم**

**۲۲۱ ماده:**

د حکم د تنفیذ تعلیق هغه حالت دی چې محکمه پر تورن د حکم تطبیق په هغو جرمونو کې چې د هغو جزا تر پنځوکلونو پورې حبس وي، پدې فصل کې درج د حکم د تنفیذ د تعلیق له اسبابو څخه د یوۀ شتون ته په پام سره، تر پنځو کلونو مودې پورې تعلیقوي.

## فصل هفتم

## تعلیق تنفیذ حکم

**مفهوم تعلیق تنفیذ حکم**

**مادۀ ۲۲۱:**

تعلیق تنفیذ حکم حالتی است که محکمه، تطبیق حکم را بالای متهم در جرایمی که جزای آن حبس تا پنج سال باشد، با نظرداشت موجودیت یکی از اسباب تعلیق تنفیذ حکم مندرج این فصل، تا مدت پنج سال تعلیق می‌نماید.

**د نغدي جزا د حکم د تنفیذ تعلیق**

**۲۲۲ ماده:**

(۱) که چېرې شخص د قباحت یا جنحې د جرم د ارتکاب له امله، تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکوم شوی وي، محکمه کولی شي د هغهٔ نغدي جزا تر پنځو کلونو پورې تعلیق کړي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص، په داوطلبانه توگه، نغدي جزا، په ټاکلي وخت ورکړي، د هغه جرمي سابقه زایلېږي.

**د حکم د تنفیذ د تعلیق احوال**

**۲۲۳ ماده:**

(۱) محکمه کولی شي له لاندې حالاتو څخه په یوهٔ کې د حکم تنفیذ تعلیق کړي:

۱- جرم له سهل انگارۍ او غفلت یا د دندې په اجراء کې له اهمال یا د قانون په فهم کې له خطا څخه رامنځته شوی وي.

۲- د ترافیکي جرم تورن، له مصدوم

**تعلیق تنفیذ حکم جزای نقدی**

**مادهٔ ۲۲۲:**

(۱) هرگاه شخص به اثر ارتکاب جرم قباحت یا جنحه به جزای نقدی تا شصت هزار افغانی، محکوم گردیده باشد، محکمه می‌تواند جزای نقدی وی را تا پنج سال تعلیق نماید.

(۲) هرگاه شخص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، به صورت داوطلبانه جزای نقدی را در میعاد معینه تأدیه نماید، سابقه جرمی وی زایل می‌گردد.

**احوال تعلیق تنفیذ حکم**

**مادهٔ۲۲۳:**

(۱) محکمه می تواند در یکی از حالات ذیل تنفیذ حکم را تعلیق نماید:

۱- جرم ناشی ازسهل انگاری وغفلت یا اهمال در اجرای وظیفه یا خطا در فهم قانون باشد.

۲- متهم جرم ترافیکی، مصدوم را

سره مرسته او ياري (همکاري) کړې وي او تېښتېدلی نه وي.
۳- مرتکب د مخه په جزا محکوم شوی نه وي.
۴- محکمه ومومي چې تورن جرمي سابقه نلري او خپله يې اړوندو مراجعو ته خبر ورکړی يا يې ځان تسليم کړی او رفتار يې په راتلونکې کې له قانون څخه د هغه د اطاعت ښکارندوی وي.
۵- د حق العبد مدعي ابراء کړې وي يا تورن په خپل رضايت رسېدلی زيان جبران کړی وي.
٦- په هغهٔ صورت کې چې جرم د متعلم يا محصل يا حامله ښځې يا له ۱۸ څخه تر ۲۰ کالو تر منځ شخص په واسطه ارتکاب شوی وي، پدې شرط چې متکرر مجرم نه وي.
۷- د محکمې په تشخيص د جرم او مرتکب اوضاع او احوالو ته په پام سره نور احوال.
(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د ارتکاب له امله مجني عليه ته کوم ضرر رسېدلی وي، د

کمک ويارى نموده وفرار نکرده باشد.
۳- مرتکب، قبلاً محکوم به جزا نشده باشد.
۴- محکمه دريابد که متهم سابقهٔ جرمى نداشته وخود به مراجع مربوط اطلاع يا خود را تسليم نموده و رفتار وى نمايانگراطاعت وى از قانون درآينده باشد.
۵- مدعى حق العبد ابراء نموده يا متهم به رضايت خود خسارهٔ وارده راجبران نموده باشد.
٦- در صورتى که جرم توسط متعلم يا محصل يا زن حامله يا شخص بين ۱۸ تا ۲۰ سال ارتکاب يافته باشد، مشروط بر اينکه مجرم متکرر نباشد.
۷- ساير احوال نظر به اوضاع و احوال جرم و مرتکب به تشخيص محکمه.
(۲) هرگاه از اثر ارتکاب جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده ضررى بر مجنى عليه وارد گرديده باشد، تعليق تنفيذ

حکم د تنفیذ تعلیق، د زیان په جبران یا د هغه په رضایت باندې مشروط دي.

(۳) محکمه مکلفه ده د حکم د تنفیذ د تعلیق د صادرېدو پر وخت، د محکوم علیه اخلاق، مدني حالت، شخصیت، د اصلاح او تربیت شونتیا په پام کې ونیسي.

(۴) د داخلي او بهرني امنیت، تروریستي، د تروریزم د تمویل، مخدرو موادو، جنسي تجاوز، اختطاف، اداري او مالي فساد، نسل وژنې، بشري ضد، جنګي او د دولت پرخلاف د تجاوز د جرمونو مجازات نشي تعلیقېدلای.

**د جزا د تنفیذ د تعلیق د دلیل ذکر**

**۲۲۴ ماده:**

محکمه مکلفه ده په خپل حکم کې د جزا د تنفیذ د تعلیق دلیل ذکر کړي.

**د جزا د تعلیق د مودې کمول د هغې له بشپړېدو د مخه**

**۲۲۵ ماده:**

محکمه کولی شي د هغه محکوم علیه

حکم مشروط به جبران خساره یا رضایت وی می‌باشد.

(۳) محکمه مکلف است حین اصدار حکم تعلیق تنفیذ، اخلاق، حالت مدنی، شخصیت، امکان اصلاح و تربیت محکوم علیه را در نظر گیرد.

(۴) مجازات جرایم علیه امنیت داخلی وخارجی، تروریستی، تمویل تروریزم، مواد مخدر، تجاوز جنسی، اختطاف، فساد اداری ومالی، نسل کشی، ضد بشری، جنگی و تجاوز علیه دولت، تعلیق شده نمی تواند.

**ذکر دلیل تعلیق تنفیذ جزا**

**مادۀ۲۲۴:**

محکمه مکلف است درحکم خود دلیل تعلیق تنفیذ جزا را ذکرنماید.

**کاهش مدت تعلیق جزا قبل از اکمال آن**

**مادۀ۲۲۵:**

محکمه می‌تواند مدت تعلیق تنفیذ حکم

په هکله د حکم د تنفیذ د تعلیق موده، چې د صادقانه او مناسب چلند په اجراء سره د خپل حال اصلاح ثابته کړي، د هغې له بشپړېدو د مخه د اړوند څارنوال، مدافع وکیل، ټولنیزو سازمانونو، دولتي ادارو، تعلیمي او تحصیلي مؤسسو او دولتي تصدیو په وړاندیز کمه کړي.

**د تنفیذ د تعلیق موده**

**۲۲٦ ماده:**

(۱) د حکم د تنفیذ د تعلیق موده، پنځه کاله ده.

(۲) د تنفیذ د تعلیق موده، د حکم د قطعیت له نېټې څخه محاسبه کېږي.

**د تکمیلي جزاګانو او تأمیني تدبیرونو تعلیق**

**۲۲۷ ماده:**

محکمه کولي شي د تکمیلي، تبعي جزا ګانو او تأمیني تدبیرونو د تنفیذ په تعلیق هم حکم وکړي.

را قبل از اکمال آن درمورد محکوم علیه که با اجرای رفتار صادقانه ومناسب، اصلاح حال خود را ثابت سازد، به پیشنهاد څارنوال مربوط، وکیل مدافع، سازمان‌های اجتماعی، اداره های دولتی، مؤسسه های تعلیمی وتحصیلی وتصدی‌های دولتی کمتر سازد.

**مدت تعلیق تنفیذ**

**مادۀ۲۲٦:**

(۱) مدت تعلیق تنفیذ حکم، پنج سال می باشد.

(۲) مدت تعلیق تنفیذ ازتاریخ قطعیت حکم، محاسبه می‌گردد.

**تعلیق جزاهای تکمیلی وتدابیر تأمینی**

**مادۀ۲۲۷:**

محکمه می‌تواند به تعلیق تنفیذ جزاهای تکمیلی، تبعی و تدابیرتأمینی نیزحکم نماید.

**پر تأميني تدبيرونو د تعليق د مودې د ختمېدو اغېزه**

**۲۲۸ ماده:**

د جزا د تنفيذ د تعليق د مودې د ختمېدو يا د جزا د تنفيذ د تعليق د لغو کېدو د حکم د نه صادرېدو په صورت کې، په تکميلي جزا يا تأميني تدبيرونو پورې اړوند حکم هم له منځه ځي داسې ګڼل کېږي چې اصلاً کوم حکم صادر شوی ندی.

**د تأميني تدبيرونو تعليق**

**۲۲۹ ماده:**

(۱) محکمه کولی شي د تأميني تدبيرونو په هکله د حکم له صادرېدو وروسته، د محکوم عليه، د هغه د مدافع وکيل يا نورو اړوندو اشخاصو د غوښتنې پر بنسټ، ددې قانون د پېشبيني شوو تأميني تدبيرونو په تعليق، تعديل يا لغو حکم صادر کړي د حکمي شخص مصادره او انحلال لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲) که چېرې د تأميني تدبيرونو د

**تأثيرختم مدت تعليق بر تدابير تأمينی**

**مادۀ۲۲۸:**

درصورت ختم مدت تعليق تنفيذ يا عدم اصدارحکم الغای تعليق تنفيذ جزا، حکم مربوط به جزای تکميلی يا تدابير تأمينی نيز ازبين رفته چنان پنداشته می‌شود که اصلاً حکمی صادر نگرديده است.

**تعليق تدابير تأمينی**

**مادۀ۲۲۹:**

(۱) محکمه می‌تواند بعد ازصدور حکم درمورد تدابير تأمينی، به اساس مطالبه محکوم عليه، وکيل مدافع وی يا ساير اشخاص ذيربط به تعليق، تعديل يا لغوتدابير تأمينی پيش بينی شده اين قانون حکم صادرنمايد. مصادره وانحلال شخص حکمی ازاين حکم مستثنی می‌باشد.

(۲) هرگاه مطالبه مبنی برتعليق، تعديل

تعليق، تعديل يا لغو په اړه غوښتنه د محکمې لخوا و نه منل شي، د غوښتنې نوي کول د يوهٔ کال له تېرېدو د مخه صورت نشي موندلی.

## د حکم د تنفيذ د تعليق د لغو کېدو حالات

**۲۳۰ ماده:**

د حکم د تنفيذ تعليق له لاندې احوالو څخه په يوهٔ کې لغو کېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې محکوم عليه د جزا د تنفيذ د تعليق د مودې په ترڅ کې، د مماثل يا لا سخت جرم مرتکب شي.

۲- په هغهٔ حالت کې چې د تعليق د مودې په ترڅ کې ثابته شي چې شخص د تنفيذ د تعليق د حکم له صادرېدو د مخه د جنحې يا جنايت په جزا محکوم شوی او محکمه له هغه څخه خبره نه ده.

يا لغوتدابيرتأمينی ازطرف محکمه پذيرفته نشود، تجديد مطالبه قبل ازمرور يک سال صورت گرفته نمی‌تواند.

## حالات الغای تعليق تنفيذ حکم

**مادهٔ۲۳۰:**

تعليق تنفيذ حکم دريکی ازاحوال ذيل لغو می‌گردد:

۱- درحالتی که محکوم عليه درخلال مدت تعليق تنفيذ جزا مرتکب جرم مماثل يا شديدتر گردد.

۲- درحالتی که طی مدت تعليق ثابت شود که شخص قبل از صدور حکم تعليق تنفيذ به جزای جنحه ياجنايت محکوم گرديده ومحکمه ازآن اطلاع نداشته است.

**د تنفیذ د تعلیق د لغو کولو واکمنه محکمه**

**۲۳۱ ماده:**

**(۱) د تنفیذ د تعلیق لغو کول د هغې محکمې لخوا صورت مومي چې د تنفیذ د تعلیق حکم یې صادر کړی دی.**

**(۲) که چېرې د تنفیذ د تعلیق د لغو کېدلو سبب هغه جزا وي چې د تنفیذ له تعلیق وروسته پر هغې حکم شوی، پدې حالت کې د تعلیق د لغو کولو حکم هغه محکمه صادروي چې په نوموړې جزا یې حکم کړی دی، اعم لدې چې د حکم صادرېدل خپله د محکمې په صوابدید یا د څارنوال په غوښتنه وي.**

**د حکم د تعلیق د لغو کېدلو اغېزه**

**۲۳۲ ماده:**

**د حکم د تنفیذ د تعلیق لغو کېدل، د تکمیلي جزاګانو یا تأمیني تدبیرونو په شمول د محکوم بها دجزا د اعادې مستلزمه ده.**

**محکمهٔ ذیصلاح الغای تعلیق تنفیذ**

**مادهٔ ۲۳۱:**

**(۱) الغای تعلیق تنفیذ از طرف محکمه ای صورت می‌گیردکه حکم تعلیق تنفیذ را صادر نموده است.**

**(۲) هرگاه سبب الغای تعلیق تنفیذ جزای باشد که بعد از تعلیق تنفیذ به آن حکم گردیده، در این حالت حکم الغای تعلیق را محکمه ای صادرمی‌نمایدکه به جزای متذکره حکم نموده است، اعم از این که صدورحکم نظربه صوابدید خود محکمه یامطالبه څارنوال باشد.**

**تأثیر الغای تعلیق حکم**

**مادهٔ ۲۳۲:**

**الغای تعلیق تنفیذ حکم، مستلزم اعاده جزای محکوم بها به شمول جزاهای تکمیلی یا تدابیرتأمینی می باشد.**

## د تعليق په موده کې د جرم ارتکاب

**۲۳۳ ماده:**

که چېرې محکوم عليه د حکم د تنفيذ د تعليق په موده کې د بل مماثل يا لاشديد جرم مرتکب شي، محکمه د حکم د تنفيذ د تعليق له لغو کولو وروسته، د نوي جرم پر جزا برسېره، د دمخه حکم شوې جزا هم پر هغې ورزياتوي.

## ارتکاب جرم در مدت تعليق

**مادۀ۲۳۳:**

هرگاه محکوم عليه طی مدت تعليق تنفيذ حکم، مرتکب جرم مماثل يا شديد تر ديگری گردد، محکمه بعد از الغای تعليق تنفيذ حکم، علاوه برجزای جرم جديد، جزای حکم شدۀ قبلی را نيز برآن افزود می‌نمايد.

## د تعليق د مودې ختم او د هغۀ آثار

**۲۳۴ ماده:**

که چېرې محکوم عليه د حکم د تنفيذ د تعليق په موده کې، د جرم مرتکب نشي، د حکم آثار له منځه ځي داسې ګڼل کېږي چې اصلاً حکم صادر شوی نه وي.

## ختم مدت تعليق و آثار آن

**مادۀ۲۳۴:**

هرگاه محکوم عليه طی مدت تعليق تنفيذ حکم، مرتکب جرم نگردد، آثارحکم ازبين رفته چنان پنداشته می شود که اصلاً حکم صادرنگرديده باشد.

## د حکم د تنفيذ ساده تعليق

**۲۳۵ ماده:**

پدې فصل کې په مندرجو حالاتو کې، که چېرې د حبس د محکوم بها موده تريوۀ کاله پورې وي، محکوم عليه له هېڅ ډول شرايطو پرته د حکم د تنفيذ

## تعليق سادۀ تنفيذ حکم

**مادۀ۲۳۵:**

در حالات مندرج اين فصل، هرگاه مدت محکوم بهای حبس تا يک سال باشد، محکوم عليه بدون هيچ نوع شرايطی از تعليق تنفيذ حکم مستفيد

له تعليق څخه برخمن کېږي.

## د حکم د تنفيذ مشروط تعليق

**۲۳٦ ماده:**

(۱) پدې فصل کې په مندرجو حالاتو کې، که چېرې د حبس د محکوم بهـا موده له يوه کاله څخـه زياتـه وي، محکمه کولای شي د حکم د تنفيذ د تعليق په موده کې مرتکب له لانـدې مواردو څخه د يوه يا څو مواردو په تر سره کولو مکلف کړي:

۱- د پوليسو له اجازې پرته د استوګنې د ځای له ښاره بهرته سفر ونکړي.

۲- په هره اونۍ يا هره مياشت کې د پوليسو دفتر ته حاضري ورکړي.

۳- د ناريه او جارحه وسلې له ګرځولو څخه ډډه وکړي.

۴- له چلونې (راننده‌ګۍ) څخه په هغې مودې کې چې محکمه يې ټـاکي، ډډه وکړي.

۵- کورنيـو، ټـولنيزو او اخلاقـي مسؤوليتونو ته پابند وي.

٦- په هغو اعمالو چې د مجني عليه د

می‌گردد.

## تعلیق مشروط تنفیذ حکم

**مادۀ۲۳٦:**

(۱) در حالات مندرج ایـن فصـل، هرگاه مدت محکـوم بهـای حـبس بیشتر از یک سال باشـد، محکمـه می تواند مرتکب را به انجام یک یـا چند مورد از مـوارد ذیـل درمـدت تعلیـق تنفیـذ حکـم، مکلـف سازد:

۱- بدون اجازه پولیس، خارج ازشهر محل سکونت سفرنکند.

۲- درهرهفته یا هر ماه به دفتر پولیس حاضری دهد.

۳- ازحمل سلاح ناریه وجارحه خود داری نماید.

۴- از راننـدگی طـی مـدتی کـه محکمه تعیـین میکنـد، خـودداری نماید.

۵- به مسؤولیت های فامیلی،اجتماعی واخلاقی پابند باشد.

٦- به اعمالی که موجب اذیت مجنی

اذیت موجب کېږي لاس پورې نکړي.

۷- نور هغه موارد چې محکمه د هغو رعایت لازم ګڼي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی محکوم علیه له ټاکلو شرایطو څخه تخلف وکړي، د حکم د تنفیذ تعلیق لغو او مجازات پر هغهٔ باندې تنفیذېږي.

علیه می‌گردد، مبادرت نورزد.

۷- سایر مواردی که محکمه رعایت آن را لازم می‌داند.

(۲) هرگاه محکوم علیه مندرج فقرهٔ (۱)این ماده ازشرایط معینه تخلف نماید، تعلیق تنفیذ حکم لغو و مجازات بالای وی تنفیذ می‌گردد.

## دوه یم کتاب
## جرمونه او جزاګانې
## لومړی باب
## د دولت، امنیت او عامه مصونیت په وړاندې جرمونه
## لومړی فصل
## د کورني او بهرني امنیت په وړاندې جرمونه

**اصطلاحګانې**

**۲۳۷ ماده:**

په دې فصل کې راتلونکې اصطلاحګانې د لاندې مفاهیمو لرونکې دي:

۱- د هېواد نظامي، دفاعي یا امنیتي اسرار: عبارت دي له مکتوب، لیکنه، سند، رسم، نقشه، انځور، دیاګرام (نمودار)، پیته، (کسته) فلم، مایکروفلم، دیجیتلي سند، سایبري سند، شفاهي وینا او نور هغه وسایل دي چې:

- د نظامي یا دفاعي چارو اړوند د دفاعي، نظامي، سیاسي، دیپلوماتیک،

## کتاب دوم
## جرایم و جزا ها
## باب اول
## جرایم علیه دولت، امنیت و مصونیت عامه
## فصل اول
## جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی

**اصطلاحات**

**مادۀ ۲۳۷:**

اصطلاحات آتی در این فصل، دارای مفاهیم ذیل می‌باشد:

۱- اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی کشور: عبارت است از مکتوب، نوشته، سند، رسم، نقشه، تصویر، نمودار، کست، فلم، مایکرو فلم، سند دیجیتلی، سند سایبری، گفتار شفاهی و سایر وسایلی است که:

- حاوی اطلاعات دفاعی، نظامی، سیاسی، دیپلوماتیک، اقتصادی و

اقتصادي او صناعتي اطلاعاتو لرونکي وي او د هېواد د مصلحت پر بنــاء د اړوند عامه خدمتونو له مؤظف شخصـه پرته، نور کسان هغو ته د لاسرسي حق ونلري.

د نظـــامي جوړښتونو(تشـــکيلاتو) او سوقياتو، جنګي وســايلو، نظــامي او ستراتيژيکي چـــارو اړونـــد وي او د واکمنو مقاماتو له خوا د هغو د خپرېدو تحريري اجازه صادره شوې نه وي.

– د هغو تدابيرو او اجراآتو اړوند وي چې په دې فصل کـې د درج شــوو جرمونو د کشف يا د هغو له مرتکبينو څخه د تحقيق لپاره تر لاس لاندې نيول کېږي او د واکمنو مقاماتو له تحريري اجازې پرته د هغوي افشاء کول منــع وي.

۲– د جنګ حالــت: د افغانســتان د اسلامي جمهوري دولــت او بهرنـــي دولت، د بهرنيو دولتونـــو د نظـــامي ټولنو(اتحاديو) او د دولت د مخـــالفې وسله والې ډلې د نظـــامي ځواکونـــو ترمنځ د بالفعل خصومت يا تصادم لــه

صناعتی مربوط به امور نظامی يا دفاعی بوده و بنابر مصلحت کشور غيــر از مؤظف خدمات عامۀ مربوط، ديگران حــق دسترســی بــه آن را نداشـــته باشند.

– به تشکيلات و ســوقيات نظــامی، وســايل جنگــی، امــور نظــامی و ستراتيژيکی مربوط بوده و از طــرف مقامات ذيصلاح به نشــر آن اجــازۀ تحريری صادر نشده باشد.

– بــه تــدابير و اجراآتــی مربــوط بــوده کــه بــرای کشــف جــرايم منــدرج ايــن فصــل يــا تحقيــق از مــرتکبين آن اتخــاذ مــی‌گــردد و افشـــای آنهـــا بـــدون اجـــازۀ تحريری مقامات ذيصـــلاح ممنـــوع باشد.

۲– حالت جنگ: عبارت از حالــت خصومت يا تصادم بالفعل ميان نيــرو هـــای نظـــامی دولـــت جمهـــوری اســـلامی افغانســـتان و دولـــت خـــارجی، اتحاديـــه هـــای نظـــامی دولت های خارجی و گـــروه مســـلح

حالت څخه عبارت دی.

**ملي خيانت**

**۲۳۸ ماده:**

که چېرې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت تبعه له لاندې اعمالو څخه د يوۀ مرتکب شي، د هغه عمل ملي خيانت ګڼل کېږي:

۱- هغه عمل چې د هغو په پايله کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت ټوله يا يوۀ برخه ځمکه د بهرني دولت يا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مخالفو وسله والوځواکونو تر حاکميت لاندې راشي يا دهېواد خپلواکي په خطرکې واچوي.

۲- هغه عمل چې د هغه په پايله کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت د دولت تر حاکميت لاندې ټوله يا يوۀ برخه ځمکه د هغه له ادارې بهر شي.

۳- دښمن ته د تر امر لاندې ځواکونو تسليمول.

۴- د دښمن د مساعدت په منظور دښمن ته د تأسيساتو، د وسلې او

مخالف دولت، می‌باشد.

**خيانت ملی**

**مادۀ ۲۳۸:**

هرگاه تبعۀ دولت جمهوری اسلامی افغانستان مرتکب يکی از اعمال ذيل گردد، عمل وی خيانت ملی شمرده می شود:

۱- عملی که در نتيجه آن اراضی دولت جمهوری اسلامی افغانستان تماماً يا قسماً تحت حاکميت دولت خارجی يا نيرو های مسلح مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان قرار گيرد يا استقلال کشور را به مخاطره اندازد.

۲- عملی که در نتيجه آن تمام يا قسمتی از اراضی تحت حاکميت دولت جمهوری اسلامی افغانستان از اداره آن خارج شود.

۳- تسليمی نيرو های تحت امر به دشمن.

۴- واگذاری تأسيسات، ديپوی اسلحه ومهمات، وسايط نظامی، ذخاير مواد

مهماتو د ډيپو، نظـامي وسـايطو، د ارتزاقي توکو د زېرمو يا پـه نظـامي ځواکونو پورې د اړوندو استحکاماتو پرېښودل، يا هېواد ته د دښمن د ننوتلو د آسانتياوو برابرول.

۵- بهرني دولت، د دولت ضد سازمان يا ډلې يا د هغوی ګمارل شوو تـه د تسليمۍ په منظور د هېواد د نظـامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو ځخـه ډکـو معلوماتو راټولول.

۶- د افغانستان د اسلامي جمهوريت له دولت سره د جګړې په حال کې بهرني دولـت يـا دافغانسـتان د اسـلامي جمهوريت له دولت سره د جګړې يـا وسله والې شخړې په حـال کـې د وسله والو ځواکونو لپاره داشخاصـو ګمارل (استخدام)، د مالونو يا نظامي تجهيزاتو برابرول.

۷- د افغانستان د اسلامي جمهـوري دولت په وړاندې د نظامي ځواکونـو وسله وال قيام.

۸- د هېواد د نظامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو ځخه ډکو سندونو غلا کـول،

ارتزاقی یا اسـتحکامات متعلـق بـه نیرو های نظامی به دشـمن بمنظـور مساعدت آنها، یـا فـراهم سـازی تسـهیلات بـرای ورود دشـمن به کشور.

۵ – جمع آوری معلومات حاوی اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی کشور، بمنظور تسلیم دهی آن به دولـت خـارجی، سازمان یا گـروه ضـد دولتـی یـا گماشتگان آنها.

۶- استخدام اشخاص، تهیه اموال یـا تجهیـزات نظـامی بـرای دولـت خـارجـی در حـال جنـگ بـا دولت جمهوری اسـلامی افغانسـتان یـا نیـرو هـای مسلح در حـال جنـگ یـا منازعـه مسـلحانه بـا دولـت جمهـوری اسـلامی افغانستان.

۷- قیام مسلحانه نیرو های نظامی علیه دولـت جمهـوری اسـلامی افغانستان.

۸- سرقت، تلف یا تزویر اسناد حاوی اسرار نظـامی، دفـاعی یـا امنیتـی

تلف کول یا تزویرول.

۹- د افغانستان له اسلامي جمهوریت سره د جګړې یا وسله والې شخړې په حال کې د بهرني دولت له وسله والو ځواکونو یا وسله والې ډلې سره یو ځای کېدل.

۱۰- د دولتي قدرت د اخیستلو په منظور د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په وړاندې وسله وال قیام یا توطئه.

۱۱- بهرنیو اشخاصو یا دولت یا هغه شخص ته چې د هغوی په ګټه کار کوي یا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت مخالفو وسله والو ډلو ته د هېواد د نظامي، دفاعي یا امنیتي اسرارو افشاء کول.

۱۲- مسؤولو مراجعو ته له هغو معلوماتو څخه نه خبرتیا چې موخه یې ددې مادې په ۱ تر ۸ جزونو کې د درج شوو جرمونو ارتکاب وي او شخص د قانون په حکم د هغو په کشف مؤظف یا په بل ډول د هغو په افشاء کولو مکلف وي.

کشور.

۹- پیوستن به قوای مسلح دولت خارجی یا گروه مسلح در حال جنگ یا منازعه مسلحانه با جمهوری اسلامی افغانستان.

۱۰- قیام مسلحانه یا توطئه علیه دولت جمهوری اسلامی افغانستان بمنظور گرفتن قدرت دولتی.

۱۱- افشای اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی کشور به اشخاص یا دولت خارجی یا شخصی که به نفع آنها کار می کند یا به گروه های مسلح مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان.

۱۲- عدم اطلاع از معلوماتی که هدف آن ارتکاب جرایم مندرج اجزای ۱ تا ۸ این ماده بوده و شخص به حکم قانون به کشف آن مؤظف و یا به نحوی دیگری به افشای آن مکلف باشد، به مراجع مسؤول.

## د ملي خيانت د جرم مجازات

**۲۳۹ ماده:**

د ملي خيانت د جرم مرتکب له احوالو سره سم په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- د ۲۳۸ مادې په ۱تر ۹ جزونو کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په صورت کې، په ۲درجه دوام حبس.

۲- د ۲۳۸ مادې په ۱۰تر ۱۲ جزونو کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په صورت کې، په طويل حبس.

## جاسوسي

**۲۴۰ ماده:**

(۱) که چېرې د بهرني دولت تبعه يا له تابعيت پرته شخص، له لاندې اعمالو څخه د يوهٔ مرتکب شي، د هغه عمل جاسوسي ګڼل کېږي:

۱- بهرني دولت، د دولت ضد سازمان يا ډلې يا د هغوی ګمارل شوو ته د هېواد د نظامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو تسليمول.

۲- بهرني دولت، د دولت ضد سازمان يا ډلې يا د هغوی ګمارل شوو ته د

## مجازات جرم خيانت ملی

**مادهٔ ۲۳۹:**

مرتکب جرم خيانت ملی حسب احوال به مجازات ذيل محکوم می‌گردد:

۱- در صورت ارتکاب جرايم مندرج اجزای ۱ تا ۹ مادهٔ ۲۳۸، به حبس دوام درجه۲.

۲- در صورت ارتکاب جرايم مندرج اجزای ۱۰ تا ۱۲ مادهٔ ۲۳۸، به حبس طويل.

## جاسوسی

**مادهٔ ۲۴۰:**

(۱) هرگاه تبعهٔ دولت خارجی يا شخص بدون تابعيت، مرتکب يکی از اعمال ذيل گردد، عمل وی جاسوسی شمرده می‌شود:

۱- تسليم دهی اسرار نظامی، دفاعی يا امنيتی کشور، به دولت خارجی، سازمان يا گروه ضد دولتی يا گماشتگان آنها.

۲- سرقت يا جمع آوری معلومات حاوی اسرار نظامی، دفاعی يا امنيتی

تسليمولو په منظور د هېواد د نظـامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو څخـه ډكـو معلوماتو غلا يا راټولول.

۳- د بهرني دولـت د اطلاعـاتو او استخباراتو پـه دسـتور د معلومـاتو راټولول يا تسليمول چې له هغوی څخه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په وړاندې ناوړه ګټه پورته كړای شي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره كې د درج شوي جرم مرتكب پـه ۲درجـه دوام حبس محكومېږي.

## د جاسوسۍ د جرم مشدده حالت

**۲۴۱ ماده:**

كه چېرې ددې قانون په ۲۴۰ ماده كې درج شوی جرم له بهرني دولت يـا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مخالفې وسله والې ډلې سره د جنګ يا وسله والې شخړې په وخت كې ارتكاب شي يا په مړينه تمام شي، مرتكب پـه ۱درجه دوام حبس محكومېږي.

كشور، بمنظور تسليم دهـی آن بـه دولت خارجی، سازمان يا گروه ضـد دولتی يا گماشتگان آنها.

۳- جمع آوری يا تسليم دهی معلومات به دستور اطلاعات و استخبارات دولت خارجی كه از آن عليه دولت جمهوری اسلامی افغانستان سوء استفاده به عمل آمده بتواند.

(۲) مرتكب جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده به حبس دوام درجه۲، محكـوم می گردد.

## حالت مشددهٔ جرم جاسوسی

**مادهٔ ۲۴۱:**

هرگاه جرم مندرج مادهٔ ۲۴۰ ايـن قانون در زمان جنگ يا منازعه مسلحانه با دولت خارجی يا گروه مسلح مخالف دولت جمهوری اسـلامی افغانسـتان ارتكاب يابد يا منجر به مرگ شـود، مرتكب به حبس دوام درجه۱ محكوم می‌گردد.

## د عامه خدمتونود مؤظف غفلت يا بې احتياطي

**۲۴۲ ماده:**

که چېرې ددې قانون په ۲۳۸ او ۲۴۰ مادو کې درج شوي جرمونه د عامه خدمتونو د مؤظف د غفلت يا بې احتياطۍ له امله صورت مونـدلی وي، نوموړی مؤظف د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

## تبليغ يا توطئه

**۲۴۳ماده:**

(۱) هغه شخص چې د جنګ په وخت کې د دروغو يا مغرضانه خبرونو، اعلاميو او اظهاراتو په خپرولو سره، عمداً په شفاهي يا ليکلي صورت يا په هره بله وسيله، له دښمن څخه د ملاتړ په منظور تبليغ يا توطئه وکړي، په داسې ډول چې د هېواد دفاعي قدرت يا د نظامي ځواکونو نظامي عملياتو ته زيان ورسوي يا د ګډوډۍ يا د خلکو د روحيې د کمزورۍ کېدو لامل شي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس

## غفلت يا بی احتياطی مؤظف خدمات عامه

**مادۀ ۲۴۲:**

هرگاه جرايم مندرج مواد ۲۳۸ و ۲۴۰ اين قانون به اثر غفلت يا بی احتياطی مؤظف خدمات عامه صورت گرفته باشد، مؤظف مذکور به حداکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

## تبليغ يا توطئه

**مادۀ ۲۴۳:**

(۱) شخصی که در زمان جنگ با نشر اخبار، اعلاميه ها، اظهارات دروغ يا مغرضانه عمداً به صورت شفاهی يا تحريری يا به هر وسيلۀ ديگری بمنظور حمايت از دشمن تبليغ يا توطئه نمايد به نحويکه به قدرت دفاعی کشور يا عمليات نظامی نيرو های نظامی ضرر رساند يا سبب هرج و مرج يا تضعيف روحيۀ مردم گردد، به حبس طويل تا ده سال، محکوم

محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د افغانستان اسلامي جمهوريت له دولت سره د جنګ په حالت کې بهرني دولت يا د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له مخالفو وسله والو ځواکونو سره د مخابراتي يا نورو الکترونيکي وسايلو د اړيکې په وسيله ارتکاب شوی وي، مرتکب په طويل حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې شخص له جنګ پرته حالت کې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مرتکب شي، په متوسط حبس محکومېږي.

## د ډيپلوماتيکو اړيکو په وړاندې جرمونه

۲۴۴ ماده:

(۱) هغه شخص چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او بهرني دولت يا بين المللي سازمان ترمنځ د تشنج د رامنځته کولو يا د ډيپلوماتيکو اړيکو د اخلال يا پرې کولو په منظور د

می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به وسیله تماس مخابراتی یا سایر وسایل الکترونیکی با دولت خارجی یا نیرو های مسلح مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان در حالت جنگ با دولت جمهوری اسلامی افغانستان ارتکاب گردیده باشد، مرتکب به حبس طویل، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه شخص مرتکب جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در غیر از حالت جنگ گردد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

## جرایم علیه روابط دیپلوماتیک

مادهٔ ۲۴۴:

(۱) شخصی که بمنظور ایجاد تشنج میان دولت جمهوری اسلامی افغانستان و دولت خارجی یا سازمان بین المللی یا اخلال یا قطع روابط دیپلوماتیک، مرتکب عمل غیر قانونی گردد که به

داسې نا قانونه عمل مرتکب شي چې له بهرني دولت یا بین المللي سازمان سره د افغانستان د دولت اړیکو ته زیان واړوي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل له بهرني دولت یا بین المللي سازمان سره د اړیکو د پرې کولو لامل شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د بهرني دولت یا بین المللي سازمان د استازي په ضرب، جرح یا قتل تمام شي، مرتکب په دې قانون کې درج د ضرب، جرح یا قتل د جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

## د بهرني دولت پر قلمرو تجاوز

### ۲۴۵ ماده:

(۱) هغه شخص چې د هېواد له دننه څخه د بهرني دولت پر قلمرو په وسله وال ډول تجاوز وکړي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس محکومېږي.

روابط دولت جمهوری اسلامی افغانستان با دولت خارجی یا سازمان بین المللی زیان وارد نماید، به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده سبب قطع روابط دیپلوماتیک با دولت خارجی یا سازمان بین المللی گردد، مرتکب به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، منجر به ضرب، جرح یا قتل نمایندهٔ دولت خارجی یا سازمان بین المللی گردد، مرتکب به حد اکثر مجازات جرم ضرب، جرح یا قتل مندرج این قانون محکوم می‌گردد.

## تجاوز بر قلمرو دولت خارجی

### مادهٔ ۲۴۵:

(۱) شخصی که از داخل کشور بر قلمرو دولت خارجی به شکل مسلحانه تجاوز کند، به حبس متوسط بیش از سه سال، محکوم می‌گردد.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د سیاسي اړیکو د پرې کېدو یا بالمثل رویې موجب شي، مرتکب په طویل حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په جګړې تمام شي، مرتکب په ۱درجه دوام حبس محکومېږي.

(۴) هغه شخص چې د نورو هېوادونو په کورنیو جګړو یا وسله والو شخړو کې ګډون وکړي، په طویل حبس چې له اووکلونو څخه زیات نه وي محکومېږي.

## د جګړې په وخت کې له بهرني دولت سره د سوداګریزو اړیکو ټینګول

**۲۴٦ ماده:**

(۱) هغه شخص چې خپله یا د بل شخص په واسطه د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره په جګړه کې ښکېل دولت سره یا د هغه له اتباعو یا وکیلانو یا سوداګریز استازي سره یا د

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده موجب قطع روابط سیاسی یا رویهٔ بالمثل گردد، مرتکب به حبس طویل، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به جنگ گردد، مرتکب به حبس دوام درجه۱، محکوم می‌گردد.

(۴) شخصی که در جنگ ها یا منازعات مسلحانه داخلی سایر کشورها اشتراک نماید، به حبس طویلی که از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

## برقراری روابط تجارتی با دولت خارجی در زمان جنگ

**مادهٔ ۲۴٦:**

(۱) شخصی که خود یا توسط شخص دیگری با دولت داخل جنگ با دولت جمهوری اسلامی افغانستان یا اتباع یا وکلاء یا نمایندهٔ تجارتی آن یا با گروه مسلح

افغانستان د اسلامي جمهوري د دولت له وسله والې مخالفې ډلې سره په هر ځای کې چې هستوګنه ولري، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له موافقې پرته، سوداګريز مناسبات ټينګ کړي، د جرم د موضوع د مالونو پر مصادرې برسېره، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس او له سل زره افغانيو تر يو ميليون افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج د جرم د موضوع شيان، ضبط شوي نه وي، محکمه د هغو د بيې په ورکړه حکم کوي.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي حکمونه د افغانستان د اسلامي جمهوريت له دولت سره په جګړه کې ښکېل هېواد ته له بهر څخه د بشردوستانه مرستو د صادرېدو او وارېدو خنډ نه کېږي.

مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان، در هر محلی که اقامت داشته باشند، بدون موافقهٔ دولت جمهوری اسلامی افغانستان، مناسبات تجارتی برقرار نماید، علاوه بر مصادره اموال موضوع جرم، به حبس طویل تا ده سال و جزای نقدی از یک صد هزار افغانی تا یک میلیون افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه اشیای موضوع جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، ضبط نگردیده باشد محکمه به تأدیهٔ قیمت آن حکم می‌نماید.

(۳) احکام مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده مانع صادر یا وارد کردن کمک های بشر دوستانه از خارج به کشور داخل جنگ با دولت جمهوری اسلامی افغانستان نمی‌گردد.

## د جګړې په وخت کې د ژمنې نه ترسره کول

**۲۴۷ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د جنګ په وخت کې د نظامي ځواکونو د اړتیا وړ توکو یا لومړنیو ارتزاقي توکو او یا نورو هغو توکو د تورید یا رسولو په هکله چې د خلکو د وقایې لپاره کارول کېږي د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره په خپلو ټولو یا ځینو ژمنو کې عمداً د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ته د زیان رسولو په منظور خلل وارد کړي او یا په بل ډول د نومووړو ژمنو په پلي کولو کې حیلې یا درغلي ته متوسل شي، په طویل حبس محکومېږي. دغه حکم په نوموړو ژمنو کې وکیل، ممثل یا وسیط ته هم شامل دی.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي جرمونه د هېواد د دفاعي قدرت او حرکتونو یا د نظامي ځواکونو د عملیاتو په کمزوري کېدو

## عدم ایفای تعهد در زمان جنگ

**مادۀ ۲۴۷:**


## فصل چهارم

## تجاوز علیه دولت

### جرم تجاوز علیه دولت

مادۀ ۳۴۱:

(۱) ارتکاب یکی از اعمال ذیل توسط شخصـی کـه قـدر ت سیاسی یا نظا می یک دولت را رهبری می‌کند و نظر به ماهیـت، شـدت و گستردگی آن موجب نقـض صـریح منشور سازمان ملـل گـردد، جـرم

نقض موجب شي، د دولت پرورړاندې د تجاوز جرم پېژندل کېږي:

۱- د یوۀ دولت د وسله والو ځواکونو حمله یا یرغل د بل دولت پر قلمرو یا هر ډول نظامي اشغالول که څه هم په مؤقته توګه، چې له دغه شان حملې یا یرغل څخه راپیدا شوي وي یا لــه زور څخه په استفادې د بل دولت د ځمکې کلي یا جزیي هر ډول الحاق.

۲- د یوۀ دولت د وسله والو ځواکونو په واسطه د بل دولت د قلمرو بمباران یا د یوۀ دولت په وسیله د بل دولت د قلمرو پر ضد له هر ډول وسلې څخـــه استفاده.

۳- د بل دولت د وسله والو ځواکونو په واسطه د یوۀ دولت د بندرونو یـــا سواحلو محاصره.

۴- د بل دولت د ځمکنیو، دریایي یا هوایي ځواکونو پر خلاف د یوۀ دولت د وسله والو ځواکونو حمله.

۵- د یوۀ دولت له نظامي ځواک څخه استفاده چې د بل دولت په قلمرو کې واقع دی، د منونکي (پذیرنده) دولت

تجاوزعلیـــه دولـــت، شـــناخته می‌شود:

۱- حمله یا تهاجم نیروهای مسلح یک دولت به قلمرو دولت دیگر یا هرگونه اشغال نظـامی، ولــو بــه صــورت مؤقت، که ناشی از چنین حملــه یـا تهاجمی باشد یا هرگونه الحاق کلی یا جزئی سرزمین دولت دیگر با استفاده از زور.

۲- بمباران قلمــرو دولــت دیگــر توسط نیروهای مسلح یک دولت یــا استفاده از هــر گونــه ســلاح بــه وسیلۀ یک دولت بر ضد قلمرو دولت دیگر.

۳- محاصرۀ بنادر یا ســواحل یــک دولت توسط نیروهای مسلح دولــت دیگر.

۴- حمله نیروهای مسلح یک دولت علیه نیروهای زمینی، دریایی یا هوایی دولت دیگر.

۵- استفاده از نیروی نظــامی یــک دولت که در قلمرو دولت دیگر واقع است با موافقــت دولــت پذیرنـــده

په موافقه په هغهٔ موافقه ليک کې د مقررو شرايطو پر خلاف يا د موافقه ليک د مودې له تېرېدو وروسته پدې قلمرو کې د هغوی د هر ډول حضور تمديد.

٦- د يوهٔ دولت عمل چې اجازه ورکوي قلمروېې چې د بل دولت په واک (اختيار) کې ورکړي، د هغهٔ دولت په واسطه د ثالث دولت پر خلاف د تجاوز کارانه عمل لپاره تر استفادې لاندې ونيول شي.

۷- د يوهٔ دولت لخوا يا د يوهٔ دولت په نوم د وسله والو ټولګيو (دستو)، ډلو، نامنظمو ځواکونو يا وسله والو مزدورانو استول چې د بل دولت پر خلاف، د دې مادې د (۱) فقرې په ۱ تر ٦ اجزاوو کې د درج شوو اعمالو د تشديد په منظور شبه نظامي اقدامات تر سره کوي يا له د غو اقداماتو سره بنسټيزه مرسته کوي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو جرمونو څخه د يوهٔ مرتکب، په ۱درجه دوام حبس محکومېږي.

برخلاف شرايط مقرر در آن موافقت‌نامه يا هر گونه تمديد حضور آنها در اين قلمرو پس از انقضای ميعاد موافقت نامه.

٦- عمل يک دولت که اجازه مى دهد قلمروش را که در اختيار دولت ديگر قرار داده، توسط آن دولت برای عمل تجاوزکارانه عليه دولت ثالث مورد استفاده قرار گيرد.

۷- اعزام دسته‌ها، گروه ها، نيروهای نا منظم يا مزدوران مسلح از سوی يک دولت يا به نام يک دولت که عليه دولت ديگر، اقدامات شبه نظامی را بمنظور تشديد اعمال مندرج اجزای ۱ تا ٦ فقرهٔ (۱) اين ماده، انجام مى دهند يا کمک اساسی به اين اقدامات می کند.

(۲) مرتکب يکی از جرايم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده به حبس دوام درجه۱، محکوم می‌گردد.

(۳) د دولت پر خلاف د تجاوز د مرتکب پر خلاف د جزايي دعوي تحريک، د هغهٔ دولت چې د تجاوز مورد گرځېدلی په شکايت پورې منوط دی.

## د بشريت پر خلاف په جرمونو کې د فرمان ورکوونکي مسؤوليت

**۳۴۲ ماده:**

نظامي فرمانده يا هغه شخص چې د جنگ د فرماندهۍ سرپرستي پرغاړه لري دهغهٔ تر امر لاندې ځواکونو په واسطه د نسل وژنې، جنگي، بشري ضد جرم او د دولت پر خلاف د تجاوز د جرم د ارتکاب په صورت کې، په يوهٔ له لاندې حالاتو کې دجزايي مسؤوليت لرونکی دی، له احوالو سره سم په طويل حبس يا ۲درجه دوام حبس محکومېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې تر خپل امر لاندې ځواکونو د جرمي اعمالو له ارتکاب څخه خبروي او له هغو څخه مخنيوی ونکړي.

(۳) تحريک دعوای جزايی عليه مرتکب تجاوز عليه دولت، منوط به شکايت دولتی که مورد تجاوز قرار گرفته، می باشد.

## مسؤوليت فرمانده در جرايم عليه بشريت

**مادهٔ ۳۴۲:**

فرمانده نظامی يا شخصی که سرپرستی فرماندهی جنگ را به عهده دارد در صورت ارتکاب جرم نسل کشی، جنگی، ضد بشری و جرم تجاوز عليه دولت توسط نيرو های تحت امر وی در يکی از حالات ذيل دارای مسؤوليت جزايی بوده حسب احوال، به حبس طويل يا دوام درجه۲، محکوم می گردد:

۱- در حالتی که از ارتکاب اعمال جرمی نيرو های تحت امر خود آگاهی داشته و از آن جلوگيری نه نمايد.

۲- په هغهٔ حالت کې چې اوضـاع او احوالو ته په کتو سره يې کولی شواي تشخيص کړي چې د هغهٔ ځواکونه دغه جرمونه مرتکب کېږي يـا د هغـو د ارتکاب قصد لري.

۳- په هغهٔ حالت کې چـې د دغـو جرمونو له ارتکاب څخه د مخنيـوي لپاره لازم تدبيرونه و نـه نيسـي يـا په هغو کې سهل آنګاري وکړي.

۴- په هغهٔ حالاتوکې چې موضـوع د بررسی او عدلي تعقيب لپاره واکمنـو مراجعو ته ارجاع نکړي.

## د بشريت پر خلاف په جرمونو کې دلوړو (ارشد) مقاماتو مسؤوليت

۳۴۳ ماده:

لوړ مقامات د نسل وژنـې، جنګـي، بشري ضد يا د دولت پرخلاف د تجاوز په جرمونو کې په يوهٔ له لاندې حالاتو کې د جزايي مسؤوليت لرونکي دي، له احوالو سره سم په طويل يا ۲درجه دوام حبس محکومېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې تر خپل واک

۲- درحالتی که نظربـه اوضـاع و احوال، میتوانست تشخیص دهد کـه نیرو های وی این جرایم را مرتکـب می شوند یـا قصـد ارتکـاب آن را دارند.

۳- در حالتی که تدابیر لازم راجهت جلـوگیری از ارتکـاب ایـن جرایم اتخـاذ نـه نمایـد یـا در آن سهل انگاری کند.

۴- در حالتی که موضوع را به مراجع ذیصلاح جهت بررسی و تعقیب عدلی ارجاع نه نماید.

## مسؤولیت مقامات ارشد درجرایم علیه بشریت

مادهٔ ۳۴۳:

مقامات ارشد در جرایم نسل کشـی، جنگی، ضد بشری یا تجاوز علیه دولت در یکـی از حـالات ذیـل دارای مسؤولیت جزایی بوده حسب احـوال به حبس طویل یا دوام درجه۲، محکوم می گردند:

۱- درحالتی که از ارتکاب جرایم نسل

لاندې اشخاصو په واسطه د نسل وژنې، جنګي، بشري ضد جرمونو یا د دولت پر خلاف د تجاوز له جرم څخه خبروي یا داچې آګاهانه د دغو جرمونو د ارتکاب په هکله یې اطلاعاتو ته اعتناء کړې نه وي.

۲- په هغو حالاتوکې چې ارتکابي جرمونه په هغو فعالیتونو پورې اړوند وي چې د هغوی تر مستقیم مسؤولیت او کنترول لاندې وي.

۳- په هغهٔ حالت کې چې لوړ مقامات، لازم اقدامات چې د هغو د توان یا واک په حیطه کې وي د دغو جرمونو د ارتکاب د مخنیوي او درولو (متوقف کولو) لپاره تر سره نکړي.

۴- په هغهٔ حالت کې چې موضوع د تحقیق او تعقیب لپاره واکمنو مقاماتو ته ارجاع نکړي.

کشی، جنگی، ضد بشری یا جرم تجاوز علیه دولت توسط اشخاص تحت صلاحیت خود مطلع بوده یا این که آگاهانه به اطلاعات در مورد ارتکاب این جرایم اعتناء نکرده باشد.

۲- درحالتی که جرایم ارتکابی مربوط به فعالیت هایی بوده که تحت مسؤولیت و کنترول مستقیم آنها قرار داشته باشد.

۳- در حالتی که مقامات ارشد، اقدامات لازم را که در توان یا در حیطه صلاحیت وی بوده، برای جلوگیری یا متوقف ساختن ارتکاب این جرایم انجام ندهد.

۴- درحالتی که موضوع را برای تحقیق و تعقیب به مقامات ذیصلاح ارجاع ننماید.

## دریيم باب
## د امن او عامه نظم پروړاندې
## جرمونه
## لومړی فصل
## عمدي حريق

**د عمدي حريق مجازات**

**۳۴۴ ماده:**

(۱) هغه شخص چې ځان يا نورو ته د ضرر رسولو په مقصد عمداً منقول يا غير منقول مال ته، اور واچوي له احوالو سره سم، په قصير حبس محکوميږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په مړينه يا جسمي صدمې تمام شي، مرتکب پايلې ته په پام سره، پدې قانون کې درج د مرتکبه جرم په مجازاتو محکوميږي.

(۳) که چېرې اور اچول په يوه له لاندې ځايونو کې صورت وموموي، مرتکب په ۲درجه دوام حبس محکوميږي:

## باب سوم
## جرايم عليه امن و
## نظم عامه
## فصل اول
## حريق عمدی

**مجازات حريق عمدی**

**مادهٔ ۳۴۴:**

(۱) شخصی که عمداً مال منقول يا غير منقول را به مقصد ضرر رسانيدن به خود يا ديگران، آتش بزند، به حبس قصير، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده منجر به مرگ، يا صدمهٔ جسمی گردد، مرتکب با نظرداشت نتيجه، به مجازات جرم مرتکبه مندرج اين قانون، نيز محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه آتش زدن در يکی از محلات ذيل صورت گيرد، مرتکب، به حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد:

۱- د نظامي ځواکونو اړتيا وړ موادو يا وسلې او د هغو د ملحقاتو فابريکه او ډيپو.

۲- کان (معدن)، دنفتو يا ګازو څاه.

۳- د سون د موادو يا د احتـــراق وړ موادو يا چاودېدونکو (منفجره) موادو زېرمتون (ذخيره ځای).

۴- د حرارتي، آبي يا هسته يي برېښنا د توليد دستګاوې.

۵- دوسپنې د پټلۍ (قطار) دستګاوې، دوسپنې د پټلۍ ماشين يا هغه واګـــون چې د اشخاصو لرونکی وي اويا هوايي ډګر يا الوتکه اوياکښتۍ يـــا د هغـــې بندرګاه.

٦- هغه ځايونه (محلات) چې عامـــه خلک په هغو کې استوګنه يا تک راتک ولري.

۷- هغه ودانۍ (بناء) چې يوځ له دولتي ادارو يا تصدۍ يا عامه مؤسسو څخـــه هلته قرار ولري.

(۴) که چېرې د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي جرم له ارتکاب څخه موخه د جنايت د ارتکاب اسانول يا د

۱- فابريکه و ديپـــوی مـــواد مـــورد ضرورت نيرو های نظامی يا اسلحه و ملحقات آن.

۲- معدن، چاه نفت يا ګاز.

۳- ذخيـــره خانـــه مـــواد ســـوخت يا مواد قابـــل احتـــراق و يـــا مـــواد منفجره .

۴- دستګاه های توليد برق حرارتی، آبی يا هسته يی.

۵- دســـتګاه هـــای قطـــار آهـــن، ماشين قطار آهن يا واګونی که حامـــل اشخاص باشد و يـــا ميـــدان هـــوايی يا طياره و يا کشـــتی يـــا بنـــدرګاه آن.

٦- محلاتی که در آن عامـــه مـــردم سکونت يـــا رفـــت و آمـــد داشـــته باشند.

۷- بنائی که يکی از ادارات دولتی يا تصدی يا مؤسسه های عامه در آن قرار داشته باشد.

(۴) هرګاه هدف از ارتکـــاب جـــرم مندرج فقرۀ (۳) ايـــن مـــاده آســـان ســـاختن ارتکـــاب جنايـــت يـــا از

هغهٔ د آثارو له منځه وړل وي، مرتکب د مرتکبه جرم پر جزا برسېره، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس هم محکومېږي.

## د غير عمدي حريق مجازات

**۳۴۵ ماده:**

(۱) که چېرې د شخص د غفلت يا بې احتياطۍ له امله، د بل چا منقول يا غيرمنقول مال حريق شي، مرتکب له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم، په مړينه يا جسمي صدمې تمام شي، مرتکب پايلې ته په پام سره، پدې قانون کې د درج شوي غير عمدي مرتکبه جرم په مجازاتو هم محکومېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم له امله، عمومي مواصلات وځنډېږي او يا مالونو ته ستر ضرر ورسېږي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

بين بردن آثار آن باشد، مرتکب علاوه بر جزای جرم مرتکبه، به حبس متوسط تا سه سال، نيز محکوم می‌گردد.

## مجازات حريق غير عمدی

**مادهٔ ۳۴۵:**

(۱) هرگاه به اثر غفلت يا بی احتياطی شخص، مال منقول يا غير منقول ديگری حريق گردد، مرتکب به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده منجر به مرگ، يا صدمهٔ جسمی گردد، مرتکب با نظرداشت نتيجه، به مجازات جرم مرتکبه غير عمدی، مندرج اين قانون نيز محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه به اثر جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، مواصلات عمومی معطل گردد و يا ضرر بزرگ به اموال عايد گردد، مرتکب به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

## د احتراق وړ موادو انتقال

**۳۴٦ ماده:**

(۱) هغه شخص چې داحتراق وړ مواد، په يوۀ له ځمکنيو، آبي يا هوايي وسايطو يا په پستي وسايلو يا پارسلونو کـــې د اړوندو مقرراتو خلاف انتقال کړي، له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) ګاز، پترول، سلفر يا نور هغه مواد چې په اسانۍ سره اور واخلي په احتراق وړ موادو کې شامل دي.

## د ځنګلونو عمدي حريق

**۳۴۷ ماده:**

(۱) هغه شخص چې خصوصي ځنګل ته په عمدي توګه اور واچــوي، پـــه متوسط حبس، محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې دولتي ځنګل ته په عمدي توګه اور واچوي، پـــه طويـــل حبس، محکومېږي.

## د څرځای (علفچر) حريق

**۳۴۸ ماده:**

هغه شخص چې څرځای ته اور واچوي

## انتقال مواد قابل احتراق

**مادۀ ۳۴٦:**

(۱) شخصی که مواد قابل احتراق را در يکی از وسايط نقليه زمينی، آبی يا هوايی يا در وسايل و پارسل های پستی خلاف مقررات مربوط انتقال دهد، به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۲) مواد قابل احتراق شامل، گـــاز، پترول، سلفر يا ساير موادی است که به آسانی آتش بگيرد.

## حريق عمدی جنگلات

**مادۀ ۳۴۷:**

(۱) شخصی که جنگـــل خصوصـــی را به صورت عمدی آتش زند، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که جنگـــل دولتـــی را بصورت عمدی آتش زند، به حـــبس طويل، محکوم می‌گردد.

## حريق علف‌چر

**مادۀ ۳۴۸:**

شخصی که علف چر را آتش بزند بـــه

له پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

د زيان جبران

۳۴۹ ماده:

د دې فصل په ټولو درج شوو حالتونو کې، مرتکب د وارده زيان په جبران، هم محکومېږي.

## دوه يم فصل

## د ملکي هوايي چلند د مقرراتو د نقض جرمونه

د اهليت له تزويري تصديق څخه په استفادې يا د سکر په حالت کې د الوتکې يا هليکوپټرې الوزول

۳۵۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې د ثبت له تزوير شوي سند يا د الوتنې د اهليت له تصديق ليک څخه په استفادې سره الوتکه يا هليکوپټره والوزوي، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې د سکر په حا لت

جزای نقدی ازپنج هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

جبران خساره

مادهٔ ۳۴۹:

در تمام حالات مندرج این فصل، مرتکب به جبران خسارهٔ وارده، نیز محکوم می‌گردد.

## فصل دوم

## جرایم نقض مقررات هوانوردی ملکی

پرواز طیاره یا هلیکوپتر با استفاده از تصدیق نامهٔ تزویری اهلیت یا در حالت سکر

مادهٔ ۳۵۰:

(۱) شخصی که با استفاده از سند ثبت یا تصدیق نامهٔ اهلیت پرواز تزویر شده، طیاره یا هلیکوپتر را پرواز دهد، به حبس متوسط بیش از سه سال، محکوم می‌گردد.

(۲) شخصی که در حالت سکر طیاره

کې الوتکه يا هليکوپتره والوزوي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱ او۲) فقرو کې د درج شوو جرمونو ارتکاب، په جراحت (ټپ) يا بل مالي زيان تمام شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثرحد، محکومېږي، خو دا چې پدې قانون کې، د هغو لپاره لا شديده جزا ټاکل شوې وي.

(۴) که چېرې د دې مادې په (۱ او۲) ارتکاب د مسافر يا د مسافرينو، د الوتنې د عملې يا نورو اشخاصو په مړينه تمام شي، مرتکب په طويل حبس، محکومېږي، خو دا چې پدې قانون کې، د هغو لپاره لا شديده جزا پيشبيني شوې وي.

## د حکمي شخص مجازات

**۳۵۱ ماده:**

که چېرې د دې قانون په ۳۵۰ ماده کې درج شوی جرم د ملکي هوايي حمل او نقل د مؤسسې په نوم يا

يا هليکوپتر را پرواز دهد، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه ارتکاب جرايم مندرج فقره های (۱ و ۲) اين ماده منجر به جراحت يا زيان مالی ديگری گردد، مرتکب به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می‌گردد، مگر اين‌که در اين قانون، جزای شديدتری برای آن تعيين شده باشد.

(۴) هرگاه ارتکاب جرايم مندرج فقره های (۱ و ۲) اين ماده منجر به مرگ مسافر يا مسافرين، عمله پرواز يا ساير اشخاص گردد، مرتکب به حبس طويل، محکوم می‌گردد، مگر اين‌که در اين قانون جزای شديدتری برای آن پيشبينی شده باشد.

## مجازات شخص حکمی

**مادهٔ ۳۵۱:**

هرگاه جرم مندرج مادهٔ ۳۵۰ اين قانون به نام يا حساب مؤسسهٔ حمل و نقل هوايی ملکی ارتکاب

حساب ارتکاب شوی وي د حقيقي شخص پر مجازاتو برسېره د ملکي هوايي حمل او نقل مؤسسه له پنځه ميليونه څخه زيات تر پنځوس ميليونه افغانيو پورې په نغدي جزا يا تر دريو مياشتو پورې د فعاليت په مؤقت تعليق، محکومېږي.

**ممنوعه سيمو ته داخلېدل**

**۳۵۲ ماده:**

(۱) هغه شخص چې قصداً د هوايي ډګر په ممنوعه حريم کې چې په مخصوصو علامو او نښو علامه ګذاري شوي وي، داخل شي، د قصير حبس په اقل حد يا د دېرش زره افغانيو په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل د نورو جرمونو په ارتکاب تمام شي، مرتکب د دې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوې جزا برسېره، د مرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي.

يافته باشد علاوه بر مجازات شخص حقيقى، مؤسسۀ حمل ونقل هوايى ملکى به جزاى نقدى بيش از پنج ميليون تا پنجاه ميليون افغانى يا تعليق مؤقت فعاليت تا سه ماه، محکوم مى‌گردد.

**دخول در مناطق ممنوعه**

**مادۀ ۳۵۲:**

(۱) شخصى که قصداً در حريم ممنوعۀ ميدان هوايى که با علايم و نشانه‌هاى مخصوص علامه گذارى شده باشد، داخل شود، به حد اقل حبس قصير يا جزاى نقدى سى هزار افغانى، محکوم مى‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرۀ (۱) اين ماده منجر به ارتکاب جرايم ديگرى گردد، مرتکب علاوه بر جزاى مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به جزاى جرم مرتکبه، نيز محکوم مى‌گردد.

**د بين المللي الوتنو د مقرراتو نقض**

**۳۵۳ ماده:**

که چېرې د هېواد د فضاء له لارې له رسمي اجازې پرته او همدارنګه د مجازو مشخصو مسيرونو، راښکته کېدو د ځايونو، هوايي دروازو، د الوتنې د ارتفاع په نه رعايت يا د بين المللي الوتنو له مقرراتو څخه په نورو سرغړونو سره وارديدل يا خارجېدل صورت ومومي، مرتکب يې د متوسط حبس په جزا محکومېږي.

## درېيم فصل

## د عامه خدمتونو د مؤظفينو پر خلاف تجاوز

**د عامه خدمتونو د مؤظف پر خلاف تجاوز يا په هغهٔ پيل**

**۳۵۴ ماده:**

هغه شخص چې د عامه خدمتونو د مؤظف پرخلاف د قوې، شدت، تخويف يا تهديد په استعمال سره تجاوز

**نقض مقررات پرواز های بين المللى**

**مادهٔ ۳۵۳:**

هرگاه ورود و خروج از طريق فضاى کشور بدون اجازهٔ رسمى و عدم رعايت مسير های مشخص مجاز، محلات فرود آمدن دروازه های هوايى ارتفاع پرواز يا ساير تخلفات از مقررات پرواز های بين المللى صورت گيرد، مرتکب آن به جزاى حبس متوسط، محکوم مى گردد.

## فصل سوم

## تجاوز عليه مؤظفين خدمات عامه

**تجاوز يا شروع به آن عليه مؤظف خدمات عامه**

**مادهٔ ۳۵۴:**

شخصى که عليه مؤظف خدمات عامه با استعمال قوه، شدت، تخويف يا تهديد، تجاوز کند يا به تجاوز

وکړي یا په تجاوز پیل (شروع) وکړي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا او یا په دواړو جزاګانو، محکومېږي.

**د عامه خدمتونو د مؤظف دوام دار تعقیب، د کور یا د دندې د ځای په خوا کې توقف (درېدل)**

**۳۵۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د عامه خدمتونو مؤظف د تهدید یا د دندې له ا جراء څخه د هغهٔ د منع به مقصد په دوامدار تعقیب، دکور په خواکې په درېدو یا په یو ډول نه یو ډول تر تجاوز لاندې ونیسي په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې مرتکب، د عامه خدمتونو مؤظف وي د دې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوې جزا برسېره له مسلک څخه په طرد یا له دندې څخه په انفصال، هم محکومېږي.

شروع نماید، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی و یا به هردو جزا، محکوم می گردد.

**تعقیب دوام دار، توقف در جوار منزل یا محل وظیفهٔ مؤظف خدمات عامه**

**مادهٔ ۳۵۵:**

(۱) شخصی که مؤظف خدمات عامه را با تعقیب دوامدار، توقف در جوار منزل یا محل وظیفه او به قصد تهدید و یا منع او از اجرای وظیفه به نحوی از انحا مورد تجاوز قرار دهد به حبس قصیریا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه مرتکب، مؤظف خدمات عامه باشد علاوه برجزای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به طرد از مسلک یا انفصال از وظیفه، نیز محکوم می گردد.

**دضرب يا ټپ په پايلې سره تجاوز**

**۳۵٦ ماده:**

**که څوک د عامه خدمتونو د مؤظف پرخلاف د شخص مقاومت او تجاوز، د عامه خدمتونو د مؤظف په ضرب يا ټپ تمام شي، مرتکب په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تـر درې سـوه زرو افغـانيو پـورې پـه نغـدي جـزا محکومېږي.**

**دايمي معلوليت يا د کار له ترسره کولو څخه دمجني عليه عجز**

**۳۵۷ ماده:**

**(۱) که څوک د دې قانون پـه ۳۵٦ ماده کې د درج ضرب يا ټپ له املـه مجني عليه له شلو ورځو څخه د زياتې مودې لپاره د کار له ترسره کولو عاجز پاتې شي، مرتکب تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي.**

**(۲) که څوک ضرب او ټپ په دايمي معلوليت تمام شي يا له دمخه ترصد او اصرار سره يوځای وي يا د وسلې پـه حمل او يا له دوو تنو څخـه د زيـاتو**

**تجاوز منتج به ضرب يا جرح**

**مادۀ ۳۵٦:**

**هرگاه مقاومت يـا تجـاوز شـخص عليـه مؤظـف خـدمات عامـه، منجـر بـه ضـرب يـا جـرح وی گردد، مرتکب به حبس متوسـط يـا جزای نقدی از شصـت هـزار تـا سه صـد هـزار افغـانی، محکـوم می گردد.**

**معلوليت دايمی يا عجز از انجـام کار مجنی عليه**

**مادۀ ۳۵۷:**

**(۱) هر گاه به اثر ضرب يـا جـرح مندرج مادۀ ۳۵٦ اين قانون مجنی عليه برای مدت بيش از بيست روز از انجام کار عاجز ماند، مرتکب بـه حـبس متوسـط تـا دو سـال، محکـوم می گردد.**

**(۲) هرگاه ضرب يا جرح به معلوليت دايمی منجر گردد يا توام با ترصد و اصرار قبلی باشد يا با حمل سلاح و يا از جانب بيش از دو نفر صورت گرفته**

لخوا يې صورت موندلی وي، مرتکب په طويل حبس، محکومېږي.

د عامه خدمتونو د مؤظف توهين

۳۵۸ ماده:

(۱) هغه شخص چې په اشاره، قول يا فعل سره يا په بله وسيله د عامه خدمتونو مؤظف د دندې د اجراء پر وخت يا د هغې د اجراء له امله توهين کړي، له پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې قاضي يا قضاء ددندې په ارتباط توهين کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) د دولت د مؤظفينو يا سياسي مقام له اجراآتو څخه راپيدا شوی انتقاد او اعتراض د دې مادې په (۱ او۲) فقرو کې له درج شوو حکمونو څخه مستثني دي.

د دروغ اطلاع په واسطه د عامه خدمتونو د مؤظف مضطربول

۳۵۹ ماده:

هغه شخص چې د عامه خدمتونو مؤظف

باشد، مرتکب به حبس طويل محکوم، می گردد.

توهين مؤظف خدمات عامه

مادۀ ۳۵۸:

(۱) شخصی که به اشاره، قول يا فعل يا وسيلۀ ديگر مؤظف خدمات عامه را حين اجرای وظيفه و يا به سبب اجرای آن توهين نمايد، به جزای نقدی از پنج هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که قاضی يا قضاء را به ارتباط وظيفه توهين نمايد، به حبس متوسط محکوم می گردد.

(۳) انتقاد واعتراض ناشی از اجراآت مؤظفين دولت يا مقام سياسی از احکام مندرج فقره های (۱ و۲) اين ماده مستثنی می باشد.

مضطرب نمودن مؤظف خدمات عامه توسط اطلاع دروغ

مادۀ ۳۵۹:

شخصی که مؤظف خدمات عامه را به

په دروغ اطلاع یا د حقیقت خــلاف عریضو یا په بل ډول سره د هغو پیښو اومصايبو له پيښېدو څخه چې اصــلاً واقعيت ونلري دهغو په نه واقعيت دعلم د لرلو با وجود په اضطراب کې واچوي، په قصير حبس يا له شلو زرو څخه تــر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا او د وارده زيــــان پــــه جبــــران، محکومېږي.

## څلورم فصل

## په مواصلاتو او مخابراتو پورې اړوند جرمونه

**له خطر سره د عامه مواصــلاتو د وسايلو د سلامت مخامخ کول**

**۳٦۰ ماده:**

(۱) هغه شخص چې عمداً د ځمکنيو يا آبي (د اوبو) يا د وسپنې پټلۍ د موتور لرونکو مواصلاتي وســايلو، مســير، محوطې، تأسيساتو يا بنسټونو (زېربناوو) سلامت له خطر سره مخامخ کړي يــا هغه عاطل کړي، له احوالو سره سم په

اطلاع دروغ يــا عــرايض خــلاف حقيقت يا به نحوى ديگرى از وقــوع حوادث و مصايبى که اصلاً واقعيــت نداشته باشد با وجود علم بــه عــدم واقعيت آن به اضطراب انــدازد، بــه حبس قصير يا جزاى نقدى از بيســت هزار تا شصت هزار افغانى و جبــران خســـــارهٔ وارده، محکــــــوم مى گردد.

## فصل چهارم

## جرايم مربوط به مواصلات و مخابرات

**مواجه نمودن ســلامت وســايل مواصلات عامه به خطر**

**مادهٔ ۳٦۰:**

(۱) شخصى که عمداً سلامت وسايل، مســير، محوطــه، تأسيســات يــا زيربناهاى مواصلاتى عامه موتــور دار زمينى يا آبى يا راه آهن را بــه خطــر مواجه گرداند يا آن را عاطل ســازد، حسب احوال به حبس متوســط يــا

متوسط حبس یا طویل حبس، محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اعمالو ارتکاب د شخص په جراحت تمام شي، مرتکب په طویل حبس او د مړینې په صورت کې، له احوالو سره سم په ۲درجه دوام حبس یا ۱درجه دوام حبس، محکومېږي.

**د بې احتیاطۍ له امله د وسایلو سلامت له خطر سره مخامخ کول**

**۳٦۱ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د بې احتیاطۍ له امله د ځمکنیو، آبي یا د وسپنې د پټلۍ د موټور لرونکو عامه مواصلاتي وسایلو، مسیر، محوطې، تأسیساتو یا بنسټونو سلامت له خطر سره مخامخ کړي، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اعمالو ارتکاب، د شخص په شدیده جسمي صدمه تمام

حبس طویل، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه ارتکاب اعمال مندرج فقرۀ (۱) این ماده منجر به جراحت شخص گردد، مرتکب به حبس طویل ودر صورت مرگ، حسب احوال به حبس دوام درجه۲ یا حبس دوام درجه۱، محکوم می گردد.

**به خطر مواجه نمودن سلامت وسایل به اثر بی احتیاطی**

**مادۀ ۳٦۱:**

(۱) شخصی که به اثر بی احتیاطی، سلامت وسایل مسیر، محوطه، تأسیسات یا زیر بنا های مواصلاتی عامه موتور دار زمینی یا آبی یا راه آهن را به خطر مواجه گرداند، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه ارتکاب اعمال مندرج فقرۀ (۱) این ماده منجر به صدمه شدید جسمی شخص گردد مرتکب به حبس

شي، مرتکب له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس اودمړینې په صورت کې دمتوسط حبس په اکثرحد، محکومېږي.

## د وسپنې د پټلۍ جرمونه

**٣٦٢ ماده:**

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي په قصیر حبس محکومېږي:

١- هغه عمل چې د وسپنې د پټلۍ په مسیر، محوطه، تأسیساتو یا بنستونو کې د مسافرینو مالونو ته د زیان لامل شي.

٢- هغه عمل چې د وسپنې د پټلۍ د اداري یا د ترمینلونو او تم ځایونو د مسؤولینو له لیکلي اجازې پرته، ایمني دروازې پرانیزي او د عراده جاتو، حیواناتو او اشخاصو په تېرېدو سره د وسپنې پټلۍ یا د وسپنې د پټلۍ قطار ته د خطر او ضرر د رامنځته کېدو لامل شي.

٣- هغه عمل چې د مسافربرۍ او باربرۍ د وسپنې په پټلۍ د قطار خطونو

متوسط بیش از سه سال و در صورت مرگ به حداکثر حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

## جرایم راه آهن

**مادۀ ٣٦٢:**

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد به حبس قصیر، محکوم می گردد:

١- عملی که در مسیر، محوطه، تأسیسات یا زیر بنا های راه آهن باعث آسیب به اموال مسافرین گردد.

٢- عملی که بدون اجازۀ کتبی ادارۀ راه آهن یا مسؤولین ترمینل ها و ایستگاه ها، دروازه های ایمنی را باز و با عبور عراده جات، حیوان ها و اشخاص، باعث بروز خطر و ضرر به راه آهن و یا قطار راه آهن گردد.

٣- عملی که به خطوط، ترمینل ها، تجهیزات و اموال منقول و غیر

(کرښو)، ترمينلونو، تجهيزاتو، منقولو او غير منقولو مالونو، کـــارکوونکو او وسپنې په پټلۍ پورې اړوندو نورو چارو ته خطر يا ضرر وارد کړي.

**له تزويري سندونو څخه استفاده**

**۳٦۳ ماده:**

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوه مرتکب شي، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس، محکوميږي:

۱- د جوازليک د اخيستلو په منظور د تزويري سندونو وړاندې کول.

۲- د چلونې په تزويري جواز ســره د رېل چلول.

**د تشخيصيه علامې، نښې يا جعلي لوحې نصب يا د هغو بـــدلول يـــا ويجاړول**

**۳٦۴ ماده:**

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوه مرتکب شي، پـــه قصـــير حـــبس محکوميږي:

۱- د وسپنې په پټلۍ (لار) کې د جعلي تشخيصيه علامې، نښې يا لوحې نصب.

منقول، قطار راه آهـــن مســـافربری وباربری،کارکنان وسايرامور مربوط به راه آهن، خطر يا ضـــرری را وارد نمايد.

**استفاده از اسناد تزويری**

**مادهٔ ۳٦۳:**

شخصی که مرتکب يکی از اعـــمال ذيل گردد، به حبس متوسط بيش از سه سال، محکوم می گردد:

۱- ارايه اسناد تزويری بمنظور اخذ جوازنامه .

۲- راندن ريل با جـــواز رانـنـــدگی تزويری.

**نصب علامه، نشانهٔ تشخيصـــيه يا لوحهٔ جعلـــی يـــا تغييـــر يـــا تخريب آن**

**مادهٔ ۳٦۴:**

شخصی که مرتکب يکی از اعـــمال ذيل گردد، به حبس قصير، محکـــوم می گردد:

۱- نصب علامه، نشان تشخيصيه يا لوحهٔ جعلی در راه آهن.

۲- د وسپنې د پټلۍ په سیستم کې د تشخیصیه علامې، نښې، لوحې او د استفادې وړ سندونو، د ایمنۍ او لارښوونې دشرایطو بدلول یا ویجاړول.

**د مخابراتو د سیستم ویجاړول**

**۳٦۵ ماده:**

هغه شخص چې عمداً په یو ډول نه یو ډول دمخابراتو سیستم ویجاړ کړي، په قصیر حبس، محکومېږي.

**د اهمال یا بې احتیاطۍ له امله د مخابراتو د سیستم ویجاړول**

**۳٦٦ ماده:**

هغه شخص چې د اهمال یا بې احتیاطۍ له امله د مخابراتو د سیستم د ویجاړولو سبب شي، له پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

**د مخابراتي وسایلو ناوړه استعمال**

**۳٦۷ ماده:**

هغه شخص چې عمداً د مخابراتي وسایلو د ناوړه استعمال په سبب د نورو د اذیت لامل شي، له پنځو زرو څخه

۲- تغییریا تخریب علامه، نشان تشخیصیه، لوحه و اسناد مورد استفاده، شرایط ایمنی و رهنمایی در سیستم راه آهن.

**تخریب سیستم مخابرات**

**مادۀ ۳٦۵:**

شخصی که عمداً به نحوی از انحا سیستم مخابرات را تخریب کند، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

**تخریب سیستم مخابرات به اثر اهمال یا بی احتیاطی**

**مادۀ ۳٦٦:**

شخصی که به اثر اهمال یا بی احتیاطی سبب تخریب سیستم مخابرات گردد، به جزای نقدی ازپنج هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

**سوء استعمال وسایل مخابراتی**

**مادۀ ۳٦۷:**

شخصی که عمداً به سبب سوء استعمال وسایل مخابراتی سبب اذیت دیگران گردد، به جزای نقدی از

تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغـــدي جزا محکومېږي.

## پنځم فصل

## د عامه ودانيو او املاکو ويجاړول

**د ودانۍ يا املاکو ويجاړول**

**٣٦٨ ماده:**

هغه شخص چې عمداً عامه ودانۍ يـــا املاک يا هغه ودانۍ يا املاک چـــې د دولتي منافعو، عام المنفعه مؤسسو يـــا عامې استفادې لپاره تخصيص شـــوي وي، ويجاړ کړي، د قصير حبس پـــه اکثر حد يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې پـــه نغـــدي جـــزا، محکومېږي.

**د اشجارو(ونو) قطع او د عامـــه سرک، پارک يـــا تفـــريح ځـــای ويجاړول**

**٣٦٩ ماده:**

هغه شخص چې عمداً ونې قطع يا عامه سرک، پارک يا تفريح ځـــای ويجـــاړ

پنج هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

## فصل پنجم

## تخریب بناها و املاک عامه

**تخریب بنا یا املاک**

**مادۀ ٣٦٨:**

شخصی که عمداً بنا یا املاک عامه یا بنا و املاکی را که برای منافع دولتی، مؤسسه های عام المنفعه یا اســـتفادۀ عامه تخصیص یافته باشـــد، تخریـــب نماید، به حد اکثر حبس قصـــیر یـــا جزای نقدی از سی هزار تـــا شصـــت هـــزار افغـــانی، محکـــوم می گردد.

**قطع اشجار وتخریـــب ســـرک، پـــارک یـــا تفـــریح گـــاه عامه**

**مادۀ ٣٦٩:**

شخصی که عمداً اشجار را قطـــع یـــا سرک، پارک یا تفریح گاه عامـــه را

کــــړي، د وارده زیـــان پرجبـــران برسېره،چې د نوموړو ونو او تأسیساتو د بیا احیاء بیه او لګښتونه پکې شامل دي، د شپږو میاشتو په قصیر حبس یا له پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغـــانیو پـــورې پـــه نغـــدي جـــزا هـــم محکومېږي.

تخریب نماید، علاوه بر جبران خساره وارده، که شامل قیمـــت و مصـــارف احیای مجدد اشـــجار و تأسیســـات مذکور می باشد، به حبس قصیر شش ماه یا جزای نقدی از پنج هـــزار تـــا ســـی هـــزار افغـــانی نیـــز محکـــوم می گردد.

## خلورم باب

## د اداري او مالي فساد جرمونه

## لومړی فصل

## رشوت او د هغهٔ مجازات

**رشوت، رشوت اخيستونکی او رشوت ورکوونکی**

**۳۷۰ ماده:**

(۱) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف يا د بهرني دولت يا بين المللي يا بين الحکومتي سازمان يا غير دولتي مؤسسې مؤظف يا د خصوصي مؤسسې مؤظف چې اقتصادي، مالي يا تجارتي فعاليتونه يا نور عامه خدمتونه ترسره کوي، د هغې دندې چې پر هغې مکلف دی د اجراء يا ډډې کولو په منظور يا د مشخص موقف د احراز يا ساتلو په منظور په خپل يا د بل شخص يا بنسټ په نوم په مستقيم يا غير مستقيم ډول پيسې، مال يا نامشروع منفعت واخلي، وغواړي يا د هغو د ورکړې وعده واخلي يا د بخشش په ډول هغه ومني

## باب چهارم

## جرایم فساد اداری و مالی

## فصل اول

## رشوت و مجازات آن

**رشوت، رشوت گیرنده و رشوت دهنده**

**مادهٔ ۳۷۰:**

(۱) هرگاه مؤظف خدمات عامه یا مؤظف دولت خارجی یا سازمان بین المللی یا بین الحکومتی یا مؤسسهٔ غیر دولتی یا مؤظف مؤسسهٔ خصوصی که فعالیت های اقتصادی، مالی یا تجارتی یا سایر خدمات عامه را انجام میدهد، بمنظور اجراء یا امتناع از وظیفهٔ که به آن مکلف است یا بمنظور احراز یا حفظ موقف مشخص به اسم خود یا شخص یا نهاد دیگری به شکل مستقیم یا غیر مستقیم، پول، مال یا منفعت نا مشروع را اخذ، طلب یا وعدهٔ پرداخت آنرا بگیرد یا به عنوان بخشش آنرا قبول کند یا

یا یو شخص په نومړو مقصدونو پیسې، مال یا نا مشروع منفعت په مستقیم، یا غیر مستقیم ډول، نومړو اشخاصو ته پیشکش (وړاندېز) کړي یا د هغـو د ورکړې وعده ورکړي، نومړی عمـل رشوت پېژندل کېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوو اشخاصو د هغې دندې چې په هغې مکلف دي د اجراء یا ډډې کولو په منظور په خپل یا دبل شخص په نوم په مستقیم یا غیـر مسـتقیم ډول پیسې، مال یـا نامشـروع منفعـت وغواړي، واخلي یا ومني یا د هغـو د ورکړې وعده ومني، او یا د بخشش په عنوان هغه ومني، رشوت اخیسـتونکی پېژندل کېږي.

(۳) که چېرې یو شخص ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شـوي منظـور پیسې، مال یا نامشروع منفعـت پـه مستقیم یا غیر مستقیم ډول ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوو اشخاصو ته وړاندېز کړي یا د هغو د ورکولو وعده ورکړي، رشوت ورکوونکی پېژنـدل

شخصی به مقاصد متذکره پول، مال یا منفعت نا مشروع را به شکل مستقیم یا غیر مستقیم به اشـخاص مـذکور پیشکش نماید یا وعدهٔ پرداخت آنـرا بدهد، عمل مذکور رشـوت شـناخته می شود.

(۲) هرگـاه اشـخاص منـدرج فقرهٔ (۱) این ماده بمنظور اجراء یـا امتناع از وظیفهٔ که به آن مکلف است به اسم خود یا شخص دیگری به شکل مستقیم یا غیر مستقیم پـول، مال یـا منفعت نا مشروع را طلب، اخذ یـا قبول نماید یا وعدهٔ پرداخـت آنـرا بپذیرد ویا به عنوان بخشش آنرا قبول کنـد، رشـوت گیرنـده شـناخته می شود.

(۳) هرگـاه شخصـی بمنظـور مندرج فقرهٔ (۱) ایـن مـاده پـول، مال یا منفعت نا مشروع را به شـکل مستقیم یا غیر مستقیم بـه اشـخاص مندرج فقرهٔ (۱) این مـاده پیشـکش نمایـد یـا وعـدهٔ پرداخـت آن را بدهـد، رشـوت دهنـده شـناخته

کېږي.

(۴) هغه شخص چې د رشوت ورکوونکي او رشوت اخیستونکي ترمنځ وساطت وکړي، د رشوت د جرم واسطه پېژندل کېږي.

(۵) د دې باب په مفهوم، د بهرني دولت مؤظف، هغه شخص دی چې په انتخابي یا انتصابي صورت د یوهٔ بهرني هېواد د اجرائیوي، اداري، تقنیني یا قضایي مقام حایز (لرونکی) وي یا هر بل شخص چې د بهرني هېواد په اداره یا عام المنفعه تشبث کې د عامه خدمتونو د اجراء دنده په غاړه ولري یا د بین المللي، بین الحکومتي سازمانونو یا غیر دولتي مؤسسې ملکي مؤظف وي یا دا چې د دغو سازمانونو لخوا د مشخصې دندې د اجراء لپاره توظیف شوی وي.

## د رشوت اخیستونکي مجازات

### ۳۷۱ ماده:

(۱) رشوت اخیستونکی د رشوت وجې ته په پام سره په لاندې توګه

می شود.

(۴) شخصی که میان رشوت دهنده و رشوت گیرنده وساطت نماید، واسطه جرم رشوت شناخته می‌شود.

(۵) مؤظف دولت خارجی به مفهوم این باب، شخصی است که بصورت انتخابی یا انتصابی حایز مقام اجرائیوی، اداری، تقنینی یا قضایی یک کشور خارجی بوده یا هر شخصی دیگری که وظیفهٔ اجرای خدمات عامه را در اداره یا تشبث عام المنفعه کشور خارجی به عهده داشته یا مؤظف ملکی سازمان های بین المللی، بین الحکومتی یا مؤسسهٔ غیر دولتی بوده یا اینکه از طرف این سازمان ها به انجام وظیفهٔ مشخص توظیف گردیده باشد.

## مجازات رشوت گیرنده

### مادهٔ ۳۷۱:

(۱) رشوت گیرنده با نظر داشت وجه رشوت قرار ذیل مجازات

مجازات کبړي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه تر لسو زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه له لسو زرو څخه زیاته تر شلو زرو افغانیو پورې وي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې‌چې درشوت وجه له شلو زرو څخه زیاته تر پنځوسو زرو افغانیو پورې وي، له دوو څخه زیات تر څلورو کلونو پورې په متوسط حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه له پنځوسو زرو څخه زیات تر سلو زرو افغانیو پورې وي، د متوسط حبس په اکثرحد.

۵- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه له سلو زرو څخه زیات تر یو میلیون افغانیو پورې وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

٦- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه له یو میلیون افغانیو څخه زیاته وي، له لسو کلونو څخه زیات

می گردد:

۱-در صورتی که وجه رشوت تا ده هزار افغانی باشد، به حبس قصیر.

۲- در صورتی که وجه رشوت بیش از ده هزار تا بیست هزار افغانی باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۳- در صورتی که وجه رشوت بیش از بیست هزار تا پنجاه هزار افغانی باشد، به حبس متوسط از دو تا چهار سال.

۴- در صورتی که وجه رشوت بیش از پنجاه هزار تا یکصد هزار افغانی، باشد، به حد اکثر حبس متوسط.

۵- در صورتی که وجه رشوت بیش از یکصد هزار تا یک میلیون افغانی باشد به حبس طویل تا ده سال.

٦- در صورتی که وجه رشوت بیش از یک میلیون افغانی باشد، به حبس طویل بیش از

په طویل حبس.

(۲) که چېرې د رشوت وجه نغدې پیسې، جنس یا مادي منفعت نه وي، مرتکب له احوالو سره سم په قصیر یا متوسط حبس، محکومېږي.

## د رشوت ورکوونکي مجازات

**۳۷۲ ماده:**

(۱) رشوت ورکوونکی په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه تر لسو زرو افغانیو پورې وي، د رشوت د وجهې په پنځه برابره نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه له لسو زرو څخه زیاته تر شلو زرو افغانیو پورې وي، د رشوت د وجهې له پنځو څخه تر لس برابره پورې په نغدي جزا.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه له شلو زرو څخه زیاته تر پنځوسو زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس.

ده سال.

(۲) هرگاه وجه رشوت پول نقد، جنس یا منفعت مادی نباشد، مرتکب حسب احوال به حبس قصیر یا متوسط، محکوم می گردد.

## مجازات رشوت دهنده

**مادهٔ ۳۷۲:**

(۱) رشوت دهنده قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که وجه رشوت تا ده هزار افغانی باشد، به جزای نقدی پنج برابر وجه رشوت.

۲- در صورتی که وجه رشوت بیش از ده هزار تا بیست هزار افغانی باشد، به جزای نقدی از پنج تا ده برابر وجه رشوت.

۳- در صورتی که وجه رشوت بیش از بیست هزار تا پنجاه هزار افغانی باشد، به حبس قصیر.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د رشوت وجه له پنځوسو زرو څخه زیاته ترسلو زرو افغانیو پورې وي، له یوهٔ څخه تردریو کلونو پورې په متوسط حبس.

۵- په هغهٔ صورت چې د رشوت وجه له سلو زرو څخه زیاته تر یو میلیون افغانیو پورې وي، له دریو څخه تر پنځو کلونو پورې په متوسط حبس.

٦- په هغه صورت کې چې د رشوت وجه له یو میلیون افغانیو څخه زیاته وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

(۲) که چېرې د رشوت وجه، نغدې پیسې، جنس یا مادي منفعت نه وي، مرتکب له احوالو سره سم په قصیر یا متوسط حبس، محکومېږي.

## د رشوت د جرم د واسطې مجازات

۳۷۳ ماده:

د رشوت د جرم واسطه پدې فصل کې د درج شوي رشوت ورکوونکي په عین مجازاتو، محکومېږي.

۴- در صورتی که وجه رشوت بیش از پنجاه هزار تا یکصد هزار افغانی باشد، به حبس متوسط یک تا سه سال.

۵- در صورتی که وجه رشوت بیش از یکصد هزار تا یک میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط سه تا پنج سال.

٦- در صورتی که وجه رشوت بیش از یک میلیون افغانی باشد، به حبس طویل تا ده سال.

(۲) هرگاه وجه رشوت پول نقد، جنس یا منفعت مادی نباشد، مرتکب حسب احوال به حبس قصیر یا متوسط، محکوم می گردد.

## مجازات واسطهٔ جرم رشوت

مادهٔ ۳۷۳:

واسطهٔ جرم رشوت به عین مجازات رشوت دهندهٔ مندرج این فصل، محکوم می گردد.

## د حکمي شخص د رشوت د جرم مجازات

**۳۷۴ ماده:**

که چېرې د رشوت جرم د حکمي شخص د رئيس، ممثل يا قانوني استازي په واسطه د حکمي شخص په نوم، حساب يا منفعت ارتکاب شوی وي، حکمي شخص د رشوت د مقدار په لس برابره نغدي جزا، محکومېږي دغه حکم پر حقيقي اشخاصو د مجازاتو د تطبيق مانع نه کېږي.

## د عامه خدمتونو د مؤظفينو د رشوت مجازات

**۳۷۵ ماده:**

(۱) که چېرې رشوت اخيستونکی، رشوت ورکوونکی يا د رشوت واسطه، د قضايي ضبط مامور، څارنوال يا د څارنوالۍ مؤظف، قاضي يا د محکمې مؤظف، د حقوقو او د دولت د قضاياوو د ادارو مؤظفين، د جنرالۍ بست نظامي منسوبين او د دوه يم او له هغهٔ څخه د لوړ بست غير نظامي

## مجازات جرم رشوت شخص حکمی

**مادهٔ ۳۷۴:**

هرگاه جرم رشوت توسط رئيس، ممثل يا نمايندهٔ قانونی شخص حکمی به نام، حساب يا منفعت شخص حکمی ارتکاب گرديده باشد، شخص حکمی به جزای نقدی ده برابر مقدار رشوت، محکوم می‌گردد. اين حکم مانع تطبيق مجازات بر اشخاص حقيقی نمی‌گردد.

## مجازات رشوت مؤظفين خدمات عامه

**مادهٔ ۳۷۵:**

(۱) هرگاه رشوت گيرنده، رشوت دهنده يا واسطهٔ رشوت، مامور ضبط قضايی، څارنوال يا مؤظف څارنوالی، قاضی يا مؤظف محکمه، مؤظفين ادارات حقوق و قضايای دولت، منسوبين نظامی بست جنرالی و کارکنان غير نظامی بست دوم و بالاتر

کارکوونکي وي، مرتکب پدې فصل کې د درج شوو مجازاتو پر اکثرحد برسېره، له مسلک څخه په طرد یا له دندې څخه په انفصال، هم محکومېږي.

(۲) د عامه خدمتونو نور مؤظفین په هغهٔ صورت کې له مسلک څخه په طرد یا له دندې څخه په انفصال، محکومېږي چې د رشوت اندازه له لسو زرو افغانیو څخه زیاته وي.

(۳) که چېرې وړاندېز کوونکي واکمن مقامات، هغه شخص چې ددې مادې په (۱ او۲) فقرو کې له درج شوو حکمونو سره سم له مسلک څخه په طرد محکوم شوی، د هغهٔ پر محکومیت د علم با وجود، واکمنو منظوروونکو مقاماتوته د هغهٔ تقرر وړاندېز کړي، په قصیر حبس محکومېږي.

## په خصوصي سکتورکې د رشوت مجازات

۳۷٦ ماده:

که چېرې د دې قانون په ۳۷۰ ماده

از آن باشد، مرتکب علاوه بر حد اکثر مجازات مندرج این فصل، به طرد از مسلک یا انفصال از وظیفه، نیز محکوم می‌گردد.

(۲) سایر مؤظفین خدمات عامه در صورتی به طرد از مسلک یا انفصال از وظیفه، محکوم می گردند که اندازه رشوت بیش از ده هزار افغانی باشد.

(۳) هرگاه مقامات ذیصلاح پیشنهاد کننده، شخصی را که مطابق احکام مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده به طرد از مسلک محکوم گردیده، با وجود علم به محکومیت وی، تقرر او را به مقامات ذیصلاح منظور کننده پیشنهاد نماید، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

## مجازات رشوت در سکتور خصوصی

مادهٔ ۳۷٦:

هرگاه جرم رشوت مندرج مادهٔ ۳۷۰

کې درج د رشوت جرم د خصوصي سکتور په برخه کې ارتکاب شي، رشوت اخيستونکی، رشوت ورکوونکی يا د رشوت شريک او واسطه، له احوالو سره سم پدې فصل کې د درج مرتکبه جرم د اکثر حد مجازاتو تر نيمايي پورې، محکوميږي.

**د بل جرم د ارتکاب په موخه رشوت**

**۳۷۷ ماده:**

که چېرې له رشوت څخه موخه د بل هغه جرم ارتکاب وي چې پدې قانون کې د هغه جزا د رشوت له ټاکلې جزا په نسبت شديده وي، رشوت اخيستونکی، رشوت ورکوونکی او د رشوت واسطه د رشوت د وجهې معادل په نغدي جزا برسېره د هماغهٔ جرم په ټاکلې جزا، هم محکوميږي.

**د رشوت نه منل**

**۳۷۸ ماده:**

که چېرې يو شخص رشوت وړاندېز

اين قانون در بخش سکتور خصوصی ارتکاب يابد، رشوت گيرنده، رشوت دهنده يا شريک و واسطهٔ رشوت، حسب احوال تا نصف حد اکثرمجازات جرم مرتکبه مندرج اين فصل، محکوم می‌گردد.

**رشوت به هدف ارتکاب جرم ديگر**

**مادهٔ ۳۷۷:**

هرگاه هدف از رشوت ارتکاب جرم ديگری باشد که جزای آن در اين قانون نسبت به جزای معينه رشوت شديدتر باشد، رشوت گيرنده، رشوت دهنده و واسطهٔ رشوت علاوه به جزای نقدی معادل وجه رشوت به جزای معينه همان جرم، نيز محکوم می گردد.

**عدم قبولی رشوت**

**مادهٔ ۳۷۸:**

هرگاه شخصی رشوت را پيشکش کند،

کړي، خو ددې قانون د ۳۷۰ مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اشخاصو لخوا ونه منل شي، مؤظف شخص د مجازات وړ ندی، د رشوت وړاندېز کوونکی ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

## د انتخابي بنسټونو (نهادونو) د غړي په واسطه د بخشش غوښتل، منل یا اخیستل

### ۳۷۹ ماده:

که چېرې له انتخابي بنسټونو څخه د هر یوهٔ غړی یا غړو د حکم، قرار، امر، تعهد، ترخیص، موافقې، تورید یا توظیف داخیستلو یا د قرارداد د ترلاسه کولو یا د وظیفوي موقف د احراز (نیولو) یا د هغهٔ د دوام یا د اعتماد د رأیې یا د نه اعتماد د رأیې په مقصد له واکمن مقام څخه پیسې، مال یا منفعت یا بل هر ډول خدمت یا امتیاز د ځان یا د بل شخص لپاره وغواړي یا د هغو وعده ومني او یا بخشش واخلي یا پدې منظور تهدید یا اعمال نفوذ وکړي،

اما ازطرف اشخاص مندرج فقرهٔ (۱) مادهٔ ۳۷۰ این قانون قبول نگردد، شخص مؤظف قابل مجازات نبوده، پیشکش کننده رشوت، مطابق به احکام این فصل، مجازات می گردد.

## طلب، قبول یا اخذ بخشش توسط عضو نهاد های انتخابی

### مادهٔ ۳۷۹:

هرگاه عضو یا اعضای هر یک از نهاد های انتخابی به مقصد اخذ حکم، قرار، امر، تعهد، ترخیص، موافقه، تورید یا توظیف یا کسب قرارداد یا احراز موقف وظیفوی یا ادامه آن یا رای اعتماد یا رای عدم اعتماد از مقام با صلاحیت، پول، مال یا منفعت یا هر نوع خدمت یا امتیاز دیگری را برای خود و یا شخص دیگر طلب نماید یا وعده آنرا قبول نماید و یا بخشش اخذ کند یا به این منظور تهدید یا اعمال نفوذ نماید،

ددې فصل له حکمونـــو ســره ســم، مجازات کېږي.

## د رشوت له اخیستلو څخه اطلاع

**۳۸۰ ماده:**

که چېرې هغه شخص چې له هغه څخه رشوت غوښتل شوی واکمنو مقاماتو ته خبر ورکړي، د رشـــوت د وجهـــې د اخیستلو یا منلو په صورت کې، رشوت اخیستونکی، ددې فصل له حکمونـــو سره سم مجازات او اطلاع ورکوونکی نه مجازات کېږي.

## د رشوت له عرضې څخه اطلاع

**۳۸۱ ماده:**

که چېرې یو شخص چې هغهٔ ته رشوت عرضه شوی، واکمنو مراجعــو تــه د رشوت له اخیستلو څخه دمخه خبـــر ورکړي او پــه پایلــه کــې رشـــوت ورکوونکی بالفعل ونیول شي، رشوت ورکوونکی، ددې فصل له حکمونو سره سم مجازات او اطلاع ورکوونکی نــه مجازات کېږي.

مطابق احکام ایـــن فصـــل مجـــازات می گردد.

## اطلاع از اخذ رشوت

**مادهٔ ۳۸۰:**

هـــر گـــاه شخصـــی کـــه از وی رشـــوت تقاضـــا شـــده مقامـــات صلاحیت دار را خبر دهد، در صورت اخذ یا قبول وجه رشـــوت، رشـــوت گیرنده، مطابق احکـــام ایـــن فصـــل مجازات و اطلاع دهنـــده مجـــازات نمی گردد.

## اطلاع از عرضهٔ رشوت

**مادهٔ ۳۸۱:**

هرگاه شخصی که بـــه وی رشـــوت عرضه شده، مراجع صـــلاحیت دار را قبـــل از اخـــذ رشـــوت خبـــر دهد و در نتیجه، رشوت دهنده بالفعل گرفتـــار شـــود، رشـــوت دهنـــده، مطابق احکام این فصـــل مجـــازات و اطـــــلاع دهنـــــده مجـــــازات نمی گردد.

**د رشوت له ارتکاب څخه د راپیدا شوې شتمنۍ اتلاف**

**۳۸۲ ماده:**

که چېرې رشوت د عامه شتمنۍ په اتلاف تمام یا د حق په ابطال یا کتمان یا د باطل په احقاق پایلې ته رسېدلی وي، مرتکب پدې فصل کې د پېشبیني شوې جزا په اکثرحد، محکومېږي.

**د رشوت په جرم د پیل مجازات**

**۳۸۳ ماده:**

د رشوت په جرم پیل د هغهٔ د ارتکاب په حکم کې دی.

**د رشوت په جرم کې د ورکړل شوو وجوهو مصادره**

**۳۸۴ ماده:**

هغه وجوه چې رشوت ورکوونکي یا د رشوت واسطې هغه وړاندېز یا ورکړې دي، مصادره کېږي، خو دا چې دمخه یې مسؤولو مقاماتو ته خبر ورکړی وي.

**اتلاف دارایی ناشی از ارتکاب رشوت**

**مادهٔ ۳۸۲:**

هرگاه رشوت منجر به اتلاف دارایی عامه و یا منتج به ابطال یا کتمان حق یا احقاق باطل شده باشد، مرتکب به حد اکثر جزای پیش بینی شده در این فصل، محکوم می گردد.

**مجازات شروع به جرم رشوت**

**مادهٔ ۳۸۳:**

شروع به جرم رشوت در حکم ارتکاب آن است.

**مصادرهٔ وجوه پرداخت شده در جرم رشوت**

**مادهٔ ۳۸۴:**

وجوهی که رشوت دهنده یا واسطه رشوت آنرا پیشکش یا پرداخت نموده، مصادره میگردد، مگر اینکه قبلاً به مقامات مسؤول اطلاع داده باشد.

## د نغدي جزا پر ورکړې محکومیت

**۳۸۵ ماده:**

(۱) رشـــوت ورکـــوونکی، رشـــوت اخیستونکی یا د رشوت واسطه پـــدې فصل کې پر درج شوو مجازاتو برسېره، د رشوت د وجهې معادل د نغدي جزا په ورکړه، هم محکومېږي.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې د رشوت موضوع نغدې پیسې، جنس یا مـــادي منفعت نه وي، مرتکب په دې فصل کې پر درج شوو مجازاتو برسېره له دېرشو زرو څخه تر درې ســـوه زرو افغـــانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

## د رشوت د جرم مخففه حالات

**۳۸٦ ماده:**

که چېرې رشوت ورکوونکی د عمل د اجراء یا له هغه څخـــه د ډډې کولـــو مستحق وي خو د رشوت ورکولو ته اړ کړل شوی وي، دغه عمل مخففه حالت پېژندل کېږي، مرتکب د حبس د بدیل په مجازاتو یا د رشوت معادل په نغدي جزا، محکومېږي.

## محکومیت به پرداخت جزای نقدی

**مادهٔ ۳۸۵:**

(۱) رشوت دهنده، رشوت گیرنده یا واسطهٔ رشوت علاوه بـــر مجـــازات مندرج این فصل، به پرداخت جـــزای نقدی معادل وجه رشوت، نیز محکوم می گردد.

(۲) در صورتی که موضوع رشـــوت، پول نقد، جنس یـــا منفعـــت مـــادی نباشد، مرتکب علاوه بـــر مجـــازات مندرج این فصل به جـــزای نقـــدی از سی هزار تا سه صد هـــزار افغـــانی، محکوم می گردد.

## حالات مخففهٔ جرم رشوت

**مادهٔ ۳۸٦:**

هرگاه رشوت دهنده مستحق اجـــرای عمل یا امتناع از آن بوده ولی به دادن رشوت وادار گردیده باشد، این عمل حالت مخففه شناخته شده، مرتکب به مجازات بـــدیل حـــبس یـــا جـــزای نقـــدی معـــادل رشـــوت، محکـــوم می گردد.

**د محکوميت خپرول او د رشوت له جرم څخه د راپيدا شوي امتياز ابطال**

**۳۸۷ ماده:**

(۱) د رشوت په جزا د شخص د محکوميت په اړه د محکمې قطعي حکم، د رسنۍ له لارې خپرېږي.

(۲) که چېرې پدې فصل کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب له امله مادي يا معنوي مستقيم يا غير مستقيم منفعت ترلاسه شوی وي، مادي منفعت مصادره او معنوي منفعت باطلېږي.

## دوه يم فصل

## اختلاس او د هغه جزاګانې

**اختلاس**

**۳۸۸ ماده:**

که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف يا د نادولتي مؤسسې، خصوصي مؤسسه يا د هغۀ جمعيت مؤظف چې د دولت يا نادولتي يا خصوصي مؤسسې له خوا د عامه خدمتونو په ترسره کولو استخدام

**نشر محکوميت و ابطال امتياز ناشی از جرم رشوت**

**مادۀ ۳۸۷:**

(۱) حکم قطعی محکمه مبنی بر محکوميت شخص به جزای رشوت از طريق رسانه نشر می شود.

(۲) هرگاه از اثر ارتکاب جرايم مندرج اين فصل منفعت مستقيم يا غير مستقيم مادی يا معنوی حاصل گرديده باشد، منفعت مادی مصادره و منفعت معنوی باطل می گردد.

## فصل دوم

## اختلاس و مجازات آن

**اختلاس**

**مادۀ ۳۸۸:**

هرگاه مؤظف خدمات عامه يا مؤظف مؤسسۀ غيردولتی، مؤسسۀ خصوصی يا جمعيت که از طرف دولت يا مؤسسۀ غيردولتی يا خصوصی به انجام خدمات عامه استخدام شده يا خدمات

شوي وي يا عمومي خدمتونه ترسره کوي يا له خصوصي بنسټونو څخه د يوهٔ مؤظف، هغه وجوه، بها لرونکې پاڼې يا د اړوندې مرجع يا شخصي شتمني چې د دندې په حکم هغه ته سپارل شوې وي يا د هغې په اداره او ساتنې مکلف وي، له حق پرته، تر خپل مالکانه تصرف لاندې راولي يا هغه د اړوندې مرجع يا شخص له حساب څخه د ځان يا بل شخص په ګټه بهر کړي يا پټ يا حيف او ميل کړي، د اختلاس د جرم مرتکب شوی، په دې فصل کې د درج شووحکمونو سره سم، مجازات کېږي.

## عامه ګټو ته د ضرر رامنځته کول

### ۳۸۹ ماده:

(۱) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف يا د نادولتي مؤسسې يا خصوصي مؤسسې يا د هغهٔ جمعيت مؤظف چې په يوهٔ قرارداد يا د ګمرکي محصول، مالياتو يا د دولت يا اړوندې مرجع د حقوقو په سنجش يا

عمومی را انجام می دهد یا مؤظف یکی از نهاد های خصوصی، وجوه، اوراق بهادار یا دارایی مرجع مربوط یا شخصی را که به حکم وظیفه به وی سپرده شده یا مکلف به اداره و حفاظت آن باشد، بدون حق، تحت تصرف مالکانه خود در آورد یا آن را از حساب مرجع مربوطه یا شخص به نفع خود یا شخص دیگری خارج یا پنهان یا حیف و میل نماید، مرتکب جرم اختلاس گردیده، مطابق احکام مندرج این فصل، مجازات می گردد.

## ایجاد ضرر به منافع عامه

### مادهٔ ۳۸۹:

(۱) هرگاه مؤظف خدمات عامه یا مؤظف مؤسسهٔ غیردولتی یا مؤسسهٔ خصوصی یا جمعیت که در یک قرارداد یا سنجش یا تثبیت یا تحصیل محصول گمرکی، مالیات یا حقوق دولت یا مرجع مربوط مکلف به

تثبیت یا تحصیل کې د اړوندې اداري د ګټې په تأمین مکلف وي، د اړوندې مرجع حقوق د ځان یا بل شخص په ګټه عمداً زیانمن یا مختل کړي، د هغهٔ عمل د اختلاس په حکم کې پیژندل کیږي، مرتکب پر عامه ګټو وارد شوي ضرر ته په کتو سره، په دې فصل کې له درج شوو حکمونو سره سم، مجازات کیږي.

(۲) که چیرې ددې قانون په ۳۸۸ ماده او ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د بهرني دولت په نمایندګۍ یا بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا نادولتي مؤسسه او یا په خصوصي برخه کې ارتکاب شي، د جزایي دعوي تحریک او د قضیې عدلي تعقیب یا له هغهٔ څخه انصراف د اړوندې مرجع په غوښتنلیک پورې اړوند دی، د دیپلوماتیک مصونیت لرونکي اشخاص له دې حکم څخه مستثني دي.

تأمین منفعت ادارهٔ مربوط باشد، حقوق مرجع مربوط را به نفع خود یا شخص دیگری عمداً متضرر یا مختل سازد. عمل وی در حکم اختلاس شناخته شده، مرتکب با نظر داشت ضرر وارده بر منافع عامه مطابق احکام مندرج این فصل، مجازات می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج مادهٔ ۳۸۸ این قانون و فقرهٔ (۱) این ماده در نمایندگی دولت خارجی یا سازمان بین المللی یا بین الحکومتی یا مؤسسهٔ غیر دولتی و یا بخش خصوصی ارتکاب گردد، تحریک دعوی جزایی و تعقیب عدلی قضیه یا انصراف از آن منوط به در خواست مرجع مربوط می باشد، اشخاص دارای مصونیت دیپلوماتیک از این حکم مستثنی می باشند.

## خيالي تشكيلات يا مقررې

**۳۹۰ ماده:**

که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف له اړوندې اختصاصي بودجې څخه د منفعت د ترلاسه کولو په منظور د خيالي پروژو يا له بې حقيقته تشكيلاتو د رامنځته کولو يا مقررېو درپوټ په وړاندې کولو لاس پورې کړي، د هغهٔ عمل د اختلاس په حکم کې پېژندل کېږي، مرتکب د مرتکبه جرم کميت او کيفيت ته په کتو سره په دې فصل کې له درج شوو حکمونو سره سم مجازات کېږي.

## د اختلاس د ارتکاب په صورت کې د عامه خدمتونو د مؤظف مجازات

**۳۹۱ ماده:**

د عامه خدمتونو مؤظف د اختلاس د ارتکاب په صورت کې، په لاندې ډول مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه ترسلو زرو افغانيو پورې وي تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس.

## تشکیلات یا مقرری های خیالی

**مادهٔ ۳۹۰:**

هرگاه مؤظف خدمات عامه با ارایه گزارش پروژه های خیالی یا ایجاد تشکیلات یا مقرری های عاری از حقیقت، بمنظور کسب منفعت از بودجه اختصاصی مربوط مبادرت ورزد، عمل وی در حکم اختلاس شناخته شده مرتکب بانظر داشت کمیت وکیفیت جرم مرتکبه مطابق احکام مندرج این فصل، مجازات می گردد.

## مجازات مؤظف خدمات عامه در صورت ارتکاب اختلاس

**مادهٔ ۳۹۱:**

مؤظف خدمات عامه در صورت ارتکاب اختلاس، قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که وجه اختلاس شده تا یک صد هزار افغانی باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۲- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه له سلو زرو څخه زيات تر پنځه سوو زرو افغانيو پورې وي له دوو کلونو څخه زيات په متوسط حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه له پنځو سوو زرو څخه زيات تر يو ميليون افغانيو پورې وي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه له يو ميليون څخه زيات تر لسو ميليونو افغانيو پورې وي، د طويل حبس په اکثر حد.

۵- په هغه صورت کې چې اختلاس شوې وجه له لسو ميليونو افغانيو څخه زيات وي، په۲درجه دوام حبس.

## د اختلاس د ارتکاب په صورت کې د نادولتي مؤسسې د مؤظف مجازات

**۳۹۲ ماده:**

د اختلاس د ارتکاب په صورت کې د نادولتي مؤسسې، خصوصي مؤسسې يا جمعيت مؤظف، له احوالو سره سم په

۲- در صورتی که وجه اختلاس شده بیش از یک صد هزار تا پنجصد هزار افغانی باشد، به حبس متوسط بیش از دو سال.

۳- در صورتی که وجه اختلاس شده بیش از پنج صد هزار تا یک میلیون افغانی باشد، به حبس طویل تا ده سال.

۴- در صورتی که وجه اختلاس شده بیش از یک میلیون تا ده میلیون افغانی باشد، به حد اکثر حبس طویل.

۵- در صورتی که وجه اختلاس شده بیش از ده میلیون افغانی باشد، به حبس دوام درجه۲.

## مجازات مؤظف مؤسسهٔ غیر دولتی در صورت ارتکاب اختلاس

**مادهٔ ۳۹۲:**

مؤظف مؤسسهٔ غیر دولتی، موسسهٔ خصوصی یا جمعیت در صورت ارتکاب اختلاس، حسب احوال قرار

لاندې ډول مجازات کیږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه ترسلو زروافغانیو پورې وي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس.

۲- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه له سلو زرو څخه زیات تر پنځه سوو زرو افغانیو پورې وي له دوو کلونو څخه زیات په متوسط حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه له پنځه سوو زرو څخه زیات تر یو میلیون افغانیو پورې وي، د متوسط حبس په اکثر حد.

۴- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه له یو میلیون څخه زیات تر لسو میلیونو افغانیو پورې وي، تر اووه کلونو پورې په طویل حبس.

۵- په هغهٔ صورت کې چې اختلاس شوې وجه له لسو میلیونو افغانیو څخه زیاته وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که وجه اختلاس شده تا یک صد هزار افغانی باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۲- در صورتی که وجه اختلاس شده بیش از یک صد هزار تا پنج صد هزار افغانی باشد، به حبس متوسط بیش از دو سال.

۳- در صورتی که وجه اختلاس شده بیش از پنج صد هزار تا یک میلیون افغانی باشد، به حد اکثر حبس متوسط.

۴- در صورتی که وجه اختلاس شده بیش از یک میلیون تا ده میلیون افغانی باشد، به حبس طویل تا هفت سال.

۵- در صورتی که وجه اختلاس شده بیش از ده میلیون افغانی باشد، به حبس طویل تا ده سال.

## د اختلاس د جرم مشدده حالتونه

**۳۹۳ ماده:**

که چېرې خزانه دار، تحویلدار، تحصیلي مامور، صراف، ګدام دار، نغدي یا جنسي معتمد یا نور هغه مؤظفین چې د دندې له مخې د اختلاس شوو او یا پټو شوو شیانو په ساتنه مکلف وي د اختلاس د جرم مرتکب شي، په دې فصل کې د درج شوي مرتکبه جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

– د هغه عمل له بابته چې هغه یا بل شخص د هغه مرتکب شوی، هغه تعذیب کړي.
– شخص د عمل د اجراء یا ا متناع په منظور، ارعاب یا اکراه کړي.
– د شخص په وړاندې د داسې چلند مرتکب شي چې پر تبعیض بنا وي.
(۲) پدې قانون کې درج د تأمیني تدبیرونو نیول او د مجازاتو تطبیق، شکنجه نه پېژندل کېږي.

## د شکنجې مجازات

### ۴۵۱ ماده:

(۱) هغه شخص چې د شکنجې د جرم مرتکب شي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس محکومېږي.

مظنون، متهم، محکوم یا شخص دیگر گردد، به مقصد اینکه:
– مظنون یا متهم علیه خودش اعتراف نماید یا در مورد شخص دیگر معلومات دهد.
– شخص در مورد مظنون، متهم یا محکوم اطلاعات ارایه نماید.
– از بابت عملی که وی یا شخصی دیگر مرتکب آن گردیده، او را تعذیب نماید.
– شخص را بمنظور اجراء یا ا متناع از عمل، ارعاب یا اکراه نماید.
– علیه شخص، مرتکب رفتاری گردد که مبتنی بر تبعیض باشد.
(۲) اتخاذ تدابیر تأمینی و تطبیق مجازات های مندرج این قانون، شکنجه شناخته نمی شود.

## مجازات شکنجه

### مادهٔ ۴۵۱:

(۱) شخصی که مرتکب جرم شکنجه گردد، به حبس متوسط بیش از سه سال، محکوم می گردد.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د مجني علیه د جسمي صدمې لامل شي، مرتکب د متوسط حبس د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

(۳) که چېرې د شکنجې مجني علیه، طفل، ښځه یا معلول وي، مرتکب د متوسط حبس د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

(۴) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم ارتکاب د مجني علیه د غړي د پرې کېدو یا د دایمي جسمي یا رواني معلولیت لامل شي، مرتکب په طویل حبس محکومېږي.

(۵) که چېرې تورن د شکنجې په پایله کې په قتل ورسېږي، مرتکب پدې قانون کې درج د عمد قتل په پیشبیني شوې جزا محکومېږي.

(۶) په شکنجې تهدید د شکنجې د جرم په حکم کې دی، مرتکب ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو مجازاتو محکومېږي.

(۷) د شکنجې په جرم پیل د شکنجې

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده سبب صدمه جسمی مجنی علیه گردد، مرتکب به حد اکثر مجازات حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه مجنی علیه شکنجه، طفل، زن یا معلول باشد، مرتکب به حد اکثر مجازات حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۴) هرگاه ارتکاب جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده سبب قطع یا معلولیت دایمی جسمی یا روانی مجنی علیه گردد، مرتکب به حبس طویل، محکوم می گردد.

(۵) هرگاه متهم در نتیجه شکنجه به قتل برسد، مرتکب به جزای پیش بینی شده قتل عمد مندرج این قانون، محکوم می گردد.

(۶) تهدید به شکنجه در حکم جرم شکنجه بوده، مرتکب به مجازات مندرج فقرۀ (۱) این ماده، محکوم می گردد.

(۷) شروع به جرم شکنجه در حکم

په حکم کې پېژندل کېږي.

(۸) د شکنجې د جرم معاون او شريک د فاعل په عين جزا محکومېږي.

(۹) د شـــکنجې د جـــرم مرتکـــب د مرتکبه جرم د مجازاتو سربېره له دندې څخه هم منفصل کېږي.

د زيان جبران

۴۵۲ ماده:

پدې فصل کې پـــه ټولـــو درج شـــوو حالاتوکې مرتکب د مرتکبه جرم پـــر مجازاتو برسېره له شـــکنجې څخـــه د راپيدا شوي زيـــان پـــه جبـــران هـــم محکومېږی.

## لسم فصل

## د دندو او القابو انتحال

په عامه دندوکې مداخله

۴۵۳ ماده:

هغه شخص چې د ماموريت د صفت له لرلو يا د دولت له رسمي اجازې پرته له عامه دندو څخه په يوې کې مداخلـــه وکړي يا په دغو دندو پورې له اړوندو مکلفيتونو څخه يو ترسره کړي تردوو

شکنجه شناخته می شود.

(۸) معاون و شريک جرم شکنجه بـــه عين مجازات فاعل محکوم ميگردد.

(۹) مرتکب جرم شکنجه علاوه بـــر مجازات جرم مرتکبه از وظيفـــه نيـــز منفصل می گردد.

جبران خساره

مادۀ ۴۵۲:

در تمـــــام حـــــالات منـــــدرج ايـــن فصـــل مرتکـــب عـــلاوه بـــر مجازات جرم مرتکبه به جبران خساره ناشـــی از شـــکنجه، نيـــز محکـــوم می گردد.

## فصل دهم

## انتحال وظايف والقاب

مداخله در وظايف عامه

مادۀ ۴۵۳:

شخصی که بـــدون داشـــتن صـــفت ماموريت يا اجازه رسمی دولت در يکی از وظايف عامه مداخله نمايد و يا يکی از مکلفيت های مربوط به اين وظايف را انجام دهد، به حبس متوسط تـــا دو

کلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلوشــلو زرو افغــانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د نظامي یونیفــورم نــا قانونــه استعمال**

**۴۵۴ ماده:**

هغه شخص چې د رتبې او استحقاق له لرلو پرته، نظامي یونیفورم په علني توګه استعمال کړي یا له قانوني جواز پرتــه نظامي نښان او رتبه حمل کــړي، پــه قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تــر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جــزا محکومېږي.

**له نښان یا لقب څخه ناوړه ګټــه اخیستنه**

**۴۵۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې له قانوني جــواز پرته ځان په افتخاري (ویاړمن) یا رتبوي یا وظیفوي لقب ملقب کړي او یــا د قضایي ضبط د مامور په صفت معرفي کړي او یا په علني توګه داسې نښــان نصب کړي چې ورته ورکړل (اعطاء)

سال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یکصد و بیست هزار افغانی، محکــوم می گردد.

**استعمال غیر قــانونی یونیفــورم نظامی**

**مادهٔ ۴۵۴:**

شخصی که بــدون داشــتن رتبــه و استحقاق یونیفورم نظامی را طور علنی استعمال نماید یا بدون مجوز قــانونی نشــان ورتبــه نظــامی را حمــل کند، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصــت هــزار افغــانی، محکوم می گردد.

**ســوء اســتفاده از نشــان یــا لقب**

**مادهٔ ۴۵۵:**

(۱) شخصی که بدون مجوز قــانونی، خود را به لقب افتخاری، یا رتبــوی یــا وظیفــوی ملقــب ســازد و یــا بصــفت مــامور ضــبط قضــایی معرفی نماید و یــا بصــورت علنــی نشانی را نصب کنــد کــه بــرایش

شوی ندی، له پنځو زرو څخه تر شلو زرو افغانیو پورې په نغـدي جـزا محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې له قانوني جـواز پرته په بهرني اختیاري یا رتبوي لقـب ځان ملقب کړي او یا په علني توګه له قانوني جواز او یا د جمهور رئیس لـه اجازې پرته بهرنی نښان تعلیق کـړي، ددې مادې په (۱) فقره کې پـه درج شوو مجازاتو محکومېږي.

## یوولسم فصل

## د مهر محو یا ماتول

### د ساتل شوي ځای د مهر له منځه وړل

۴۵٦ ماده:

(۱) هغه شخص چې د هغه ځای، پاڼو یا هغو اجناسو مهر چې له دولتي ادارو څخه د یوې په امر د ساتنې یا له فعالیت یـا اسـتفادې څخـه د مخنیـوي په منظور مهر شوي وي، لـه منځـه یوسي، له لسو زور څخه تر دېرشو زرو افغـانیو پـورې پـه نغـدي جـزا

اعطـاء نگردیـده، بـه جـزای نقدی از پنج هزار تا بیسـت هـزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که بدون مجوز قـانونی، خود را به لقب افتخاری یـا رتبـوی خارجی ملقب سازد و یا بصورت علنی بدون مجوز قانونی و یا اجازه رئـیس جمهور نشان خارجی را تعلیق کنـد، به مجازات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده محکوم می گردد.

## فصل یازدهم

## محو یا شکستاندن مهر

### از بین بردن مهر محل حفاظـت شده

مادهٔ ۴۵٦:

(۱) شخصی که مهـر محـل، اوراق یا اجناس را کـه بـه امـر یکـی از ادارات دولتـی بمنظـور حفاظـت یا ممانعـت از فعالیـت و اسـتفاده مهر شـده باشـد، از بـین ببـرد، به جـزای نقـدی از ده هـزار تـا سـی هـزار افغـانی، محکـوم

محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مرتکب اړوند ساتونکی (محافظ) وي، په قصیر حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی ځای، پاڼې یا اجناس د محکمې په امر مهر شوي وي، مرتکب د قصیر حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۴) که چیرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د اړوند ساتونکي د اهمال له امله صورت موندلی وي، نوموړی ساتونکی له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## په جنایت د محکوم یا تورن شخص په واسطه د مهر ماتول

**۴۵۷ ماده:**

که چېرې ددې قانون په ۴۵٦ ماده کې درج شوی جرم د داسې شخص په واسطه ارتکاب شي چې په جنایت کې، محکوم علیه یا تورن بلل شوی وي،

می گردد.

(۲) هرگاه مرتکب جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده محافظ مربوطه باشد، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه محل، اوراق یا اجناس مندرج فقرۀ (۱) این ماده به امر محکمه مهر شده باشد، مرتکب به حد اکثر حبس قصیر محکوم می گردد.

(۴) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده به اثر اهمال محافظ مربوط صورت گرفته باشد، محافظ متذکره به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

## شکستاندن مهر توسط شخص محکوم یا متهم به جنایت

**مادۀ ۴۵۷:**

هرگاه جرم مندرج مادۀ ۴۵٦ این قانون توسط شخصی ارتکاب یابد که در جنایت، محکوم علیه یا متهم قرار گرفته باشد، مرتکب به حبس

مرتکب په متوسط حبس او هغه ساتونکی چې د هغهٔ د اهمال له امله مهر محو یا مات شوی، د قصیر حبس په اکثر حد محکومېږی.

## دوولسم فصل

## د رسمي پاڼو او سندونو غلا او تلف کول

### د رسمي سندونو غلا (سرقت)

**۴۵۸ ماده:**

(۱) که چېرې د عامه خدمتونو د هغهٔ مؤظف د اهمال له امله چې د پاڼو، سندونو او یا په دولت پورې د اړوندو دوسیو یا قضایي دعوي د پاڼو په ساتلو مکلف وي، نومورې پاڼې غلا شي یا پټې یا تلف شي، مؤظف شخص له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږی.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شیانو غل یا پټوونکی او تلف کوونکی په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم فاعل، د هغو

متوسط و محافظی که به اثر اهمال او مهر محو یا شکستانده شده، به حد اکثر حبس قصیر، محکوم می گردد.

## فصل دوازدهم

## سرقت و تلف کردن اوراق و اسناد رسمی

### سرقت اسناد رسمی

**مادهٔ ۴۵۸:**

(۱) هرگاه به اثر اهمال مؤظف خدمات عامهٔ که به حفاظت اوراق، اسناد و یا دوسیه های متعلق به دولت یا اوراق دعوی قضایی مکلف باشد، اوراق مذکور سرقت گردد یا پنهان یا تلف شود، شخص مؤظف به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) سارق یا تلف کننده و پنهان کننده اشیای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه فاعل جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، محافظ آن باشد، به

ساتونکی وي، د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۴) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو شیانو غلا، پټول یا تلف کول د ساتونکي د اکراه له امله صورت ومومي، مرتکب په طویل حبس محکومېږي.

(۵) که چېرې د بهرني دولت یا بین المللي یا بین الحکومتي سازمان یا غیر دولتي مؤسسې یا خصوصي برخې د هغه مؤظف چې د سندونو یا معلوماتو په ساتنه مکلف وي، د غفلت یا اهمال له امله، سندونه یا معلومات غلا یا پټ یا تلف شي، مرتکب له دیرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د ملي ارزښت لرونکو سندونو غلا یا تلف کول

**۴۵۹ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د ملي ارزښت لرونکي سندونه غلا، تلف یا پټ کړي، د طویل حبس په اکثر حد

حد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۴) هرگاه سرقت، پنهان نمودن یا تلف کردن اشیای مندرج فقرۀ (۱) این ماده به اثر اکراه محافظ صورت گیرد، مرتکب به حبس طویل، محکوم می گردد.

(۵) هرگاه به اثر غفلت یا اهمال مؤظف دولت خارجی یا سازمان بین المللی یا بین الحکومتی یا مؤسسۀ غیر دولتی یا بخش خصوصی که به حفاظت اسناد یا معلومات مکلف باشد، اسناد یا معلومات سرقت یا پنهان یا تلف گردد، مرتکب به جزای نقدی ازسی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

## سرقت یا تلف نمودن اسناد دارای ارزش ملی

**مادۀ ۴۵۹:**

(۱) شخصی که اسناد دارای ارزش ملی را سرقت، تلف یا پنهان نماید، به حد اکثر حبس طویل، محکوم

محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو سندونو غلا یا اتلاف د عامه خدمتونو د مؤظف د اهمال له امله صورت موندلي وي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

## د مکتوب، پست او پارسل د مؤظف په واسطه د هغو پټول، افشاء یا پرانیستل

**۴٦۰ ماده:**

که چېرې د پست یا پارسل مؤظف یا بل شخص چې ددې امر (کار) د ترسره کولو په منظور توظیف شوی دی، تسلیم شوی مکتوب، پست یا پارسل پټ، افشاء یا پرانیزي او یا ددې منظور لپاره نورو ته اسانتیا برابره کړي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

می گردد.

(۲) هرگاه سرقت یا اتلاف اسناد مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به اثر اهمال مؤظف خدمات عامه صورت گرفته باشد، مرتکب به حبس متوسط، محکوم می گردد.

## پنهان، افشاء یا باز نمودن مکتوب، پست و پارسل توسط مؤظف آن

**مادهٔ ۴٦۰:**

هرگاه مؤظف پست یا پارسل یا شخصی دیگری که بمنظور انجام این امر توظیف گردیده است، مکتوب، پست یا پارسل تسلیم شده را پنهان، افشاء یا باز نماید و یا به این منظور برای دیگران سهولت فراهم سازد، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

## پنځم باب
## د عدالت د تطبيق پرخلاف جرمونه
## لومړی فصل
## د عدالت او د هغهٔ د مجازاتو له تطبيق څخه ممانعت

**د مجني عليه يا شاهد ارعاب يا تطميع**

**۴٦۱ ماده:**

(۱) لاندې اعمال د عدالت له تطبيق څخه ممانعت پېژندل کېږي:

۱- د قوې استعمال يا د مجني عليه يا شاهد تهديد يا ارعاب يا د دروغو شهادت د اداء کولو يا د شهادت له اداء څخه د ډډې کولو د تحميل يا په شهادت کې د مداخلې په منظور هغهٔ ته د قانون خلاف د منفعت وعده، وړانديز او يا ورکړه.

۲- دقوې استعمال د مجني عليه، اطلاع (خبر) ورکوونکي يا د جرمونو د مدارکو يا معلوماتو د وړاندې کوونکي

## باب پنجم
## جرايم عليه تطبيق عدالت
## فصل اول
## ممانعت از تطبيق عدالت و مجازات آن

**ارعاب يا تطميع مجنی عليه يا شاهد**

**مادهٔ ۴٦۱:**

(۱) اعمال ذيل ممانعت از تطبيق عدالت، شناخته می شود:

۱- استعمال قوه ياتهديد يا ارعاب مجنی عليه يا شاهد يا وعده، پيشنهاد و يا پرداخت منفعت خلاف قانون به آن، بمنظور تحميل اداى شهادت دروغ يا امتناع از اداى شهادت يا مداخله در شهادت.

۲- استعمال قوه يا تهديد يا ارعاب مجنی عليه، اطلاع دهنده يا ارايه كننده مدارک يا

تهدید یا ارعاب یا هغهٔ ته له اطلاع یا په جرم پورې د مرتبطو معلوماتو له وړاندې کولو څخه د ممانعت په منظور د قانون خلاف منفعت وعده، وړاندېز او یا ورکړه.

۳- پدې قانون کې په درج شوو جرمونو پورې د اړوند وغیر واقعي دلایلو او مدارکو وړاندې کول د هغو په غیر واقعي والي د علم با وجود.

۴- د هغو اعمالو د ارتکاب په ارتباط چې پدې قانون کې جرم پېژندل شوی وي د قاضي، څارنوال، د قضایي ضبط د مامور، مدافع وکیل، اهل خبره د رسمي دندو په اجراء کې د مداخلې په منظور د عدلي تعقیب په پړاوونوکې د قوې استعمال یا تهدید یا ارعاب.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص د رسمي دندې په ارتباط ټپي یا په قتل ورسېږي، مرتکب پدې قانون کې درج د ټپ یا قتل د جرم د

معلومات جرایم یا وعده، پیشنهاد و یا پرداخت منفعت خلاف قانون به وی بمنظور ممانعت از اطلاع یا ارایه مدارک و معلومات مرتبط به جرم.

۳- ارایه دلایل و مدارک غیر واقعی مربوط به جرایم مندرج این قانون با وجود علم به غیر واقعی بودن آن.

۴- استعمال قوه یا تهدید یا ارعاب در مراحل تعقیب عدلی بمنظور مداخله در اجرای وظایف رسمی قاضی، څارنوال، مامور ضبط قضایی، وکیل مدافع، اهل خبره در ارتباط به ارتکاب اعمالی که در این قانون جرم شناخته شده باشد.

(۲) مرتکب جرایم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه اشخاص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در ارتباط به وظیفه رسمی مجروح یا به قتل برسند، مرتکب به حد اکثر مجازات جرم جرح یا قتل مندرج

مجازاتو یا هر جرم چې مجازات یې زیات وي، په اکثر حد محکومېږي.

(۴) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف د واقعیت خلاف سندونه، معلومات، دلایل او مدارک واکمنې دولتي مرجع ته وړاندې او یا د حکم مدار سندونه پټ (پنهان) کړي، په قصیر حبس محکومېږي.

د هویت افشاء

۴٦۲ ماده:

هغه شخص چې د جرمونو په هکله د شاهد یا د معلوماتو د خبر ورکوونکي یا مدارکو د وړاندې کوونکي هویت د هغو د رضایت پرخلاف یا د محکمې له اجازې پرته افشاء کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

د شهودو یا خبر ورکوونکي ساتنه (محافظت)

۴٦۳ ماده:

(۱) که چېرې پولیس، د ملي امنیت مؤظف یا څارنوال چې د جرم د شهودو او خبر ورکوونکي د ساتندویه

این قانون یا هر جرمیکه مجازات آن بیشتر باشد، محکوم می گردد.

(۴) هرگاه مؤظف خدمات عامه اسناد، معلومات، دلایل ومدارک خلاف واقعیت را به مرجع ذیصلاح دولتی ارایه ویا اسناد مدار حکم را پنهان نماید، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

افشای هویت

مادهٔ ۴٦۲:

شخصی که هویت شاهد یا اطلاع دهنده یا ارایه کننده مدارک یا معلومات در مورد جرایم را ، برخلاف رضایت آنها یا بدون اجازه محکمه افشاء نماید، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

محافظت شهود یا اطلاع دهنده

مادهٔ ۴٦۳:

(۱) هرگاه پولیس، مؤظف امنیت ملی یا څارنوال به اتخاذ تدابیر محافظتی در مورد

(محافظتي) تدبيرونو په نيولو مكلف دى د اړوند مؤظف د اهمال يا غفلت پــه صورت كې، مرتكب د حبس په بديل محكومېږي.
(۲) كه چېرې ددې مادې په (۱) فقره كې درج شوى عمل د مؤظف له غفلت يا اهمال څخه را پيدا شوى وي يــا د شاهد، خبر وركوونكي يا د هغــوى د خپلوانوپه معلوليت يا قتل تمــام شــي مرتكب په متوسط حبس محكومېږي.
(۳) په هغهٔ صورت كې چې د شهودو يا خبر وركوونكي نه ساتنه عمدي وي احوالو ته پام سره، مرتكب د جــرم د شريک يا معاون په توګه پېژندل كېږي.

د ساتندويه اقداماتو افشاء يــا د شاهد د هويت اخفاء (پټول)

۴٦۴ ماده:

هغه شخص چې د شاهد د ســاتندويه اقداماتو د نيولو يا د هويت او يا د هغهٔ په اړوند د نورو سندونو او معلوماتو په اړه د واكمنومراجعو قرار يا حكم هغهٔ شخص يا اشخاصو ته چــې د هغــو د

محافظت شــهود و اطــلاع دهنــدهٔ جرم مكلف باشند، در صورت اهمال يا غفلت مؤظف مربوط، مرتكب بــه بديل حبس، محكوم مى گردد.
(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده ناشى از غفلت يا اهمال مؤظــف باشد و منجر به معلوليت يا قتل شاهد، اطلاع دهنده يا اقارب آنهــا گــردد، مرتكب به حبس متوســط، محكــوم مى گردد.
(۳) در صورتى كه عــدم محافظــت شهود يا اطلاع دهنده عمدى باشد با نظرداشت احوال، مرتكب به حيــث شريک يا معاون جرم شناخته مى شود.

افشاى اقدامات محافظتى يا اخفاى هويت شاهد

مادهٔ ۴٦۴:

شخصى كه قرار يــا حكــم مراجــع ذيصلاح را مبنى بر اتخــاذ اقــدامات محافظتى يا اخفاى هويت شاهد و يــا ساير اسناد و معلومات مرتبط به آنرا به شخص يا اشخاصى كه حق دريافت آنرا

ترلاسه کولو حق نلری افشاء کړي په متوسط حبس یا له شپیتو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانیو پورې په نغـدي جزا محکومیږي.

## د عامه خدمتونو د مؤظفینو یا خبر ورکوونکي یا شاهد پـر خـلاف (غچ) انتقام اخیستونکی عمل

**۴٦۵ ماده:**

(۱) هغه شخص‌چې پدې فصـل‌کـې ددرج شووجرمونو په ارتباط د عامـه خدمتونو دمؤظف، اهـل خبـره یـا مجني‌علیه یاخبر ورکوونکي یا شـاهد پرخلاف دغچ اخیستونکي عمل مرتکب شـي پـه متوسـط حـبس محکومیږي.

(۲) که چیرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل د ارتکاب لـه امله مجني علیه ته جسمي، مـالي یـا معنوي ضرر ورسیږي مرتکب د مرتکبه جرم د پیشبیني شوي جزا په اکثر حد یا متوسط حبس یا په هر یوهٔ چې زیـات وي محکومیږي.

ندارند، افشاء نماید، به حبس متوسط یا جزای نقدی از شصت هـزار تـا سه صـد هـزار افغـانی، محکـوم می گردد.

## عمل انتقام جویانه علیه مـؤظفین خدمات عامه یا اطلاع دهنده یـا شاهد

**مادهٔ۴٦۵:**

(۱) شخصی که مرتکب عمل انتقـام جویانه علیه مؤظف خـدمات عامـه، اهل خبره یا مجنی علیه یـا اطـلاع دهنـده یـا شـاهد در ارتبـاط به جرایم مندرج این فصل گردد، بـه حـبس متوسـط، محکـوم می گردد.

(۲) هرگاه به اثر ارتکاب عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به مجنی علیه ضرر جسمی، مالی یا معنوی عاید گـردد، مرتکب به حد اکثر جزای پیشبینی شده جرم مرتکبه یا حبس متوسط یا هرکدام کـه بیشـتر باشـد، محکـوم می گردد.

**په تروريستي جرمونو کې د عدالت له تطبيق څخه ممانعت**

**٤٦٦ ماده:**

(۱) که چېرې په تروريستي جرمونوکې پدې فصل کې د درج شوي عدالت له تطبيق څخه د ممانعت جرم ارتکاب شي مرتکب ترلسو کلونو پورې په طويـل حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل له عدلي تعقيـب څخه د شخص په فرار او يا د عدالت په نه تطبيق تمام شي، مرتکب د جرم په پيشبيني شوي عين جزا چې د تروريستي جرمونو د مرتکب لپاره پيشبيني شوې ده محکومېږي.

**د عامه خدمتونو د مؤظـف پـه واسطه د عدالت په تطبيق کـې د ممانعت د جرم ارتکاب**

**٤٦٧ ماده:**

که چېرې پدې فصل کې درج شـوي جرمونه د عامه خدمتونو د مؤظف پـه واسطه ارتکاب شي مرتکب پدې فصل

**ممانعت از تطبيق عدالت در جرايم تروريستی**

**مادۀ ٤٦٦:**

(۱) هرگاه جرم ممانعـت از تطبيـق عدالت مندرج اين فصـل در جـرايم تروريستی ارتکاب يابد، مرتکب بـه حبس طويل تـا ده سـال، محکـوم می گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرۀ (۱) اين ماده منجر به فرار شخص از تعقيـب عدلی و يا عدم تطبيق عدالت گـردد، مرتکب به عين جزای پيشبينی شـده جرمی که بـرای مرتکـب جـرايم تروريستی پيشبينی گرديـده اسـت، محکوم می گردد.

**ارتکاب جرم ممانعت در تطبيـق عدالت توسط مؤظـف خـدمات عامه**

**مادۀ ٤٦٧:**

هرگاه جرايم مندرج اين فصل توسـط مؤظـف خـدمات عامـه ارتکـاب يابد، مرتکب علاوه بـر حـد اکثـر

کې د ټاکلو مجازاتو په اکثر حد برسېره له دندې څخه په انفصال هم محکومېږي.

**د کتنې (معاينې) پروخت له جرمي آثارو څخه نه خبرتيا**

**۴٦۸ ماده:**

(۱) که چېرې طبي مؤظف د کتنو يا درملنې پر وخت (په اثناء کې) د ميت يا ټپي پر بدن داسې ټپونه ويني چې د جرم په پايله کې هغهٔ ته رسېدلي واکمنې مرجع ته خبر ورنکړي، د حبس په بديل يا له پنځه زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې د عدلي طب مؤظف له کتنې مسلکي نظر ورکونې يا د خپلو کتنو د پايلو په هکله واکمنې مرجع ته د لازمو توضيحاتو له ورکولو څخه عمداً ډډه وکړي يا د محکمې په غوښتنه د توضيحاتو د ورکولو لپاره په قضايي غونډه‌کې ګډون ونکړي د حبس د بديل په جزا محکومېږي.

مجازات معينه اين فصل، به انفصال از وظيفه، نيز محکوم می گردد.

**عدم اطلاع از آثار جرمی حين معاينه**

**مادهٔ ۴٦۸:**

(۱) هرگاه مؤظف طبی در اثنای معاينات يا تداوی در بدن ميت يا مجروح زخم های را مشاهده کند که در نتيجه جرم به او رسيده، مرجع ذيصلاح را اطلاع ندهد، به بديل حبس يا جزای نقدی از پنج هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه مؤظف طب عدلی از معاينه، ابراز نظر مسلکی يا توضيحات لازم در مورد نتايج معاينات خويش به مرجع ذيصلاح عمداً امتناع ورزد يا به در خواست محکمه جهت ارايه توضيحات در جلسهٔ قضايی اشتراک نه نمايد، به جزای بديل حبس، محکوم می گردد.

## دوه یم فصل
## د قضاء تضلیل او د هغهٔ مجازات

**د قضاء تضلیل یا د حقیقت پټول**

**۴٦۹ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د قضاء د تضلیل یا د حقیقت د پټولو په قصد د اشخاصو، اماکنو یا شیانو حالت ته بدلون ورکړي یا د جرم مادي ادله پټ یا له منځه یوسي او یا په جرم پورې اړوند کاذب معلومات د هغو په نه صحت (نه سموالي) د علم با وجود وړاندې کړي له احوالو سره سم په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې جرم جنحه وي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې جرم جنایت وي په متوسط حبس.

## فصل دوم
## تضلیل قضاء و مجازات آن

**تضلیل قضاء یا پنهان نمودن حقیقت**

**مادهٔ ۴٦۹:**

(۱) شخصی که به قصد تضلیل قضاء یا پنهان نمودن حقیقت، حالت اشخاص، اماکن یا اشیا را تغییر بدهد یا ادله مادی جرم را پنهان یا از بین ببرد و یا معلومات کاذب متعلق به جرم را با وجود علم به عدم صحت آن تقدیم نماید، حسب احوال به مجازات ذیل، محکوم می گردد:

۱- در صورتی که جرم جنحه باشد، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۲- در صورتی که جرم جنایت باشد، به حبس متوسط.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د عامه خدمتونو د اړوند مؤظف په واسطه صورت ومومي مرتکب ددې مادې په (۱) فقره کې د پیشبیني شوې جـزا پـه اکثـر حـد محکومېږي.

## د غیر واقعي شهرت وړاندې کول

**۴۷۰ ماده:**

که چېرې یو شخص محکمې، څارنوالۍ یا پولیسو ته خپل شهرت په لیکلې یـا شفاهي توګه غیر واقعي معرفي کړي او لدې امله شخص مجازات یا خپله دی (هغه) له مجازاتو معاف شي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شـپېتو زرو افغانیو پورې پـه نغـدي جـزا محکومېږي.

## د قضاء د تضلیل په قصد د مالونو غلا، پټول یا اتلاف

**۴۷۱ ماده:**

(۱) که چېرې یو شخص چې د قضاء یا قضایي ضبط د مامورینو د تضلیل په قصد وثیقه یا هغه جرمي شـی چـې

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده توسط مؤظف خـدمات عامـه مربوطه صـورت گیـرد، مرتکـب به حد اکثر جـزای پیشـبینی شـده فقـرهٔ (۱) ایـن مـاده، محکـوم می گردد.

## ارایه شهرت غیر واقعی

**مادهٔ ۴۷۰:**

هرگاه شخصی به محکمه، خارنوالی یا پولیس طور کتبی یا شفاهی شـهرت خود را غیر واقعی معرفی نماید و بـه اثر آن شخص دیگر مجازات یا خـود وی از مجازات معاف گردد، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تـا شصـت هـزار افغـانی، محکـوم می گردد.

## سرقت، پنهان یا اتلاف اموال بـه قصد تضلیل قضاء

**مادهٔ ۴۷۱:**

(۱) شخصی که به قصد تضلیل قضا یا مامورین ضبط قضایی وثیقه یـا شـی جرمی را که به محکمه یـا مـامورین

محکمې يا قضايي ضبط مامورينو ته ورانديې شوي غلا، پټ يا تلف کړي په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د عامه خدمتونو د مؤظف په واسطه ارتکاب شي پداسې ډول چې نوموړي شيان هغهٔ ته سپارل شوي يا ددندې له لحاظه ورسره په امانت اېښودل شوي وي، د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

**د اهل خبره د ناسم رپوټ وړاندې کول يا د حقيقت خلاف (ژباړه) ترجمه**

**۴۷۲ ماده:**

(۱) که چېرې مؤظف اهل خبره، خپل رپوټ يا نظر د قضيې له حقايقو سره په تناقض کې وړاندې کړي، تردريو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې مؤظف ژباړونکی، په قضيې پورې اړوند اظهارات يا سندونه

ضبط قضائی تقدیم شده سرقت، پنهان یا تلف نماید به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده توسط مؤظف خدمات عامه ارتکاب یابد به نحوی که اشیای مذکور به او سپرده شده یا از لحاظ وظیفه نزدش امانت گذاشته شده باشد، به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

**ارایه گزارش نادرست اهل خبره یا ترجمه خلاف حقیقت**

**مادهٔ ۴۷۲:**

(۱) هرگاه اهل خبره مؤظف، گزارش یا نظر خود را در تناقض با حقایق قضیه ارایه کند، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه مترجم مؤظف، اظهارات یا اسناد مربوط به قضیه را خلاف

د حقایقو خلاف وژباړي، ددې مـادې په (۱) فقره کې په درج شوو مجازاتو محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي اعمال له عـدلي تعقیب څخه د شخص د فرار (تېښتې) او یا د عدالت په نه تطبیق تمام شـي، مرتکب د متوسط حبس په اکثر حـد محکومېږي.

## دمحاکماتي غونډې (جلسې) د نظم نه رعایتول

**۴۷۳ ماده:**

هغه شخص چې د قضایي غونډې پـه ترڅ کې د محکمې صادره لارښوونې (هدایات) رعایت نکړي او د قضـایي غونډې نظم ګډوډ کړي، د پنځو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.

## نا حق سوګند

**۴۷۴ ماده:**

(۱) که چېرې په قضایي دعوي کې د دعوي یوه اړخ (لوري) تـه سـوګند متوجه شي او په ناحقه سره سوګند یاد

حقایق ترجمه کند، بـه مجـازات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده محکـوم می گردد.

(۳) هرگاه اعمال مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده منجر بـه فـرار شخص از تعقیب عدلی و یا عدم تطبیق عـدالت گـردد، مرتکـب بـه حداکثر حـبس متوسـط، محکـوم می گردد.

## عـدم رعایـت نظـم جلسـه محاکماتی

**مادهٔ ۴۷۳:**

شخصی که حین جلسـه قضـایی هدایات صادره محکمه را رعایـت ننماید و نظم جلسه قضایی را اخلال کند، به جزای نقدی پنج هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

## سوگند ناحق

**مادهٔ ۴۷۴:**

(۱) هرگاه در دعوای قضایی به یکی از طرفین دعوی سوگند متوجه گردد و به ناحق سوگند یاد کند، به حبس متوسط،

کړي په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې يو شخص له دروغ سوګند وروسته او د دعوي په موضوع کې د حکم له صادرېدو د مخه حقيقت ته رجوع وکړي، په جزا، نه محکومېږي.

له سوګند څخه استنکاف

۴۷۵ ماده:

که چېري شاهد، اهل خبره يا ژباړونکی د قاضي لخوا د حقيقت د اظهار په منظور وغوښتل شي او له شرعي او قانوني عذر پرته له قانوني سوګند څخه ډډه وکړي، له شلو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## درېيم فصل

## د دروغ اطلاع (خبر) يا د حقيقت له اظهار څخه ډډه کول

دروغ اطلاع

۴۷٦ ماده:

هغه شخص چې په‌کذب سره له

محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخصی بعد از سوگند دروغ و قبل از صدور حکم در موضوع دعوی به حقیقت رجوع نماید، به جزا، محکوم نمی گردد.

استنکاف از سوگند

مادۀ ۴۷۵:

هرگاه شاهد، اهل خبره یا ترجمان بمنظور اظهار حقیقت از طرف قاضی خواسته شود و بدون عذر شرعی و قانونی از سوگند قانونی امتناع ورزد، به جزای نقدی از بیست هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

## فصل سوم

## اطلاع دروغ یا خود داری از اظهار حقیقت

اطلاع دروغ

مادۀ ۴۷٦:

شخصی که به کذب یکی از

مسؤولو مراجعو ځخه يوې ته له داسې جرم ځخه خبر ورکړي چې په نه واقع کېدو يې علم لري يا نوموړو مراجعو ته په سوء نيت سره د خپلې اطلاع پــه کذب د علم با وجود د يوۀ شخص د جرم په ارتكاب اطلاع ورکړي يـــا د واقع پرخلاف دشخص دجرم په ارتکاب مادي ادله خلق کړي يا ديوۀ شـــخص خلاف دهغۀ پر برائت د علم با وجود، د قانوني اجراآتو د ترسره کولو سبب شي، په لاندې توگه مجازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چـــې د دروغ اطلاع موضوع جنحه وي، مرتکب له دېرشو زرو ځخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

۲- په هغه صورت کې چـــې د دروغ اطلاع موضوع، جنايت وي، مرتکب، د قصير حبس په اکثر حد يا له دېرشو زرو ځخـــه تـــر شـــپېتو زرو افغـــانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

مراجع مسؤول را از جرمـــی اطـــلاع بدهد که به عـــدم وقـــوع آن علـــم داشته يـــا مراجـــع مـــذکور را بـــا سوء نيت با وجود علم بـــه کـــذب اطلاع خود به ارتکاب جـــرم يـــک شخص اطلاع دهد يا بـــه ارتکـــاب جرم شخص خلاف واقع، ادله مـــادی خلق نمايد يا عليه يک شخص با وجود علم به برائت او، سبب اتخاذ اجراآت قـــانونی گـــردد، قـــرار ذيـــل مجازات می گردد:

۱- درصورتی که موضـــوع اطـــلاع دروغ، جنحه باشد، مرتکب، به جزای نقدی از سی هزار تا شصـــت هـــزار افغانی، محکوم می گردد.

۲- در صورتی که موضوع اطـــلاع دروغ، جنايت باشد، مرتکـــب، بـــه حد اکثر حبس قصير يا جزای نقـــدی ازسی هزار تا شصت هـــزار افغـــانی، محکوم می گردد.

**قضايي يا اداري مراجعو ته د دروغ اطلاع وراندې کول**

**۴۷۷ ماده:**

هغه شخص چې د واقعيت په خلاف د علم با وجود، له قضايي، اداري مراجعو څخه يوې يا دعامه خدمتونو له مؤظفينو څخه يوهٔ ته، له وسايلو په يوه سره د ستر مصيبت، حادثې يا خطر له واقع کېدو څخه دروغ اطلاع ورکړي، تردوو کلونو پورې په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د عامه خدمتونو د مؤظف لخوا کذب اطلاع**

**۴۷۸ ماده:**

هغه شخص چې په رسمي صفت د عامه خدمتونو له مؤظفينو څخه د يوهٔ په اطلاع قانوناً مکلف شوی وي او هغه ته دروغ اطلاع ورکړي اوهربل شخص چې په رسمي صفت د عامه خدمتونو له مؤظفينو څخه يوهٔ ته پداسې شيانو اطلاع ورکړي چې د هغو په کذب علم

**ارايه اطلاع دروغ به مراجع قضايی يا اداری**

**مادهٔ ۴۷۷:**

شخصی که با وجود علم به خلاف واقعيت، يکی از مراجع قضايی، اداری يا يکی از مؤظفين خدمات عامه را بيکی از وسايل از وقوع مصيبت بزرگ، حادثه يا خطر اطلاع دروغ بدهد، به حبس متوسط تا دو سال يا جزای نقدی از شصت هزار تا سه صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

**اطلاع کذب از طرف مؤظف خدمات عامه**

**مادهٔ ۴۷۸:**

شخصی که به صفت رسمی به اطلاع يکی از مؤظفين خدمات عامه قانوناً مکلف شده باشد و به او اطلاع دروغ بدهد و هر شخص ديگری که به صفت رسمی يکی از مؤظفين خدمات عامه را به اشيای اطلاع دهد که به کذب آن علم داشته

ولري او له هغې څخه مقصد د وجايبو پرخلاف د دندې اجراء يا ډډه کولو ته مجبورول وي پداسې ډول چې کــه د عامه خدمتونو مؤظف تــه د واقعــې حقيقت معلوم وي هغه يې په درســته (سمه) توګه ترسره کوله، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د اطلاع ورکوونکي عــدلي نــه تعقيب او د زيان جبران

۴۷۹ ماده:

(۱) هغه شخص چې قضايي يــا اداري مراجعو ته په صدق سره او له سوء نيت پرته د داسې عمل په ارتکاب اطــلاع ورکړي چې د هغــهٔ فاعــل د جــزا مستوجب وي، نه مجازات کېږي.

(۲) هغه شخص چې د اداري يا قضايي مراجعو ته په سوءنيت سره د پېښې پر پېښېدو يا د جرم پرارتکاب اطــلاع ورکړي، پدې فصل کې پر درج شوو مجازاتو برسېره د ترسره شوو اجراآتو د

باشد و مقصد از آن مجبور ساختن به اجرای وظيفه يا امتناع از آن بر خلاف وجايب باشــد طــوری کــه اگــر حقيقت واقعه به مؤظف خدمات عامه معلوم می بود آنرا به نحو درست انجام می داد، به حبس متوسط تا دو سال يا جزای نقدی ازشصــت هــزار تــا سه صــد هــزار افغــانی، محکــوم می گردد.

## عدم تعقيب عدلی اطــلاع دهنــده وجبران خساره

مادهٔ ۴۷۹:

(۱) شخصی که مراجع قضايی يا اداری را به صدق و بدون سوء نيت به ارتکاب عملی اطــلاع دهــد کــه فاعــل آن مســتوجب جــزا باشــد، مجــازات نمی گردد.

(۲) شخصی کــه مراجــع اداری يــا قضايی را با سوء نيت به وقوع حادثه يا ارتکاب جرم اطلاع دهد، عــلاوه بــر مجازات مندرج اين فصل بــه جبــران مصــارف اجــراآت انجــام شــده،

لګښتونو په جبران، هم محکومېږي.

**په ټاکلي وخت کې له اطلاع ورکونې څخه ډډه کول**

**۴۸۰ ماده:**

(۱) هغه شخص چې قانوناً د عامه خدمتونو له مؤظفینو څخه یوهٔ ته د یوهٔ امر په اطلاع مکلف وي او په مطلوب کیفیت او په قانوني وخت کې د هغهٔ له اطلاع څخه عمداً ډډه وکړي د دووکلونو په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلوشلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف چې د جرمونو په کشف او د مجرم په نیونې توظیف شوی او نوموړو جرمونو په اطلاع کې له علم وروسته اهمال وکړي، ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوې جزا محکومېږي. پدې شرط چې په نوموړي جرم کې د دعوي تقدیم په شکایت پورې متعلق نه وي یا مجرم د عامه خدمتونو د مؤظف زوج یا له اصولو یا فروعو څخه یو یا یې ورور یا

نیز محکوم می گردد.

**امتناع از اطلاع دهی در وقت معین**

**مادهٔ ۴۸۰:**

(۱) شخصی که قانوناً به اطلاع یک امر به یکی از مؤظفین خدمات عامه مکلف باشد و ازاطلاع آن به کیفیت مطلوب و در وقت معین قانونی عمداً امتناع ورزد، به حبس متوسط دو سال یا جزای نقدی ازشصت هزارتا یکصد وبیست هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه مؤظف خدمات عامه که به کشف جرایم و گرفتاری مجرم توظیف گردیده و در اطلاع جرایم مذکور بعد از علم اهمال ورزد، به جزای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده محکوم می گردد. مشروط براینکه در جرم مذکور تقدیم دعوی متعلق به شکایت نباشد یا مجرم زوج یا یکی از اصول یا فروع یا برادر یا خواهر یا از محارم

خور یا د عامه خـــدمتونود مؤظـــف د مصاهرت له محارمو څخه وي.

## څلورم فصل

## د دروغو شهادت او د هغهٔ مجازات

**د دروغو د شهادت موارد**

**۴۸۱ ماده:**

که چېرې شاهد د محکمې په وړاندې یا د قضایي ضبط د مامورینو په وړاندې د سوګند له اداء کولو وروسته عمداً د باطل په اظهار، د حق په انکار، د هغو وقایعو د ټولو یا ځینو پر پوښلو (پټولو) چې د هغو په هکله شهادت اداء کوي لاس پورې کړي د هغهٔ شهادت، دروغ پېژندل کېږي.

**د دروغو د شهادت مجازات**

**۴۸۲ ماده:**

(۱) هغه شخص چې په یوهٔ جرم د تورن په ګټه یا ضرر په دروغو شهادت اداء کړي تر دووکلونو پورې په متوســـط حبس یا لـــه شـــپېتو زرو څخـــه تـــر

مصاهرت مؤظـــف خـــدمات عامـــه باشد.

## فصل چهارم

## شهادت دروغ و مجازات آن

**موارد شهادت دروغ**

**مادهٔ ۴۸۱:**

هرگاه شاهد بعـــد از ادای ســـوگند قـــانونی در پیشـــگاه محکمـــه یـــا نـــزد مـــامورین ضـــبط قضـــایی عمداً به اظهار باطـــل، انکـــار حـــق، پوشیدن تمام یا بعضی از وقایعی که در مورد آن شـــهادت ادا مـــی نمایـــد، بپردازد، شهادت وی، دروغ شـــناخته می شود.

**مجازات شهادت دروغ**

**مادهٔ ۴۸۲:**

(۱) شخصی که در یک جرم به نفع یا ضرر متهم بـــه دروغ شـــهادت اداء نماید، به حبس متوسط تا دو سال یـــا جزای نقدی از شصـــت هـــزار تـــا

يوسلوشلو زرو افغانيو پورې په نغـــدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې د دروغو د شهادت لـــه امله تورن محکوم عليه گرځېـــدلی وي شاهد د هغه جرم په پيشبيني شوي جزا محکومېږي چې پر محکوم عليه باندې صادره شوې ده.

(۳) هغه شخص چې په غيــر جزايـــي دعوي کې او يا د قضـــايي ضـــبط د مامورينو په وړاندې د دروغو شهادت اداء کړي، په قصير حبس يا له لســـو زرو څخه تر شلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د بخشش غوښتنه يا منـــل يـــا د وعدې اخيستل

۴۸۳ماده:

هغه شخص چې د دروغو شـــهادت د اداء په منظور، پيسې، مال يا بل منفعت وغواړي يا د هغو بخشش يـــا وعـــده واخلي او يا ومني دی (هغه) او هغـــه شخص چې بخشش يا وعده يې ورکړې او ياېې په هغو کې وساطت کـــړی د

يکصد وبيست هزار افغانی، محکـــوم می گردد.

(۲) هرگاه در اثـــر شـــهادت دروغ، متهم محکوم عليه قرار گرفته باشـــد، شاهد به جزای پيش بينی شده جرمـــی محکوم می گردد که بالای محکـــوم عليه صادر گرديده است.

(۳) شخصی کـــه در دعـــوی غيـــر جزايی و يا نزد مامورين ضبط قضايی شهادت دروغ اداء نمايد، به حـــبس قصير يا جزای نقـــدی ده هـــزار تـــا بيســـت هـــزار افغـــانی، محکـــوم می گردد.

## طلب يا قبول بخشش يا گـــرفتن وعده

مادۀ ۴۸۳:

شخصی که بمنظـــور ادای شـــهادت دروغ، پول، مال يا منفعتی را طلـــب نمايد يا بخشش يا وعده آن را بگيرد و يا قبول نمايد، وی و شخصـــی کـــه بخشـــش يـــا وعـــده را داده و يـــا در آن وساطت نمـــوده، بـــه جـــزای

رشوت یا د دروغو شهادت هره يوهٔ چې زيات شديده وي د جرم په پيشبيني شوې جزا محکومېږي.

## د دروغو شهادت د مرتکب په جزا محکوميت

**۴۸۴ ماده:**

لاندې اشخاص د دروغو د شهادت د پيشبيني شوې په عين جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې په اغواء يا نورو وسايلو سره شاهد د شهادت نه اداء کولو يا د دروغ شهادت اداء کولو ته اړ کړي که څه هم چې خپل مقصد ته ونه رسېږي.

۲- هغه شخص چې د بخشش يا وعدې له امله د شهادت له اداء کولو څخه ډډه وکړي.

## د تزوير په مجازاتو محکوميت

**۴۸۵ ماده:**

لاندې اشخاص ددې قانون په ۴۷۲ ماده کې له درج شوو حالاتو څخه په غير کې پدې قانون کې درج د تزوير

پيش بينی شده جرم رشوت يا شهادت دروغ هر يک که شديدتر باشد، محکوم می گردد.

## محکوميت به جزای مرتکب شهادت دروغ

**مادهٔ ۴۸۴:**

اشخاص ذيل به عين جزای پيش بينی شده شهادت دروغ محکوم می گردند:

۱- شخصی که با اغواء يا ساير وسايل شاهد را به عدم ادای شهادت يا به ادای شهادت دروغ وادار نمايد، گر چه به مقصد خود نرسد.

۲- شخصی که در اثر بخشش يا وعده از ادای شهادت امتناع ورزد.

## محکوميت به مجازات تزوير

**مادهٔ ۴۸۵:**

اشخاص ذيل در غير از حالات مندرج مادهٔ ۴۷۲ اين قانون به مجازات تزوير مندرج اين قانون محکوم

په مجازاتو محکومېږي:

۱- هغه شخص چې د څارنوالۍ، محکمې یا عدلي او قضايي مراجعو لخوا د اهل خبره یا ژباړونکي په صفت مکلف شي او حقیقت ته عمداً بدلون ورکړي.

۲- هغه شخص چې له سندونو څخه د یوۀ په ژباړه کې چې د محکمې په وړاندې د حق په اثبات کې د هغۀ د استعمال امکان موجود وي تزویر وکړي.

۳- هغه شخص چې تزویر شوی تصدیق د هغه په تزویر د علم با وجود په یوۀ قضايي دعوي کې د استفادې په منظور صادر یا لاسلیک کړي پدې شرط چې د دغۀ شان تصدیق ورکول یا لاسلیک قانوناً مطلوب وي.

۴- هغه شخص چې په تزویر د علم با وجود په قضايي دعوي یا تحقیق کې، د اثبات په منظور، تزویر شوی تصدیق، د ژباړې اظهار سند، وثیقه یا نور شیان استعمال کړي.

۵- هغه شخص چې د تحقیق یا دعوي

می گردند:

۱- شخصی که از طرف څارنوالی، محکمه یا مراجع عدلی وقضایی به صفت اهل خبره یا ترجمان مکلف گردد و حقیقت را عمداً تغییر دهد.

۲- شخصی که در ترجمه یکی از اسنادی که امکان استعمال آن در اثبات حق نزد محکمه موجود باشد تزویر نماید.

۳- شخصی که تصدیق تزویر شده را با وجود علم به تزویر آن بمنظور استفاده در یک دعوی قضایی صادر یا امضاء نماید مشروط بر اینکه اعطاء یا امضاء چنین تصدیق قانوناً مطلوب باشد.

۴- شخصی که با وجود علم به تزویر بمنظور اثبات در دعوی قضایی یا تحقیق، تصدیق، اظهار ترجمه، سند، وثیقه یا اشیای دیگر تزویر شده را استعمال نماید.

۵- شخصی که در جریان تحقیق یا

په بهیر کې په دفتر یا دوسیه یا په نورو هغو پاڼو کې چې د اثبات لپاره د هغو استعمال ممکن وي ناسم مطلب درج کړي پداسې ډول چې د هغهٔ له امله د محکمې په وړاندې خطاء رأیه پیدا شي او پــه حکــم کـــې اغېـــزه وارده کړي.

## د دروغو د شهادت مخففه عذرونه

**۴۸٦ ماده:**

لاندې احوال د دروغو د شهادت پــه جرمونو کې مخففه عذرونـــه پېژنـــدل کېږي:

۱- د دعوي په موضوع کې د حکم له صادرېدو دمخه او یا په تحقیق کـــې د تحقیق د هیئت د قرار لـــه صـــادرېدو دمخه له دروغو اظهاراتو څخه د شاهد رجوع او د حقیقت بیان.

۲- په هغهٔ حالت کې چې د حقیقـــت اظهار، شاهد له ستر خطر سره مخامخ کړي داسې چې د هغهٔ آزادۍ یا شرف ته زیان ورسوي یا د هغهٔ له املـــه دده (هغه) زوجه یا له اصولو او فروعو څخه

دعوی در دفتـــر یـــا دوســـیه یـــا در اوراق دیگری کـــه جهـــت اثبـــات استعمال آن ممکـــن باشـــد مطلـــب نادرست را درج نماید، به نحوی کـــه به اثر آن نزد محکمـــه رأی خطـــاء پیدا شـــده و در حکـــم تـــاثیر وارد نماید.

## اعذار مخففهٔ شهادت دروغ

**مادهٔ ۴۸٦:**

احوال ذیل اعذار مخففـــه در جـــرایم شـــــــهادت دروغ، شـــــــناخته می شود:

۱- رجـــوع شـــاهد از اظهـــارات دروغ و بیان حقیقت قبل از صـــدور حکم در موضـــوع دعـــوی و یـــا در تحقیق قبل از صـــدور قـــرار هیئـــت تحقیق.

۲- در حالتی که اظهـــار حقیقـــت، شاهد را به خطـــر بـــزرگ مواجـــه گرداند طوری که به آزادی یا شرف او صدمه وارد کنـــد یـــا بـــه اثـــر آن زوجه، یا یکی از اصول یا فروع یـــا

يو يا د هغه خور يا ورور له خطر سره مخامخ شي.

**پر شخص د دروغو د شــهادت د جزا نه تطبيق**

**۴۸۷ ماده:**

پرهغهٔ شخص د دروغــو د شــهادت حکمونه چې د شاهد په توګه د هغــهٔ شهادت لازم ندی يا پر هغهٔ شخص چې د قانون له حکمونو سره سم د شهادت په اداءکولــو مکلــف نــه وي، نــه تطبيقېږي.

# پنځم فصل

## د محبوسينو تښتول او د مجرمينو پټول

**د نيول شوي شخص تېښته**

**۴۸۸ ماده:**

(۱) هغه شخص چې قانوناً نيول شوی او وتښتي د شپږو مياشتو په قصير حبس يا د دېرشو زرو افغانيو په نغدي جــزا محکومېږي.

(۲) که چېرې په حبس محکوم شخص

خواهر يا بــرادر او بخطــر مواجــه گردد.

**عدم تطبيق جزای شــهادت دروغ بر شخص**

**مادهٔ ۴۸۷:**

احکام شهادت دروغ بر شخصی کــه شهادت وی بــه حيــث شــاهد لازم نبوده يا بــر شخصــی کــه مطــابق احکــام قــانون مکلــف بــه ادای شــــهادت نباشــــد، تطبيــــق نمی گردد.

# فصل پنجم

## فرار دادن محبوسين و اخفای مجرمين

**فرار شخص گرفتار شده**

**مادهٔ ۴۸۸:**

(۱) شخصی که قانوناً گرفتار گرديده و فرار نمايد، به حبس قصير شش ماه يا جزای نقدی ســی هــزار افغــانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخص محکوم به حــبس،

د محکمې د حکم د تطبيق په منظـــور ونيول شي او له نيونې وروسته وتښتي، د محکوم بها پر جـــزا برســـېره تـــر دووکلونو پورې په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تـــر يوسلوشـــلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۳) که چېرې د شخص تېښـــته ددې مادې په (۱ او۲) فقروکې په درج شوو حالاتو کې د قوې د استعمال يا بل جرم د ارتکاب له امله صورت موندلی وي، مرتکب د تېښتې پـــر جـــزا برســـېره دمرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي.

## د شخص د انتقالوونکي د ساتونکي مجازات

**۴۸۹ ماده:**

هغه شخص چې د محکوم شخص پـــه ساتنه، همراهۍ يا انتقال مکلف وي او د هغهٔ د غفلت پـــه ســـبب، محکـــوم وتښتي، په لانـــدې توګـــه مجـــازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې شخص د جنايت په جزا محکوم وي تر دووکلونو

بمنظور تطبيق حکم محکمه گرفتـــار گردد و بعد از گرفتاری فرار نمايـــد، علاوه بر جزای محکوم بها به حـــبس متوسط تا دو سال يا جزای نقـــدی از شصت هزار تا يکصد وبيست هـــزار افغانی، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه فرار شـــخص در حـــالات مندرج فقره های (۱ و ۲) اين مـــاده باثر استعمال قوه يا ارتکـــاب جـــرم ديگری صورت گرفته باشد، مرتکـــب علاوه بر جزای فرار، به جزای جـــرم مرتکبه، نيز محکوم می گردد.

## مجازات محافظ انتـــقال دهنـــده شخص

**مادهٔ ۴۸۹:**

شخصی که به محافظت، همراهی يـــا انتقال شخص محکوم مکلف باشـــد و به سبب غفلت وی، محکـــوم فـــرار نمايـــد، قـــرار ذيـــل مجـــازات می گردد:

۱- در صورتی که شخص، محکوم به جزای جنايت باشد، به حبس متوســـط

پورې په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر يوسلوشلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.

۲- ددې مادې د ۱ جزء په درج شوو احوالو کې مؤظف شـخص د شـپږو مياشتو په قصير حبس يا د دېرشو زرو افغانيو په نغدي جزا.

## د تورن يا محکوم شخص په تېښته کې مرسته (مساعدت)

**۴۹۰ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د تورن يا محکوم شخص په محافظت، همراهۍ يا انتقال مکلف وي او له هغه سره په تېښته کې مرسته وکړي يا هغه ته د تېښتې زمينه اسانه کړي، په لاندې توګه مجـازات کېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې شخص پـه اعدام محکوم شوی وي، پـه طويـل حبس.

۲- په هغه حالت کې چې شخص د حد يا ۲ درجه يا ۱ درجه دوام حبس پـه جزا باندې محکوم شوی وي يا پداسې

تا دو سال يا جزای نقدی از شصـت هزار تـا يکصـد و بيسـت هـزار افغانی.

۲- در غير از احوال مندرج جزء ۱ اين ماده شخص مؤظف به حبس قصير شش ماه يا جزای نقدی سـی هـزار افغانی.

## مساعدت در فرار شخص متهم يا محکوم

**مادهٔ ۴۹۰:**

(۱) شخصی که به محافظت، همراهی يا انتقال شخص مـتهم يـا محکـوم مکلف بوده و با او در فـرار کمـک نمايد يا زمينهٔ فرار را برای او تسـهيل نمايـد، قـرار ذيـل مجـازات می گردد:

۱- در حالتی که شخص بـه اعـدام محکـوم شـده باشـد، بـه حبس طويل.

۲- در حـالتی کـه شـخص بـه جزای حد يا حبس دوام درجـه۲ يـا درجه ۱ محکوم شده باشد يا مـتهم

جرم تورن وي چې جزا يې اعدام وي، په متوسط حبس.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په ۱ او ۲ اجزاوو کې درج په غير احوالو کې، مؤظف شخص په قصير حبس محکومېږي.

**له عدلي تعقيب څخه د تورن د تېښتې په موخه د عامه خدمتونو د مؤظف مرسته**

**۴۹۱ ماده:**

که چېرې د عامه خدمتونو هغه مؤظف چې د شخص په نيونه مکلف شوی وي او د نيونې په لازمه اجراآتو کې له عدلي تعقيب څخه د تورن په تېښته کې مرسته وکړي، په متوسط حبس محکومېږي.

**د تورن په تېښته يا پټولو کې د شخص مرسته کول**

**۴۹۲ ماده:**

که چېري شخص خپله يا د بل په واسطه، هغه شخص چې له قانوني نيونې وروسته يې تېښته کړې يا پداسې جرم

به جرمی باشد که جزای آن اعدام باشد، به حبس متوسط.

(۲) در غير از احوال مندرج اجزای ۱ و ۲ فقرۀ (۱) اين ماده شخص مؤظف، به حبس قصير محکوم می گردد.

**مساعدت مؤظف خدمات عامه به هدف فرار متهم از تعقيب عدلی**

**مادۀ ۴۹۱:**

هرگاه مؤظف خدمات عامه که به گرفتاری شخص مکلف باشد و در اجراآت لازمۀ گرفتاری در فرار متهم از تعقيب عدلی مساعدت نمايد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

**مساعدت شخص در اخفأ يا فرار متهم**

**مادۀ ۴۹۲:**

هرگاه شخصی خود يا توسط ديگری، شخصی را که بعد از گرفتاری قانونی فرار نموده

تورن وي چې د نیوني امر یې صادر شوی وي، مخفي (پټ) کړي او یا له عدلي تعقیب څخه د شخص پر تېښته د علم با وجود مرسته وکړي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې هغه شخص چې پټ شوی یا له عدلي تعقیب څخه د هغهٔ په اختفاء یا تېښته کې مرسته شوې ده، په اعدام محکوم وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

۲- به هغهٔ صورت کې چې ددې مادې په ۱ جزء کې درج شوی شخص د حد یا ۲درجه یا ۱ درجه دوام حبس یا طویل حبس په جزا محکوم او یا پداسې جرم تورن وي چې جزا یې اعدام پېشبیني شوې، په متوسط حبس.

۳- ددې مادې په ۱ او ۲ اجزاوو کې درج په غیر احوالو کې، په قصیر یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

یا متهم به جرمی باشد که امر گرفتاری او صادر شده باشد، مخفی نماید و یا با وجود علم در فرار شخص از تعقیب عدلی، مساعدت نماید، قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که شخصی که مخفی شده یا به اختفأ یا فرار وی از تعقیب عدلی مساعدت بعمل آمده، محکوم به اعدام باشد، به حبس طویل تا ده سال.

۲- در صورتی که شخص مندرج جزء ۱ این ماده محکوم به جزای حد یا حبس دوام درجه۲ یا درجه ۱یا حبس طویل و یا متهم به جرمی باشد که جزای آن اعدام پیشبینی شده، به حبس متوسط.

۳- در غیر از احوال مندرج اجزای ۱ و۲ این ماده، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

## د تورن په تېښته کې مرسته کول

**۴۹۳ ماده:**

هغه شخص چې د جنایت یا جنحې په واقع کېدو علم حاصل کړي او له عدلي تعقیب څخه د هغهٔ د تورن په تېښته کې مرسته وکړي، سره (اعم) لدې چې د هغهٔ مرسته هغهٔ ته د پناه ورکولو یا د جرم د اثبات د دلایلو د پټولو په شکل وي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## په تېښته د مرستې په صورت کې د تورن پر اقاربو باندې د مجازاتو نه تطبیق

**۴۹۴ ماده:**

که چېرې د شخص مخفي کول یا په اختفاء یا له عدلي تعقیب څخه په تېښته کې مرسته د هغه د زوج، زوجې، اصولو، فروعو، ورور یا خور لخوا صورت ومومي، نه مجازات کېږي.

## کمک نمودن در فرار متهم

**مادهٔ ۴۹۳:**

شخصی که بوقوع جنایت یا جنحه علم حاصل نموده و در فرار متهم آن، از تعقیب عدلی کمک نماید، اعم از اینکه کمک وی به شکل پناه دادن و یا مخفی ساختن دلایل اثبات جرم باشد، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

## عدم تطبیق مجازات بالای اقارب متهم در صورت مساعدت به فرار

**مادهٔ ۴۹۴:**

هرگاه مخفی ساختن یا مساعدت در اختفاء یا فرار از تعقیب عدلی شخص از جانب زوج، زوجه، اصول، فروع، برادر یا خواهر وی صورت گیرد، مرتکب آن، مجازات نمی گردد.

## شپږم باب
## سازمان شوي جرمونه
## لومړی فصل
## د جرمي ډلې سازمانول يا غړيتوب

**د سازمان شوي جرم مرتکب**

**۴۹۵ ماده:**

(۱) د سازمان شوي جرم مرتکب هغه شخص دی چې پدې باب کې درج يو يا څو جرمونه يا پدې قانون کـې درج جنايتونه د سازمان شوې جرمي ډلې په واسطه ترسره کړي.

(۲) جرمي سازمان شوې ډله له دريو يا له هغو څخه د زياتو نفرو لـه تشـکل موندل شوې دستې (ډلې) څخه عبارت ده چې د څه وخت مودې لپاره موجوده وي او د خپلو غړو لپـاره د رسـمي تعريف شوو نقشونو په لرلو سره، پـه منسجم صورت، پدې فصل کې درج د يوۀ يا څو جرمونو يا د جنايت د جرم د ارتکاب او د مالي منفعت يا نورو منافعو

## باب ششم
## جرایم سازمان یافته
## فصل اول
## سازمان دهی یا عضویت گروه جرمی

**مرتکب جرم سازمان یافته**

**مادۀ ۴۹۵:**

(۱) مرتکب جرم سازمان یافته شخصی است که یک یا چند جرم مندرج این باب یا جنایات مندرج این قـانون را توسط گروه سازمان یافته جرمی انجام دهد.

(۲) گـروه سـازمان یافتـه جرمـی عبـارت از دسـته تشـکل یافتـه سه نفر یا بیش از آن است که بـرای مـدت زمـانی موجـود بـوده و با داشـتن نقـش هـای تعریـف شده برای اعضای خـود، بصـورت منسجم، به هدف ارتکاب یک یا چند جرم مندرج ایـن فصـل یـا جـرم جنایت و دریافت منفعت مالی یا سایر

د ترلاسه کولو په موخه فعالیت وکړي.

(۳) د سازمان شوي جرم مرتکب، د ارتکابي جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

(۴) که چېرې پدې فصل کې د درج شوو جرمونو مرتکب بهرنی تبعه وی، د مرتکبه جرم د مجازاتو په یونیم چنده، محکومېږي.

## د جرمي سازمان شوې ډلې سازمانوونکی

**۴۹٦ ماده:**

(۱) سازمانوونکی هغه شخص دی چې جرمي سازمان شوې ډله تأسیس، تشکیل، رهبري، هدایت یا مدیریت کړي.

(۲) سازمانوونکی د مرتکبه جرم د مجازاتو د اکثر حد په یونیم چنده محکومېږي، پدې شرط چې د هغهٔ د حبس د مودې مجموع د ۱درجې دوام حبس له مودې څخه زیات نشي او د جرم د نه ارتکاب په صورت کې، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس

منافع فعالیت نماید.

(۳) مرتکب جرم سازمان یافته، به حد اکثر مجازات جرم ارتکابی، محکوم می گردد.

(۴) هرگاه مرتکب جرایم مندرج این فصل تبعهٔ خارجی باشد، به یک ونیم چند مجازات جرم مرتکبه، محکوم می گردد.

## سازمانده گروه سازمان یافته جرمی

**مادهٔ ۴۹٦:**

(۱) سازمانده شخصی است که گروه سازمان یافته جرمی را تأسیس، تشکیل، رهبری، هدایت یا مدیریت نماید.

(۲) سازمانده به یک ونیم چند حد اکثر مجازات جرم مرتکبه محکوم می گردد، مشروط بر اینکه مجموع مدت حبس وی از میعاد حبس دوام درجه۱ بیشتر نگردد و در صورت عدم ارتکاب جرم، به حبس طویل تا ده سال،

محکومېږي.

**په جرمي سازمان شوې ډله کــې ګډون**

**۴۹۷ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د ټاکلو یا ناټاکلو مجرمانه اعمالو د ترسره کولو په اړه د جرمي سازمان شوې ډلې لــه موخــه، فعالیت یا قصد څخه د آګاهۍ (خبرتیا) په لرلو سره په مستقیمه یا نامســتقیمه توګه د جرمي سازمان شوې ډلې پــه مجرمانه فعالیتونو کې ددې پــه درک سره چې د پورته مجرمانه موخــو پــه لاسته راوړلو کې د هغهٔ ګډون اغېزناک دی په فعالانه توګه ونډه واخلي، پــه جرمي سازمان شوې ډله کې د ګډون د جرم مرتکب پېژندل کېږي.

(۲) په جرمي سازمان شوو جرمونو کې شریک یا معاون، د جرم د فاعل په عین جزا محکومېږي.

محکوم می گردد.

**اشتراک در گروه سازمان یافتــه جرمی**

**مادهٔ ۴۹۷:**

(۱) شخصی که  با داشتن آگــاهی از هدف، فعالیت یا قصد گروه ســازمان یافته جرمی مبنی بر انجــام اعـــمال مجرمانــه معــین یــا غیــر  معــین، در فعالیت های مجرمانه گروه سازمان یافته جرمی بصورت مستقیم یــا غیــر مستقیم با درک اینکه شرکت وی در بدست آوردن اهداف مجرمانه فــوق مؤثر است بصورت فعالانــه ســهیم گردد، مرتکب جرم اشتراک در گروه ســازمان یافتــه جرمـــی شـــناخته می شود.

(۲) شریک  یا معاون در جرایم سازمان یافته جرمی، به عین جزای فاعل جرم، محکوم می گردد.

## دوه یم فصل

## پیسې سپینول اودهغو مجازات

**پیسې سپینول**

**۴۹۸ ماده:**

(۱) د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د غیر قانوني والي په هکله د (خبرتیا) آګاهۍ په لرلو سره د لاندې اعمالو ارتکاب د پیسو سپینولو جرم پېژندل کېږي:

۱- دغیرقانوني منشاء لرونکو وجوهو او شتمنۍ انتقال یا بدلون (تغییر).

۲- د جرم له ارتکاب څخه له راپیــدا شوو قانوني عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته.

۳- د وجوهو او شــتمنۍ د واقعــي ماهیت، سرچینې، موقعیت، د تصــرف څرنګوالي، انتقال یا د مالکیت د حق د پټول یا شکل ته تغییر ورکول.

۴- له جرم څخه د راپیدا شوو وجوهو او شتمنۍ تحصیل، تصاحب یا استفاده.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په مقصد خبرتیا په جرم پورې له مرتبطو پایلو او عیني شرایطو (قراینو) څخه اســتنباط

## فصل دوم

## پول شویی و مجازات آن

**پول شویی**

**مادۀ ۴۹۸:**

(۱) ارتکاب اعمال ذیــل باداشــتن آگاهی در مورد غیر قانونی بودن منشاء وجوه و دارایی، جرم پول شویی شناخته می شود:

۱- انتقال یا تغییر وجوه ودارایی دارای منشاء غیر قانونی.

۲- مساعدت در فرار مظنون جــرم اصلی ازعواقب قانونی ناشی از ارتکاب جرم.

۳- پنهان نمودن یا تغییرشــکل دادن ماهیت واقعی، منبع، موقعیت، چگونگی تصرف، انتقال یا حق مالکیت وجوه و دارایی.

۴- تحصیل، تصاحب یا اســتفاده از وجوه و دارایی ناشی ازجرم.

(۲) آگاهی به مقصد فقرۀ (۱) این ماده به حیث عنصرمتشکلۀ جرم، از نتایج و شرایط عینی (قرائن) مرتبط به جــرم

کېږي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو وجوهو او شتمنۍ د جرمي منشاء اثبات د اصلي جرم د مظنون په پېژندنه یا محکومیت مشروط ندی.

**د حقیقي شخص د پیسو سپینولو مجازات**

**۴۹۹ ماده:**

د پیسو سپینولو د جرم مرتکب د وجوهو یا شتمنۍ اندازې ته په پام سره په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د وجوهو یا شتمنۍ اندازه تر سلو زرو افغانیو پورې وي، تر سلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د وجوهو یا شتمنۍ اندازه له سلو زرو څخه زیاته تر یوهٔ میلیون افغانیو پورې وي، د قصیر حبس په اقل حد یا له سلو زرو څخه زیاته تر یو میلیون افغانیو پورې په نغدي جزا.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د وجوهو

استنباط می‌گردد.

(۳) اثبات منشاء جرمی وجوه و دارایی های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مشروط به شناسایی یا محکومیت مظنون جرم اصلی نمی باشد.

**مجازات جرم پول شویی شخص حقیقی**

**مادهٔ ۴۹۹:**

مرتکب جرم پول شویی با نظر داشت اندازه وجوه یا دارایی قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که اندازه وجوه یا دارایی تا یکصد هزار افغانی باشد، به جزای نقدی تا یکصد هزار افغانی.

۲- در صورتی که اندازه وجوه یا دارایی بیش ازیکصد هزار تا یک میلیون افغانی باشد، به حداقل حبس قصیر یا جزای نقدی بیش از یکصد هزار تا یک میلیون افغانی.

۳- در صورتی که اندازه وجوه یا

یا شتمنۍ اندازه له یوهٔ میلیون څخــه زیاته تر پنځو میلیونو افغانیو پورې وي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې دوجوهو یا شتمنۍ اندازه له پنځو میلیونو څخه زیاته تر لسو میلیونو افغانیو پورې وي، لــه دریوکلونو څخه زیات په متوسط حبس.

۵- په هغهٔ صورت کې چې د وجوهو یا شتمنۍ اندازه له لسو میلیونو افغانیو څخه زیاته وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

## دحکمي شخص د پیسو سپینولو د جرم مجازات

**۵۰۰ ماده:**

(۱) که چېرې د پیسو سپینولو جرم د حکمي شخص د رئیس، ممثل یا قانوني نماینده په واسطه د حکمي شخص پــه نوم، حساب یا منفعت ارتکاب شــوی وي، حکمي شخص د وجوهو یا شتمنۍ د اندازې معادل، پــه نغــدي جــزا محکومېږي.

(۲) حکمي شخص ددې مادې په (۱)

دارایی بیش از یک میلیون تــا پــنج میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۴- در صورتی که اندازه وجــوه یــا دارایی بیش از پنج میلیون تا ده میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط بیش از سه سال.

۵- در صــــورتی کــــه انــــدازه وجوه یا دارایی بــیش از ده میلیــون افغانی باشد، بــه حــبس طویــل تــا ده سال.

## مجازات جرم پول‌شویی شــخص حکمی

**مادهٔ ۵۰۰:**

(۱) هرگاه جرم پول شــویی توســط رئیس، ممثل یا نمایندهٔ قانونی شخص حکمی به نام، حساب یا منفعت شخص حکمی ارتکاب گردیده باشد، شخص حکمی به جزای نقدی معادل انــدازه وجــوه یــا دارایــی، محکــوم می‌گردد.

(۲) شخص حکمی علاوه بر جــزای

فقره کې په درج شوې جزا برسېره له لاندې جزاګانو څخه په يوهٔ هم محکومېږي:

۱- تر پنځو کلونو پورې په مستقيم يا نامستقيمه توګه په جرم پورې د مرتبط تجارتي (سوداګريز) فعاليت د ځينو برخو له پرمختيولو څخه ممنوعيت.

۲- د حکمي شخص انحلال، په هغهٔ صورت کې چې د پيسو د سپينولو د جرم د ارتکاب په منظور رامنځته شوی وي يا د پيسو د سپينولو د جرم د ارتکاب لپاره له امکاناتو او اړوندو شتمنيو څخه د ګټې اخيستنې اجازه ورکړي.

۳- د ټوليزو رسنيو له لارې د حکم خپرول.

(۳) که چېرې د حکمي شخص پر کارکوونکي يا نماينده باندې د ناکافي مديريت يا نظارت په پايله کې حکمي شخص يا د هغهٔ کارکوونکي يا نماينده ته د پيسو د سپينولو د جرم په ارتکاب کې د ګډون زمينه برابره شي او د هغې په پايله کې حکمي شخص منتفع شي،

مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به یکی از جزاهای ذیل، نیز محکوم می گردد:

۱- ممنوعیت از پیشبرد بعضی از عرصه های فعالیت تجارتی مرتبط به جرم بصورت مستقیم یاغیر مستقیم تا پنج سال.

۲- انحلال شخص حکمی، در صورتی که بمنظور ارتکاب جرم پول شویی ایجاد شده باشد یا اجازه استفاده از امکانات و دارایی های مربوط را برای ارتکاب جرم پول شویی، اعطاء نماید.

۳- نشر حکم از طریق رسانه های همگانی.

(۳) هرگاه در نتیجه مدیریت یا نظارت ناکافی بالای کارکن یا نمایندهٔ شخص حکمی، زمینهٔ اشتراک شخص حکمی یا کارکن یا نماینده وی در ارتکاب جرم پول شویی فراهم گردد و در نتیجهٔ آن شخص حکمی منتفع شود،

حکمي شخص ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې پـه درج شـوو مجـازاتو محکومېږي.

(۴) پر حکمي شخص پدې ماده کې د درج شوو مجازاتو تطبيـق پرحقيقـي اشخاصو د مجازاتو د تطبيق مانع نـه کېږي.

## د مشکوکې معاملې د رپوټ نـه اطلاع ورکول

**۵۰۱ ماده:**

(۱) که چېرې د رپـوټ ورکـونې د مرجع مؤظف، د مشـکوکې معـاملې رپوټ اړوندو مراجعو ته اطلاع نکړي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر يوسلو شلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا يا په دواړو جزاګانو محکومېږي.

(۲) رپوټ ورکـوونکې مرجـع ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شـوي حالت کې له يوسلو شلو زرو څخه تر پنځه سوو زرو افغانيو پورې په نغـدي جزا محکومېږي.

شخص حکمی به مجـازات منـدرج فقره های (۱ و ۲) این ماده محکـوم می گردد.

(۴) تطبيق مجازات مندرج اين مـاده بالای شخص حکمـی مـانع تطبيـق مجـازات بـر اشـخاص حقيقـی نمی گردد.

## عدم اطلاع دهی راپـور معاملـه مشکوک

**مادۀ ۵۰۱:**

(۱) هرگاه مؤظف مرجع راپوردهنده، راپور معامله مشکوک را به مراجـع مربوط اطلاع ندهد، به حبس متوسط تا دو سـال يـا جـزای نقـدی از شصت هزار تا يکصد و بيست هـزار افغانی و يا به هر دو جـزا محکـوم می گردد.

(۲) مرجـع راپوردهنـده درحالـت مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، به جـزای نقدی از يکصد و بيست هزار تـاپنج صـد هـزار افغـانی، محکـوم می گردد.

**د سندونو له منځه وړل یا د پیسو د سپینولو په جرم کې تزویر**

**۵۰۲ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د پیسو د سپینولو د جرم په اړوند له لاندې اعمالو څخه د یوهٔ مرتکب شي، پدې قانون کې د رسمي سندونو د اتلاف د جرم او یا د تزویر د جرم د پیشبیني شوو مجازاتو په اکثر حد محکومیږي:

۱- د سندونو او سوابقو د ثبت او راجستر دفترونه چې د پیسو د سپینولو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي د قانون له حکمونو سره سم د ساتلو وړ وي، عمداً ناقص یا له منځه یوسي.

۲- قبالې یا سندونه د هغو له تزویریتوب څخه په خبرتیا سره اړوندو مراجعو ته وړاندې کړي.

(۲) که چېرې ددې مادې په ۱ او ۲ اجزاووکې درج شوي جرمونه د پیسو سپینولو او له جرمونو څخه د را پیدا شوو عوایدو د مخنیوي په قانون کې د

**از بین بردن اسناد یا تزویر در جرم پول شویی**

**مادهٔ ۵۰۲:**

(۱) شخصی که در ارتباط به جرم پول شویی مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حد اکثر مجازات پیشبینی شده جرم اتلاف اسناد رسمی و یا جرم تزویر مندرج این قانون، محکوم می گردد:

۱- دفاتر ثبت و راجستر اسناد و سوابق را که طبق احکام قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، قابل نگهداری باشد،عمداً ناقص یا از بین ببرد.

۲- قباله ها یا اسناد را با وصف آگاهی از تزویری بودن آن به مراجع مربوط ارایه نماید.

(۲) هرگاه جرایم مندرج اجزای۱ و ۲ فقرهٔ (۱) این ماده توسط مراجع راپور دهنده مندرج قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی

درج رپوټ ورکوونکو مراجعو په واسطه ارتکاب شي، مرتکب له یو میلیونو څخه تر پنځو میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د معلوماتو،رپوټونو یا محرمو ثبت شوو سندونوغیر قانوني افشاء

**۵۰۳ ماده:**

(۱) که چېرې د رپوټ ورکوونکې مرجع مؤظف له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلوشلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا په دواړو جزاګانو محکومېږي:

۱- په یوه رپوټ پورې د اړوندو معلوماتو عمدي افشاء کول هغه شخص یا مرجع ته چې د هغو د ترلاسه کولوحق نلري.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د خپلو کاري یا تجارتي چارو په بهیر کې په یوهٔ ډول نه یو ډول د پیسو د سپینولو د یوې قضیې په اړه د واکمنو مراجعوله تر نظر لاندې اقداماتو یا د قانون د

از جرایم، ارتکاب یابد، مرتکب به جزای نقدی از یک میلیون تا پنج میلیون افغانی، محکوم می‌گردد.

## افشای غیر قانونی معلومات، گزارش ها یا اسناد ثبت شده محرم

**مادهٔ ۵۰۳:**

(۱) هرگاه مؤظف مرجع راپوردهنده مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حبس متوسط تا دوسال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یکصد و بیست هزار افغانی و یا به هر دو جزا محکوم می گردد:

۱- افشای عمدی معلومات مرتبط به یک گزارش به شخص یا مرجعی که حق دریافت آن را ندارند.

۲- در صورتی که در جریان امور کاری یا تجارتی خود به نحوی از انحا از اقدامات مورد نظر مراجع ذیصلاح یا بررسی ها یا تحقیقات مراجع تنفیذ قانون در رابطه با یک قضیه پول شویی،

تنفیذ د مراجعو له بررسیو یا تحقیقاتو څخه اطلاع ومومي او د هغو له قانوني علني کېدو د مخه، موضوع عمداً هغهٔ شخص یا اشخاصو ته چې د هغوی په هکله تحقیق روان دی او یا هر بل شخص ته چې د هغود ترلاسه کولو حق نلري، افشاء کړي.

۳- د هغو سندونو افشاء چې د پیسو د سپینولو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي د قانون له حکمونو سره سم، په محرمه توګه ساتل کېږي، هغهٔ شخص ته چې د تر لاسه کولو حق يې نلري.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې ددې مادې د (۱) فقرې په۱، ۲ او۳ اجزاوو کې درج شوي جرمونه د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، مرتکب له یوسلو شلو زرو څخه تر دوه سوه څلوېښتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

اطلاع یافته و قبل از علنی شدن قانونی آن، موضوع را عمداً به شخص یا اشخاصی که تحقیق در مورد آنها جریان دارد و یا هر شخص دیگری که حق دریافت آنرا ندارد، افشاء نماید.

۳- افشای اسنادی که طبق احکام قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، طور محرم نگهداری می‌شود به شخصی که حق دریافت آنرا ندارد.

(۲) در صورتی که جرایم مندرج اجزای ۱، ۲ و۳ فقرهٔ (۱) این ماده توسط شخص حکمی ارتکاب یابد، مرتکب به جزای نقدی از یکصد و بیست هزار تا دوصد و چهل هزار افغانی، محکوم می گردد.

## له نظارتي واكمنو مراجعو سره نه همكاري

**۵۰۴ ماده:**

هغه شخص چې د پيسو د سپينولو او له جرمونو څخه د راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي له قانون سره سم، له نظارتي واكمنو مراجعو سره په همكارۍ مكلف وي، د نظارتي واكمنو مراجعو په وړاندې د خپلو قانوني مكلفيتونو له اجراء څخه عمداً ډډه وكړي، په قصير حبس او له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محكومېږي.

## د پيسو نا قانونه دننه كول يا بهر كول

**۵۰۵ ماده:**

هغه شخص چې په اړوند تقنيني سندكې له ټاكل شوي حد څخه زيات مبلغ په نغدې يا د بې نومه معاملې وړسند په شكل له ځان سره په نا قانوني توګه هېواد ته دننه يا بهر كړي يا د پستي استونې، قاصد، دكاليو او بار د

## عدم همكاری با مراجع ذيصلاح نظارتی

**مادۀ ۵۰۴:**

شخصی كه مطابق قانون جلوگيری از پول شويی و عوايد ناشی از جرايم، مكلف به همكاری با مراجع ذيصلاح نظارتی باشد، از اجرای مكلفيت های قانونی خود در برابر مراجع ذيصلاح نظارتی عمداً امتناع ورزد، به حبس قصير وجزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محكوم می گردد.

## داخل يا خارج نمودن غير قانونی پول

**مادۀ ۵۰۵:**

شخصی كه مبلغ بيش از حد تعيين شده در سند تقنينی مربوط را به شكل نقد يا سند قابل معامله بی اسم با خود بصورت غير قانونی به كشور داخل يا خارج نمايد يا ذريعه ارسال پستی، قاصد، شركت های حمل و نقل بار و

حمل اونقل دشرکتونو په ذریعه اوپه نورو ډولونو یې وارد یا صادر کړي، او د پیسو د انتقال یا د بی نومه معاملې وړ سند د مقدار منشاء، موخه یا استفادې په هکله سند وړاندې نکړای شي، مرتکب د نومورې مبلغ پر مصادرې برسېره په لاندې مجازاتو هم محکومېږي:

۱- حقیقي شخص په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- حکمي شخص له شپېتو زرو څخه تر دوه سوه او څلوېښتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

## پټول، انتقال یا د حقیقت خلاف بر ملا کول (ښکاره کول)

**۵۰٦ ماده:**

هغه شخص چې پیسې، بې نومه بهالرونکي سندونه یا قیمتي فلزات یا احجار چې د پیسو سپینولو له جرم، د تروریزم د تمویل له جرم یا له اصلي جرمونو سره مرتبط وي او اړوند

کالا و سایر اشکال، وارد و یا صادر نماید، و در مورد مقدار، منشاء، هدف یا استفاده از انتقال پول یا سند قابل معامله بی اسم سند ارایه کرده نتواند، مرتکب علاوه بر مصادره مبلغ مذکور به مجازات ذیل، نیز محکوم می گردد:

۱- شخص حقیقی، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۲- شخص حکمی، به جزای نقدی از شصت هزار تا دوصد وچهل هزار افغانی.

## پنهان، انتقال یا وانمود کردن خلاف حقیقت

**مادۀ ۵۰٦:**

شخصی که پول، اسناد بهادار بدون اسم یا فلزات یا احجار قیمتی را که با جرم پول شویی، جرم تمویل تروریزم یا جرایم اصلی مرتبط بوده وسند تقنینی مربوط در

تقنيني سند د هغو د ضبط، انجماد يا مصادرې په اړه حکم کړی وي، هغه پټ يا د حقيقت خلاف برملا (ښکاره) يا انتقال کړي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- حقيقي شخص په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا يا په دواړو جزا ګانو.

۲- حکمي شخص له شپېتو زرو څخه تر دوه سوه او څلوېښت زرو افغانيو پورې په نغدي جزا او د يوه کال مودې لپاره د فعاليت د جواز تعليق يا سلب.

## د فعاليت د جواز سلب

**۵۰۷ ماده:**

که چېرې حقيقي يا حکمي شخص پدې فصل کې درج شوي جرمونه له يوځل څخه زيات مرتکب شي، پر پيشبيني شوو مجازاتو برسېره، له يوه څخه تر پنځو کلونو پورې د فعاليت د جواز په سلب هم محکومېږي.

رابطه به ضبط، انجماد يا مصادره آنها حکم نموده باشد، آنها را پنهان يا خلاف حقيقت وانمود يا انتقال دهد، قرار ذيل مجازات می‌گردد:

۱- شخص حقيقی، به حبس قصير يا جزای نقدی سی هزار تا شصت هزار افغانی يا به هر دو جزا.

۲- شخص حکمی، به جزای نقدی شصت هزار تا دوصد وچهل هزار افغانی و به تعليق يا سلب جواز فعاليت برای مدت يک سال.

## سلب جواز فعاليت

**مادۀ ۵۰۷:**

هرگاه شخص حقيقی يا حکمی جرايم مندرج اين فصل را بيش از يک بار مرتکب گردد، علاوه بر مجازات پيشبينی شده، به سلب جواز فعاليت از يک تا پنج سال، نيز محکوم می گردد.

**د جرمي سازمان شوې ډلې د غړي مجازات**

**۵۰۸ ماده:**

**که چېرې جرمي سازمان شوې ډله یا هغه حکمي شخص چې د جرمي سازمان شوې ډلې تر حاکمیت یا کنترول لاندې دی، د پیسو د سپینولو د جرم مرتکب شي، په لاندې مجازاتو محکومېږي:**

**۱- حقیقي شخص په طویل حبس او له پنځه سوه زرو څخه تر دوو میلیونو افعانیو پورې په نغدي جزا.**

**۲- حکمي شخص منحل او شتمني یې مصادره کېږي.**

**د ترلاسه شوو وجوهو، شتمنۍ او منفعت مصادره**

**۵۰۹ ماده:**

**(۱) لاندې وجوه او شتمنۍ د پیسو د سپینولو، د تروریزم د تمویل یا د اصلي جرم د ارتکاب یا د ارتکاب په پیل د شخص د محکومیت په صورت کې د واکمنې محکمې لخوا مصادره کېږي:**

**مجازات عضوگروه سازمان یافته جرمی**

**مادۀ ۵۰۸:**

**هرگاه گروه سازمان یافته جرمی یا شخص حکمی ای که تحت حاکمیت یا کنترول گروه سازمان یافته جرمی قرار دارد، مرتکب جرم پول شویی گردد، به مجازات ذیل محکوم می‌گردد:**

**۱- شخص حقیقی، به حبس طویل و جزای نقدی از پنج صد هزار تا دو میلیون افغانی.**

**۲- شخص حکمی منحل و دارایی آن مصادره می گردد.**

**مصادره وجوه، دارایی و منفعت حاصله**

**مادۀ ۵۰۹:**

**(۱) وجوه ودارایی های ذیل در صورت محکومیت شخص به ارتکاب یا شروع به ارتکاب جرم پول شویی، تمویل تروریزم یا جرم اصلی، از طرف محکمۀ ذیصلاح مصادره می گردد:**

۱- له جرم څخه رامنځته شوي عوايد د هغو وجوهو يا شتمنيو په شمول چې په مستقيم يا نا مستقيم ډول له جرمي عوايدو څخه لاسته راغلې يا له دغه شان عايداتو سره مخلوط يا له هغو څخه مشتق شوې او يا د هغو له تبادلې څخه لاسته راغلې وي.

۲- هغه وسايل او امکانات چې د پيسو د سپينولو د تروريزم د تمويل د جرم يا د اصلي جرم په ارتکاب کې تر ګټې اخيستنې لاندې نيول شوي وي يا ددې منظور لپاره له هغو څخه د ګټې اخيستنې قصد شتون ولري.

۳- هغه وجوه او شتمنۍ چې له جرم څخه راپيدا شوي عوايد دي او هغه شتمنۍ چې د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي په قانون کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په منظور کارول شوې يا يې د استفادې قصد وجود ولري يا د هغو د ارتکاب لپاره اختصاص شوې دي.

۴- ددې فقرې له ۱ تر ۳ پورې اجزاووکې درج شوي وجوه يا شتمنۍ

۱- عوايد ناشی از جرم به شمول وجوه يا دارايی های که به شکل مستقيم يا غير مستقيم از عوايد جرمی بدست آمده يا با چنين عايدات مخلوط يا ازآن مشتق گرديده ويا از تبادلۀ آن بدست آمده باشد.

۲- وسايل وامکاناتی که در ارتکاب جرم پول شويی، تمويل تروريزم يا جرم اصلی مورد استفاده قرار گرفته باشد يا قصد استفاده از آنها برای اين منظور وجود داشته باشد.

۳- وجوه يا دارايی های که عوايد ناشی از جرم بوده و دارايی های که بمنظور ارتکاب جرايم مندرج در قانون جلوگيری از تمويل تروريزم استفاده شده يا قصد استفادۀ آن موجود بوده يا برای ارتکاب آنها اختصاص يافته است.

۴- وجوه يا دارايی های مندرج اجزای ۱ تا ۳ اين فقره که به شخص

چې بل شخص ته منتقلې شــوې وي، خودا چې مالک په محکمه کې ثابتــه کړي چې ددغه شان وجوهو یا شتمنیو د ترلاسه کولو په وړاندې یې مناسبه بیه ورکړې یا هغه یې د هغو د ارزښــت د معادلو خدمتونو په بدل کې یا له بلــې مشروع لارې څخه لاســته راوړي او ددغهٔ شان وجوهو او شتمنیو د منشاء له غیر قانوني والي څخه یــې خبرتیــا درلودلې نده.

(۲) که چېرې هغه وجوه یا شتمنۍ چې په مستقیم یا نا مستقیم ډول له جرمــي عمل څخه لاسته راغلې له هغو وجوهو او شتمنیو سره چې له مشروعو سرچینو څخه لاسته راغلې مخلوطې وي، ددغهٔ شان وجوهو او شــتمنیو د مصــادرې حکم په هغه اندازه صورت مومي چې له جرم څخه د تر لاسه شوو وجوهو او شتمنیو د عوایدو له ارزښت ســره، د محکمې له ارزونې سره سم، معــادل وي.

(۳) که چېرې هغه وجوه یا شتمنۍ چې د هغو په مصادرې حکم صادر شوی،

دیگری منتقل گردیده باشد، مگر اینکه مالــــک در محکمــــه ثابـــت نماید که در مقابل دریافت چنین وجوه یا دارایـــی هـــا قیمـــت مناســب را پرداخته یا آن را در بـــدل خـــدمات معـــادل بـــه ارزش آن یـــا از طـــرق مشـــروع دیگـــری بدســـت آورده و از غیر قانونی بـــودن منشـــاء چنـــین وجوه ودارایی هـــا آگـــاهی نداشـــته است.

(۲) هرگاه وجوه یـــا دارایـــی هـــای که بصورت مستقیم یا غیـــر مســـتقیم از عمل جرمی حاصـــل گردیـــده بـــا وجوه یا دارایی هـــای کـــه از منـــابع مشـــروع بدســـت آمـــده مخلـــوط باشـــد، حکـــم مصـــادره چنـــین وجوه یا دارایی ها به اندازهٔ صـــورت مـــی گیـــرد کـــه بـــا ارزش عوایـــد وجوه ودارایی های حاصله از جـــرم، مطـــابق ارزیـــابی محکمـــه، معـــادل باشد.

(۳) هرگاه وجوه یا دارایی های کـــه حکم به مصادرهٔ آن صادر گردیـــده،

لاسته را نشي، د هغو د معادلو وجوهو او شتمنيو په مصادرې حکم صادرېږي.

(۴) د مصادرې په حکم کې، د مصادرې وړ وجوهو او شتمنيو اندازه او د هغو د ځای د تشخيص او ټاکلو لپاره ضروري تفصيلات مشخصېږي.

## دريم فصل

## د انسان قاچاق

### د انسان د قاچاق جرم

**۵۱۰ ماده:**

(۱) د انسان قاچاق: له لاندې لارو څخه په استفادې سره د بهره کشۍ (ناوړې ګټې اخيستنې) په منظور د شخص استخدام يا تر تسلط لاندې راوستل، انتقال، حمل او نقل، ساتنه يا ترلاسه کول دي:

۱- تهديد يا له قوې يا د اجبار له نورو ډولونو څخه ګټه اخيستنه.

۲- اختطاف.

۳- حيله او فريب.

۴- له نفوذ څخه ناوړه ګټه اخيستنه.

دستياب شده نه تواند، حکم به مصادرۀ وجوه ودارايی های معادل آن صادر می گردد.

(۴) در حکم مصادره، اندازۀ وجوه يا دارايی های قابل مصادره وتفصيلات ضروری جهت تشخيص وتعيين محل آن مشخص می گردد.

## فصل سوم

## قاچاق انسان

### جرم قاچاق انسان

**مادۀ ۵۱۰:**

(۱) قاچاق انسان: استخدام يا تحت تسلط قرار دادن، انتقال، حمل و نقل، نگهداری يا دريافت شخص است بمنظور بهره کشی با استفاده از شيوه های ذيل:

۱- تهديد يا استفاده از قوه يا ساير اشکال اجبار.

۲- اختطاف.

۳- حيله و فريب.

۴- سوء استفاده از نفوذ.

۵- د زيان منې يا مجبوريت له حالت څخه ناوړه ګټه اخيستنه.

٦- د انسان د قاچاق د جرم د مجني عليه يا د هغهٔ د سرپرست د رضايت د ترلاسه کولو لپاره د پيسو يا منفعت ورکړه يا ترلاسه کول.

(۲) د بهره کشۍ په مقصد د طفل تر تسلط لاندې راوستل که څه هم له دغو لارو څخه استفاده نه وي شوې د انسان قاچاق پېژندل کېږي.

(۳) بهره کشي: دپېر، پلور، جنسي بهره کشۍ، رقصولو (ګډولو) د اخلاقو منافي (پورنوګرافي) تصويرونو په برابرولو کې په خدمت د نيولو، برده ګۍ، اجباري کار ته د ګمارلو، ګدايۍ، وسله والې جګړې، د بدن د غړي يا انساجو داخيستلو، طبي اجباري آزمايښتونو يا نورو غير قانوني فعاليتونو ته د اړ ايستلو له لارې له مجني عليه څخه د منفعت ترلاسه کول دي.

۵- سوء استفاده از حالت آسيب پذيری يا مجبوريت.

٦- پرداخت يا دريافت پول يا منفعت جهت کسب رضايت مجنی عليه جرم قاچاق انسان يا سرپرست وی.

(۲) تحت تسلط قرار دادن طفل به مقصد بهره کشی گرچه از شيوه های مذکور استفاده نشده باشد، قاچاق انسان شناخته می شود.

(۳) بهره کشی: کسب منفعت از مجنی عليه از طريق خريد، فروش، بهره کشی جنسی، رقصانيدن، به خدمت گرفتن در تهيه تصاوير يا فلم های منافی اخلاق (پورنوگرافی)، بردگی، گماشتن به کار اجباری، گدايی، جنگ مسلحانه، برداشت عضو يا انساج بدن، آزمايشات طبی اجباری يا وادار نمودن به ساير فعاليت های غير قانونی می باشد.

## د انسان د قاچاق مجازات

**۵۱۱ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب شي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې مجني عليه ښځه يا طفل وي يا د رقصولو په عمل کې تر ګټې اخيستنې لاندې نيول شوی وي، مرتکب له لسو کلونو څخه زيات په طويل حبس محکومېږي.

## د انسان د قاچاق په جرم کې مشدده حالات

**۵۱۲ ماده:**

د انسان د قاچاق د جرم مرتکب په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب د مجني عليه مېړه-ښځه، مور او پلار يا قانوني سرپرست يا د عامه خدمتونو مؤظف وي، مرتکب له لسو کلونو څخه زيات په طويل حبس محکومېږي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د انسان

## مجازات قاچاق انسان

**مادهٔ ۵۱۱:**

(۱) شخصی که مرتکب جرم قاچاق انسان گردد، به حبس طویل تا ده سال، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه مجنی علیه، طفل یا زن باشد یا در عمل رقصانیدن مورد بهره برداری قرار گرفته باشد، مرتکب به حبس طویل بیش از ده سال، محکوم می‌گردد.

## حالات مشدده در جرم قاچاق انسان

**مادهٔ ۵۱۲:**

مرتکب جرم قاچاق انسان قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که مرتکب جرم قاچاق انسان، همسر، والدین یا سرپرست قانونی مجنی علیه یا مؤظف خدمات عامه باشد، مرتکب به حبس طویل بیش از ده سال، محکوم می‌گردد.

۲- در صورتی که قاچاقبر انسان با

قاچاقبر له مجني عليه سره، د زنا يا لواط د فعل مرتکب شوی وي ددې قانون د دوه يمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم په رعايت سره، تعزيراً پدې قانون کې درج د جرمونو د تعدد د اړوندو حکمونو په پام کې نيولو سره، د طويل يا ۲درجه دوام حبس په اکثر حد.

۳- په هغهٔ صورت کې چې مجني عليه تر جنسي بهره کشۍ لاندې راغلی وي يا له هغهٔ څخه د غير اخلاقي (پورنوگرافي) تصويرونو يا فلمونو په برابرولو کې ګټه اخيستل شوې وي، د طويل حبس په اکثر حد.

۴- په هغه صورت کې چې مجني عليه وسله والې جګړې ته ګمارل شوی وي يا د هغهٔ د بدن غړی يا انساج قطع (پرې) او اخيستل شوي وي چې د مجني عليه په فزيکي يا رواني دايمي معلوليت تمام شي يا د اجباري طبي ازمايښت لاندې راغلی وي، په ۲درجه دوام حبس او د مجني عليه د مړينې په صورت کې په ۱درجه دوام حبس.

مجنی علیه، مرتکب فعل زنا یا لواط گردیده باشد با رعایت حکم مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ دوم این قانون، تعزیراً با رعایت احکام مربوطه تعدد جرایم مندرج این قانون، به حد اکثر حبس طویل یا حبس دوام درجه۲.

۳- در صورتی که مجنی علیه مورد بهره کشی جنسی قرار گرفته یا در تهیه تصاویر یا فلم های غیر اخلاقی (پورنوگرافی) از وی استفاده شده باشد، به حد اکثر حبس طویل.

۴- در صورتی که مجنی علیه به جنگ مسلحانه گماشته شده باشد یا عضو یا انساج بدن وی قطع و برداشت شده که منجر به معلولیت دایمی فزیکی یا روانی مجنی علیه گردد یا مورد آزمایش طبی اجباری قرار گرفته باشد، به حبس دوام درجه ۲ و در صورت مرگ مجنی علیه، به حبس دوام درجه۱.

## د بدن د غړي یا انساجو د پرې کولو او اخیستلو یا د طبي ازمایښتونو د فاعل مجازات

**۵۱۳ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د مجني علیه د بدن غړی یا انساج قطع یا واخلي (برداشت کړي) یا هغه تر اجباري طبي ازمایښت لاندې ونیسي او نوموړی عمل د مجني علیه په دایمي فزیکي یا رواني معلولیت یا د هغهٔ په مړینه تمام شوی نه وي، مرتکب له لسو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د مجني علیه په دایمي فزیکي یا رواني معلولیت تمام شوی وي، مرتکب په ۲درجه دوام حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د مجني علیه په مړینه تمام شوی وي، مرتکب په۱درجه دوام حبس محکومېږي.

## مجازات فاعل قطع و برداشت عضو و انساج بدن یا آزمایشات طبی

**مادهٔ ۵۱۳:**

(۱) شخصی که عضو یا انساج بدن مجنی علیه را قطع یا برداشت نموده یا وی را مورد آزمایش طبی اجباری قرار داده و عمل مذکور منجر به معلولیت دایمی فزیکی یا روانی مجنی علیه یا مرگ وی نگردیده باشد، مرتکب به حبس طویل بیش از ده سال، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به معلولیت دایمی فزیکی یا روانی مجنی علیه گردیده باشد، مرتکب به حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به مرگ مجنی علیه گردیده باشد، مرتکب به حبس دوام درجه۱، محکوم می گردد.

## د اختطاف مجازات

**۵۱۴ ماده:**

که چېرې د انسان د قاچاق مجني علیه د اختطاف له لارې، تر تسلط لاندې نیول شوی وي، مرتکب د اختطاف یا د انسان د قاچاق د جرم په مجازاتو هره یوه چې زیاته شدیده وي محکومېږي.

## د حکمي شخص مجازات

**۵۱۵ ماده:**

(۱) که چېرې د انسان د قاچاق جرم د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، د مرتکب پر مجازاتو برسېره، حکمي شخص، له دریو څخه تر پنځه میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې نغدي جزا، د پولي ارزښت نوساناتو ته په پام سره، د انسان له قاچاق او د مهاجرانو له قاچاق سره د مبارزې د عالي کمېسیون په وړاندیز او د حکومت په تصویب تعدیل کېږي.

(۳) حکمي شخص ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د تکرار په

## مجازات اختطاف

**مادۀ ۵۱۴:**

هرگاه مجنی علیه قاچاق انسان از طریق اختطاف، تحت تسلط قرار گرفته باشد، مرتکب به مجازات جرم اختطاف یا قاچاق انسان هریک که شدید تر باشد، محکوم می گردد.

## مجازات شخص حکمی

**مادۀ ۵۱۵:**

(۱) هرگاه جرم قاچاق انسان توسط شخص حکمی ارتکاب یابد، علاوه بر مجازات مرتکب، شخص حکمی، به جزای نقدی از سه تا پنج میلیون افغانی، محکوم می‌گردد.

(۲) جزای نقدی مندرج فقرۀ (۱) این ماده با نظر داشت نوسانات ارزش پولی به پیشنهاد کمیسیون عالی مبارزه با قاچاق انسان وقاچاق مهاجران وتصویب حکومت تعدیل می گردد.

(۳) شخص حکمی در صورت تکرار جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده، علاوه

صورت کې، پر پیشبیني شوو مجازاتو برسېره د فعالیت د جواز په سلب هم محکومېږي.

**د انسان د قاچاق په جرم کې دعامه خدمتونو د مؤظف د اهمال مجازات**

**٥۱٦ ماده:**

که چېرې د عامه خدمتونو د مؤظف اهمال د انسان د قاچاق د جرمونو د ارتکاب د اسانه کېدو سبب شوی وي، د عامه خدمتونو مؤظف تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

**د انسان د قاچاق د جرم د معاون یا شریک مجازات**

**٥۱۷ ماده:**

د انسان د قاچاق د جرم معاون یا شریک، د جرم د فاعل په عین مجازاتو محکومېږي.

بر مجازات پیش بینی شده به سلب جواز فعالیت نیز محکوم می گردد.

**مجازات اهمال مؤظف خدمات عامه در جرم قاچاق انسان**

**مادۀ ٥۱٦:**

هرگاه اهمال مؤظف خدمات عامه سبب تسهیل ارتکاب جرایم قاچاق انسان گردیده باشد، مؤظف خدمات عامه به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می گردد.

**مجازات معاون یا شریک جرم قاچاق انسان**

**مادۀ ٥۱۷:**

معاون یا شریک جرم قاچاق انسان، به عین مجازات فاعل جرم، محکوم می گردد.

**له عدلي تعقيب څخه د انســـان د قاچاق د مجني عليه معافيت**

**۵۱۸ ماده:**

د انسان د قاچاق مجني عليه په لاندې حالاتو کې تر عدلي تعقيب لاندې نــه نيول کېږي:

۱- هېواد ته نا قانوني واردېدل يا لــه هغهٔ څخه وتل (خروج).

۲- په هېواد کې نا قانونه مېشــتېدل (اقامت)

۳- د مسافرت يا د تابعيت د تذکرې (د پېژندنې سند) د تزوير شوو سندونو لرل يا ګټه اخيستنه.

۴- ددې قانون د ۵۱۲ مادې په ۲ او ۳ اجزاوو کې درج حالاتو کې.

۵- نور هغه جرمي اعمال چې اجبـــاراً پر هغه تحميل شوي وي.

**له جزايي مسؤوليت څخه معافيت او د مجازاتو تخفيف**

**۵۱۹ ماده:**

(۱) هغه شخص چې په يوهٔ ډول نه يوهٔ ډول دانسان له قاچاقبر يا سازمان شوې

**معافيت مجنى عليه قاچاق انسان از تعقيب عدلى**

**مادهٔ ۵۱۸:**

مجنى عليه قاچاق انسان در حـــالات ذيل مـــورد تعقيـــب عـــدلى قـــرار نمی‌گيرد:

۱- ورود غير قانونى به کشـــور يـــا خروج از آن.

۲- اقامـــــت غيـــــر قـــــانونى در کشور.

۳- داشتن يا استفاده ازاسناد تزويـــر شده مسافرت يا تذکره تابعيت (ســـند شناسايى).

۴- در حـــالات منـــدرج اجـــزاى ۲ و۳ مادهٔ ۵۱۲ اين قانون.

۵- ساير اعمال جرمى ايکه اجبـــاراً بالاى وى تحميل گرديده است.

**معافيت از مسؤوليت جزايـــى و تخفيف مجازات**

**مادهٔ ۵۱۹:**

(۱) شخصى که به نحوى از انحا بـــا قاچاقبر انسان يا گروه جنايتکار سازمان

جنايتکارې ډلې سره اړيکه او همکاري ولري خو د هغو له ارتکاب د مخه لـه مسئوولو مراجعو سره د مرتکبينو پـه افشاء يا نيونه کې مرسته وکړي، لـه جزايي مسؤوليت څخه معاف کېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې مرسـته، د انسـان د قاچاق د جرمونو له ارتکاب وروسـته صورت موندلې وي او زمينـه داسـې مساعده کړي چې د جرمي سـازمان شوې ډلې د نورو غړو په نيونه تمامـه شي، محکمه د هغهٔ په هکله د پېشبيني شوو مجـازاتو پـه تخفيـف حکـم کوي.

## د انسان د قاچاق په جرم پيل

**۵۲۰ ماده:**

د انسان د قاچاق په جرم پيل کوونکی د انسان د قاچاق د جـرم پـه عـين مجازاتو محکومېږي.

يافته ارتباط و همکاری داشته ولی قبل از ارتکاب آن مراجـع مسـؤول را در افشـاء يـا گرفتـاری مـرتکبين مساعدت نمايد، از مسؤوليت جزايی معاف می‌گردد.

(۲) هرگاه مساعدت منـدرج فقـرهٔ (۱) ايـن مـاده، بعـد از ارتکـاب جـرايم قاچـاق انسـان صـورت گرفته باشد و زمينه را طوری مسـاعد سازد که منجر بـه گرفتـاری سـاير اعضای گروه سازمان يافتـه جرمـی گردد، محکمه به تخفيف مجازات پيش بينـی شـده در مـورد وی حکـم می نمايد.

## شروع به جرم قاچاق انسان

**مادهٔ ۵۲۰:**

شروع کننده به جرم قاچاق انسان به عين مجازات جرم قاچـاق انسـان، محکوم می گردد.

## څلورم فصل

## د مهاجرينو قاچاق

### د مهاجرينو د قاچاق جرم

**۵۲۱ ماده:**

(۱) د پيسو يا منفعت د ترلاسه کولو په منظور د مسافرت له سندونو پرته ياد مسافرت په تزوير شوو سندونو سره هېواد ته د بهرني دولت د تبعه يا له تابعيت پرته شخص لپاره د نا قانونه وارديدو د زمينې برابرول يا له افغانستانه بل هېواد ته د هېواد د تبعه يا له تابعيت پرته شخص يا د بهرني دولت تبعه ته د وتلو (خروج) لپاره د زمينې برابرول د مهاجرينو د قاچاق جرم پېژندل کېږي، مرتکب ددې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

(۲) ددې مادې په مقصد د پېژندنې يا مسافرت تزوير شوی سند د پېژندنې يا مسافرت له هر هغهٔ سند څخه عبارت دی چې په تزويري صورت جوړ شوی يا په هغهٔ کې بدلون وارد شوی دی يا د ناسمو اظهاراتو (څرګندونو) يا فساد يا

## فصل چهارم

## قاچاق مهاجران

### جرم قاچاق مهاجران

**مادهٔ ۵۲۱:**

(۱) فراهم نمودن زمينهٔ ورود غير قانونی برای تبعه دولت خارجی يا شخص بدون تابعيت به کشور يا فراهم نمودن زمينه خروج برای تبعه کشور يا شخص بدون تابعيت يا تبعه دولت خارجی از افغانستان به کشور ديگر، بدون اسناد مسافرت يا با اسناد تزوير شده مسافرت بمنظور دريافت پول يا منفعت، جرم قاچاق مهاجران شناخته شده، مرتکب مطابق احکام اين فصل مجازات می گردد.

(۲) به مقصد اين ماده سند شناسايی يا مسافرت تزوير شده، عبارت است از هر سند شناسايی يا مسافرت که به صورت تزويری ساخته شده يا در آن تغيير وارد شده است يا با توسل به اظهارات نادرست يا فساد

اکراه ته په توسل سره یا له هرې بلې غير قانوني لارې لاس ته راغلی وي يا د هغهٔ له قانوني خاوند پرته شخص له نومووړو سندونو څخه ګټه اخيستنه کړې وي.

## دمهاجرينو د قاچاق د جرم مجازات

**۵۲۲ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د مهاجرينو د قاچاق د جرم مرتکب شي، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس محکوميږي.

(۲) هغه شخص چې د مهاجرينو د قاچاق جرم سازماندهي کړي يا نورو ته د هغهٔ په سازمانولو هدايت ورکړي، د متوسط حبس په اکثر حد محکوميږي.

(۳) که چېرې د مهاجرينو د قاچاق جرم د جرمي سازمان شوې ډلې په واسطه ارتکاب شي، د جرمي سازمان شوې ډلې سردسته (مشر) د متوسط حبس په اکثرحد محکوميږي.

يا اکراه يا هر طريق غير قانونی ديگری بدست آمده باشد يا شخص غير از صاحب قانونی آن از اسناد متذکره استفاده نموده باشد.

## مجازات جرم قاچاق مهاجران

**مادهٔ ۵۲۲:**

(۱) شخصیکه مرتکب جرم قاچاق مهاجران گردد، به حبس متوسط بيش از سه سال، محکوم میگردد.

(۲) شخصی که جرم قاچاق مهاجران را سازمان دهی نموده يا ديگران را به سازمان دهی آن هدايت دهد، به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه جرم قاچاق مهاجران توسط گروه سازمان يافتهٔ جرمی ارتکاب يابد، سردستهٔ گروه سازمان يافتهٔ جرمی به حداکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

## د مهاجرينو د قاچاق په جرم کې مشدده حالات

**۵۲۳ ماده:**

**(۱) که چېرې د مهاجرينود قاچاق د جرم ارتکاب د مهاجرينو د قاچاقبر د عمل يا اهمال په نتيجه کې د قاچاق شوي مهاجر په مړينه تمام شي، مرتکب په۲درجه دوام حبس محکومېږي.**

**(۲) که چېري د مهاجرينو د قاچاق د جرم ارتکاب د قاچاق شوي مهاجر په دايمي فزيکي يا رواني معلوليت تمام شي، مرتکب ترلسو کلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.**

**(۳) که چېرې د مهاجرينو د قاچاق د جرم له امله د قاچاق شوي مهاجر ژوند يا مصونيت (خونديتوب) له خطر سره مخامخ شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثرحد محکومېږي.**

**(۴) که چېرې د مهاجرينو د قاچاق جرم د قاچاق شوي مهاجر د غير انساني يا تحقير آميزه چلند موجب شي، مرتکب د متوسط حبس په**

## حالات مشدده در جرم قاچاق مهاجران

**مادۀ ۵۲۳:**

**(۱) هرگاه ارتکاب جرم قاچاق مهاجران در نتيجۀ عمل يا اهمال قاچاق بر مهاجران منجر به مرگ مهاجر قاچاق شده گردد، مرتکب به حبس دوام درجه۲ محکوم می‌گردد.**

**(۲) هرگاه ارتکاب جرم قاچاق مهاجران منجر به معلوليت دايمی فزيکی يا روانی مهاجر قاچاق شده گردد، مرتکب به حبس طويل تا ده سال، محکوم می گردد.**

**(۳) هرگاه به اثر جرم قاچاق مهاجران، زندگی يا مصونيت مهاجر قاچاق شده در معرض خطر قرار گيرد، مرتکب به حد اکثر حبس متوسط محکوم می گردد.**

**(۴) هرگاه جرم قاچاق مهاجران موجب رفتار غير انسانی يا تحقير آميز مهاجر قاچاق شده گردد، مرتکب به حد اکثر حبس متوسط، محکوم**

اکثرحد محکومېږي.

**د قاچاق شوي مهاجر د مجـــازاتو معافیت**

**۵۲۴ ماده:**

قاچاق شوی مهاجر په هېواد کې لــه قانوني جواز پرته د واردېدو یا مېشتېدو (اقامت) په علت، تر عــدلي تعقیــب لاندې نه نیول کېږي.

**د حکمي شخص مجازات**

**۵۲۵ ماده:**

(۱) که چېرې د مهاجرینو د قاچـــاق جرم د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي د هغۀ د مرتکــب پــر مجــازاتو برسېره، حکمي شخص له دریو څخه تر پنځو میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې نغدي جــزا د پــولي ارزښــت نوساناتوته په پام سره د انسان له قاچاق او د مهاجرینو له قاچاق سره د مبارزې د عالي کمېسیون پــه وړانــدېز او د حکومت په تصویب تعدیلېږي.

می‌گردد.

**معافیت مجازات مهاجر قاچــاق شده**

**مادۀ ۵۲۴:**

مهــاجر قاچــاق شــده بــه علــت ورود یا اقامت بدون مجوز قانونی در کشور، مورد تعقیــب عــدلی قــرار نمی گیرد.

**مجازات شخص حکمی**

**مادۀ ۵۲۵:**

(۱) هرگاه جرم قاچاق مهاجران توسط شــــخص حکمــــی ارتکــــاب یابد، علاوه بر مجازات مرتکــب آن، شخص حکمی به جزای نقدی از سه تا پــنج میلیــون افغــانی، محکــوم می‌گردد.

(۲) جزای نقدی مندرج فقرۀ (۱) این ماده با نظر داشت نوسانات ارزش پولی به پیشنهاد کمیسیون عالی مبارزه بــا قاچاق انســان وقاچــاق مهــاجران وتصــــویب حکومــــت تعــــدیل می گردد.

(۳) حکمي شخص ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د تکرار په صورت کې، پر پیشبیني شوو مجازاتو برسېره د فعالیت د جواز په سلب هم محکومېږي.

**د مهاجرینو د قاچاق په جرم کې د عامه خدمتونو د مؤظفینو د اهمال مجازات**

**٥۲٦ ماده:**

که چېرې د عامه خدمتونو د مؤظف اهمال د مهاجرینو د قاچاق د جرم د ارتکاب د اسانه کېدو سبب شوی وي د عامه خدمتونو مؤظف تر دووکلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

**د مرتکبینو په نیونه کې مرسته**

**٥۲۷ ماده:**

هغه شخص چې په یوهٔ ډول نه یوهٔ ډول د مهاجرینو له قاچاقبر یا سازمان شوې جنایتکارې ډلې سره اړیکه او همکاري ولري خو د هغهٔ له ارتکاب د مخه د مرتکبینو په افشاء یا نیونه کې له مسئوولو مراجعو سره مرسته وکړي یا د

(۳) شخص حکمی در صورت تکرار جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، علاوه بر مجازات پیش بینی شده به سلب جواز فعالیت، نیز محکوم می گردد.

**مجازات اهمال مؤظفین خدمات عامه در جرم قاچاق مهاجران**

**مادهٔ ٥۲٦:**

هرگاه اهمال مؤظف خدمات عامه سبب تسهیل ارتکاب جرم قاچاق مهاجران گردیده باشد، مؤظف خدمات عامه، به حبس متوسط تا دوسال، محکوم می گردد.

**مساعدت در گرفتاری مرتکبین**

**مادهٔ ٥۲۷:**

شخصی که به نحوی از انحا با قاچاقبر مهاجران یا گروه جنایتکار سازمان یافته ارتباط و همکاری داشته ولی قبل از ارتکاب آن مراجع مسؤول را در افشاء یا گرفتاری مرتکبین مساعدت نماید یا بعد از ارتکاب جرایم

مهاجرينود قاچاق د جرمونو له ارتکاب وروسته زمينه داسې مساعده کړي چې د جرمي سازمان شوې ډلې د نورو غړو په نيونه تمامه شي، پدې هکلــه ددې قانون په ۵۱۹ ماده کې درج شــوي حکمونه د تطبيق وړ دي.

**د مهاجرينو د قاچــاق د جــرم د معاون يا شريک مجازات**

**۵۲۸ ماده:**

د مهاجرينو د قاچاق د جرم معاون يــا شريک د جــرم د فاعــل پــه عــين مجازاتو محکوميږي.

## پنځم فصل

## په ناريه وسلې، مهماتو او منفجره (چاودېدونکو) موادو پورې اړوند جرمونه

**اصطلاحگاني**

**۵۲۹ ماده:**

پدې فصل کې راتلونکې اصطلاحگانې د لاندې مفاهيمو لرونکې دي:

۱- ناريه وسله: د يوۀ شخص په واسطه

قاچاق مهاجران زمينه را طوری مساعد سازد که منجر بــه گرفتــاری ســاير اعضای گروه سازمان يافتــه جرمــی گردد، احکام مندرج مادۀ ۵۱۹ ايــن قــانون در مــورد قابــل تطبيــق می باشد.

**مجازات معاون يا شــريک جــرم قاچاق مهاجران**

**مادۀ ۵۲۸:**

معاون يا شريک جرم قاچاق مهاجران بــه عــين مجــازات فاعــل جــرم، محکوم می گردد.

## فصل پنجم

## جرايم مرتبط به سلاح ناريه، مهمات و مواد منفجره

**اصطلاحات**

**مادۀ ۵۲۹:**

اصطلاحات آتی در اين فصــل، دارای مفاهيم ذيل می‌باشد:

۱- ســـلاح ناريـــه: عبـــارت از

د حمل وړ له غورځـــوونکي (پرتـــاب کننده) میلې لرونکي هر ډول وســـلې ځخه عبارت ده چې د چاودني د عملیې په واسطه د مرمۍ یا موشک د غورځولو یا فیر په منظور، طراحي شوی وی یا په اسانۍ سره پدې مقصد تبدیلـــه شـــي. عتیقه وسله، ښکاري وسله، چـــره اي، موشکش، سپورتي وسله او پـــه هغـــو پورې اړوند مهمات په ناریه وسله کې نه شاملیږي.

۲- پرزه جات او اجزا: له ابزارو یـــا ځای ناستي (جایگزین) وسیلي ځخـــه عبارت دي چې په خاصه توګه د وسلې لپاره طراحي او د وسلې په کارولو کې له هغو ځخه ګټه اخیستل کیږي.

۳- مهمات: د اشیاوو (شیانو) یـــا د اشیاوو د اجزاوو له مجمـــوعې ځخـــه عبارت دي چې د وسلې په واسطه فیر یا غورځول کیږي.

۴- چاودیدونکي یا منفلقه مواد: له هر ډول کیمیاوي ترکیب، مخلوط یا هرې دستګاه یا وسیلې ځخه عبارت دي چې د انفجار چاودنې د وړتیا لرونکې وي.

هر نوع سلاح دارای میله پرتاب کننده قابل حمل توسط یک شخص است که بمنظـــور پرتـــاب یـــا فیرمرمـــی یـــا موشک بوسیله عملیه انفجار، طراحی شده باشـــد یـــا بـــه آســـانی بـــدین مقصد تبدیل گردد. ســـلاح عتیقـــه، ســـــلاح شـــــکاری، چـــــره ای، موشـــکش، ســـپورتی و مهمـــات مربوطه آنها شـــامل اســـلحه ناریـــه نمی گردد.

۲- پرزه جات و اجـــزا: عبـــارت از ابزار یا وسیله جایگزین است که بـــه طور خاص برای سلاح طراحـــی و در کـــار بـــرد ســـلاح از آن اســـتفاده می شود.

۳- مهمـــات: عبـــارت از مجموعـــه اشیائی یا اجزای اشیائی اســـت کـــه توســـط ســـلاح فیـــر یـــا پرتـــاب می گردد.

۴- مواد منفجره یا منفلقه: عبارت از هر نوع ترکیب کیمیاوی، مخلوط یـــا هر دستگاه یا وسیله ای است که دارای قابلیت انفجار باشد.

۵- د ناریه وسلې قاچــاق: د ناریــه وسلې، پرزه جاتو او د هغو د اجزاوو، مهماتو او چاودېدونکو او منفلقه موادو واردول، صادرول، ترانزیت، تولید، د خرڅولو په قصد حیازت، پیر او پلور، وېش او انتقال دی.

## د واکمنې مرجع له اجازې پرته د منفلقه یا چاودېدونکوموادو جوړول

۵۳۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې د واکمنو مقاماتو له اجازې پرته منفلقه یا چاودېــدونکي مواد جوړ کړي، وارد یې کړي یا یــې وساتي، دموادو پر مصادرې برسېره تر اووکلونو پورې پــه طویــل حــبس محکومېږي.

(۲) هغــه مــاده چــې د منفلقــه او چاودېدونکو موادو په ترکیــب کــې کارول کېږې د اړوند تقنیني سند لــه حکمونو سره سم ټاکل کېږي.

(۳) هغه سامان، آلات او ادوات چې د هغوپه جوړولــو یــا چاودنــه کــې استعمالېږي، د منفلقه اوچاودېــدونکو

۵- قاچاق سلاح ناریه : وارد، صادر، ترانزیت، تولید، حیازت به قصد فروش، خرید وفروش، توزیع وانتقال ســلاح ناریــه، پــرزه جــات واجــزای آن، مهمات ومــواد منفجــره و منفلقــه می باشد.

## ساختن مواد منفلقه یا منفجره بدون اجازه مرجع ذیصلاح

مادهٔ ۵۳۰:

(۱) شخصی که بدون اجازه مقامات صلاحیت دار مواد منفلقه یا منفجره را بسازد، وارد نماید یا نگهداری کنــد، علاوه بر مصادره مــواد بــه حــبس طویلی تــا هفــت ســال، محکــوم می گردد.

(۲) مادهٔ که در ترکیب مواد منفلقه و منفجره بکار برده می شــود، مطــابق احکام سند تقنینــی مربــوط تعیــین می گردد.

(۳) ســامان،آلات و ادواتــی کــه در ساختن یــا انفجــار آن اســتعمال مــی گــردد، در حکــم مــواد

مواداو په حکم کې پېژندل کېږي.

**د منفلقـــه اوچاودېـــدونکوموادو استعمال**

**۵۳۱ ماده:**

(۱) هغه شخص چې عمداً منفلقـــه او چاودېدونکي مواد استعمال کړي چې د هغو له امله دخلکو ژوند له خطرســـره مخـــامخ شـــي، پـــه طویـــل حـــبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل د ارتکاب لـــه امله د خلکو مالونه له خطر سره مخامخ شي، مرتکـــب پـــه متوســـط حـــبس محکومېږي.

**د زیان له رامنځته کېدو پرتـــه د منفلقـــه اوچاودېـــدونکو مـــوادو استعمال**

**۵۳۲ ماده:**

هغه شخص چې منفلقه او چاودېدونکي مواد اســـتعمال کـــړي او د هغـــو د استعمال له امله زیان وارد نشي په قصیر حبس محکومېږي.

منفلقه ومنفجره شناخته می شود.

**اســـــتعمال مـــــواد منفلقـــــه ومنفجره**

**مادۀ ۵۳۱:**

(۱) شخصی که عمداً مواد منفلقه و منفجره را استعمال نمایـــد کـــه بـــه اثر آن حیات مردم به خطـــر مواجـــه گردد، به حـــبس طویـــل، محکـــوم می گردد.

(۲) هرگاه در اثـــر ارتکـــاب عمـــل مندرج فقرۀ (۱) این مـــاده امـــــوال مـــردم بـــه خطـــر مواجـــه گـــردد مرتکب به حبس متوســـط، محکـــوم می گردد.

**اســـــتعمال مـــــواد منفلقـــــه ومنفجـــــره بـــــدون ایجـــــاد خساره**

**مادۀ ۵۳۲:**

شخصی که مواد منفلقه و منفجـــره را استعمال نماید وبه اثـــر اســـتعمال آن خسارۀ عاید نگردد، به حبس قصـــیر محکوم می گردد.

**په نقليه وسايلوكې د منفلقه يا چاودېدونكو موادو انتقال**

**۵۳۳ ماده:**

هغه شخص چې منفلقه يا چاودېدونكي مواد له ځمكينو، اوبو (آبی) يا هوايي نقليه وسايلو څخه په يوهٔ كې يا په پستي وسايلو او پارسلونو كې د اړوندو مقرراتو خلاف انتقال كړي يا د هغو په انتقال پيل وكړي، په متوسط حبس او له شپېتو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانيو پورې په نغدي جزا يا له دغو دوو جزاګانو څخه په يوهٔ محكومېږي.

**د ناريه وسلې قاچاق**

**۵۳۴ ماده:**

د ناريه وسلې قاچاق جرم دی مرتكب ددې فصل له حكمونو سره سم مجازات كېږي.

**د ناريه وسلې د قاچاق مجازات**

**۵۳۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د ناريه وسلې د قاچاق مرتكب شي، په لاندې توګه مجازات كېږي:

**انتقال مواد منفلقه يا منفجره در وسايل نقليه**

**مادهٔ ۵۳۳:**

شخصی كه مواد منفلقه يا منفجره را در يكی از وسايل نقليهٔ زمينی، آبی يا هوايی يا در وسايل و پارسل های پستی خلاف مقررات مربوط انتقال دهد يا به انتقال آن شروع نمايد، به حبس متوسط و جزای نقدی از شصت هزار تا سه صد هزار افغانی يا به يكی از اين دو جزا، محكوم می گردد.

**قاچاق سلاح ناريه**

**مادهٔ ۵۳۴:**

قاچاق سلاح ناريه جرم بوده مرتكب، مطابق احكام اين فصل مجازات می گردد.

**مجازات قاچاق سلاح ناريه**

**مادهٔ ۵۳۵:**

(۱) شخصی كه مرتكب قاچاق سلاح ناريه گردد، قرار ذيل مجازات می گردد:

۱- په هغهٔ صورت کې د (۱۹، ۹) ملي متر قطر لرونکې ناریه وسله تر دریو میلو پورې وي په متوسط حبس او په هغهٔ صورت کې چې له دریو میلو څخه زیاته وي تر اوو کلونو پورې په طویل حبس.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د (۶۲، ۷) ملي متر قطر لرونکې ناریه وسله تر دریو میلو پورې وي تر اووکلونو پورې په طویل حبس او په هغهٔ صورت کې چې له دریو میلو څخه زیاته وي له اوو کلونو څخه زیات په طویل حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې موشک تر پنځو عددو پورې وي تر اوو کلونو پورې په طویل حبس او په هغهٔ صورت کې چې له پنځو عددو څخه زیات وي له اووکلونو څخه زیات په طویل حبس.

(۲) هغه شخص چې د ناریه وسلې مرمی قاچاق کړي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې تعداد یې تر ۵۰ پورې وي، له پنځو زرو تر شلو

۱- در صورتی که سلاح ناریه دارای قطر (۱۹، ۹) ملی متر تا سه میل باشد به حبس متوسط و در صورتی که بیش از سه میل باشد، به حبس طویل تا هفت سال.

۲- در صورتی که سلاح ناریه دارای قطر (۶۲، ۷) ملی متر تا سه میل باشد به حبس طویل تا هفت سال و در صورتی که بیش از سه میل باشد، به حبس طویل بیش از هفت سال.

۳- در صورتی که موشک تا پنج عدد باشد به حبس طویل تا هفت سال و در صورتی که بیش از پنج عدد باشد، به حبس طویل بیش از هفت سال.

(۲) شخصی که مرمی سلاح ناریه را قاچاق نماید، قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که تعداد آن تا ۵۰ باشد، به جزای نقدی از پنج هزار تا

زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.
۲- په هغه صورت کې چې تعداد يې له ۵۰ څخه زيات تر ۵۰۰ پورې وي، په قصير حبس.
۳- په هغه صورت کې چې تعداد يې له ۵۰۰ څخه زيات وي، په متوسط حبس.
(۳) هغه شخص چې د چاودېدونکو موادو د قاچاق مرتکب شي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

## د ناريه وسلې او د هغې د اړتيا وړ پرزه جاتو غير مجاز حيازت

### ۵۳٦ ماده:

هغه شخص چې تر دريو ميلو پورې د (۹.۱۹) ملي متر قطر لرونکې ناريه وسله او د هغو د اړتيا وړ مهمات د خپل شخصي امنيت په خاطر له قانوني مجوز پرته په خپل حيازت کې ولري، له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

بيست هزار افغانی.
۲- در صورتی که تعداد آن بيش از ۵۰ تا ۵۰۰ باشد، به حبس قصير.
۳- در صورتی که تعداد آن بيش از ۵۰۰ باشد، به حبس متوسط.
(۳) شخصی که مرتکب قاچاق مواد منفجره گردد، به حبس طويل تا ده سال، محکوم می گردد.

## حيازت غير مجاز سلاح ناريه وپرزه جات مورد نياز آن

### مادۀ ۵۳٦:

شخصی که تا سه ميل اسلحۀ ناريه دارای قطر(۹.۱۹) ملی متر و مهمات مورد نياز آنرا بخاطر امينت شخصی خود بدون مجوز قانونی در حيازت خود داشته باشد، به جزای نقدی سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

**ناسمه علامه یا نبنه اېښودنه**

**۵۳۷ ماده:**

**هغه شخص چې ناریه وسله دهغې د جوړولو او تولید پر وخت په ناسمه توګه علامه یا نبنه اېښودنه وکړي یا یې له علامې یا نښانې پرته تولید کړي، د ناریه وسلې ډول او مقدار ته په پام سره، تر اتو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي.**

**د ناریه وسلې د نبنې اېښودنې نابودول، حذف او یا غیر قانوني تغییر**

**۵۳۸ ماده:**

**هغه شخص چې د ناریه وسلې د تولیدوونکي د نه موندنې په منظور، د ناریه وسلې نبنه یا علامه له منځه یوسي یا تغییر ورکړي، د ناریه وسلې ډول او مقدار ته په پام سره په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.**

**علامه یا نشانه گذاری نادرست**

**مادۀ ۵۳۷:**

**شخصی که سلاح ناریه را حین ساخت و تولید آن بصورت نادرست علامه یا نشانه گذاری نموده یا بدون علامه یا نشانه تولید نماید، با نظر داشت نوع سلاح ناریه و مقدار آن به حبس طویل تا هشت سال، محکوم می گردد.**

**نابود نمودن، حذف و یا تغییر غیر قانونی نشانه گذاری سلاح ناریه**

**مادۀ ۵۳۸:**

**شخصی که بمنظور عدم ردیابی تولید کنندۀ سلاح ناریه، نشانه یا علامۀ سلاح ناریه را از بین ببرد یا تغییر دهد، با نظر داشت نوع سلاح ناریه و مقدار آن به حبس متوسط یا جزای نقدی از شصت هزار تا سه صد هزار افغانی، محکوم می گردد.**

**له مجازاتو څخه معافیت**

**۵۳۹ ماده:**

هغه شخص چې ناریه وسله یا مهمات، چاودېدونکي مواد یا نوره وسله په خپل حیازت او کنترول یا تملک کې ولري، خو له افشاء یا نیونې د مخه، په داوطلبانه ډول هغه تسلیم کړي، له مجازاتو څخه معاف ګڼل کېږي.

**د ناریه وسلې ناقانونه ګټه اخیستنه**

**۵۴۰ ماده:**

هغه شخص چې ناریه وسله د تهدید، ارعاب یا نورو ناقانونه موخو په منظور، استعمال کړي یا یې په حرکت یا اهتزاز راولي، په متوسط حبس یا له دېرشو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د ناریه وسلې اتلاف یا ورکول**

**۵۴۱ ماده:**

(۱) هغه شخص چې خپله شخصي ناریه وسله یا مهمات چې د قانوني مجوز لرونکې وي له مؤجه عذر پرته ورکه یا تلف کړي، د هغې د بیې معادل په

**معافیت از مجازات**

**مادۀ ۵۳۹:**

شخصی که سلاح ناریه یا مهمات، مواد منفجره یا سایر سلاح را در حیازت، کنترول یا تملک خود داشته، اما قبل از افشاء یا گرفتاری، به صورت داوطلبانه آنرا تسلیم نماید، از مجازات معاف دانسته می شود.

**استفاده غیر قانونی سلاح ناریه**

**مادۀ ۵۴۰:**

شخصی که سلاح ناریه را بمنظور تهدید، ارعاب یا سایر اهداف غیر قانونی، استعمال نماید یا به حرکت یا اهتزاز در آورد ، به حبس متوسط یا جزای نقدی از سی هزار تا سه صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

**اتلاف یا مفقودی سلاح ناریه**

**مادۀ ۵۴۱:**

(۱) شخصی که سلاح ناریه یا مهمات شخصی خود را که دارای مجوز قانونی باشد بدون عذر مؤجه مفقود یا تلف کند، به جزای نقدی معادل قیمت آن،

نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې ناریه وسله یا مهمات دولت ته اړوند وي، د هغې د بیې معادل په دوه چنده نغدي جزا محکومېږي.

(۳) که چېرې تثبیت شي چې ددې مادې په (۱ او ۲) فقره کې درج شوې ناریه وسله یا مهمات پلورل شوي یا د بل شخص په واک کې ورکول شوي وي، دا عمل د وسلې قاچاق ګڼل کېږي، مرتکب ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

## د وسلې د سندونو تزویر

**۵۴۲ ماده:**

هغه شخص چې د ناریه وسلې، مهماتو او منفلقه موادو سندونه، مهر او د تولید، واردولو، عرضې، ساتلو، حمل او حصول اجازه لیک تزویر کړي او نوموړي سندونه نورو اشخاصو ته انتقال کړي، پدې قانون کې درج د تزویر د جرم د پیشبیني شوو مجازاتو په اکثر

محکوم می گردد.

(۲) هرگاه سلاح ناریه یا مهمات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده متعلق به دولت باشد، به جزای نقدی دو چند معادل قیمت آن، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه تثبیت گردد که سلاح ناریه یا مهمات مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده به فروش رسیده و یا به اختیار شخص دیگری گذاشته شده باشد، این عمل قاچاق سلاح دانسته شده، مرتکب طبق احکام این فصل مجازات می گردد.

## تزویر اسناد سلاح

**مادهٔ ۵۴۲:**

شخصی که اسناد، مهر و اجازه نامه تولید، تورید، عرضه، نگهداشت، حمل و حصول سلاح ناریه، مهمات و مواد منفلقه را تزویر نماید و یا اسناد مذکور را به اشخاص دیگر انتقال دهد، به حد اکثر مجازات پیشبینی شده جرم تزویر مندرج این قانون، محکوم

حد محکومېږي.

## مشدده حالات

**۵۴۳ ماده:**

پدې فصل کې د درج شوو جرمونو ارتکاب په لاندې حالاتو کې مشدده پېژندل کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې پدې فصل کې له درج شوو جرمونو څخه یو د عامه خدمتونو د مؤظف په واسطه له نفوذ یا وظیفوي موقف څخه په ګټې اخیستنې ارتکاب شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې پدې فصل کې له درج شوو جرمونو څخه یو د حقیقي شخص یا دحکمي شخص د رئیس ممثل یا قانوني استازي په واسطه دپیشې یا حرفې په توګه دحکمي شخص په نوم، حساب یا منفعت ارتکاب شي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د ناریه وسلې شمېر له پنځه میله څخه زیات یا د هغې اجزا یا پرزه جات یا مهمات د پنځو میلو له اړتیا څخه زیات وي.

می‌گردد.

## حالات مشدده

**مادهٔ ۵۴۳:**

ارتکاب جرایم مندرج این فصل در حالات ذیل مشدده شناخته می شود:

۱- درصورتی که یکی از جرایم مندرج این فصل توسط مؤظف خدمات عامه با استفاده از نفوذ یا موقف وظیفوی ارتکاب یابد.

۲- در صورتی که یکی از جرایم مندرج این فصل توسط شخص حقیقی یا رئیس، ممثل یا نمایندهٔ قانونی شخص حکمی به نام، حساب یا منفعت شخص حکمی، منحیث حرفه یا پیشه ارتکاب یابد.

۳- در صورتی که تعداد سلاح ناریه بیش از پنج میل یا اجزا، پرزه جات یا مهمات آن از نیاز پنج میل بیشتر باشد.

۴- په هغـهٔ صـورت کـې چـې د چاودېدونکو موادو مقدار له دوو کیلو ګرامو څخه زیات وي.

## د حکمي شخص په واسطه د ناریه وسلې د قاچاق د جرم مجازات

۵۴۴ ماده:

(۱) که چېرې پدې فصل کـې درج شوي جرمونه د حکمـي شـخص د رئیس، ممثل یا قانوني استازي په واسطه د حکمي شخص په نوم، حسـاب یـا منفعت ارتکاب شـوي وي، حکمـي شخص د ناریـه وسـلې، مهمـاتو او چاودېدونکو موادو د بیې معـادل پـه نغدي جزا محکومېږي.

(۲) حکمي شخص ددې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو مجازاتو برسېره له لاندې جزاګانو څخه په یـوې هـم محکومېږي:

۱- تر پنځوکلونو پورې په مستقیم یا غیر مستقیم صورت له جـرم سـره د مرتبط تجارتي فعالیت د ځینو برخو له پر مخبیولو څخه ممنوعیت.

۴- در صـورتیکه مقـدار مـواد منفجـره بـیش از دو کیلـو گـرام باشد.

## مجازات جرم قاچاق سلاح ناریـه توسط شخص حکمی

مادهٔ ۵۴۴:

(۱) هرگاه جرایم مندرج این فصـل توسط رئیس، ممثل یا نمایندهٔ قـانونی شخص حکمی به نام، حساب یا منفعت شخص حکمـی ارتکـاب گردیـده باشد، شخص حکمـی بـه جـزای نقدی معادل قیمـت سـلاح ناریـه، مهمات و مـواد منفجـره، محکـوم می گردد.

(۲) شخص حکمی علاوه بر مجازات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به یکـی از جزاهـای ذیـل نیـز محکـوم می گردد:

۱- ممنوعیت از پیشـبرد بعضـی از عرصه های فعالیت تجارتی مرتبط بـه جرم به صورت مستقیم یاغیر مسـتقیم تا پنج سال.

۲- د حکمي شخص انحلال، په هغـهٔ صورت کې چې پدې فصل کې د درج شوي جرم د ارتکاب په منظور رامنځته شوی وي، یا د هغهٔ د ارتکاب لپاره له اړوندو امکاناتو او شـتمنیو څخـه د استفادې اجازه ورکړي.

۳- د ټولیزو رسنیو له لارې د حکـم خپرول.

(۳) که چیرې د حکمي شـخص پـر کارکن یا استازي بانـدې د ناکـافي مدیریت یا نظارت په پایله کې پـدې فصل کې د درج شوي جرم په ارتکاب کې د حکمي شخص یا د هغهٔ د کارکن یا استازي د ګډون زمینه برابره شي او د هغې په پایله کې حکمي شخص منتفع شي، حکمي شخص ددې مادې په (۱) فقره کې پـه درج شـوو مجـازاتو محکومیږي.

(۴) پر حکمي شخص پدې ماده کې د درج شوو مجازاتو تطبیق، پر حقیقـي اشخاصو د مجازاتو د تطبیق مانع نـه کیږي.

۲- انحـلال شـخص حکمـی، در صورتیکه بمنظور ارتکاب جرم مندرج این فصل ایجاد شده باشد یـا اجـازه استفاده از امکانات و دارایـی هـای مربوط را برای ارتکـاب آن اعطـاء نماید.

۳- نشر حکم از طریق رسانه هـای همگانی.

(۳) هرگـاه در نتیجـه مـدیریت یا نظارت ناکافی بالای کـارکن یـا نمایندهٔ شخص حکمی، زمینهٔ اشتراک شخص حکمی یا کارکن یـا نماینـده وی در ارتکاب جـرم منـدرج ایـن فصل فراهم گـردد و در نتیجـهٔ آن شـخص حکمـی منتفـع شـود، شخص حکمی به مجـازات منـدرج فقـرهٔ (۱) ایـن مـاده، محکـوم می گردد.

(۴) تطبیق مجازات مندرج این مـاده بالای شخص حکمی، مـانع تطبیـق مجـازات بـر اشـخاص حقیقـی نمی گردد.

## مصادره

**۵۴۵ ماده:**

ددې فصل په درج شوو حالاتو کـــې، محکمه پر ټاکلو مجازاتو برسېره د ناريه وسلې، دهغې پر اجزاوو او پرزه جاتو، مهماتو، چاودېدونکو او منفلقه موادو او نورو جرمي وسايلو او له هغــو څخــه دراپيدا شوو عوايدو پر مصادرې هـــم حکم صادروي.

## مصادره

**مادهٔ ۵۴۵:**

در حالات مندرج اين فصل محکمـــه علاوه بر مجازات معينه، به مصـــادره سلاح ناريه، اجـــزا و پـــرزه جـــات آن، مهمـــــات، مــــواد منفجـــره و منفلقـــه ســـاير وســـايل جرمـــی وعوايد ناشی از آن، نيزحکم صـــادر می نمايد.

## اووم باب

## د اشخاصو په حیات، جسمي او معنوي تمامیت پورې اړوند جرمونه

## لومړی فصل

## عمد قتل او د هغهٔ مجازات

**عمد قتل**

**۵۴٦ ماده:**

(۱) عمد قتل د قتل د قصد په لرلو سره د بل ژوندي شخص د حیات له منځــه وړلو څخه عبارت دی.

(۲) که چیرې په عمد قتل کې، قصاص له مسقطه اسبابو څخه په یــوهٔ یــا د شرایطو په نه تکمیل، ساقط یا متعــذر شي، مرتکب د احوالو له مخې، ددې فصل له حکمونو سره ســم مجــازات کیږي.

**د عمد قتل مجازات**

**۵۴۷ ماده:**

(۱) د عمد قتل مرتکب لــه لانــدې حالاتو څخه په یوهٔ کې په اعــدام یــا

## باب هفتم

## جرایم مربوط به حیات، تمامیت جسمی و معنوی اشخاص

## فصل اول

## قتل عمد و مجازات آن

**قتل عمد**

**مادهٔ ۵۴٦:**

(۱) قتل عمد عبارت است از بین بردن حیات شخص زنده دیگر با داشتن قصد قتل.

(۲) هرگاه در قتل عمد، قصاص بــه یکی از اســباب مســقطه یــا عــدم تکمیل شرایط، ســاقط یــا متعــذر شود، مرتکب حسب احوال مطابق به احکــام ایــن فصــل مجــازات می گردد.

**مجازات قتل عمد**

**مادهٔ ۵۴۷:**

(۱) مرتکب قتل عمــد در یکــی از حالات ذیل به اعدام یــا حــبس دوام

۱ درجه دوام حبس محکومېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې قتل برنامه ريزی اوترصد له دمخه سره يوځای وي.

۲- په هغهٔ حالت کې چې قتل د وژونکو سمي موادو يا چاودېدونکو موادو په استعمال يا اور سره صورت موندلی وي.

۳- په هغهٔ حالت کې چې قتل په دني انګېزې يا د اجرت په وړاندې او يا په شکنجې او ځورونې او اذيت سره صورت موندلی وي.

۴- په هغهٔ حالت کې چې مقتول د عامه خدمتونو مؤظف وي او قتل د خدمت د اجراء پر وخت (اثناکې) يا له هغهٔ سره په ارتباط کې صورت موندلی وي.

۵- په هغهٔ حالت کې چې قاتل له يوهٔ څخه د زياتو د قتل قصد لرلی وي او د يوهٔ عمل له امله هغوی ټول په قتل رسېدلي وي.

۶- په هغهٔ حالت کې چې قتل له بل عمدي جنايت يا جنحې سره يوځای صورت موندلی وي.

درجه۱ محکوم می گردد:

۱- در حالتی که قتل با برنامه‌ریزی قبلی و ترصد همراه باشد.

۲- در حالتی که قتل با استعمال مواد سمی کشنده یا مواد انفجاری یا حریق صورت گرفته باشد.

۳- در حالتی که قتل با انگیزه دنی یا در برابر اجرت و یا با شکنجه و آزار و اذیت صورت گرفته باشد.

۴- در حالتی که مقتول مؤظف خدمات عامه بوده و قتل در اثنای اجرای خدمت یا در ارتباط به آن صورت گرفته باشد.

۵- در حالتی که قاتل قصد قتل بیش از یک نفر را داشته و به اثر یک عمل همه آنها به قتل رسیده باشند.

۶- در حالتی که قتل توام با جنایت یا جنحه عمدی دیگر صورت گرفته باشد.

۷- په هغهٔ حالت کې چې قاتل په ۱درجه دوام حبس محکوم شوی وي، د حکم د تنفیذ د مودې په ترڅ کې د بل عمد قتل مرتکب شوی وي.

۸- په هغهٔ حالت کې چې قاتل له قتل وروسته، جسد مثله کړی وي.

۹- په هغهٔ حالت کې چې مقتول د قاتل له اصولو څخه وي.

۱۰- په هغهٔ حالت کې چې قتل د هغهٔ جنایت یا جنحې چې جزایې له یوهٔ کال حبس څخه کمه نه وي د تمهید یا تسهیل او یا په ارتکاب د قادرېدو په منظور او یا له جزا څخه د تېښتې یا خلاصېدو په منظور صورت موندلی وي.

(۲) د عمد قتل مرتکب ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو حالاتو پرته، په ۲درجه دوام حبس محکومېږي.

خودکشۍ (ځان وژنې) ته تحریک

۵۴۸ ماده:

(۱) هغه شخص چې بل ځان وژنې ته تحریک یا په یوهٔ ډول نه یو ډول د هغهٔ

۷- در حالتی که قاتل به حبس دوام درجه۱ محکوم شده، در خلال مدت تنفیذ حکم مرتکب قتل عمد دیگر گردیده باشد.

۸- در حالتی که قاتل بعد از قتل، جسد را مثله نموده باشد.

۹- در حالتی که مقتول از اصول قاتل باشد.

۱۰- در حالتی که قتل بمنظور تمهید یا تسهیل ویا قادر شدن به ارتکاب جنایت یا جنحهٔ که جزای آن کمتر از یکسال حبس نباشد ویا بمنظور فرار یا رهایی از جزا صورت گرفته باشد.

(۲) مرتکب قتل عمد در غیر از حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، به حبس دوام درجه۲ محکوم می‌گردد.

تحریک به خود کشی

مادهٔ ۵۴۸:

(۱) شخصی که دیگری را به خود کشی تحریک یا به نحوی از انحا در

په ځان وژنه کې مرسته وکړي او تحریک یا مرسته په ځان وژنه تمام شي، تر اووکلونو پورې په طویل حبس محکومیږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل له امله، شخص معلول شي، مرتکب په متوسط حبس محکومیږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي تحریک له امله، په ځان وژنې پیل صورت موندلی وي، محرک په قصیر حبس محکومیږي.

(۴) په ځان وژنې پیل کوونکی، نه مجازات کیږي.

## په قتل کې اکراه

**۵۴۹ ماده:**

(۱)په قتل کې اکراه له اکراه شوي شخه د مسؤولیت د رفع موجب نه کیږي.

(۲) که چېرې یو شخص بل شخص په قتل اکراه کړي، د قتل د واقع کېدو په صورت کې، اکراه کوونکی په ۱درجه

خود کشی وی کمک نماید و تحریک یا کمک منجر به خود کشی گردد، به حبس طویل تا هفت سال، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه در اثر عمل مندرج فقرۀ (۱) این ماده، شخص معلول گردد، مرتکب به حبس متوسط محکوم می گردد.

(۳) هرگاه در اثر تحریک مندرج فقرۀ (۱) این ماده، شروع به خود کشی صورت گرفته باشد محرک به حبس قصیر محکوم می گردد.

(۴) شروع کننده به خود کشی مجازات نمی گردد.

## اکراه در قتل

**مادۀ ۵۴۹:**

(۱) اکراه در قتل موجب رفع مسؤولیت از اکراه شونده نمی گردد.

(۲) هرگاه شخصی، دیگری را به قتل شخص دیگری اکراه کند، در صورت وقوع قتل، اکراه کننده به

دوام حبس او اکراه شوی تر اووکلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

د مقتول د جسد اخفاء

۵۵۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې په قتل د علم بـا وجود، د مقتول جسد د واکمنو مقاماتو له خبرتيا پرته او د قتل د حالت او د هغهٔ د اسبابو له کشف د مخه پټ يا خښ کړي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د قتل د کتمان يا له عدلي تعقيب څخه د مرتکب په تېښته کې دمرستې يا د جرمي آثارو يا مدارکو د له منځه وړلو په منظور صورت مومندلی وي، مرتکب تر لسوکلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

حبس دوام درجه۱ و اکراه شونده به حبس طويل تا هفت سال، محکوم می گردند.

اخفای جسد مقتول

مادهٔ ۵۵۰:

(۱) شخصی که با وجود علم به قتل، جسد مقتول را بدون اطلاع مقامات با صلاحيت و قبل از کشف حالت قتل و اسباب آن پنهان يا دفن نمايد، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده بمنظور کتمان قتل يا مساعدت در فرار مرتکب از تعقيب عدلی يا از بين بردن آثار يا مدارک جرمی صورت گرفته باشد، مرتکب به حبس طويل تا ده سال، محکوم می گردد.

## دوه یم فصل

## په مړینه د تمامېدو ضرب یا جرح او د هغو مجازات

### په مړینه د تمامېدو ضرب یا جرح

**۵۵۱ ماده:**

هغه شخص چې د بل شخص په وړاندې د قتل د قصد له لرلو پرته د ضرب، جرح په واردولو یا د مضره موادو په ورکولو او یا د قانون مخالف هر ډول عمل په ارتکاب سره، عمداً تجاوز وکړي پداسې توګه چې د هغهٔ فعل د مجني علیه په مړینه تمام شي، په مړینه د تمامېدو د ضرب یا جرح مرتکب پېژندل کېږي، ددې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

### په مړینه د تمامېدو د ضرب یا جرح مجازات

**۵۵۲ ماده:**

په مړینه د تمامېدو د ضرب یا جرح د جرم مرتکب په طویل حبس محکومېږي.

## فصل دوم

## ضرب یا جرح منجر به مرگ و مجازات آن

### ضرب یا جرح منجر به مرگ

**مادهٔ ۵۵۱:**

شخصی که بدون داشتن قصد قتل علیه شخص دیگری با وارد نمودن ضرب، جرح یا دادن مواد مضره و یا با ارتکاب هر نوع عمل مخالف قانون، عمداً تجاوز نماید به نحوی که فعل او منجر به مرگ مجنی علیه گردد، مرتکب ضرب یا جرح منجر به مرگ شناخته شده مطابق احکام این فصل مجازات می گردد.

### مجازات ضرب یا جرح منجر به مرگ

**مادهٔ ۵۵۲:**

مرتکب جرم ضرب یا جرح منجر به مرگ به حبس طویل، محکوم می گردد.

**په مړينه د تماميدو د ضرب يا جرح په جرم کې مشدده حالات**

**۵۵۳ ماده:**

په مړينه د تماميدو د ضرب يا جرح د جرم ارتکاب په لاندې حـالاتو کـې مشدده پيژندل کيږي، مرتکب په۲درجه دوام حبس محکوميږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې جـرم پـه د مخه اصرار سره صورت موندلی وي.

۲- په هغهٔ حالت کې چې جرم د عامه خدمتونو د مؤظف په وړاندې د دندې د اجراء پر وخت يا د هغې پـه سـبب صورت موندلی وي.

۳- په هغهٔ حالت کې چې مجني عليه د مرتکب له اصولو څخه وي.

## دريم فصل

## خطاء قتل او د هغهٔ مجازات

**خطاء قتل**

**۵۵۴ ماده:**

هغه شخص چې له اهمال، غفلت، بـې احتياطی، بې پروايی يا د قانون، مقرراتو

**حالات مشدده در جرم ضرب يـا جرح منجر به مرگ**

**مادهٔ ۵۵۳:**

ارتکاب جرم ضرب يا جرح منجر بـه مرگ در حالات ذيل مشدده شـناخته شده، مرتکب به حبس دوام درجـه۲ محکوم می گردد:

۱- در حالتی که جرم با اصرار قبلی صورت گرفته باشد.

۲- در حـالتی کـه جـرم عليـه مؤ ظف خدمات عامه در اثنای اجرای وظيفه يا به سبب آن صورت گرفتـه باشد.

۳- در حالتی که مجنی عليه از اصول مرتکب باشد.

## فصل سوم

## قتل خطا و مجازات آن

**قتل خطا**

**مادهٔ ۵۵۴:**

شخصی که به اثر خطـای ناشـی از اهمال، غفلت، بی احتياطی، بی پروايی

یا اوامرو له نه مراعات څخه د راپیدا شوې خطاء له امله، بل په قتل ورسوي یا له عمد پرته، د قتل سبب وګرځي، د خطاء قتل مرتکب شوی ددې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

## د خطاء قتل مجازات

**۵۵۵ ماده:**

د خطاء قتل مرتکب په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلو اتیا زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د خطاء قتل مشدده حالات

**۵۵٦ ماده:**

د خطاء قتل ارتکاب له لاندې حالاتو څخه په یوهٔ کې مشدده پېژندل کېږي، مرتکب د مرتکبه جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې قتل له هغو اصولو څخه د جسیم تخلف په پایله کې صورت موندلی وي چې دندې، کسب یا حرفې پر مرتکب لازم ګرځولي وي.

۲- په هغهٔ حالت کې چې مرتکب د

یا عدم مراعات قانون، مقررات، یا اوامر، دیگری را به قتل برساند یا بدون عمد، سبب قتل گردد، مرتکب قتل خطاء شده، مطابق احکام این فصل مجازات می‌گردد.

## مجازات قتل خطا

**مادهٔ ۵۵۵:**

مرتکب قتل خطا به حبس متوسط یا جزای نقدی از شصت هزار تا یک صد وهشتاد هزار افغانی، محکوم می گردد.

## حالات مشدده قتل خطا

**مادهٔ ۵۵٦:**

ارتکاب قتل خطا در یکی از حالات ذیل مشدده شناخته شده، مرتکب به حد اکثر مجازات جرم مرتکبه محکوم می گردد:

۱- در حالتی که قتل در نتیجهٔ تخلف جسیم از اصولی صورت گرفته باشد که وظیفه، پیشه یا حرفه بر مرتکب لازم گردانیده باشد.

۲- در حالتی که مرتکب هنگام وقوع

پيښې (حادثې) د وقوع پر وخت له مجني عليه سره له مرستې څخه په هغې د قدرت با وجود، ډډه وکړي.

۳- په هغه حالت کې چې د فعل د ارتکاب له امله، له يوه نفر څخه زيات په قتل ورسېږي.

## څلورم فصل

## د جادې د ترافيک جرمونه

**ترافيکي حادثه**

**۵۵۷ ماده:**

(۱) ترافيکي حادثه هغه واقعه ده چې د اهمال، غفلت، بې احتياطۍ، د قوانينو، مقرراتو يا د ترافيکي لايحو د نه رعايت له امله پيښه او په فوت کېدو يا جسمي يا مالي زيان تمامېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج ترافيکي حادثې مرتکب ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

**د ترافيکي حادثې ډولونه**

**۵۵۸ ماده:**

د نتيجې له نظره درنه، متوسطه او کوچنۍ ترافيکي حادثه په ترافيکي

حادثه از مساعدت با مجنی علیه با وجود قدرت به آن امتناع ورزد.

۳- در حالتی که به اثر ارتکاب فعل، بیش از یک نفر به قتل برسد.

## فصل چهارم

## جرایم ترافیک جاده

**حادثهٔ ترافیکی**

**مادهٔ ۵۵۷:**

(۱) حادثهٔ ترافیکی واقعه ای است که از اثر اهمال، غفلت، بی احتیاطی، عدم رعایت قوانین، مقررات یا لوایح ترافیکی حادث گردیده و منجر به فوت یا خسارهٔ جسمی یا مالی می‌گردد.

(۲) مرتکب حادثهٔ ترافیکی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مطابق احکام این فصل مجازات می گردد.

**انواع حادثهٔ ترافیکی**

**مادهٔ ۵۵۸:**

حادثهٔ ترافیکی از نظر نتیجه شامل حادثهٔ ترافیکی سنگین، متوسط

حادثه کې شاملېږي:

۱-درنه ترافیکي حادثه هغه حالت دی چې د شخص په فوت، د غړي په دایمي معلولیت یا له سلو زرو افغانیو څخه په زیات مالي ضرر تمام شي.

۲- متوسطه ترافیکي حادثه هغه حالت دی چې په شدید ضرب یا جــرح، د غړي په ماتېدو یا له پنځوس زرو څخه زیات تر سلو زرو افغانیو پورې په مالي ضرر تمام شي.

۳- کوچنۍ ترافیکي حادثه هغه حالت دی چې په سپک (خفیف) ضرب یــا جرح او یا تر پنځوس زرو افغانیو پورې په مالي ضرر تمام شي.

## د ترافیکـــي حـــادثې د مرتکـــب مجازات

**۵۵۹ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د درنې ترافیکـــي حادثې مرتکب شي، د فوت یا دایمـــي معلولیت په صورت کې د رسېدلي زیان پرجبران برسېره په متوسط حبس او د مالي ضرر د واردېدو په صورت کې د

وکوچک می گردد:

۱- حادثۀ ترافیکی سنگین حالتی است که منجر به فوت، معلولیـــت دایمـــی عضو شخص یا ضرر مالی بیش از یک صد هزار افغانی، شود.

۲- حادثۀ ترافیکی متوسط حالتی است که منجر به ضرب یا جـــرح شـــدید، شکستن عضو یا ضرر مالی بـــیش از پنجاه هزار تا یک صد هزار افغـــانی، شود.

۳- حادثۀ ترافیکی کوچـــک حـــالتی است که منجر به ضرب یا جرح خفیف و یا ضرر مالی تا پنجاه هزار افغـــانی، شود.

## مجـــازات مرتکـــب حادثـــۀ ترافیکی

**مادۀ ۵۵۹:**

(۱) شخصی کـــه مرتکـــب حادثـــۀ ترافیکی سنگین گـــردد، در صـــورت فوت یا معلولیت دایمی علاوه بر جبران خساره وارده به حبس متوســـط و در صورت وارد نمودن ضرر مالی علاوه

زيان پر جبران برسېره له پنځوسو زرو څخه تر سلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې دمتوسطې ترافيکي حادثې مرتکب شي، د شديد ضرب يا جرح د واردولو يا د غړي د ماتېدو په صورت کې د رسېدلي زيان پرجبران برسېره تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس او د مالي ضرر د پېښېدو په صورت کې د زيان پر جبران برسېره له پنځه ويشت زرو څخه تر پنځوس زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې دکوچنۍ ترافيکي حادثې مرتکب شي، د جادې د ترافيکو دقانون حکمونه پر هغه باندې تطبيقېږي.

## د نقليه واسطې غير قانوني په کار اچول

**۵۶۰ ماده:**

(۱) هغه شخص چې موتور داره نقليه واسطه له قانوني جواز سير او نمبر پلېت يا مؤقت سند پرته په کار واچوي، د شلو زرو افغانيو په نغدي جزا،

بر جبران خساره، به جزای نقدی از پنجاه هزار تا يکصد هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که مرتکب حادثه ترافيکی متوسط گردد، در صورت وارد نمودن ضرب يا جرح شديد يا شکستن عضو علاوه بر جبران خساره وارده به حبس متوسط تا سه سال و در صورت وقوع ضرر مالی علاوه بر جبران خساره، به جزای نقدی از بيست وپنج هزار تا پنجاه هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۳) شخصی که مرتکب حادثه ترافيکی کوچک گردد، احکام قانون ترافيک جاده بالای وی تطبيق می گردد.

## به کار انداختن غير قانونی واسطه نقليه

**مادهٔ ۵۶۰:**

(۱) شخصی که واسطه نقليه موتور دار را بدون جواز سير و نمبر پليت قانونی يا سند مؤقت به کار اندازد، به جزای نقدی بيست هزار افغانی،

محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې د بلې موټور دارې نقلیه واسطې له جوازسیر یا نمبر پلېټ څخه استفاده وکړي، یا د خپلې واسطې جوازسیر او یا نمبر پلېټ د استفادې په غرض بل ته ورکړي، له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د ماشین یا شاسي د شمارې تغییر

**۵۶۱ ماده:**

هغه شخص چې د موټور دارې نقلیه واسطې د ماشین یا د چوکاټ (شاسي) شماره محو یا په بل ډول تغییر ورکړي،په قصیر حبس محکومېږي.

## د جادې په ترافیکو کې د امنیت اخلال

**۵۶۲ ماده:**

هغه شخص چې د جادې د ترافیکو امنیت په عمدي توګه مختل کړي او د هغه له سببه اشخاصو ته ځاني او مالي ضرر ورسېږي، د زیان پر جبران برسېره، د ارتکاب شوي جرم په

محکوم می گردد.

(۲) شخصی که از جواز سیر یا نمبر پلیت واسطهٔ نقلیه موتور دار دیگری استفاده نماید، یا جواز سیر و یا نمبر پلیت واسطهٔ خود را غرض استفاده به دیگری دهد، به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

## تغییر شمارهٔ ماشین یا شاسی

**مادهٔ ۵۶۱:**

شخصی که شمارهٔ ماشین یا چوکات (شاسی) واسطهٔ نقلیهٔ موتوردار را محو یا به شکل دیگری تغییر دهد، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

## اخلال امنیت در ترافیک جاده

**مادهٔ ۵۶۲:**

شخصی که امنیت ترافیک جاده را طور عمدی مختل سازد و به سبب آن ضرر جانی و مالی به اشخاص عاید شود، بر علاوه جبران خساره، به مجازات جرم ارتکاب شده، نیز محکوم

مجازاتو، هم محکومېږي.

**د سکر یا نشې په حالت کې چلونه (راندګي)**

**٥٦٣ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د نشې په حالت کې چلونه وکړي، په قصیر حبس یا له دېرشو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲)که چېرې شخص د نشې په حالت کې د ترافیکي حادثې مرتکب شي، ددې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوي جزا برسېره د مرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي.

**د ترافیکي حادثې له ځای څخه فرار (تېښته)**

**٥٦٤ ماده:**

هغه شخص چې پدې فصل کې د درج شوو جرمونو مرتکب شي او د ترافیکي حادثې له ځای څخه تیښته وکړي یا له ټپي سره له مرستې او مساعدت څخه ډډه وکړي، د اجبار د احوالو په رعایت سره، د مرتکبه جرم پر مجازاتو برسېره،

می گردد.

**راندگی در حالت سکر یا نشه**

**مادهٔ ٥٦۳:**

(۱) شخصی که در حالت نشه راندگی نماید، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخص در حالت نشه مرتکب حادثهٔ ترافیکی گردد، علاوه بر جزای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به جزای جرم مرتکبه، نیز محکوم می گردد.

**فرار از محل حادثهٔ ترافیکی**

**مادهٔ ٥٦۴:**

شخصی که مرتکب جرایم مندرج این فصل گردیده و از محل حادثه ترافیکی فرار نماید یا از کمک و مساعدت با مجروح خود داری کند. با رعایت احوال اجبار، علاوه بر مجازات جرم مرتکبه به جزای نقدی از سی هزار تا

له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، هم محکومېږي.

## د نقلیه واسطې په واک کې ورکول

**۵٦۵ ماده:**

که چېرې د نقلیه واسطې مالک یا متصرف د علم باوجود، د چلونې د جواز نه لرونکي شخص ته، د خپلې نقلیه واسطې د چلولو اجازه ورکړي او د هغې په پایله کې ترافیکي حادثه صورت ومومي، له پنځه زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## په ترافیکي حادثه کې مشدده حالات

**۵٦٦ ماده:**

له لاندو حالاتو څخه په یوه کې د ترافیکي حادثې ارتکاب مشدده پېژندل کېږي، مرتکب د مرتکبه جرم د پیشبیني شوو مجازاتو په اکثرحد محکومېږي:

۱- د چلونې د جواز نه لرل.

۲- له فني یا مسلکي اصولو څخه د

شصت هزار افغانی، نیز محکوم می گردد.

## در اختیار قرار دادن واسطهٔ نقلیه

**مادهٔ ۵٦۵:**

هرگاه مالک یا متصرف واسطهٔ نقلیه با وجود علم، به شخص فاقد جواز رانندگی، اجازه راندن واسطه نقلیهٔ خود را بدهد و در نتیجه آن حادثهٔ ترافیکی صورت گیرد، به جزای نقدی از پنج هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

## حالات مشدده در حادثه ترافیکی

**مادهٔ ۵٦٦:**

ارتکاب حادثهٔ ترافیکی در یکی از حالات ذیل مشدده شناخته شده، مرتکب به حد اکثر مجازات پیش بینی شدهٔ جرم مرتکبه، محکوم می‌گردد:

۱- نداشتن جواز رانندگی.

۲- ارتکاب حادثهٔ ترافیکی از اثر

جسيمې تخطی له امله د ترافيکي حادثې ارتکاب.

۳- په عمدي صورت د ترافيکي مقرراتو نه رعايت په هغهٔ صورت کې چې د شخص په فوت يا ټپي کېدو يا معلوليت تمام شي.

۴- په هغه حالت کې چې د حادثې د پيښېدو له امله له يوهٔ نفر څخه زيات فوت يا شديداً ټپي شوي وي.

## د ترافيکي علامې د شکل تغيير (بدلول)

**۵٦۷ ماده:**

هغه شخص چې ترافيکي علامه چې په عامه لاره يا بناء (وداني) باندې نصب شوي يا هغه علامې چې د مسافو د ټاکلو يا ښارونو، لارو يا نورو عامه ځايونو ته د لارښوونې په منظور نصب شوي بدلې (شکل ته يې بدلون ورکړي) يا د هغو جهت ته بدلون ورکړي، له پنځه زرو څخه ترلسو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

تخطی جسیم از اصول فنی یا مسلکی.

۳- عدم رعایت مقرارت ترافیکی بصورت عمدی در صورتی که منجر به فوت یا مجروحیت یا معلولیت شخص گردد.

۴- در حالتی که در اثر وقوع حادثه بیش از یک نفر فوت یا شدیداً مجروح شده باشد.

## تغییر شکل علامهٔ ترافیکی

**مادهٔ ۵٦۷:**

شخصی که علامه ترافیکی را که در راه عام یا بنا نصب گردیده یا علایمی را که بمنظور تعیین مسافه ها یا رهنمایی به شهر ها، راه ها یا محلات عام دیگر نصب گردیده تغییر شکل بدهد یا جهت آن را تغییر دهد، به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی، محکوم می گردد.

**په مواضعو کې د اخطاریه علامې نه ایښودل**

**۵٦۸ ماده:**

لاندې اشخاص د پنځو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې د اخطاریه یا تنویري علامې په ایښودلو کې په هغو مواضعوکې چې په عامو لارو کې یې کنې(حفر کوي) یا په هغو کې مالونه اړدي، اهمال وکړي.

۲- هغه شخص چې د دې مادې په ۱ جزءکې درج اخطاریه یا تنویري علامې له منځه یوسي.

۳- هغه شخص چې څراغ چې د عامې لارې یا میدان د روښانولو لپاره کارول شوي مړ (خاموش)، لرې یا تلف کړي.

## پنځم فصل

## اسقاط د جنین او دهغه مجازات

**اسقاط جنین**

**۵٦۹ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د حامله ښځې

**عدم گذاشتن علامه اخطاریه در مواضع**

**مادهٔ ۵٦۸:**

اشخاص آتی به جزای نقدی پنج هزار افغانی، محکوم می گردند:

۱- شخصی که در گذاشتن علامه اخطاریه یا تنویری در مواضعی که در راه عام حفر می کند یا در آن اموال را می گذارد، اهمال نماید.

۲- شخصی که علامات اخطاریه یا تنویری مندرج جزء ۱ این ماده را از بین ببرد.

۳- شخصی که چراغی را که بمنظور روشن کردن راه یا میدان عام بکار رفته خاموش، دور یا تلف نماید.

## فصل پنجم

## اسقاط جنین و مجازات آن

**اسقاط جنین**

**مادهٔ ۵٦۹:**

(۱) شخصی که عمداً جنین زن حامله را

جنین عمداً له منځه یوسي یا هغه د تولد له طبیعي موعد څخه د مخه راوباسي، د اسقاط د جنین د جرم مرتکب ګرځي.

(۲) که چېرې د جنین د اسقاط جنین په جرم کې د دیت د اقامې شرایط بشپړ نشي یا په یوهٔ ډول نه یوهٔ ډول ساقط شي، مرتکب ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

**د ضرب له امله د جنین اسقاط**

**۵۷۰ ماده:**

هغه شخص چې د حامله ښځې جنین عمداً د ضرب یا بل هر ډول اذیت له لارې اسقاط کړي، تر اووکلونو پورې په طویل حبس، محکومېږي.

**د درملو د ورکولو له امله یا د افرادو په واسطه د جنین اسقاط**

**۵۷۱ ماده:**

(۱) هغه شخص چې عمداً د درملو د ورکولو یا د نورو وسایلو د استعمال په وسیله د جنین د اسقاط موجب شي، که څه هم چې د جنین اسقاط د ښځې په رضایت سره صورت موندلی وي، په

از بین ببرد یا آن را قبل از موعد طبیعی تولد بیرون آورد، مرتکب جرم اسقاط جنین می گردد.

(۲) هرگاه در جرم اسقاط جنین شرایط اقامهٔ دیت تکمیل نگردد یا به نحوی از انحا ساقط شود، مرتکب مطابق احکام این فصل، مجازات می گردد.

**اسقاط جنین در اثر ضرب**

**مادهٔ ۵۷۰:**

شخصی که عمداً جنین زن حامله را از طریق ضرب یا هر نوع اذیت دیگر اسقاط نماید، به حبس طویل تاهفت سال، محکوم می‌گردد.

**اسقاط جنین در اثر دادن ادویه یا توسط افراد**

**مادهٔ ۵۷۱:**

(۱) شخصی که عمداً بوسیلهٔ دادن ادویه یا استعمال سایر وسایل موجب اسقاط جنین شود، گر چه اسقاط جنین به رضایت زن صورت گرفته باشد، به حبس متوسط، محکوم

متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې اسقاط کوونکی طبیب، جراح، درمل جوړوونکی یا قابله وي، مرتکب له دووکلونو څخه زیات په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې درمل حامله ښځې ته په حسن نیت یا په اشتباه سره ورکول شوې وي، مرتکب له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

(۴) که چېرې د جنین اسقاط مور ژوند ته د نجات ورکولو په منظور د طبیب په تجویز، د درملنې په منظور صورت موندلی وي، فاعل نه مجازات کېږي.

## د جنین په اسقاط د حامله ښځې رضایت

### ۵۷۲ ماده:

که چېرې حامله ښځه د عمل په پایله د علم با وجود عمداً د درملو په خوړلو یا د نورو وسایلو په استعمال راضي شي یا خپله عمداً پدې عمل لاس پورې یا بل شخص ته د نومړو وسایلو د

می‌گردد.

(۲) هرگاه اسقاط کننده، طبیب، جراح، دواساز یا قابله باشد، مرتکب به حبس متوسط بیش از دو سال، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه ادویه به زن حامله با حسن نیت یا به اشتباه داده شده باشد، مرتکب به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۴) هرگاه اسقاط جنین بمنظور نجات دادن حیات مادر با تجویز طبیب بمنظور تداوی صورت گرفته باشد، فاعل مجازات نمی‌گردد.

## رضایت زن حامله به اسقاط جنین

### مادۀ ۵۷۲:

هرگاه زن حامله با وجود علم به نتیجه عمل عمداً به خوردن ادویه یا استعمال دیگر وسایل راضی شود یا خود عمداً به این عمل مبادرت یا به شخص دیگری اجازه استعمال وسایل متذکره

استعمال اجازه ورکړي او د هغو له امله د جنین اسقاط واقع شي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د جنین اسقاط په جرم پیل**

**۵۷۳ ماده:**

د جنین اسقاط په جرم پیل د مجازات وړ نده.

**د جنین اسقاط د جرم مشدده حالت**

**۵۷۴ ماده:**

که چېرې د جنین اسقاط د ښځې په عقیم کېدو تمام شوې وي، مرتکب ددې فصل د پیشبیني شوې جزا په اکثرحد محکومېږي.

را بدهد و به اثر آن اسقاط جنین واقع گردد، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

**شروع به جرم اسقاط جنین**

**مادۀ ۵۷۳:**

شروع به جرم اسقاط جنین قابل مجازات نمی‌باشد.

**حالت مشدده جرم اسقاط جنین**

**مادۀ ۵۷۴:**

هرگاه اسقاط جنین منجر به عقیم شدن زن گردیده باشد، مرتکب به حد اکثر جزای پیش بینی شده این فصل، محکوم می گردد.

## شپږم فصل
## ضرب یا جرح او د هغو مجازات

### ضرب یا جرح

**۵۷۵ ماده:**

۱- ضرب: بدن ته د صدمې واردول دي چې په بدن کې د تورم (پړسوب) یا شینوالي (کبودی)، د مفاصلو د پیچ خوردګۍ د هغو له ماتېدو پرته یا د خون مردګۍ یا د داخلي خونریزۍ سبب شي او د نسج له پریکېدو اوله بدن څخه د وینو له جاري کېدو سره یوځای نه وي.

۲- جرح: بدن ته د ټپ(زخم) واردول دي چې د غړي د خراشیدګۍ یا پریکېدو یا شکېدو (پاره ګۍ) یا قطع یا د هغهٔ د سوځېدو یا ماتېدو سبب شي او د نسج له قطع او باندنۍ وینې توییدنې سره یوځای وي.

## فصل ششم
## ضرب یا جرح و مجازات آن

### ضرب یا جرح

**مادهٔ ۵۷۵:**

۱- ضرب: وارد کردن صدمه به بدن است که سبب تورم یا کبودی یا پیچ خوردن مفاصل بدون شکستگی آنها یا خون مردگی یا خون ریزی داخلی در بدن شود و با قطع نسج و جاری شدن خون از بدن همراه نباشد.

۲- جرح: وارد کردن زخم به بدن است که سبب خراشیدگی یا بریدگی یا پارگی یا قطع عضو یا سوختگی یا شکستگی آن شود و توأم با قطع نسج و خونریزی بیرونی باشد.

## د غړي په قطـع يـا نقصـان تماميدونکي ضرب يا جرح

۵۷٦ ماده:

(۱) هغه شخص چې بل يو عمداً داسې مجروح يا مضروب کړي چې د بدن له غړو څخه د يوهٔ غړي له کاره د لوېدو يا په معلوليت يا په دايمي توګه د هغه له حواسو څخه د يوهٔ په له منځه تلو تمام شي، ترلسوکلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې بل يو عمداً داسې مجروح يا مضروب کړي چې د مجني عليه د عقل د زايلېدو سبب شي، لـه لسو کلونوڅخه زيات په طويل حـبس محکومېږي.

(۳) که چېري د دې مادې په(۱) فقره کې درج شوي عمل د دايمي معلوليت سبب نشي، مرتکب تر دووکلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

## ضرب يا جرح منجر به قطع يـا نقصان عضو

مادهٔ ۵۷٦:

(۱) شخصی که عمداً ديگری را طوری مجروح يا مضروب کند که سـبب از کار افتيدن عضوی از اعضای بدن يـا منجر به معلوليت يا از بين رفتن يکی از حواس وی بطور دايمی گردد، به حبس طويـل تـا ده سـال، محکـوم می گردد.

(۲) شخصی که عمداً ديگری را طوری مجروح يا مضروب کند که سبب زايل شدن عقل مجنی عليه گردد، به حبس طويل بـيش از ده سـال، محکـوم می گردد.

(۳) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده سبب معلوليت دايمـی نگـردد، مرتکب به حبس متوسط تا دوسـال، محکوم می گردد.

**له کار څخه د غړي په ناتوانۍ تمامېدونکی ضرب یا جرح**

**۵۷۷ ماده:**

که چېري ضرب يا جرح د معلوليت او د غړي له کاره د لوېدو سبب نشي او له کاره د ناتوانۍ سبب شي، مرتکب مودې ته په پام سره په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې له کاره څخه تريوې اونۍ (هفتې)پورې په ناتوانۍ تمام شي، له پنځو زرو څخه تر پنځلسو زرو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې له يوې اونۍ څخه زيات تريوې مياشتې پورې له کاره څخه په ناتوانۍ تمام شي له پنځلسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نعدي جزا.

۳- په هغهٔ صورت کې چې له يوې مياشتې څخه زيات تر دريو مياشتو پورې له کاره څخه په ناتوانۍ تمام شي، په قصير حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې له دريو

**ضرب یا جرح منجر به ناتوانی عضو از کار**

**مادهٔ ۵۷۷:**

هرگاه ضرب يا جرح سبب معلوليت واز کار افتيدن عضو نشده وسبب ناتوانی از کار گردد، مرتکب با نظر داشت مدت قرار ذيل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که منجر به ناتوانی از کار تا يک هفته گردد، به جزای نقدی از پنج هزار تا پانزده هزار افغانی.

۲- در صورتی که منجر به ناتوانی از کار بيش از يک هفته تا يک ماه گردد، به جزای نقدی از پانزده هزار تا سی هزار افغانی.

۳- در صورتی که منجر به ناتوانی از کار بيش از يک ماه تا سه ماه گردد، به حبس قصير.

۴- در صورتی که منجر به

میاشتو څخه د زیاتې مودې لپاره له کاره څخه په ناتوانۍ تمام شي، تر دووکلونو پورې په متوسط، حبس.

## د ضرب یا جرح مشدده حالات

**۵۷۸ ماده:**

د ضرب یا جرح ارتکاب په لاندې حالا توکې مشدده ګڼل کېږي، مرتکب د ارتکابي جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي:

۱- په هغه حالت کې چې د فاعل عمل له دمخه اصرار او ترصد سره یو ځای وي.

۲- په هغه حالت کې چې مجني علیه د فاعل له اصولو، فروعو، استاذ، شاګرد، همسر (مېړه یا ښځې)له جملې یا تر ملاتړ یا سرپرستۍ لاندې شخص وي.

۳- په هغه حالت کې چې عمل د مجني علیه له جسمي ضعف څخه په استفادې صورت موندلی وي.

۴- په هغهٔ حالت کې چې عمل له یوهٔ څخه د زیاتو په واسطه، صورت موندلې وي.

ناتوانی از کار برای مدت بیش از سه ماه گردد، به حبس متوسط تا دوسال.

## احوال مشدده ضرب یا جرح

**مادهٔ ۵۷۸:**

ارتکاب ضرب یا جرح در یکی از حالات ذیل مشدده شناخته شده، مرتکب به حد اکثر مجازات جرم ارتکابی، محکوم می گردد:

۱- در حالتی که عمل فاعل با اصرار قبلی و ترصد همراه باشد.

۲- در حالتی که مجنی علیه از جمله اصول، فروع، استاد، شاگرد، همسر یا شخص تحت حمایت یا سر پرستی فاعل باشد.

۳- در حالتی که عمل با استفاده از ضعف جسمی مجنی علیه صورت گرفته باشد.

۴- در حالتی که عمل توسط بیش از یک نفر صورت گرفته باشد.

۵- په هغهٔ حالت کې چې له وسلې څخه استفادې صورت موندلی وي.

**د بلې جنحې یا جنایت د ارتکاب په منظور ضرب یا جرح**

**۵۷۹ ماده:**

هغه شخص چې بل یو د جنحې یا بل جنایت د ارتکاب په منظور مضروب یا مجروح کړي، د ارتکابي جرم پر مجازاتو برسېره پدې فصل کې درج د ضرب یا جرح په مجازاتو هم محکومېږي.

**غیر عمدي ضرب یا جرح**

**۵۸۰ ماده:**

هغه شخص چې له اهمال، بې احتیاطۍ یا نه مهارت څخه د راپیدا شوې خطاء له امله بل یو مضروب یا مجروح کړي، له پنځه زرو څخه تر شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د مغلوبه جنګ له امله جرح یا قتل**

**۵۸۱ ماده:**

(۱) که چېرې د مغلوبه جنګ له امله قتل یا شدیده جرح واقع شي، هر یو له

۵- در حالتی که از سلاح استفاده صورت گرفته باشد.

**ضرب یا جرح بمنظور ارتکاب جنحه یا جنایت دیگر**

**مادهٔ ۵۷۹:**

شخصی که دیگری را بمنظور ارتکاب جنحه یا جنایت دیگر مضروب یا مجروح نماید، علاوه بر مجازات جرم ارتکابی به مجازات ضرب یا جرح مندرج این فصل، نیز محکوم می گردد.

**ضرب یا جرح غیر عمدی**

**مادهٔ ۵۸۰:**

شخصی که به اثر خطای ناشی از اهمال، بی احتیاطی یا عدم مهارت، دیگری را مضروب یا مجروح کند، به جزای نقدی از پنج هزارتا بیست هزارافغانی، محکوم می گردد.

**جرح یا قتل به اثر جنگ مغلوبه**

**مادهٔ ۵۸۱:**

(۱) هرگاه به اثر جنگ مغلوبه قتل یا جرح شدید واقع گردد، هریک از

هغو اشخاصو څخه چې په جنګ کې یې ګډون کړی دی، په جنګ کې دګډون په سبب، په متوسط حبس، محکومېږي. خودا چې د هغو نه مسؤولیت ثابت شي.

(۲) که چېرې ددې مادې په(۱)فقره کې په درج شوي‌حالت‌کې، دجنګ محرک یا دقتل یا شدید جرح فاعل تشخیص شوای شي، مرتکب او محرک داصل جرم په پیشبیني شوې جزا محکومېږي.

(۳) د دې مادې په (۱ او۲) فقرو کې د درج په غیر احوالوکې په هغو حالاتوکې چې ضرب واقع شوی وي، له ګډون کوونکو څخه هریو په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

(۴) مغلوبه جنګ د دې مادې په مقصد له دریو نفرو څخه د زیاتوله نښتې څخه چې په هغې کې د جرمي عمل فاعل معلوم نه وي عبارت دی.

اشخاصی که در جنگ اشتراک نموده اند به سبب اشتراک در جنگ، به حبس متوسط محکوم می گردند. مگر این که عدم مسؤولیت آنها ثابت گردد.

(۲) هرگاه در حالت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، محرک جنگ یا فاعل قتل یا جرح شدید تشخیص شده بتواند، مرتکب و محرک به جزای پیش بینی شده اصل جرم، محکوم می گردد.

(۳) در غیر از احوال مندرج فقره های (۱ و۲) این ماده در حالاتی که ضرب واقع شده باشد، هریک از اشتراک کنندگان به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۴) جنگ مغلوبه به مقصد این ماده عبارت است از درگیری بیش از سه نفر که در آن فاعل عمل جرمی معلوم نباشد.

**د ضرر ناکو او غیر وژونکو موادو ورکول**

**۵۸۲ ماده:**

هغه شخص چې بل يوهٔ ته عمداً ضررناک غير وژونکي مواد ورکړي چې د دايمي معلوليت، د غړي د عطالت يا د هغهٔ له کاره د لوېدو يا دهغهٔ له حواسو څخه د يوهٔ د فقدان موجب شي له احوال سره سم، له دريو کلونوڅخه زيات په متوسط حبس يا طويل حبس، محکومېږي.

**د شاگرد يا کار آموز (د کاريادوونکي) جسمي يا رواني تعذيب**

**۵۸۳ ماده:**

هغه شخص چې شاگرد، کار آموز او کارکوونکی له ضرب يا جرح پرته د اصلاح په منظور تر تعذيب لاندې ونيسي، د حبس په بديل محکومېږي.

**دادن مواد ضرر ناک و غیر کشنده**

**مادۀ ۵۸۲:**

شخصی که عمداً دیگری را مواد ضررناک غیر کشنده بدهد که موجب معلولیت دایمی، عطالت عضو یا از کار افتیدن آن یا فقدان یکی از حواس او گردد، حسب احوال به حبس متوسط بیش از سه سال یا حبس طویل، محکوم می گردد.

**تعذیب جسمی یا روانی شاگرد یا کار آموز**

**مادۀ ۵۸۳:**

شخصی که شاگرد، کار آموز و کارکن را بمنظور اصلاح، بدون ضرب یا جرح مورد تعذیب قرار دهد، به بدیل حبس، محکوم می‌گردد.

د زيان جبران

۵۸۴ ماده:

(۱) پدې فصل کې په درج شوو ټولو حالاتو کې مرتکب مجني عليه ته د وارد شوي زيان د جبران په ورکړه هم مکلف دی.

(۲) که چېرې مرتکب په خپل رضايت وارد شوی زيان جبران کړي او له ارتکابي عمل څخه پښېماني ښکاره کړي او متکرر مجرم نه وي، د ارتکابي جرم په څلورمه برخه مجازاتو، محکومېږي.

جبران خساره

مادهٔ ۵۸۴:

(۱) در تمام احوال مندرج این فصل مرتکب مکلف به پرداخت جبران خساره وارده به مجنی علیه، نیز می باشد.

(۲) هرگاه مرتکب به رضایت خود خساره وارده را جبران نماید و از عمل ارتکابی اظهار پیشیمانی نماید و مجرم متکرر نباشد، به چهارم حصه مجازات جرم ارتکابی، محکوم می گردد.

## اووم فصل

## نيونه، توقيف يا د آزادۍ تحديد

نيونه، توقيف يا د آزادۍ تحديد

۵۸۵ ماده:

هغه شخص چې بل يو ونيسي ياېې آزادي په غير قانوني توګه سلب يا محدوده کړي يا دبل دآزادۍ سلب يا محدودولو ته د هغې د قانوني مودې له ختم وروسته

## فصل هفتم

## گرفتاری، توقیف یا تحدید آزادی

گرفتاری، توقیف یا تحدید آزادی

مادهٔ ۵۸۵:

شخصی که دیگری را گرفتار یا آزادی وی را به صورت غیر قانونی سلب یا محدود سازد یا به سلب یا محدود ساختن آزادی دیگری بعد از ختم مدت

ادامه ورکړي، د نیوونې، توقیف یا د آزادۍ د تحدید د جرم مرتکب شوی، د دې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

## دنیونې، توقیف یا د آزادۍ د تحدید مجازات

**۵۸۶ ماده:**

د نیونې، توقیف یا د آزادۍ د تحدید د جرم مرتکب، په متوسط حبس، محکومېږي.

## مشدده حالات

**۵۸۷ماده:**

د نیونې، توقیف یا د آزادۍ د تحدید د جرم ارتکاب په یوهٔ له لاندې حالا توکې مشدده ګڼل کېږي، مرتکب تر اووکلونو پورې په طویل حبس محکومېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې جرم د عامه خدمتونو د مؤظف په واسطه ارتکاب شوی وي.

۲- په هغهٔ حالت کې چې جرم په جبر، اکراه یا تهدید په قتل یا تهدید په بدني اذیت ارتکاب شوی وي.

قانونی آن ادامه بدهد، مرتکب جرم گرفتاری، توقیف یا تحدید آزادی گردیده، مطابق احکام این فصل، مجازات می گردد.

## مجازات گرفتاری توقیف یا تحدید آزادی

**مادهٔ ۵۸۶:**

مرتکب جرم گرفتاری، توقیف یا تحدید آزادی، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

## حالات مشدده

**مادهٔ ۵۸۷:**

ارتکاب جرم گرفتاری، توقیف یا تحدید آزادی در یکی از حالات ذیل مشدده شناخته شده، مرتکب به حبس طویل تا هفت سال، محکوم می گردد:

۱- در حالتی که جرم توسط مؤظف خدمات عامه ارتکاب یافته باشد.

۲- در حالتی که جرم با جبر، اکراه یا تهدید به قتل یا تهدید به اذیت بدنی ارتکاب گردیده باشد.

۳- په هغهٔ حالت کې چې جرم له رسمي جامو (لباس) څخه په استفادې، له هغو څخه د استفادې د حق له لرلوپرته په کاذب صفت په متصف کولو سره صورت موندلی وي.

۴- په هغهٔ حالت کې چې د دولتي واکمن مقام په عنوان له تزویري امر څخه په استفادې ارتکاب شوی وي.

۵- په هغهٔ حالت کې چې د غیر قانوني توقیف موده له یوې میاشتې څخه زیاته وي.

## د غیر قانوني توقیف په منظور د ځای په واک کې ورکول

**۵۸۸ ماده:**

هغه شخص چې د خبرتیا (اگاهی) سره وجود د غیر قانوني توقیف لپاره ځای په اجاره یا کرایه یا په عاریت ورکړي، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي.

۳- در حالتی که جرم با استفاده از لباس رسمی بدون داشتن حق استفاده از آن یا متصف ساختن به صفت کاذب صورت گرفته باشد.

۴- در حالتی که با استفاده از امر تزویری به عنوان مقام صلاحیت دار دولتی ارتکاب گردیده باشد.

۵- در حالتی که مدت توقیف غیر قانونی از یک ماه بیشتر باشد.

## در اختیار قرار دادن محل بمنظور توقیف غیر قانونی

**مادهٔ ۵۸۸:**

شخصی که با وجود اگاهی محلی را برای توقیف غیر قانونی به اجاره یا کرایه یا عاریت دهد، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می گردد.

**د آزادۍ د سلب په ځايونو کې د مظنون، تورن يا محکوم عليه ساتل**

**۵۸۹ ماده:**

(۱)که چېرې پوليس، د ملي امنيت مؤظف، څارنوال يا دآزادۍ د سلب د ځايونو مسؤول يو شخص له قانوني موعد څخه له يوې ورځې زيات تر نظارت، توقيف، حبس يا حجز لاندې ونيسي، په قصير حبس يا د هرې ورځې په وړاندې د دريو زرو افغانيو په نغدي جزا، محکومېږي.

(۲) که چېري عمل له سوء نيت سره صورت موندلی وي او يا په مکرره توگه ترسره شوی وي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

## اتم فصل

## اختطاف او د هغه مجازات

**د اختطاف جرم**

**۵۹۰ ماده:**

(۱) اختطاف له تهديد څخه په استفادې

**نگهداری غير قانونی مظنون، متهم يا محکوم عليه در محلات سلب آزادی**

**مادۀ ۵۸۹:**

(۱) هرگاه پوليس، مؤظف امنيت ملی، څارنوال يا مسؤول محلات سلب آزادی شخصی را بيش از يک روز از موعد قانونی تحت نظارت، توقيف، حبس يا حجز قرار دهد، به حبس قصير يا جزای نقدی سه هزار افغانی در برابر هر روز، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه عمل با سوء نيت صورت گرفته باشد ويا به طور مکرر انجام شده باشد، مرتکب به حبس متوسط، محکوم می گردد.

## فصل هشتم

## اختطاف و مجازات آن

**جرم اختطاف**

**مادۀ ۵۹۰:**

(۱) اختطاف عبارت است از ربودن

يا د قوې (زور) په استعمال يا د ارعاب په نورو ډولونو يا د حيلې او فريب په کارولو يا له جسمي يا رواني ناتوانۍ څخه په استفادې يا د يوۀ نوزاد طفل (نوي زېږېدلي) په بل نوزاد طفل د بدلولو يا له والدينو يا يې له قانوني سرپرست څخه د طفل د لرې کولو يا په غير مسکون ځای کې د طفل له خوشې کولو څخه عبارت دي اعم لدې چې دغه اعمال د بهره کشۍ په مقصد وي ياد ضرر رسولو.

(۲) هغه شخص چې خپله يا د بل په واسطه د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل مرتکب شي، د دې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

**د مال يا منفعت د غوښتنې يا اخيستلو په مقصد اختطاف**

**۵۹۱ ماده:**

هغه شخص چې بل يو په تهديد يا د قوې په استعمال يا د ارعاب په نورو ډولونو يا د مسمومونکو موادو يا له جارحه يا

شخص با استفاده از تهديد يا استعمال قوه ( زور) يا انواع ديگر ارعاب يا کار برد حيله و فريب يا با استفاده از ناتوانی جسمی يا روانی يا تبديل نمودن طفل نوزاد با طفل نوزاد ديگر يا دور نمودن طفل از والدين يا سرپرست قانونی وی يا رها نمودن طفل در محل غير مسکون است اعم از اينکه چنين اعمال به مقصد بهره کشی باشد يا رسانيدن ضرر.

(۲) شخصی که خود يا توسط ديگری عمل مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را مرتکب شود، مطابق احکام اين فصل، مجازات می گردد.

**اختطاف به مقصد مطالبه يا اخذ مال يا منفعت**

**مادۀ ۵۹۱:**

شخصی که ديگری را با تهديد يا استعمال قوه يا انواع ديگر ارعاب يا با استفاده از مواد مسموم کننده يا

ناريه وسلې څخه په استفادې يا په حيله يا فريب اختطاف کړي او د هغهٔ دخوشې کولو په بدل کې مال يا منفعت و غواړي يا واخلي، په طويل حبس چې له دوولسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

**په غير مسکوني ځای کې د طفل خوشې کول**

**۵۹۲ ماده:**

(۱) که چېرې شخص هغه طفل چې سن يي له ۷ کلونو څخه لږ(کم) وي، په غير مسکون ځای کې خوشی کړي، په هغهٔ صورت کې چې طفل ته صدمه نه وي رسېدلې، په متوسط حبس، محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم په پايله کې طفل ته صدمه رسېدلې وي، مرتکب پر متوسط حبس برسېره د ارتکابي جرم په جزا هم محکومېږي.

**د نوي زېږېدلي طفل تبديلول يا پټول**

**۵۹۳ ماده:**

هغه شخص چې، نوی زېږېدلي طفل د

سلاح جارحه يا ناريه يا با حيله وفريب اختطاف کند و در بدل رهايي وی مال يا منفعتی را مطالبه يا اخذ کند، به حبس طويلی که از دوازده سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.

**رهايي طفل در محل غير مسکونی**

**مادهٔ ۵۹۲:**

(۱) هرگاه شخص طفلی را که سن وی کمتر از ۷ سال باشد، در محل غير مسکونی رها کند، در صورتی که به طفل صدمه نرسيده باشد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه در نتيجه جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده به طفل صدمه رسيده باشد، مرتکب علاوه بر حبس متوسط به جزای جرم ارتکابی، نيز محکوم می‌گردد.

**پنهان نمودن يا تبديل نمودن طفل نوزاد**

**مادهٔ ۵۹۳:**

شخصی که، طفل نوزاد را از نزد

هغهٔ له قانوني سرپرست څخه، لرې کړي يا هغهٔ پټ کړي يا يې له بل طفل سره تبديل کړي يا هغهٔ کذباً د هغهٔ له مور پرته بل چاته نسبت ورکړي، د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

## د اختطاف مشدده حالات

**۵۹۴ماده:**

(۱) د اختطاف د جرم ارتکاب په يوهٔ له لاندې حالاتو کې مشدده پېژندل کېږي، مرتکب د طويل حبس په اکثر حد محکومېږي:

۱- په هغه صورت کې چې مجني عليه طفل يا ښځه وي يا جرم د مجني عليه د مستخدم يا د هغه شخص په واسطه چې مجني عليه د هغهٔ تر سرپرستۍ يا ساتنې يا روزنې لاندې وي يا د مجني عليه له جسمي يا رواني ناتوانۍ څخه په استفادې سره ارتکاب شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې مجني عليه وسله والې جګړې، اجباري کار، طبي ازمايښتونو ته دګمارلو له لارې د غړي د پرېکولو يا نورو غير قانوني فعاليتونو تر

سرپرست قانونی وی، دور سازد يا او را پنهان نمايد يا به طفل ديگری تبديل کند يا او را کذباً به غير از مادرش نسبت دهد، به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

## حالات مشددهٔ اختطاف

**مادهٔ ۵۹۴:**

(۱) ارتکاب جرم اختطاف در يکی از حالات ذيل مشدده شناخته شده، مرتکب به حد اکثر حبس طويل، محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مجنی عليه طفل يا زن باشد يا جرم توسط مستخدم مجنی عليه يا شخصی که مجنی عليه تحت سر پرستی يا نگهبانی يا تربيت وی قرار داشته يا با استفاده از ناتوانی جسمی يا روانی مجنی عليه ارتکاب شود.

۲- در صورتی که مجنی عليه از طريق گماشتن به جنگ مسلحانه يا کار اجباری، آزمايشات طبی يا قطع عضو وساير فعاليت های غير قانونی مورد

بهره کشۍ لاندې نیول شوي وي.

۳- په هغه صورت کې چې مجني علیه د جنسي فعالیتونو او د اخلاقو منافي (پورنوګرافي) تصویرونو او فلمونو د برابرولو له لاندې تر بهره کشۍ لاندې نیول شوي وي.

د اختطاف د جرم پر مجني علیه باندې جنسي تجاوز (تیری)

۵۹۵ ماده:

که چېرې د اختطاف د جرم په پایله کې، مجني علیه تر جنسي تجاوز لاندې هم نیول شوی وي، مرتکب په دې قانون کې درج د جرایمو د تعدد د حکمونو په پام کې نیولو سره، په مجازاتو محکومېږي.

د اختطاف شوي شخص تهدید

۵۹٦ ماده:

که چېرې د اختطاف په جرم کې تهدید په قتل یا د غړي په پرېکولو صورت موندلی وي، اختطاف کوونکی شخص پدې فصل کې د درج شوو مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

بهره کشی قرار گرفته باشد.

۳- در صورتی که مجنی علیه از طریق فعالیت های جنسی وتهیه تصاویر وفلم های منافی اخلاق (پورنوگرافی)، مورد بهره کشی قرار گرفته باشد.

تجاوز جنسی بالای مجنی علیه جرم اختطاف

مادۀ ۵۹۵:

هرگاه در نتیجه جرم اختطاف، مجنی علیه مورد تجاوز جنسی نیز قرار گرفته باشد، مرتکب با نظرداشت احکام تعدد جرایم مندرج این قانون، به مجازات محکوم می گردد.

تهدید شخص اختطاف شده

مادۀ ۵۹٦:

هرگاه در جرم اختطاف تهدید به قتل یا قطع عضو صورت گرفته باشد، شخص اختطاف کننده به حد اکثر مجازات مندرج این فصل، محکوم می گردد.

**د نظامي ځواکونو د منسوب په واسطه د جرم ارتکاب**

**۵۹۷ ماده:**

**که چېرې د اختطاف جرم له دولتي واسطه يا وسلې څخه په استفادې يا له دندې يا موقف څخه په استفادې يا له نفوذ څخه په استفادې د نظامي ځواکونو د منسوب يا دعامه خدمتونو مؤظف په واسطه ارتکاب شي، مرتکب په ۲درجه دوام حبس محکومېږي.**

**د اختطاف په پايله کې د مجني عليه د غړي پرېکول يا فوت**

**۵۹۸ ماده:**

**هغه شخص چې بل يو اختطاف کړي او د هغهٔ په پايله کې د مجني عليه د بدن له غړو څخه يو غړی تلف يا معيوب شي دطويل حبس د جزا په اکثرحد او که په مړينه تمام شي، د عمد قتل په مجازاتو، محکومېږي.**

**د واده په منظور بيول**

**۵۹۹ ماده:**

**که چېرې يو شخص يوهٔ ښځه چې د**

**ارتکاب جرم توسط منسوب نیرو های نظامی**

**مادهٔ ۵۹۷:**

**هرگاه جرم اختطاف با استفاده از واسطه یا سلاح دولتی یا با استفاده از وظیفه یا موقف یا با استفاده از نفوذ توسط منسوب نیرو های نظامی یا مؤظف خدمات عامه ارتکاب یابد، مرتکب به حبس دوام درجه۲ محکوم میگردد.**

**قطع عضو یا فوت مجنی علیه در نتیجهٔ اختطاف**

**مادهٔ ۵۹۸:**

**شخصی که، دیگری را اختطاف کند و در نتیجهٔ آن عضوی از اعضای بدن مجنی علیه تلف یا معیوب شود به جزای حداکثر حبس طویل و اگر منجر به مرگ شود، به مجازات قتل عمد، محکوم می گردد.**

**بردن بمنظور ازدواج**

**مادهٔ ۵۹۹:**

**هرگاه شخصی، زنی را که سن**

واده قانوني سن يي بشپړ کـــړی وي د واده په منظـــور د هغـــې د اوليـــاوو د اوسېدو له ځای څخه له ځانه سره بوزي په هغه صورت کې چې د ښځې په رضاء او رغبت قانوناً له هغې سره د واده عقد وکړي، دغه عمل اختطاف نـــه ګڼـــل کېږي.

## نهم فصل

## راهزني( لاره وهل) او د هغې مجازات

**راهزني**

**۶۰۰ ماده:**

هغه شخص چې د مغالبې له لارې د مال د اخيستلو په قصد په عامه لار يا په هربل محجور ځای کې په وسلې يـــا هغـــې وسيلې سره چې وسلې تـــه ورتـــه وي موضع ونيسي او د لاندې يوۀ يـــا څـــو اعمالو مرتکب شي، راهزن پېژندل کېږي د دې فصل له حکمونـــو ســـره ســـم، مجازات کېږي:

۱- د عابرينو تخويف (ويرول).

۲- په تهديد سره د غير مال اخيستل.

قـــانونی ازدواج را تکميـــل کـــرده باشـــد بمنظـــور ازدواج از محـــل اقامـــت اوليـــای وی بـــا خـــود ببرد در صـــورتی کـــه بـــه رضـــا و رغبت زن قانوناً با وی عقـــد ازدواج نمايد، اين عمـــل اختطـــاف شـــناخته نمی شود.

## فصل نهم

## راهزنی و مجازات آن

**راهزنی**

**مادۀ ۶۰۰:**

شخصی که به قصد گرفتن مـــــال از طريق مغالبه در راه عام و يـــا در هـــر محل محجور ديگر بـــا ســـلاح يـــا وسيله ای که مشـــابه ســـلاح باشـــد موضع گرفته و مرتکب يک يا چنـــد عمل ذيل شود، راهزن شناخته شـــده مطابق احکام اين فصـــل، مجـــازات می شود:

۱- تخويف عابرين.

۲- گرفتن مال غير با تهديد.

۳- د انسان قتل.

۴- د انسان قتل او د غير مال اخيستل.

**د راهزنۍ د جرم تعزيري مجازات**

**٦۰۱ ماده:**

(۱)که چېرې د راهزنۍ په جرم کــې د حد د اقامې شرايط بشپړ نشي يا په يوهٔ ډول نه يو ډول د حد د محکوم بها جزا ساقط شي، مرتکب تعزيراً پــه لانــدې توګه، مجازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې دعابرينو د تخويف سبب شوی وي، له دريوو کلونو څخه زيات په متوسط حبس.

۲- په هغه صورت کې چې د عابرينو د تخويف او د مال د اخيستلو سبب شوی وي، په طويل حبس.

۳- په هغه صورت کې چې د قتل سبب شوی وي، په اعدام.

(۲) که چېرې د راهزنۍ د جرم مرتکب دعابرينو پر تخويف يا د مال په اخيستلو برسېره، د جنسي تجاوز د عمل مرتکب شوی هم وي، د زنا د حد د تطبيــق د شرطونو د نه بشپړېدو په صورت کې په

۳- قتل انسان.

۴- قتل انسان وگرفتن مال غير.

**مجازات تعزيری جرم راهزنی**

**مادهٔ ٦۰۱:**

(۱) هرگاه در جرم راهزنی شــرايط اقامه حد تکميل نگردد يا به نحوی از انحا جزای محکوم بهای حد ســاقط شود، مرتکب تعزيــراً قــرار ذيــل، مجازات می‌گردد:

۱- در صورتی که ســبب تخويــف عابرين شده باشد، به حبس متوســط بيش از سه سال.

۲- در صورتی که ســبب تخويــف عابرين و گرفتن مال شده باشد، بــه حبس طويل.

۳- در صورتی که سبب قتــل شــده باشد، به اعدام.

(۲) هرگاه مرتکب جرم راهزنی علاوه بر تخويف يا گرفتن مال عابرين، عمل تجاوز جنسی را نيز مرتکــب شــده باشد، در صورت عدم تکميل شــرايط تطبيق حد زنا به حبس دوام درجــه۱،

۱درجه دوام حبس محکومېږي.

**دريايي (دسيند) راهزني**

**۶۰۲ ماده:**

هغه شخص چې د دريايي راهزنۍ د جرم مرتکب شي، له احوالو سره سم، په طويل يا ۲درجه دوام حبس او د مال په رد، محکومېږي.

**په راهزنۍ کې عمد قتل**

**۶۰۳ ماده:**

که چېرې د راهزنۍ د جرم د ارتکاب په بهيرکې قتل واقع شوی وي، عمد قتل پېژندل کېږي.

**د راهزنۍ د شريکانو مجازات**

**۶۰۴ ماده:**

که چېري يوله رهزنانو څخه د دې قانون په ۶۰۰ ماده کې له درج شوو اعمالو څخه د يوهٔ مرتکب شي، نور شريکان د جرم د فاعل په عين مجازاتو، محکومېږي.

محکوم می گردد.

**راهزنی دریایی**

**مادهٔ ۶۰۲:**

شخصی که مرتکب جرم راهزنی دریایی گردد، حسب احوال، به حبس طویل یا حبس دوام درجه۲ و رد مال، محکوم می گردد.

**قتل عمد در راهزنی**

**مادهٔ ۶۰۳:**

هرگاه در جریان ارتکاب جرم راهزنی قتل واقع شده باشد، قتل عمد شناخته می شود.

**مجازات شرکای راهزنی**

**مادهٔ ۶۰۴:**

هرگاه یکی از راهزنان مرتکب یکی از اعمال مندرج مادهٔ ۶۰۰ این قانون گردد، سایر شرکا به عین مجازات فاعل جرم، محکوم می گردند.

## لسم فصل
## په نظامي قطعاتوکې د طفل د استخدام منع

**د استخدام منع**

**٦۰۵ ماده:**

هغه شخص چې طفل نظامي خدمتونو ته جذب او یا د نظامي جزوتامونو په خدماتي کارونوکې له هغه څخه استفاده وکړي د جرم مرتکب شوی، د دې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

**د طفل د استخداموونکي مجازات**

**٦۰٦ ماده:**

که چېري د نظامي قطعي مسؤول، طفل په نظامي قطعه کې استخدام کړي، په قصیر حبس، محکومېږي.

**له تزویري سندونو څخه په استفادي استخدام**

**٦۰۷ ماده:**

هغه شخص چې په نظامي قطعه کې له

## فصل دهم
## منع استخدام طفل در قطعات نظامی

**منع استخدام**

**مادۀ ٦۰۵:**

شخصی که طفل را در خدمات نظامی جذب و یا در کار های خدماتی جزوتام های نظامی از آنها استفاده نماید مرتکب جرم گردیده مطابق احکام این فصل، مجازات می گردد.

**مجازات استخدام کنندۀ طفل**

**مادۀ ٦۰٦:**

هرگاه مسؤول قطعۀ نظامی طفل را در قطعۀ نظامی استخدام نماید، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

**استخدام با استفاده از اسناد تزویری**

**مادۀ ٦۰۷:**

شخصی که زمینۀ استخدام طفل را با

تزويري سندونو څخه په استفادې د طفل د استخدام زمينه برابره کړي، پدې قانون کې درج د تزوير په جزا، محکومېږي.

**له طفل څخه د دندې استحصال**

**٦۰۸ ماده:**

که چېري د نظامي قطعې مسؤول د علم با وجود په نظامي قطعه کې له طفل څخه د دندې استحصال ته ادامه ورکړي، په قصير حبس، محکومېږي.

## يوولسم فصل

## د طفل دحقوقو د نقض جرمونه

**د تعليم، زده کړې او صحي خدمتونو ته د لاسرسي له حق څخه د طفل محروميت**

**٦۰۹ ماده:**

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوهٔ مرتکب شي، په قصير حبس يا له دېرش زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

۱- د تعليم، فني مسلکي زده کړې له حق څخه د طفل محرومول.

استفاده از اسناد تزويری در قطعهٔ نظامی فراهم نمايد، به جزای تزوير مندرج اين قانون، محکوم می گردد.

**استحصال وظيفه از طفل**

**مادهٔ ٦۰۸:**

هرگاه مسؤول قطعهٔ نظامی با وجود علم به استحصال وظيفه از طفل در قطعهٔ نظامی ادامه دهد، به حبس قصير، محکوم می گردد.

## فصل يازدهم

## جرايم نقض حقوق طفل

**محروميت طفل از حق تعليم، آموزش و دسترسی به خدمات صحی**

**مادهٔ ٦۰۹:**

شخصی که مرتکب يکی از اعمال آتی گردد، به حبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد:

۱- محروم ساختن طفل از حق تعليم، آموزش فنی مسلکی.

۲- صحي خدمتونو ته له لاسرسۍ څخه د طفل محرومول.

**په سیاسي فعالیتونوکې له طفل څخه د استفادې مجازات**

**۶۱۰ ماده:**

(۱) هغه شخص چې له طفل څخه په سیاسي فعالیتونو کې د ابزارو او وسیلې په توګه استفاده وکړي، د قصیر حبس په اکثرحد محکومېږي.

(۲) په تظاهراتو او اعتصابونو کې د دوی د خپل حق د احقاق په منظور، د طفل ګډون لدې امر څخه مستثني دی.

**د هغهٔ د قانوني ممثل له اجازې پرته د طفل د انتقال یا ساتلو مجازات**

**۶۱۱ ماده:**

(۱) هغه شخص چې طفل د والدینو، ولي، وصي یا سرپرست له اجازې پرته وساتي یا هغه له هېواده بهرته انتقال کړي، له نهو میاشتو څخه زیات په قصیر حبس یا له پنځه څلوېښت زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي، پدې شرط چې د مرتکب

۲- محروم ساختن طفل از دسترسی به خدمات صحی.

**مجازات استفاده از طفل در فعالیت های سیاسي**

**مادهٔ ۶۱۰:**

(۱) شخصی که از طفل در فعالیت های سیاسی منحیث ابزار و وسیله استفاده نماید، به حد اکثر حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۲) اشتراک طفل بمنظور احقاق حق خود شان در تظاهرات و اعتصابات از این امر مستثنی است.

**مجازات انتقال یا نگهداری طفل بدون اجازه ممثل قانونی وی**

**مادهٔ ۶۱۱:**

(۱) شخصی که طفل را بدون اجازه والدین، ولی، وصی یا سرپرست نگهداری یا وی را به خارج از کشور انتقال دهد، به حبس قصیر بیش از نه ماه یا به جزای نقدی از چهل و پنج هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد. مشروط بر

موخه ګټه اخیستنه (بهره برداري) نه وي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتوکې په هغه صورت کې چې د طفل والدين يو له بل څخه جلا شوي وي، د هغود يوۀ د نه رضايت په صورت کې، د محکمې د اجازې اخيستل حتمي دي.

## د طفل وهل ټکول

۶۱۲ ماده:

(۱) هغه شخص چې طفل تر و هلو ټکولو، جسمي يا رواني تعذيب يا تربد رفتارۍ لاندي ونيسي، خو د هغۀ په جراحت يا معلوليت تمام نشي، په قصير حبس، محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې د دې مادي په (۱) فقره کې د درج شوي جرم په مکرره توګه مرتکب شي په قصير حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱)فقره کې درج شوی مرتکب، د طفل قانوني سر پرست وي، تر دووکلونو پورې په

این که هدف مرتکب بهره برداری نباشد.

(۲) در حالات مندرج فقرۀ (۱) این ماده در صورتی که والدین طفل از هم جدا شده باشند، در صورت عدم رضایت یکی از آنها، اخذ اجازه محکمه حتمی است.

## لت وکوب طفل

مادۀ ۶۱۲:

(۱) شخصی که طفل را مورد لت و کوب، تعذیب یا بد رفتاری قرار دهد، اما منجر به جراحت یا معلولیت وی نگردد، به حبس قصیر، محکوم می‌گردد.

(۲) شخصی که جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده را به صورت مکرر مرتکب گردد، به حداکثر حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه مرتکب مندرج فقرۀ (۱) این ماده سرپرست قانونی طفل باشد، به حبس متوسط تا دوسال، محکوم

متوسط حبس، محکومېږي.

**په فزيکي، درنو (ثقيلو)، صحت ته مضرو او ترځمکې لاندې کارونوکې د طفل استخدام**

**٦۱۳ ماده:**

هغه شخص چې طفل په فزيکي، درنو، صحت ته مضرو، ترځمکې لاندې، د شپې يا اضافه کارۍ په کارونوکې استخدام کړي يا طفل د کار په منظور مسافرت ته مجبور کړي له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

**د شهادت اداء ته د طفل د مکلفيت منع**

**٦۱۴ ماده:**

هغه شخص چې طفل د شهادت اداء يا اقرار ته مجبور کړي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

می گردد.

**استخدام طفل در کار های فزيکی، ثقيل، مضر صحت و زير زمينی**

**مادۀ ٦۱۳:**

شخصی که طفل را در کار های فزيکی، ثقيل، مضر صحت، زير زمينی، شبانه يا اضافه کاری استخدام نمايد يا طفل را بمنظور کار به مسافرت مجبور سازد به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

**منع مکلفيت طفل به ادای شهادت**

**مادۀ ٦۱۴:**

شخصی که طفل را به ادای شهادت يا اقرار مجبور سازد، به حبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

## د هغه قانوني سر پرست ته د طفل نه تسليمول

**٦۱۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د يوۀ طفل متكفل وي او د بل شخص له غوښتنې وروسته چې د محكمې د قرار يا حكم پر اساس د طفل حضانت يا حفاظت هغۀ ته انتقال شوی، طفل هغۀ ته تسليم نكړي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جـزا، محكومېږي،كه څه هم چـې متكفـل شخص د طفل يوله والدينو يا جـدينو څخه وي.

(۲) كه چېرې يوله والدينو يا جـدينو څخه خپل صغير اولاد يا لمسی پخپله يا د بل په واسطه له هغۀ شخص څخه چې د محكمې په حكم د طفل حضانت يـا حفاظت هغۀ ته سپارل شوی واخلي ددې مادې په (۱) فقره كې په درج شـوې جزا، محكومېږي،كه څه هم چې پرته له حيلې اواكراه څخه وي.

## عدم تسليمی طفل به سرپرسـت قانونی وی

**مادۀ ٦۱۵:**

(۱) شخصـی كـه متكفـل طفلـی بوده و بعد از مطالبه شخص ديگـری كه به اساس قرار يا حكـم محكمـه حضانت يـا حفاظـت طفـل بـه او انتـقال يافتـه، طفـل را بـه وی تسليم نكند، به حبس قصـير يـا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محكوم می گردد.گـر چـه شخص متكفل يكی از والدين يا جدين طفل باشد.

(۲) هرگاه يكی از والدين يا جـدين اولاد صغير يا نواسه خود را خود او يا توسط ديگری از شخصی كه به حكم محكمه حضانت يا حفاظـت طفـل به او سپرده شده، بگيرد بـه جـزای مندرج فقرۀ (۱) اين مـاده محكـوم می گردد، گر چه بدون حيله و اكراه باشد.

## له خطر سره د طفل مخامخ کول

**٦۱٦ ماده:**

(۱) هغه شخص چې خپله یا د بل شخص په واسطه د طفل ژوند له خطر سره مخامخ کړي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تریو سلو شلوزرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې طفل ګدایی ته مجبور کړي، پدې قانون کې درج د انسان د قاچاق د فصل په غیر احوالو کې په قصیر حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په(۱ او۲) فقرو کې درج شوي اعمال د طفل د قانوني ممثل په واسطه ارتکاب شي، پدې ماده کې د درج مجازاتو په اکثرحد محکومېږي.

## له تغذيي څخه د طفل محرومول

**٦۱۷ ماده:**

هغه شخص چې طفل له تغذیې یاپرستارۍ څخه چې د هغهٔ د حالت مقتضي ده عمداً محروم کړي او په پایله کې د طفل

## به خطر مواجه نمودن طفل

**مادهٔ ٦۱٦:**

(۱) شخصی که خود وی یا توسط شخص دیگری حیات طفل را به خطر مواجه گرداند، به حبس متوسط تا دوسال یا جزای نقدی از شصت هزار، تا یک صد و بیست هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که طفل را به گدایی مجبور سازد در غیر از احوال فصل قاچاق انسان مندرج این قانون، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه اعمال مندرج فقر ه های (۱ و۲) این ماده توسط ممثل قانونی طفل ارتکاب گردد، به حد اکثر مجازات مندرج این ماده، محکوم می گردد.

## محروم ساختن طفل از تغذیه

**مادهٔ ٦۱۷:**

شخصی که طفل را از تغذیه یا پرستاری که مقتضی حالت وی است عمداً محروم سازد و در نتیجه حیات

ژوند له خطر سره مخامخ شي، تردوه کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

**فسق، او فجور ته اجبار، تحریک یا تشویق**

**٦۱۸ ماده:**

(۱) هغه شخص چې طفل فجور یا د حرفې په توګه د فسق نیولوته تحریک، تشویق یا مجبور کړي او یا پدې هکله هغه ته آسانتیا وې برابرې کړي، په متوسط حبس چې له دریو کلونو څخه لږ نه وي محکومېږي.

(۲) که چېرې مرتکب تر درېیمې درجې پورې د مجني علیه له خپلوانو (اقاربو) څخه وي یا د خپل عمل له اجراء څخه د منفعت د ترلاسه کولو قصد ولري،په طویل حبس چې له لسو کلونو څخه زیات نه وي محکومېږي.

طفل به خطر مواجه گردد، به حبس متوسط تا دوسال، محکوم می گردد.

**اجبار، تحریک یا تشویق به فسق و فجور**

**مادۀ ٦۱۸:**

(۱) شخصی که طفل را به فجور یا اتخاذ فسق بحیث حرفه تحریک، تشویق یا مجبور نماید و یا در این مورد تسهیلاتی برای وی فراهم سازد، به حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه مرتکب از جملۀ اقارب مجنی علیه تا درجۀ سوم باشد و یا از اجرای عمل خود قصد بدست آوردن منفعت را داشته باشد، به حبس طویل که از ده سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

## دوولسم فصل
## د مسکن د حرمت هتک
## او د هغهٔ مجازات

**د مسکن د حرمت هتک**

**٦۱۹ ماده:**

يو له لاندې اعمالو څخه د مسکن د حرمت د هتک جرم ګڼل کېږي، مرتکب په قصير حبس محکومېږي:

۱- مسکون يا سکونت ته تيارځای ته يا د هغه يوهٔ له ملحقاتوته په غير قانوني توګه يا د هغه د خاوند (صاحب) له رضايت پرته، داخلېدل.

۲- د دې مادې په ۱ جزء کې درج په يوهٔ له محلاتوکې پټېدل.

۳- د دې مادې په ۱ جزء کې له درج شوو ځايونو څخه په قانوني توګه يوهٔ ته داخلېدل او د حق د خاوند له رضـايت پرته هلته پاتې کېدل.

## فصل دوازدهم
## هتک حرمت مسکن و
## مجازات آن

**هتک حرمت مسکن**

**مادهٔ ٦۱۹:**

ارتکاب يکی از اعمال ذيل جرم هتک حرمت مسکن دانسته شده، مرتکب به حبس قصير، محکوم می گردد:

۱- داخل شدن به محل مسکون يا آماده سکونت و يا به يکی از ملحقات آن به صورت غير قانونی يا بدون رضايت ساکن آن.

۲- پنهان شدن در يکی از محـلات مندرج جزء ۱ اين ماده.

۳- داخل شدن به يکی از محـلات مندرج جزء ۱ اين ماده به شکل قانونی و باقی ماندن در آن بـدون رضـايت ساکن حق.

## د مالک یا متصرف د حیازت د منع په منظور د مسکن د حرمت هتک

۶۲۰ ماده:

که چېرې د دې قانون په ۶۱۹ ماده کې درج د مسکن د حرمت د هتک جـرم، مالک یا متصرف یا ساکن د حیـازت د منع په منظور له زور څخه په اسـتفادې صورت مونـدلی وي، مرتکـب تـر دووکلونو پورې پـه متوسـط حـبس محکومېږي.

## د مسکن د حرمت دهتـک نـور حالات

۶۲۱ ماده:

(۱) که چېرې د دې قانون په ۶۱۹ ماده کې درج شوی جرم د مال ساتلو ته پـه مختص ځای او په عقار کې غیر له هغه څه نه چې پدې فصل کې ذکر شـوي ارتکاب شي. مرتکب د شپږو میاشتو په قصیر حبس یاد دېرشو زرو افغانیو پـه نغدي جزا، محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادي په (۱) فقره کې درج شوی جرم ،د دوو نفـرو پـه

## هتک حرمت مسکن بمنظور منـع حیازت مالک یا متصرف

مادۀ ۶۲۰:

هرگاه جرم هتـک حرمـت مسـکن منـدرج مـادۀ ۶۱۹ ایـن قـانون بمنظور منـع حیـازت مالـک یـا متصرف یا ساکن با اسـتفاده از زور صورت گرفته باشـد، مرتکـب بـه حبس متوسط تا دو سـال، محکـوم می گردد.

## سایر حـالات هتـک حرمـت مسکن

مادۀ ۶۲۱:

(۱) هرگاه جرم مندرج مادۀ ۶۱۹ این قانون در محل مختص خاص به حفـظ مال و در عقار غیر از آنچـه در ایـن فصل ذکر شده ارتکاب گردد، مرتکب به حبس قصیر شش ماه یا جزای نقدی سـی هـزار افغـانی، محکـوم می گردد.

(۲) هرگـاه جـرم منـدرج فقـرۀ (۱) ایـن مـاده توسـط دو نفـر

واسطه چې یوهٔ يې ظاهري يا پټه وسله حمل کړې وي يا له دوو څخه د زياتو په واسطه ارتکاب شي، مرتکبين تر دووکلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

## د مسکن د حرمت دهتک مشدده حالات

**۶۲۲ ماده:**

د مسکن د حرمت د هتک د جرم ارتکاب په یوهٔ له لاندې حالاتوکې مشدده پېژندل کېږي مرتکب، د متوسط حبس په اکثرحد محکومېږي.

۱- د لمر د پرېوتلو او ختلو تر منځ.

۲- د قفل په ماتولو يا له دېوال څخه پورته کېدل.

۳- دوسله وال شخص يا د دوو نفرو يا له هغو څخه د زياتو په واسطه.

۴- د عامه خدمتونو د مؤظف يا د هغهٔ شخص په واسطه چې ځان په كاذب صفت متصف کړي.

۵- د بل يو جرم د ارتکاب په منظور.

۶- له ارعاب او تهديد سره يو ځای.

که یکی از آن سلاح ظاهری یا پنهان حمل نموده باشد یا بیش از دو نفر ارتکاب یابد، مرتکبین به حبس متوسط تا دو سال، محکوم می گردند.

## حالات مشدده هتک حرمت مسکن

**مادهٔ ۶۲۲:**

ارتکاب جرم هتک حرمت مسکن در یکی از حالات ذیل مشدده شناخته شده مرتکب، به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد:

۱- بین غروب و طلوع آفتاب.

۲- باشکستاندن قفل یا بالا شدن از دیوار.

۳- توسط شخص مسلح یا توسط دو نفر یا بیشتر از آن.

۴- توسط مؤظف خدمات عامه یا شخصی که خود را به صفت کاذب متصف سازد.

۵- بمنظور ارتکاب جرم دیگری.

۶- توام با ارعاب و تهدید.

## دیارلسم فصل

## تهدید او د هغه مجازات

**تهدید**

**٦۲۳ ماده:**

(۱) هغه شخص چې بل یو د هغهٔ د خپل نفس یا مال په وړاندې او یا د غیر د نفس او مال په وړاندې د جنایت ارتکاب ته کتباً تهدید کړي یا تهدید د هغهٔ د شرف یا افشاء د مخلو چارو په استناد وي، په طویل حبس، محکومیږي. پدې شرط چې تهدید د یوهٔ شي له غوښتنې یا د یوهٔ فعل له اجراؤ یا د هغهٔ له اجراء څخه له ډډې کولو سره یوځای وي.

(۲) که چیرې تهدید د مرسل له نوم څخه د تش (خالي) مکتوب په واسطه وي یا د هغهٔ صادرېدل یوهٔ موجود یا موهوم سري جمعیت ته منسوب وي، مرتکب د دې مادې په (۱) فقره کې درج په عین جزا محکومیږي.

**د تهدید د جرم نور حالات**

**٦۲۴ ماده:**

(۱) هغه شخص چې بل یو د هغهٔ د

## فصل سیزدهم

## تهدید و مجازات آن

**تهدید**

**مادهٔ ٦۲۳:**

(۱) شخصی که دیگری را به ارتکاب جنایت علیه نفس یا مال خود او یا علیه نفس یا مال غیر کتباً تهدید نماید یا تهدید به استناد امور مخل شرف یا افشای آن باشد، به حبس طویل، محکوم می گردد. مشروط بر این که تهدید توأم با مطالبه یک شی یا اجرای یک فعل یا امتناع از آن باشد.

(۲) هرگاه تهدید توسط مکتوب خالی از اسم مرسل باشد یا صدور آن منسوب به یک جمعیت سری موجود یا موهوم باشد، مرتکب به عین جزای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، محکوم می گردد.

**سایر حالات جرم تهدید**

**مادهٔ ٦۲۴:**

(۱) شخصی که دیگری را به ارتکاب

خپل نفس یا مال په وړاندې یا د غیر د نفس یا مال په وړاندې یا د شرف یــا حیثیت د مخلو چارو یا د هغو د افشاء په استناد د دې قانون په ۶۲۳ ماده کې له درج په غیر حالاتو کې تهدید کړي، په قصیر حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې بل یو په خپل قول یا فعل سره یا د بل شخص په واســطه ددې مادې په (۱) فقره او ددې قانون په ۶۲۳ ماده کې له درج پــه غیــر حالاتو کې تهدید کړي، له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پــورې پــه نغدي جزا محکومېږي.

## د عامه خدمتونو د مؤظف پرعلیــه تهدید

**۶۲۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د عامه خـــدمتونو مؤظف د دندې د اجراء په سبب، تهدید کړي له پنځو زرو څخه تر لســو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) په هغه صورت کې چې د دې مادې په (۱) فقره کې درج د عامه خـــدمتونو

جنایت علیه نفس یا مال خود او یا علیه نفس یا مال غیر یا به استناد امور مخل شرف یا حیثیت یا افشای آن در غیر از حالات مندرج مادهٔ ۶۲۳ این قــانون تهدید نماید ، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که دیگری را به قول یــا فعل خود یا توسط شخص دیگری در غیر از حالات مندرج فقرهٔ (۱) ایــن ماده ومادهٔ ۶۲۳ این قــانون تهدیــد نماید، به جزای نقدی از سی هزار تــا شصــت هــزار افغــانی، محکــوم می گردد.

## تهدید علیــه مؤظــف خــدمات عامه

**مادهٔ ۶۲۵:**

(۱) شخصی که مؤظف خدمات عامه را به سبب اجرای وظیفه ، تهدید نماید به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) در صـــورتی کـــه مؤظـــف خدمات عامــهٔ منــدرج فقــرهٔ (۱)

مؤظف د عدلي او قضايي مؤظفينولـــه جملې څخه وي يا تهديـــد کېـــدونکی مجني عليه يا د جزايي قضيې شاهد وي، مرتکب ددې قانون د عدالت له تطبيـــق څخه د ممانعت په فصل کې لـــه درج شوو حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

د تهديد د جرم د تورن عدلي تعقيب

٦۲٦ ماده:

پدې فصل کې پـــه درج شـــوو تولـــو حالاتوکې د مرتکب عدلي تعقيب پدې پورې منوط دی چې تهديد د عرف لـــه نظره د منلو وړ او عملي وي.

## څوارلسم فصل

## د اسرارو افشاء او د هغو مجازات

د اسرار وافشاء

٦۲۷ ماده:

هغه شخص چې د دندې، کسب، پيشې، صنعت، فن په حکم يا د خپـــل کـــار د طبيعت په لحاظ په يوۀ سر له اســـرارو څخه، علم حاصل کړي او هغه د قانوني

اين ماده از جمله مـــؤظفين عـــدلی و قضايی باشـــد، يـــا تهديـــد شـــونده مجنی عليه يا شاهد قضيه جزايی باشد، مرتکب مطابق احکام منـــدرج فصـــل ممانعت از تطبيق عدالت اين قـــانون، مجازات می گردد.

تعقيب عدلی متهم جرم تهديد

مادۀ ٦۲٦:

در تمام حالات مندرج ايـــن فصـــل، تعقيب عدلی مرتکب منـــوط بـــر آن است که تهديد از نگاه عرف قابل قبول و عملی باشد.

## فصل چهاردهم

## افشای اسرار و مجازات آن

افشای اسرار

مادۀ ٦۲۷:

شخصی که به حکم وظيفه، کســـب، پيشه، صنعت، فن و يا به لحاظ طبيعت کار خود به سری از اسرار، علم حاصل نمايـــد و آن را در غيـــر از حـــالات

مصرحه حالا تو په غیر کې افشاء کړي یا هغه د ځان یا بل شخص په منفعت استعمال کړي، د اسرارو د افشاء د جرم مرتکب پېژندل کېږي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د فامیلي اسرارو افشاء**

**۶۲۸ ماده:**

هغه شخص چې له علني وسایلو څخه په استفادې د دې قانون په ۸۶٦ ماده کې له درج په غیر حالاتو کې د بل یوهٔ فامیلي اسرار افشاء کړي، که څه هم چې حقیقت ولري، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د غیر حرفه یي اسرارو اورېدل او افشاء**

**۶۲۹ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د بل یوهٔ مخابراتي مکالمې ته له اجازې پرته غوږ ونیسي یا هغه ثبت کړي، د لسو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.

مصرحهٔ قانونی افشاء نماید، یا آن را به منفعت خود یا شخص دیگری استعمال کند، مرتکب جرم افشای اسرار شناخته شده، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

**افشای اسرار فامیلی**

**مادهٔ ۶۲۸:**

شخصی که با استفاده از وسایل علنی اسرار فامیلی دیگری را به غیر از حالات مندرج مادهٔ ۸۶٦ این قانون، افشاء کند، گر چه حقیقت داشته باشد، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

**شنود وافشای اسرار غیر حرفه یی**

**مادهٔ ۶۲۹:**

(۱) شخصی که به مکالمهٔ مخابراتی دیگری بدون اجازه گوش دهد یا آن را ثبت نماید، به جزای نقدی ده هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هغه شخص چې هغه اسرار چې د تیلفون یا ایمېل یا فکس یا استول شوي مکتوب په واسطه یا په هره بله لاره پر هغو خبرتیا تر لاسه کړې یوۀ بل ته د ضرر د واردو لو په قصد افشاء کړي له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د اسرارو د افشاء کوونکي نه عدلي تعقیب

۶۳۰ ماده:

که چېرې د سر له افشاء څخه موخه له جنایت یا جنحې او یاد هغو له ارتکاب څخه مخنیوی وي یا د سر صاحب د هغو په افشاء اجازه ورکړې یا دا چې له هغو څخه موخه د عامه ګټو تأمین وي، مرتکب تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.

## د متضرر په شکایت تړلی عدلي تعقیب

۶۳۱ ماده:

پدې فصل کې د درج شوو جرمونو د مرتکبینو عدلي تعقیب د متضرر په

(۲) شخصی که اسراری را که توسط تیلفون یا ایمیل یا فکس یا مکتوب ارسالی یا به هر طریق دیگری به آن آگاهی حاصل کرده است به قصد وارد نمودن ضرر به دیگری افشاء کند، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

## عدم تعقیب عدلی افشاء کنندۀ اسرار

مادۀ ۶۳۰:

هرگاه هدف از افشای سر، اطلاع دادن از جنایت یا جنحه و یا جلوگیری از ارتکاب آن بوده یا صاحب سر به افشای آن اجازه داده یا این که هدف از آن تأمین منافع عامه باشد، مرتکب تحت تعقیب عدلی قرار نمی‌گیرد.

## تعقیب عدلی منوط به شکایت متضرر

مادۀ ۶۳۱:

تعقیب عدلی مرتکبین جرایم مندرج این فصل، منوط به شکایت

شکایت پورې تړلی دی.

## پنځلسم فصل

## له معاونت څخه ډډه او د هغه مجازات

**له معقول عذر پرته لــه معاونــت څخه ډډه**

**٦۳۲ ماده:**

هغه شخص چې د حریق یا بلې سترې پېښې (حادثې) د پېښېدو پروخــت د عامه خدمتونو د مؤظف د غوښتنې با وجود له معقول عذر پرته له معاونت ډډه وکړي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د وجیبې نه ترسره کول**

**٦۳۳ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د قانون په حکــم یاپه موافقې سره د یوۀ شخص په ساتنې چې د سن د صغر یا کبریا صحي یــا رواني یا عقلي حالت په سبب عــاجز وي، مکلف و پېژندل شي، له معقول

متضرر، می باشد.

## فصل پانزدهم

## امتناع از معاونت و مجازات آن

**امتناع از معاونت بــدون عــذر معقول**

**مادۀ ٦۳۲:**

شخصی که هنگام وقوع حریق یا حادثۀ بزرگ دیگری با وجود تقاضای مؤظف خــدمات عامــه بــدون عــذر معقول از معاونت امتنــاع ورزد، بــه حبس قصیر یا جزای نقدی از ســی هزار تا شصت هزار افغانی، محکــوم می گردد.

**عدم ایفای وجیبه**

**مادۀ ٦۳۳:**

(۱) شخصی که به حکم قــانون یــا موافقه به محافظت شخصی که به سبب صغر یا کبر سن یا حالت صــحی یــا روانی و یا عقلی عاجز باشد، مکلــف شناخته شود، بدون عذر معقول از ادای

عذر پرته د خپلې وجیبې له ادا څخــه ډډه یا اهمال وکړي، د قصیر حبس په اکثرحد محکومیږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي شخص ډډه کول یــا اهمال د بل جرم په پیښېدو تمام شي، مرتکب د قصیر حبس پر جزا برسېره د ارتکابي جرم په جزا، هم محکومیږي.

## شپاړسم فصل

## له خطر سره د ضعفاوو په معروضولو او د نفقې له ورکړې څخه د ډډې کولوپورې اړوند جرمونه

**د عاجز شخص حیات له خطر سره مخامخ کول**

**٦۳۴ ماده:**

(۱) لاندي اشخاص، تــر دووکلونــو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلو شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومیږي:

۱- هغه شخص چې د بل یوۀ حیــات

وجیبۀ خود امتناع یا اهــــمال ورزد، بــه حــد اکثــر حــبس قصــیر، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه امتناع یا اهمال شــخص مندرج فقرۀ (۱) این ماده منجــر بــه وقوع جرم دیگری گــردد، مرتکــب علاوه بر جزای حبس قصیر به جــزای جرم ارتکابی، نیز محکوم می گردد.

## فصل شانزدهم

## جرایم مربوط به معروض ساختن ضعفا به خطر و امتناع از پرداخت نفقه

**به خطر مواجه ســاختن حیــات شخص عاجز**

**مادۀ ٦۳۴:**

(۱) اشخاص آتی، به حبس متوسط تا دو سال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یکصد و بیست هزار افغانی، محکوم می گردند:

۱- شخصی که حیات دیگری را که

چې د صحي، رواني يا عقلي حالت په سبب د ځان له حمايت څخه عاجز وي، له خطر سره مخامخ کړي.
۲- هغه شخص چې د دې مادې په ۱ جزءکې د درج شوي شخص له تغذيې يا پرستارۍ څخه چې د هغه د حالت مقتضي دی عمداً ډډه وکړي او په پايله کې د هغهٔ حيات له خطر سره مخامخ شي.
(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اعمالو له امله د شخص جسمي يا معنوي تماميت يا حيات ته صدمه (زيان) وارد شي، مرتکب د مرتکبه جرم په مجازاتو، محکومېږي.

## د نفقې له ورکولو څخه ډډه کول

**٦۳۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د زوجې ياد ځان يا يوهٔ بل له اصولو يا فروعو څخه د يوهٔ د نفقې په اداءکولو يا د حضانت يا رضاعت يا سکوت د اجرت په اداء کولو محکوم او دحکم له ابلاغ

به سبب حالت صحی روانی يا عقلی از حمايت خود عاجز باشد به خطر مواجه گرداند.
۲- شخصی که از تغذيه يا پرستاری شخص مندرج جزء ۱ اين ماده که مقتضی حالت او است عمداً امتناع ورزد و در نتيجه حيات او به خطر مواجه گردد.
(۲) هرگاه از اثر اعمال مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده به تماميت جسمی يا معنوی يا حيات شخص صدمه وارد شود، مرتکب به مجازات جرم مرتکبه محکوم می‌گردد.

## امتناع از تأديهٔ نفقه

**مادهٔ ٦۳۵:**

(۱) شخصی که به ادای نفقه زوجه يا يکی از اصول يا فروع خود يا ديگری، يا به ادای اجرت حضانت يا رضاعت يا سکونت محکوم و تا مدت يکماه بعد از ابلاغ

وروسته تريوې مياشتې پورې د هغو په اداء کولو د قدرت باوجود د هغو لــه ورکړې ځخه ډډه وکړي، پــه قصــير حبس يا له دېرشو زروڅخه ترشپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کــې د درج شوي جرم دعوي ته رســيدگي د شاکې په شکايت پورې منوطه ده.

(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې پــه درج شوي حالــت کــې، دعــوي د مصلحت او شکايت دخاوند د انصراف له امله يا د يوهٔ شي په اداء سره چې د شکايت د لوري شخص په ذمه بــاقي پاتې دی منقضي کېږي اوکــه چېــرې انصراف يا اداء په دعوي کې د حکم له صادرېدو وروسته صورت ومــومي، د جزا تطبيق درول کېږي.

حکم با وجود قدرت بــه اداى آن از تأديــه امتنــاع ورزد، بــه حــبس قصير يا جزاى نقدى از سى هزار تــا شصــت هــزار افغــانى، محکــوم مى گردد.

(۲) رسيدگى به دعواى جرم منــدرج فقرهٔ (۱) اين ماده منوط به شــکايت شاکى مى باشد.

(۳) در حالــت منــدرج فقــرهٔ (۱) اين ماده، دعوى بــه اثــر انصــراف صاحب مصلحت و شکايت يا به اداى چيزى که به ذمه شخص طرف شکايت باقى مانــده منقضــى مــى گــردد و اگــر انصــراف يــا اداء بعــد از صدور حکــم در دعــوى صــورت بگيــرد، تطبيــق جــزا متوقـــف مى گردد.

# اتم باب

# د عفت او عمومي اخلاقو په وړاندې جرمونه

## لومړی فصل

## جنسي تیری او د هغه مجازات

**جنسي تیری**

**٦۳٦ ماده:**

(۱) هغه شخص چې په جبر یا د ارعاب آمیزو یا تهدید د نورو وسایلو یا د مجني علیه له جسمي یا رواني ناتوانۍ څخه په استفادې یا په ناتوانۍ سره د مجني علیه اعم له ښځې یا نارینه د رضـایت پـه څرګندولو یا پر هغهٔ دبې هوشه کوونکو در ملو د خوړلو یا د عقل په زایلوونکو نورو وسایلو سره د جنسي مقاربت عمل تر سره کړي یا دبدن غړي یا نور شیان د هغه په قبل یا دبرکې دننه کړي، د جنسي تیري مرتکب پېژندل کېږي.

(۲) که چېرې د جنسي تیري په جـرم کې د حد د جزا د تطبیق شرایط موجود نشي یا د شبهې په علت او یا له نـورو

# باب هشتم

# جرایم علیه عفت واخلاق عمومی

## فصل اول

## تجاوز جنسی و مجازات آن

**تجاوز جنسی**

**مادهٔ ٦۳٦:**

(۱) شخصی که با جبر یا سایر وسایل ارعاب آمیز یا تهدید یا با اسـتفاده از ناتوانی جسمی یا روانی مجنی علیه یا ناتوانی ابراز رضایت مجنی علیه اعم از زن یـا مـرد یـا خورانیـدن دوای بیهوش کننده یا سایر وسایل زایل کنندهٔ عقل به وی، عمل مقاربت جنسـی را انجام دهد یا اعضای بدن یا اشـیایی دیگر را در قبل یا دبر وی داخل نماید، مرتکـب تجـاوز جنسـی شـناخته می شود.

(۲) هرگاه در جرم تجـاوز جنسـی شرایط تطبیق جزای حد موجود نگردد یا به علت شبهه و یا یکی از اسـباب

سببونو څخه په يوه حد ساقط شي، مرتکب ددې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

د جنسي تيري مجازات

۶۳۷ ماده:

د جنسي تيري د جرم مرتکب په طويل حبس، محکومېږي.

د طفل د رضايت نه اعتبار

۶۳۸ ماده:

که چېرې يونارينه (سړی) له قانوني سن کښته شخص سره جنسي مقاربت تر سره کړي، د هغه عمل جنسي تيري پېژندل کېږي او د مجني عليه رضايت د اعتبار وړندی.

د جنسي تيري په جرم کې مشدده حالات

۶۳۹ ماده:

(۱) د جنسي تيري د جرم ارتکاب په لاندې حالاتو کې مشدده پېژندل کېږي، مرتکب د ۲درجې دوام حبس په مجازاتو محکومېږي:

۱- مجني عليه طفل وي.

ديگر حد ساقط گردد، مرتکب مطابق احکام اين فصل، مجازات می گردد.

مجازات تجاوز جنسی

مادۀ ۶۳۷:

مرتکب جرم تجاوز جنسی به حبس طويل، محکوم می‌گردد.

عدم اعتبار رضايت طفل

مادۀ ۶۳۸:

هرگاه مردی با شخص زير سن قانونی مقاربت جنسی را انجام دهد، عمل وی تجاوز جنسی شناخته شده و رضايت مجنی عليه قابل اعتبار نمی باشد.

حالات مشدده درجرم تجاوز جنسی

مادۀ ۶۳۹:

(۱) ارتکاب جرم تجاوز جنسی در حالات ذيل مشدده شناخته شده، مرتکب به مجازات حبس دوام درجه۲، محکوم می‌گردد:

۱- مجنی عليه طفل باشد.

۲- مرتکب، د جنسي عمل په ارتکاب سره د جنین د سقط لامل شوی وي.
۳- مرتکب په یو ډول پر مجني علیه نفود او اختیار لرلی وي.
۴- مجني علیه د جنسي تیري د عمل له امله حامله شوې وي.
۵- د جنسي تیري عمل دتپي کېدو یا مجني علیه ته د شدیدې روحي صدمې د رامنځته کېدو سبب شوی وي.
٦- د تجاوز عمل د جنسي مقاربت په ناروغیو تمام شوی وي.
۷- مجني علیه د متجاوز د دایمي یا مؤقتي محارمو له جملې څخه وي.
(۲) که چېرې د جنسي تیري په پایله کې مجني علیه ومري، مرتکب په اعدام محکومېږي.

## د ښځې پر عفت اوناموس تیري

۶۴۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې د ښځې پر عفت او ناموس د تیري مرتکب شي، خو د هغه تجاوز په قبل یا دبرکې په داخلېدو تمام نشي بلکه په تفخیذ، مساحقې یا جنسي

۲- مرتکب، با ارتکاب عمل جنسی باعث اسقاط جنین شده باشد.
۳- مرتکب به نحوی بالای مجنی علیه نفوذ و اختیار داشته باشد.
۴- مجنی علیه به اثر عمل تجاوز جنسی حامله شده باشد.
۵- عمل تجاوز جنسی سبب ایجاد مجروحیت یا صدمه شدید روحی به مجنی علیه گردیده باشد.
٦- عمل تجاوز جنسی منجر به امراض مقاربت جنسی گردیده باشد.
۷- مجنی علیه از جمله محارم دایمی یا مؤقتی متجاوز باشد.
(۲) هرگاه در نتیجهٔ تجاوز جنسی مجنی علیه فوت نماید، مرتکب به اعدام، محکوم می‌گردد.

## تجاوز به عفت و ناموس زن

مادهٔ ۶۴۰:

(۱) شخصی که مرتکب تجاوز به عفت و ناموس زن گردد، ولی تجاوز وی منجر به دخول در قُبل یا دُبر نگردد بلکه منجر به تفخیذ، مساحقه یا

تماس تمام شي، تر اووکلونو پورې پــه طویل حبس محکومېږي.

(۲) د ښځې له رضایت یـــا دواکمنـــې محکمې له حکم پرته د بکارت د پردې د عدلي طبي کتنو (معاینا تو) د اجـــراء امر ممنوع دی، مرتکب په قصیر حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوی عمل له زور، تهدید یـــا ارعاب څخه په استفادې تر سره شـــي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

## په ډله ییز ډول جنسي تیري

**٦۴۱ ماده:**

که چېرې پر مجني علیه جنسي تیري له یوهٔ نفر څخه دزیاتو په واسطه ارتکـــاب شي، له مرتکبینو څخه هر یو ددې قانون د ۱۷۰ مـــادې پـــه ۴ او۵ اجـــزاوو کې د درج شوو حکمونو پـــه رعایـــت سره، له احوالو سره سم په اعـــدام یـــا ۱درجه دوام حبس محکومېږي.

تماس جنسی گردد، به حبس طویل تا هفت سال، محکوم می گردد.

(۲) امر اجرای معاینات عدلی طبـــی پردهٔ بکارت بدون رضایت زن یا حکم محکمه ای ذیصلاح ممنـــوع بـــوده، مرتکب به حـــبس قصـــیر، محکـــوم می گردد.

(۳) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۲) این ماده با استفاده از زور، تهدید یا ارعاب انجام داده شود، مرتکب بـــه حـــبس متوسط، محکوم می گردد.

## تجاوز جنسی به شکل گروهی

**مادهٔ ٦۴۱:**

هرگـــاه تجـــاوز جنســـی بـــالای مجنـــی علیـــه توســـط بـــیش از یک نفر ارتکـــاب یابـــد، هریـــک از مرتکبین با رعایت احکـــام منـــدرج اجزای ۴ و ۵ مادهٔ ۱۷۰ این قـــانون حسب احوال به اعدام یا حـــبس دوام درجه۱ محکوم می‌گردند.

**د جنسي تيري د مجني عليه نه عدلي تعقيب**

**٦۴۲ ماده:**

ددې قانون د ٦۳۷ مادې، د ۳۳۹ مادې (۱) فقره، ٦۴۰او ٦۴۱ مادو په درج شوو احوالو کې مجني عليه تر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي.

## دوه يم فصل

## زنا او د هغې مجازات

**زنا**

**٦۴۳ ماده:**

(۱) زنا د هغې ښځې او نارينه (سړي) ترمنځ له جنسي مقاربت څخه عبارت ده چې د هغوی ترمنځ د زوجيت رابطه موجوده نه وي.

(۲) که چېرې د زنا په جرم کې د حد د جزا شرايط موجود نشي يا د شبهې يا له نورو اسبابو څخه د يوهٔ په علت، د زنا حد ساقط شي، شخص تعزيراً ددې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

**عدم تعقيب عدلی مجنی عليه تجاوز جنسی**

**مادهٔ ٦۴۲:**

در احوال مندرج مادهٔ ٦۳۷، فقرهٔ (۱) مادهٔ ٦۳۹، مواد ٦۴۰ و ٦۴۱ این قانون، مجنی عليه مورد تعقيب عدلی، قرار نمی گيرد.

## فصل دوم

## زنا و مجازات آن

**زنا**

**مادهٔ ٦۴۳:**

(۱) زنا عبارت از مقاربت جنسی زن و مردی است که بين آنها رابطه زوجيت موجود نباشد.

(۲) هرگاه در جرم زنا شرايط تطبيق جزای حد موجود نگردد يا به علت شبهه و يا يکی از اسباب ديگر، حد زنا ساقط گردد، شخص تعزيراً مطابق احکام اين فصل، مجازات می گردد.

## د زنا د حد د سقوط په حالت کې د مرتکب مجازات

**٦۴۴ ماده:**

(۱) د تعزيري زنا په حالت کې، شخص په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې متاهل وي، له دووکلونو څخه زيات ،په متوسط حبس.

۲- په هغهٔ صورت کې چې متاهل نه وي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس.

(۲) که چېرې ددې مادې د (۱) فقرې په ۱ او۲ اجزاووکې درج شوي اشخاص د يوه او بل د دايمي يا مؤقتي محرماتو يا مربي، معلم يا آمر وي يا په يو ډول نه يو ډول يو پر بل نفوذ او اختيار ولري، تر اووکلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

## مساحقه يا تفخيذ

**٦۴۵ ماده:**

هغه شخص چې له يو او بل سره د مساحقې يا تفخيذ د عمل مرتکب شي،

## مجازات مرتکب در حالت سقوط حد زنا

**مادهٔ ٦۴۴:**

(۱) در حالت زنای تعزيری، شخص قرار ذيل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که متاهل باشد به حبس متوسط بيش از دو سال.

۲- در صورتی که متاهل نباشد، به حبس متوسط تا دو سال.

(۲) هرگاه اشخاص مندرج اجزای ۱ و۲ فقرهٔ (۱) اين ماده از جملهٔ محرمات دايمی يا مؤقتی يا مربی، معلم يا آمر يکديگر بوده يا به نحوی از انحا بالای يکديگر نفوذ و اختيار داشته باشند، به حبس طويل تا هفت سال، محکوم می‌گردند.

## مساحقه يا تفخيذ

**مادهٔ ٦۴۵:**

شخصی که با ديگری مرتکب عمل مساحقه يا تفخيذ گردد، هريک از

له مرتكبينو څخه هر يو په قصير حبس محكومېږي.

## دريیم فصل

## لواط او د هغهٔ مجازات

**دلواط جرم**

**٦۴٦ ماده:**

(۱) هغه شخص چې له ښځې يا له بل نارينه سره لواط وكړي، ددې فصل له حكمونو سره سم، مجازات كېږي.

(۲) ددې مادې په مقصد، لواط د ښځې يا بل نارينه په دبركې د نارينه د تناسلي اندام په داخلېدو سره په هره اندازه چې وي محقق كېږي.

**د لواط مجازات**

**٦۴۷ ماده:**

د لواط د جرم مرتكبين، تر دووكلونو پورې په متوسط حبس محكومېږي.

**د لواط په جرم كې مشدده حالات**

**٦۴۸ ماده:**

د لواط د فعل ارتكاب په لاندې حالاتو كې مشدده پېژندل كېږي، مرتكب له

مرتكبين به حبس قصير، محكوم می گردند.

## فصل سوم

## لواط و مجازات آن

**جرم لواط**

**مادهٔ ٦۴٦:**

(۱) شخصی كه با زن يا با مرد ديگری لواطت نمايد، مطابق احكام اين فصل مجازات می گردد.

(۲) به مقصد اين ماده، لواط با دخول اندام تناسلی مرد در دُبُر زن يا مرد ديگری به هر اندازه ای كه باشد محقق می شود.

**مجازات لواط**

**مادهٔ ٦۴۷:**

مرتكبين جرم لواط، به حبس متوسط تا دوسال، محكوم می گردند.

**حالات مشدده در جرم لواط**

**مادهٔ ٦۴۸:**

ارتكاب فعل لواط در حالات ذيل مشدده شناخته شده مرتكب به حبس

دووکلونو څخه زيات، په متوسط حبس محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د لواط د جرم مرتکب د دايمي يا مؤقتي محارمو له جملې څخه وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې مرتکب مربي، معلم يا آمر وي يا په يوهٔ ډول نه يوډول پر مفعول باندې نفوذ او اختيار ولري.

۳- په هغهٔ صورت کې چې له مرتکبينو څخه يو د مرض د کتمان په سبب دلواط د جرم د ارتکاب په پايله کې د جنسي مقاربت په مرضونو اخته شوی وي.

**تفخيذ**

**٦۴۹ ماده:**

که چېرې يونارينه له بل نارينه سره د تفخيذ د عمل مرتکب شي، په قصير حبس محکومېږي.

متوسط بيش از دوسال، محکوم می‌گردد:

۱- در صورتی که مرتکب جرم لواط از جمله محارم دايمی يا مؤقتی باشد.

۲- در صورتی که مرتکب مربی يا معلم يا آمر بوده يا به نحوی از انحا بالای مفعول نفوذ و اختيار داشته باشد.

۳- در صورتی که يکی از مرتکبين به سبب کتمان مرض در نتيجه ارتکاب جرم لواط به امراض مقاربت جنسی مبتلا شده باشد.

**تفخيذ**

**مادهٔ ٦۴۹:**

هرگاه مردی با مرد ديگری مرتکب عمل تفخيذ گردند، به حبس قصير محکوم می گردند.

## څلورم فصل

## قوادي او د هغهٔ مجازات

**قوادي**

**٦٥۰ ماده:**

(۱) قوادي د زنا يا لــواط د فعــل د ارتکاب لپاره د وساطت يا پدې منظور د ځای (مکان) د برابرولو لــه لارې د دوو يا څو نفرو يو بل ته له رسولو څخه عبارت ده.

د قوادي په جرم کې، د عمل تکــرار شرط ندی.

(۲) د قوادي د جرم مرتکــب، ددې فصل له حکمونو سره سم، مجــازات کيږي.

**د قوادي مجازات**

**٦٥۱ ماده:**

هغه شخص چــې د قــوادي د جــرم مرتکب شي، تردوو کلونو پورې پــه متوسط حبس محکوميږي.

## فصل چهارم

## قوادی و مجازات آن

**قوادی**

**مادهٔ ٦٥۰:**

(۱) قوادی عبارت از به هم رساندن دو يا چند نفــر بــرای ارتکــاب فعــل زنا يا لواط از طريق وساطت يا فراهم نمــودن مکــان بــه ايــن منظــور می باشد.

در جرم قوادی، تکرار عمــل شــرط نيست.

(۲) مرتکب جــرم قــوادی مطــابق احکــام ايــن فصــل، مجــازات می گردد.

**مجازات قوادی**

**مادهٔ ٦٥۱:**

شخصی که مرتکب جرم قوادی گردد، به حبس متوسط تا دوسال، محکــوم می گردد.

**د قوادي د جرم مشدده حالات**

**٦۵۲ ماده:**

که چېرې مجني عليه طفل وي، مرتکب په دې باب کې درج د جنسي تجاوز د فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

## پنځم فصل

## اخلاقي انحرافاتو ته د طفل سوقول

**بچه بازي**

**٦۵۳ ماده:**

هغه شخص چې مذکر يا مخنث طفل د جنسي خوند اخيستنې يا په عام يا خصوصي محفل کې د نڅولو په منظور وساتي يا پدې فصل کې له درج شوو اعمالو څخه يو ترسره کړي، د بچه بازۍ د جرم مرتکب پېژندل کېږي ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

**حالات مشدده جرم قوادی**

**مادهٔ ٦۵۲:**

هرگاه مجنی علیه طفل باشد مرتکب مطابق احکام فصل تجاوز جنسی مندرج این باب مجازات، می گردد.

## فصل پنجم

## سوق دادن طفل به انحرافات اخلاقی

**بچه بازی**

**مادهٔ ٦۵۳:**

شخصی که طفل مذکر یا مخنث را بمنظور لذت بردن جنسی یا رقصانیدن در محفل عام یا خصوصی نگهداری نماید، یا یکی از اعمال مندرج این فصل را انجام دهد، مرتکب جرم بچه بازی شناخته شده مطابق احکام این فصل، مجازات می گردد.

**د نڅولو په منظور د طفل د ساتلو مجازات**

**٦۵۴ ماده:**

هغه شخص چې مذکر یا مخنث طفل د جنسي خوند اخیستنې یا نڅولو په منظور، وساتي، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي.

**د نڅا د زده کړې په منظور د طفل د ساتلو مجازات**

**٦۵۵ماده:**

هغه شخص چې مذکر یا مخنث طفل ته د بچه بازۍ په منظور د نڅا زده کړه ورکړي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

**د طفل نڅول**

**٦۵٦ ماده:**

(۱) هغه شخص چې مذکر یا مخنث طفل د استثمار په قصد په عامو یا خصوصي محفلونو کې ونڅوي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج

**مجازات نگهداری طفل بمنظور رقصانیدن**

**مادهٔ ٦۵۴:**

شخصی که طفل مذکر یا مخنث را بمنظور لذت بردن جنسی یا رقصانیدن، نگهداری نماید، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می‌گردد.

**مجازات نگهداری طفل بمنظور آموزش رقص**

**مادهٔ ٦۵۵:**

شخصی که طفل مذکر یا مخنث را بمنظور بچه بازی آموزش رقص دهد، به حبس متوسط تا دوسال، محکوم می گردد.

**رقصانیدن طفل**

**مادهٔ ٦۵٦:**

(۱) شخصی که طفل مذکر یا مخنث را به قصد استثمار در محافل عام یا خصوصی برقصاند، به حبس متوسط بیش از سه سال، محکوم می‌گردد.

(۲) متکرر جرم مندرج فقرهٔ (۱) این

شوي جرم متکرر، د متوسط حبس پــه اکثر حد محکومېږي.

## د بچه بازۍ د محفل جوړول

**٦٥٧ ماده:**

هغه شخص چې د بچه بازۍ په منظور محفل جوړ کړي يا آګاهانه ددې عمل د ارتکاب لپاره زمينه برابره کــړي، د دريو مياشتو په قصير حبس او د تکرار په صورت کې د قصير حبس په اکثــر حد محکومېږي.

## د بچه بازۍ په محفل کې ګډون

**٦٥٨ ماده:**

(۱) هغه شخص چې آګاهانه په هغــهٔ محفل کې چې د بچه بازۍ په منظـــور ځانګړی شوی وي، ګډون وکړي، له پنځه زرو څخه تر دېرشو زرو افغـــانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې شخص ددې مادې پــه (۱) فقره کې درج شوی جرم په متکرر ډول سره مرتکب شي، په قصير حبس محکومېږي.

ماده، به حد اکثر حــبس متوســط، محکوم می گردد.

## برگزاری محفل بچه بازی

**مادهٔ ٦٥٧:**

شخصی که محفلی را بمنظـــور بچــه بازی برگزار نماید یا آگاهانه زمينه را برای ارتکاب اين عمل فراهم ســازد، به حبس قصير سه ماه و در صــورت تکرار به حد اکثر حبس قصير، محکوم می‌گردد.

## شرکت در محفل بچه بازی

**مادهٔ ٦٥٨:**

(۱) شخصی که آگاهانه در محفلی که بمنظور بچه بازی اختصاص يافته باشد، اشتراک نماید، به جزای نقدی از پنج هزار تا سی هزار افغـــانی، محکـــوم می گردد.

(۲) هرگاه شخصی جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده را به صـــورت متکـــرر مرتکب گردد، به حبس قصير محکوم می گردد.

**د اجباري اعتیاد مجازات**

**۶۵۹ ماده:**

که چېرې پدې فصل کې د درج شوو جرمونو ارتکاب په مخدرو یا مسکرو موادو د طفل په اعتیاد تمام شوی وي، مرتکب د مرتکبه جرم پر مجازاتو برسېره، پدې قانون کې درج د اجباري اعتیـاد د جـرم پـه مجـازاتو هـم محکومېږي.

**د نظامي ځواکونو د منسوب پـه واسطه د بچه بازۍ د جرم ارتکاب**

**۶۶۰ ماده:**

که چېرې پدې فصل کې درج شـوي جرمونه، د نظامي ځواکونو د منسوب په واسطه ارتکاب شي، مرتکـب پـه متوسط حبس محکومېږي.

**د جرم له ارتکاب څخه نه مخنیوی**

**۶۶۱ ماده:**

که چېرې د نظامي ځواکونو منسوب تر خپل امرلاندې اشخاصو په واسـطه د بچه بازۍ د جرم له ارتکـاب څخـه خبرتیا ولري، د هغهٔ له ارتکاب څخـه

**مجازات اعتیاد اجباری**

**مادهٔ ۶۵۹:**

هرگـاه ارتکـاب جـرایم منـدرج این فصل منجـر بـه اعتیـاد طفـل به مواد مخدر یا مسکر شده باشـد، مرتکـب عـلاوه بـر مجـازات جرم مرتکبه، به مجازات جرم اعتیـاد اجباری مندرج این قانون، نیز محکوم می گردد.

**ارتکاب جرم بچه بـازی توسـط منسوب نیرو های نظامی**

**مادهٔ ۶۶۰:**

هرگاه جرایم مندرج این فصل، توسط منسوب نیرو های نظامی ارتکاب یابد، مرتکب به حبس متوسـط، محکـوم می گردد.

**عدم جلوگیری از ارتکاب جرم**

**مادهٔ ۶۶۱:**

هرگاه منسوب نیرو های نظامی که از ارتکاب جرم بچه بازی توسط اشخاص تحت امر خود آگاهی داشته باشد، از ارتکـاب آن قصـداً جلـوگیری

قصداً مخنیوی ونکړي یا د خپل واک (صلاحیت) په حدودو کې د هغهٔ لــه ارتکاب څخه د مخنیــوي لپــاره لازم اقدامات تر سره نکړي، د قصیر حبس د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

**د بچه بازۍ په منظور د طفل پېر یا پلور**

**٦٦۲ ماده:**

که چېرې شخص یو طفل پدې فصـــل کې له درج شوو جرمونو څخه د یوهٔ د ارتکاب په منظور و پلوري یایې وپېري، د انسان د قاچاق په فصل کې په درج شوو مجازاتو محکومېږي.

**پر طفل باندې جنسي تجاوز**

**٦٦۳ ماده:**

(۱) که چېرې پدې فصل کــې د درج شوو جرمونو ارتکاب پر طفل باندې په جنسي تجاوز تمام شي، مرتکب ددې قانون په ٦۳۹ ماده کې پر درج شوو مجازاتو برسېره، د بچه بازۍ د جرم په مجازاتو هم محکومېږي.

(۲) که چېرې بچه بازي په تفخیذ یــا

ننماید یا اقدامات لازم را، در حـــدود صلاحیت خود، بــرای جلــوگیری از ارتکـــاب آن انجـــام ندهـــد، بـــه حد اکثر مجازات حبس قصیر، محکوم می گردد.

**خرید یا فروش طفل بمنظور بچـــه بازی**

**مادهٔ ٦٦۲:**

هرگاه شخصی طفل را بمنظور ارتکاب یکی از جرایم مندرج این فصـــل بـــه فروش برساند یا خریداری کنـــد، بـــه مجازات مندرج فصل قاچاق انســـان، محکوم می گردد.

**تجاوز جنسی بر طفل**

**مادهٔ ٦٦۳:**

(۱) هرگاه ارتکاب جرایم مندرج این فصل منجر به تجاوز جنسی بر طفـــل گردد، مرتکب علاوه بـــر مجـــازات مندرج مادهٔ ٦۳۹ این قـــانون، بـــه مجازات جرم بچه بازی، نیز محکـــوم می گردد.

(۲) هرگاه بچه بازی منجر به تفخیذ یا

مساحقې تمامه شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

## جنسي ځورونه او اذيت

**٦٦۴ ماده:**

که چېرې بچه بازي لـــه تفخيـــذ يـــا مساحقې پرته د طفل په نورې جنســـي ځورونې او اذيت تمام شي، مرتکب د بچه بازۍ د جرم پر مجازاتو برسېره، د مرتکبه جرم په مجازاتو هم محکومېږي.

## د مجني عليه د هويت ضبط او ثبت

**٦٦۵ ماده:**

(۱) که چېرې يو شخص پدې فصل کې د درج شوو جرمونو د مجنـــي عليـــه هويت، تصوير، فلم يا حالت ضبط يـــا ثبت کړي، په قصير حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې يو شخص پدې فصل کې د درج شوو جرمونو د مجنـــي عليـــه هويت، تصوير، فلم يا حالـــت خپـــور (نشر) يا افشاء کړي، تر دوو کلونـــو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شوو اعمالو له ارتکاب

مساحقه گردد، مرتکب بـــه حـــداکثر حبس متوسط محکوم می گردد.

## آزار و اذيت جنسی

**مادۀ ٦٦۴:**

هرگاه بچه بازی منجر به آزار و اذيت جنسی طفل غير از تفخيذ يا مســـاحقه گردد، مرتکب علاوه بر مجازات جرم بچه بازی، به مجازات جرم مرتکبـــه، نيز محکوم می گردد.

## ضبط وثبت هويت مجنی عليه

**مادۀ ٦٦۵:**

(۱) هرگاه شخصی هويت، تصوير، فلم يا حالت مجنی عليه جـــرايم منـــدرج اين فصل را ضبط يا ثبت نمايـــد، بـــه حبس قصير، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخصی هويت، تصوير، فلم يا حالت مجنی عليه جـــرايم منـــدرج اين فصل را نشر يا افشـــاء نمايـــد، به حبس متوسط تا دو سال، محکـــوم می گردد.

(۳) هرگـــاه هـــدف از ارتکـــاب اعمال مندرج فقره های (۱ و۲) ايـــن

ځخه موخه د منفعت تر لاسه کول یا د نامشروع عمل اجــراء تــه دطفــل مجبورول وي، مرتکب له اوو کلونــو ځخه زيات په طويل حبس محکومېږي.

## مشدده حالات

**٦٦٦ ماده:**

د بچه بازۍ د جرم ارتکاب په لانــدې حالاتو کې مشدده پېژنــدل کېــږي، مرتکب د ارتکابي جرم د مجازاتو پــه اکثر حد، محکومېږي:

۱- په هغه حالت کې چې مرتکب لــه يوۀ طفل ځخه زيات وساتي.

۲- په هغۀ حالت کې چې قرباني ۱۲ کلني بشپړه کړې نه وي.

۳- په هغۀ حالت کې چې پدې فصــل کې درج شوي جرمونه، د طفــل لــه اقتصادي ضعف ځخه په ګټې اخيستنې ارتکاب شوي وي.

۴- په هغۀ حالت کې چــې جــرم د اقاربو یا هر هغۀ شخص په واسطه چې پر طفل باندې قانوني تســلط ولــري، ارتکاب شي.

ماده، کســب منفعــت يــا مجبــور ساختن طفل به اجرای عمل نامشروع باشد، مرتکــب بــه حــبس طويــل بيش از هفت سال، محکوم می گردد.

## احوال مشدده

**مادۀ ٦٦٦:**

ارتکاب جرم بچه بازی در حالات ذيل مشدده شناخته شده، مرتکب به حــد اکثر مجازات جرم ارتکابی، محکــوم می‌گردد:

۱- در حالتی که مرتکب بيشتر از يک طفل را نگهداری نمايد.

۲- در حالتی که قربانی ۱۲ سالگی را تکميل نکرده باشد.

۳- در حالتی کــه جــرايم منــدرج اين فصــل بــا اســتفاده از ضــعف اقتصــادی طفــل ارتکــاب يافتــه باشد.

۴- در حــالتی کــه جــرم توســط اقارب يا هر شخصی که بالای طفــل تسلط قانونی داشته باشــد، ارتکــاب يابد.

۵- په هغهٔ حالت کې چې جرم له وظيفوي واک څخه په ګټې اخيستنې ارتکاب شوی وي.

٦- په هغهٔ صورت کې چې جرم طفل ته د جسمي يا رواني ضرر موجب شوی وي.

**عدلي نه تعقيب**

**٦٦٧ ماده:**

پدې فصل کې په درج شوو ټولو حالاتو کې، مجني عليه تر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي.

## شپږم فصل

## د ښځې او طفل ځورول او اذيت

**ځورول او اذيت**

**٦٦٨ ماده:**

هغه شخص چې د وينا (ګفتار)، حرکاتو، ليکنې يا نا مشروعو غوښتنو په وسيله د ښځې يا طفل شخصيت او کرامت ته د صدمې موجب يا د ښځې يا طفل د وېرې او نا امنۍ يا رواني

۵- در حالتی که جرم با استفاده از صلاحيت وظيفوی ارتکاب يافته باشد.

٦- در صورتی که جرم موجب ضرر جسمي يا روانی به طفل گرديده باشد.

**عدم تعقيب عدلی**

**مادهٔ ٦٦٧:**

در تمام احوال مندرج اين فصل، مجنی عليه مورد تعقيب عدلی قرار نمی گيرد.

## فصل ششم

## آزار و اذيت زن و طفل

**آزار و اذيت**

**مادهٔ ٦٦٨:**

شخصی که به وسيله گفتار، حرکات، نوشته، يا خواسته های نا مشروع موجب صدمه به شخصيت وکرامت زن يا طفل يا سبب ترس و نا امنی يا فشارهای روانی يا کاهش مشارکت

فشارونو یا د ټولنیز مشارکت د راټیټېدو سبب شي، د ښځې د ځورونې او اذیت د جرم مرتکب پېژندل کېږي، ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

**په عامه محلاتو (ځایونو)کې دښځې یا طفل د ځورونې او اذیت مجازات**

**۶۶۹ ماده:**

هغه شخص چې په عامه محلاتو، عمومي نقلیه وسایلو او یا بل هر ځای کې د ښځې یا طفل د ځورونې او اذیت مرتکب شي، له پنځه زرو څخه تر لسو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د کار په ځای (محل) کې د ښځې یا طفل د ځورونې او اذیت مجازات**

**۶۷۰ ماده:**

هغه شخص چې د کار په ځای، تعلیمي او تحصیلي مرکزونو یا روغتیایي مرکزونو کې د ښځې یا طفل د ځورونې

اجتماعی زن یا طفل گردد، مرتکب جرم آزار و اذیت زن و طفل شناخته شده، مطابق احکام این فصل، مجازات می گردد.

**مجازات آزار و اذیت زن یا طفل در محلات عامه**

**مادۀ ۶۶۹:**

شخصی که مرتکب آزار و اذیت زن یا طفل در محلات عامه، وسایل نقلیۀ عمومی و یا هر محل دیگری گردد، به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی، محکوم می گردد.

**مجازات آزار و اذیت زن یا طفل در محل کار**

**مادۀ ۶۷۰:**

شخصی که مرتکب آزار و اذیت زن یا طفل در محل کار، مراکز تعلیمی و تحصیلی یا مراکز صحی

او اذیت مرتکب شي، له لسو زرو څخه تر شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومیږي.

**مشدده حالات**

**٦۷۱ ماده:**

د ښځې یا طفل ځورول او اذیت لــه لاندې حالاتو څخه په یوهٔ کې مشدده پېژندل کیږي، مرتکب د شپږو میاشتو په قصیر حبس محکومیږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چــې جــرم د استاذ، مربي، طبیب یا آمر په واسطه له دندې، موقف یا نفوذ څخه پــه ګټــې اخیستنې ارتکاب شوی وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چــې د جــرم ارتکاب د مجني علیه په جســمي یــا رواني صدمې تمام شوی وي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې جرم مکرراً ارتکاب شوی وي.

**عدلي تعقیب**

**٦۷۲ ماده:**

(۱) پدې فصــل کــې د درج شــوو جرمونو عدلي تعقیــب د شــاکي پــه

گــردد، بــه جزای نقدی از ده هزار تا بیست هــزار افغانـــــی، محکـــوم می گردد.

**حالات مشدده**

**مادهٔ ٦۷۱:**

آزار واذیت زن یا طفــل در یکــی از حالات ذیل مشـــدده شناخته شـــده، مرتکب به حبس قصیر شـــش مـــاه، محکوم می گردد:

۱- در صورتی که جرم توسط استاد، مربی، طبیب یا آمر با استفاده از وظیفه، موقف یا نفــوذ، ارتکـــاب گردیـــده باشد.

۲- در صورتی که ارتکاب جرم منجر به صدمه جسمی یا روانی مجنی علیـــه گردیده باشد.

۳- در صورتی که جرم مکرراً ارتکاب گردیده باشد.

**تعقیب عدلی**

**مادهٔ ٦۷۲:**

(۱) تعقیب عدلی جرایم مندرج ایـــن فصل منـــوط بـــه شـــکایت شـــاکی

شکايت پورې ترلې دی.

(۲) شاکي کولی شي ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو مواردو کې، د عدلي تعقيب په هره مرحله کې له خپل شکايت څخه منصرف شي، پدې صورت کې د دعوي رسيدګي او د جزا تطبيق، درول کېږي.

## اووم فصل

## قذف او افترا او د هغو مجازات

### قذف

**۶۷۳ ماده:**

(۱) له علني وسايلو څخه د يوۀ په واسطه شخص ته د زنا د فعل د ارتکاب له نسبت يا دنسب له نفې څخه عبارت دی پداسې ډول چې که يې صدق درلود هغه شخص چې تهمت هغه ته نسبت ورکړل شوی په جزا محکومېده يا دخلکو په وړاندې تحقيرېده.

(۲) که چېرې د قذف په جرم کې د حد د جزا د تطبيق شرايط موجود نشي يا د شبهې او يا له نورو اسبابو څخه د يوۀ په علت د قذف حد ساقط شي،

می باشد.

(۲) شاکی می تواند در موارد مندرج فقرۀ (۱) این ماده، در هر مرحله ای از تعقیب عدلی از شکایت خویش منصرف گردد، در این صورت رسیدگی به دعوی و تطبیق جزا، متوقف می گردد.

## فصل هفتم

## قذف و افترا و مجازات آن

### قذف

**مادۀ ۶۷۳:**

(۱) قذف عبارت است از نسبت دادن ارتکاب فعل زنا یا نفی نسب به شخص توسط یکی از وسایل علنی به نحوی که اگر صدق می داشت شخصی که تهمت به او نسبت داده شده، به جزا محکوم می گردید یا به نزد مردم تحقیر می شد.

(۲) هرگاه در جرم قذف شرایط تطبیق جزای حد موجود نگردد یا به علت شبهه ویا یکی از اسباب دیگر حد قذف ساقط گردد، مرتکب، تعزیراً به حبس

مرتکب، تعزیراً په قصیر حبس یا لــه دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د ارتکاب له امله د شخص یا د هغه د کورنۍ حیثیت ته پداسې ډول صدمه وارده شي، چــې د انجلۍ یا ښځې په ازدواج کې ممانعت منځته راوړي، مرتکب د قصیر حبس په اکثر حد محکومېږي.

افترا

۶۷۴ ماده:

که چېرې شخص یو کار (امر) د ۶۷۳ مادې له حالاتو پرته بل یوهٔ ته نســبت ورکړي چې که يې حقیقت درلــود د قانون په حکم د مجازاتو وړ پېژنــدل کېدهٔ یا د خلکو په وړاندې تحقیرېدهٔ، دغه عمل افترا پېژندل کېږي، مرتکب له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

قصــیر یــا جــزای نقــدی ازســی هزار تا شصت هزار افغانی، محکــوم می گردد.

(۳) هرگاه به اثر ارتکاب جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به حیثیت شخص یا خانواده وی طوری صدمه وارد گردد که ممانعت را در ازدواج دختر یا زن بــه وجــود آورد، مرتکــب بــه حــداکثر حــبس قصــیر محکــوم می گردد.

افترا

مادهٔ ۶۷۴:

هرگاه شخص امــری را در غیــر از حالات مادهٔ ۶۷۳ به دیگری نســبت دهد که اگر حقیقت می داشت به حکم قانون قابل مجازات شناخته می شد یا نزد مردم تحقیر می گردید، این عمل افتراً شناخته شده، مرتکب به جــزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغــانی، محکوم می گردد.

## د قذف د نسبت اثبات

**٦۷۵ ماده:**

که چېرې قاذف د هغهٔ فعل یا واقعې صحت چې مقذوف ته یې نسبت ورکړی دی، په اثبات ورسوي، نه مجازات کېږي.

## په د مخه جرم قذف

**٦۷٦ ماده:**

که چېرې مقذوف د مخه په داسې جرم محکوم شوی وي چې قاذف په هغهٔ مقذوف قذف کړی، نوموړی قاذف له پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## قذف ته رسیدګي

**٦۷۷ ماده:**

د قذف او افترا د جرم د تورن عدلي تعقیب، د متضرر په شکایت مشروط دی، په هغهٔ صورت کې چې متضرر د محکمې د قطعي حکم له صادرېدو دمخه له خپل شکایت څخه منصرف شي، جزایي دعوي درول کېږي.

## اثبات نسبت قذف

**مادهٔ ٦۷۵:**

هرگاه قاذف صحت فعل یا واقعه را که به مقذوف نسبت داده است، به اثبات برساند، مجازات نمی‌گردد.

## قذف به جرم قبلی

**مادهٔ ٦۷٦:**

هرگاه مقذوف قبلاً به جرمی محکوم شده باشد که قاذف به آن مقذوف را قذف کرده، قاذف مذکور به جزای نقدی از پنج هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

## رسیدگی به قذف

**مادهٔ ٦۷۷:**

تعقیب عدلی متهم جرم قذف و افترأ مشروط به شکایت متضرر می‌باشد، در صورتی که متضرر قبل از صدور حکم قطعی محکمه از شکایت خود منصرف شود، دعوی جزایی متوقف می گردد.

## اتم فصل
## سپکاوی او ښکنځل او د هغو مجازات

### د اشخاصو سپکاوی او ښکنځل

**٦٧٨ ماده:**

(۱)که چیرې شخص بل ته د داسې کار (امر) نسبت ورکړي چې د هغهٔ له امله يې اعتبار يا حيثيت جريحه دارشي، که څه هم چې په يوې ټاکلې واقعې د استناد متضمن نه وي، د اشخاصو د سپکاوي د جرم مرتکب پېژندل کيږي.

(۲) هغه شخص چې بل په ناخوښو او زشتو الفاظو مخاطب کړي، د ښکنځلو د جرم مرتکب پېژندل کيږي.

(۳) ددې مادې په (۱ او۲) فقرو کې درج شوي مرتکبين، ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کيږي.

## فصل هشتم
## توهين و دشنام و مجازات آن

### توهين و دشنام اشخاص

**مادهٔ ٦٧٨:**

(۱) شخصی که به ديگری، امری را نسبت دهد که به اثر آن اعتبار يا حيثيت وی جريحه‌دار شود، گرچه متضمن استناد به يک واقعه معين نباشد، مرتکب جرم توهين اشخاص شناخته می شود.

(۲) شخصی که ديگری را به الفاظ ناپسند وزشت مخاطب قرار دهد، مرتکب جرم دشنام، شناخته می شود.

(۳) مرتکبين مندرج فقره های (۱و۲) اين ماده، مطابق احکام اين فصل، مجازات می‌گردد.

## د سپکاوي یا ښکنځلو د جرم مجازات

**۶۷۹ ماده:**

(۱) هغه شخص چې بل ته د علني وسایلو له لارې سپکاوی یا ښکنځلې وکړي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې بل ته د ټېلفون یا ایمیل یا فکس یا الکترونیکي وسایلو یا د مکتوب د استولو په واسطه یا د بل شخص په واسطه سپکاوی یا ښکنځلې وکړي، له پنځه زرو څخه ترشلو زرو افغانیوپورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې حکومت یا ملي شورې ته سپکاوی وکړي، د دېرشو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.

## د دولت پر کړنو انتقاد

**۶۸۰ ماده:**

هغه انتقاد او اعتراض چې د ټولیزو رسنیو د قانونو او نورو قوانینو د حکمونو په رعایت سره د دولتي او غیر

## مجازات جرم توهین یا دشنام

**مادۀ ۶۷۹:**

(۱) شخصی که دیگری را ازطریق وسایل علنی توهین یا دشنام دهد، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۲) شخصی که دیگری را توسط تیلفون یا ایمیل یا فکس یا وسایل الکترونیکی یا ارسال مکتوب و یا توسط شخص دیگری توهین یا دشنام دهد، به جزای نقدی از پنج هزار تا بیست هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۳) شخصی که حکومت یا شورای ملی را توهین نماید، به جزای نقدی سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

## انتقاد بر کارکرد های دولت

**مادۀ ۶۸۰:**

انتقاد واعتراضی که در رابطه به اجراآت مقامات و مراجع دولتی و غیر دولتی با رعایت احکام قانون

دولتي مقاماتو او مراجعو د اجراآتو په اړه صورت مومي، سپکاوی او ښکنځلې نه پېژندل کېږي.

## د ښکنځلو جرم ته رسيدګي

**٦٨١ ماده:**

د ښکنځلو او سپکاوي د جرمونو عدلي تعقيب د متضرر په شکايت پورې تړلی دی، په هغهٔ صورت کې چې متضرر د محکمې د قطعي حکم له صادرېدو د مخه له خپل شکايت څخه منصرف شي، جزايي دعوي درول کېږي.

## د مرتکب نه عدلي تعقيب

**٦٨٢ ماده:**

(۱) که چېرې د دعوي له اړخونو څخه يو د عدلي تعقيب په بهيرکې په هغه اندازه چې دفاعيه يې ايجابوي بل ته ښکنځلې وکړي، په جزا نه محکومېږي.

(۲) که چېرې يو شخص د بل د تعدي مورد وګرځي او د غضب په حالت کې هغهٔ ته ښکنځلې وکړي، په جزا نه

رسانه های همگانی و ساير قوانين، صورت می گيرد، توهين و دشنام شناخته نمی شود.

## رسيدگی به جرم دشنام

**مادهٔ ٦٨١:**

تعقيب عدلی جرايم دشنام وتوهين منوط به شکايت متضرر ميباشد، در صورتی که متضرر قبل از صدور حکم قطعی محکمه از شکايت خود منصرف شود، دعوی جزايی متوقف می گردد.

## عدم تعقيب عدلی مرتکب

**مادهٔ ٦٨٢:**

(۱) هرگاه يکی از طرفين دعوی در جريان تعقيب عدلی به اندازه ای که دفاعيه ايجاب می کند به ديگری دشنام بدهد، محکوم به جزا نمی‌گردد.

(۲) هرگاه شخصی مورد تعدی ديگری واقع گردد و در حالت غضب به وی دشنام دهد، محکوم به جزا

محکومېږي.

## نهم فصل

## د مسکراتو جرمونه

**مسکر مواد**

**٦٨٣ ماده:**

مسکر مواد له هغو موادو څخه عبارت دي چې د څښلو يا خوړلو له لارې له هغو څخه ګټه اخيستنه د عقل د مؤقت زوال يا د انسان د درک يا تميز په قوه کې د اختلال باعث کېږي.

**د شرابو د څښلو تعزيري مجازات**

**٦٨۴ ماده:**

که چېرې د شرابو د څښلو په جرم کې د حد د جزا د تطبيق شرايط موجـــود نشي يا د شبهې او يا له نورو اســـبابو څخه د يوهٔ په علت د خمر د شرب حد ساقط شي، مرتکب، تعزيراً د حبس په بديل يا له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

نمی گردد.

## فصل نهم

## جرایم مسکرات

**مواد مسکر**

**مادهٔ ٦٨٣:**

مواد مسکر عبارت از موادی است که استفاده آن از طریق نوشیدن یا خوردن، باعث زوال مؤقت عقل یا اختلال در قـــوه درک یـــا تمیـــز انســـان، می گردد.

**مجازات تعزیری نوشیدن شراب**

**مادهٔ ٦٨۴:**

هرگاه در جـــرم نوشـــیدن شـــراب شرایط تطبیق جزای حد موجود نگردد یا به علت شبهه ویا یکی از اســـباب دیگر حد شرب خمر ساقط گـــردد، مرتکب، تعزیراً به بدیل حبس یا جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغـــانی، محکوم می گردد.

## د مسکر قاچاق

**٦٨٥ ماده:**

(۱) د مسکرو موادو تولید، برابرول، پروسس، پېر، پلور، ساتل، وېش، کمېشنکاري، واردول، صاردول، حمل او نقل، انتقال، وړاندې کول، ذخیره او یا پټول د مسکراتو په قاچاق کې شامل دي.

(۲) د مسکراتو قاچاق جرم دی، د هغهٔ مرتکب د دې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

## د مسکر د قاچاق مجازات

**٦٨٦ ماده:**

هغه شخص چې د مسکره موادو د قاچاق مرتکب شي، له احوالو سره سم، د هغو مقدار ته په پام سره، په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د مسکرو موادو مقدار تر پنځو لیترو پورې وي، له پنځه زرو څخه تر پنځلس زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د مسکرو

## قاچاق مسکر

**مادهٔ ٦٨٥:**

(۱) قاچاق مسکرات شامل تولید، تهیه، پروسس، خرید، فروش، نگهداری، توزیع، کمیشن کاری، ورود، صدور، حمل و نقل، انتقال، عرضه،ذخیره و یا اخفای مواد مسکر می‌باشد.

(۲) قاچاق مسکرات جرم بوده، مرتکب آن مطابق احکام این فصل، مجازات می‌گردد.

## مجازات قاچاق مسکر

**مادهٔ ٦٨٦:**

شخصی که مرتکب قاچاق مواد مسکر شود، حسب احوال، با نظرداشت مقدار آن، به مجازات ذیل محکوم می‌گردد:

۱- در صورتی که مقدار مواد مسکر تا پنج لیترباشد، به جزای نقدی از پنج هزار تا پانزده هزار افغانی.

۲- در صورتی که مقدار

موادو مقدار له پنځو لیترو څخه زیات تر لسو لیترو پورې وي، له پنځلس زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د مسکرو موادو مقدار له لسو لیترو څخه زیات تر پنځوسو لیترو پورې وي، په قصیر حبس یا له دیرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د مسکرو موادو مقدار له پنځوسو لیترو څخه زیات تر سلو لیترو پورې وي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلو شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

۵- په هغهٔ صورت کې چې د مسکرو موادو مقدار له سلو لیترو څخه زیات تر پنځه سوه لیترو پورې وي، له دوو کلونو څخه زیات په متوسط حبس.

٦- په هغه صورت کې چې د مسکرو موادو مقدار له پنځه سوه لیترو څخه زیات وي، په طویل حبس چې له اووکلونو څخه زیات نه وي.

مواد مسکر بیش از پنج لیتر تا ده لیتر باشد، به جزای نقدی از پانزده هزار تا سی هزار افغانی.

۳- در صورتی که مقدار مواد مسکر بیش از ده لیتر تا پنجاه لیتر باشد، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۴- در صورتی که مقدار مواد مسکر بیش از پنجاه لیتر تا صد لیتر باشد، به حبس متوسط تا دو سال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یک صد و بیست هزار افغانی.

۵- در صورتی که مقدار مواد مسکر بیش ازصد لیتر تا پنجصد لیتر باشد، به حبس متوسط بیش از دو سال.

٦- در صورتی که مقدار مسکر بیش از پنجصد لیتر باشد، به حبس طویلی که از هفت سال، بیشتر نباشد.

**اجباري اعتیاد ته د سوقولو مجازات**

**۶۸۷ ماده:**

(۱) که چېرې شخص، بل په غیر قانوني توګه د مسکرو موادو مصرف ته مجبور کړي او یا نوموړي مواد جبراً پر هغـهٔ باندې وخوري یا وڅښي یا ددې عمل د ارتکاب لپاره ځای چمتو کړي، په قصیر حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مجني علیه طفل او یا معتوه یا سفیه شخص وي، مرتکب تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج تر اجبار لاندې شخص ددې عمل تر اغېزې (تاثیر) لاندې، دجرم مرتکب شي، سوقوونکی ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې پر درج شوو مجازاتو بر سېره، د مرتکبه جرم په مجازاتو، هم محکومېږي.

(۴) که چېرې ددې مادې په (۱ او ۲)

**مجازات سوق دادن به اعتیاد اجباری**

**مادهٔ ۶۸۷:**

(۱) هرگاه شخصی، دیگری را به صورت غیر قانونی به مصرف مواد مسکر مجبورسازد و یا مواد متذکره را جبراً به وی بخوراند یا بنوشاند یا برای ارتکاب این عمل محلی را آماده نماید، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه مجنی علیه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده طفل و یا شخصی معتوه یا سفیه باشد، مرتکب به حبس متوسط تا دو سال، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه شخص تحت اجبار مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده تحت تاثیر این عمل، مرتکب جرم گردد، سوق دهنده علاوه بر مجازات مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده، به مجازات جرم مرتکبه، نیز محکوم می‌گردد.

(۴) هرگاه هدف از اعمال مندرج فقره

فقرو کې له درج شوو اعمالو څخه موخه پر شخص باندې د جرم ارتکاب وي، مرتکب پدې ماده کې پـر درج شوو مجازاتو بر سېره، د مرتکبه جرم په مجازاتو، هم محکومېږي.

## د نقلیه واسطې مصادره

**۶۸۸ ماده:**

هغه شخص چې مسکر مواد په لاندې احوالو کې په آګاهانه صورت تر خپل تصرف لاندې په نقلیه واسطه کې ځای پرځای یا اخفا (پټ) کړي یا هغه انتقال کړي، پراصلي جزا برسېره د نقلیه واسطې په مصادرې، هم محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د مسکرو موادو مقدار له زرو لیترو څخه زیات وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې له نقلیه واسطې څخه د مسکرو موادو د قاچاق د جرم په ارتکاب کې په متکرر ډول ګټه اخیستل شوې وي.

های (۱ و ۲) این ماده ارتکاب جرم بالای شخص باشد، مرتکب علاوه بر مجازات مندرج این ماده، به مجازات جرم مرتکبه، نیز محکوم می‌گردد.

## مصادره واسطه نقلیه

**مادهٔ ۶۸۸:**

شخصی که مواد مسکر را در احوال ذیل به صورت آگاهانه در واسطه نقلیه تحت تصرف خویش جاسازی یا اخفا کند یا آن را انتقال دهد، علاوه بر جزای اصلی به مصادره واسطه نقلیه، نیز محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مقدار مواد مسکر بیش از یک هزار لیتر باشد.

۲- در صورتی که از واسطه نقلیه به صورت متکرر در ارتکاب جرم قاچاق مواد مسکر استفاده گردیده باشد.

**د وجوهو او شتمنيو مصادره**

**٦۸۹ ماده:**

پدې فصل کې په درج شوو حالاتو کې مسکر مواد او د هغو د برابرولو لپاره اختصاصي وسايل او تجهيزات، مصادره کېږي.

**د مسکرو موادو له منځه وړل**

**٦۹۰ ماده:**

پدې فصل کې په ټولو درج شوو حالاتو کې، محکمه د مسکرو موادو او د هغو د برابرولو د اختصاصي وسايلو او تجهيزاتو پر محو حکم کوي.

## لسم فصل

## قمار بازي او د هغه مجازات

**قمار بازي**

**٦۹۱ ماده:**

هغهٔ شخص چې په عمومي محل يا هغه محل کې چې د عامه خلکو پر مخ پرانيستی وي په قمار بازۍ لاس پورې کړي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**مصادره وجوه و دارایی ها**

**مادهٔ ٦۸۹:**

در حالات مندرج این فصل، مواد مسکر وسایل و تجهیزات اختصاصی برای تهیه آن، مصادره می گردد.

**از بین بردن مواد مسکر**

**مادهٔ ٦۹۰:**

در تمام حالات مندرج این فصل، محکمه به محو مواد مسکر وسایل وتجهیزات اختصاصی تهیه آن حکم می نماید.

## فصل دهم

## قمار بازی و مجازات آن

**قمار بازی**

**مادهٔ ٦۹۱:**

شخصی که در محل عمومی و یا محلی که به روی عامه مردم باز باشد به قمار بازی بپردازد، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

**د قمار بازۍ د ځای تنظيم**

**۶۹۲ ماده:**

هغه شخص چې د قمار بازۍ په منظور ځای يا کور چمتو کړی وي يا جزګيري وکړي، په قصير حبس محکوميږي.

**مصادره**

**۶۹۳ ماده:**

پدې فصل کې په درج شوو حالاتو کې پيسې، د قمار آلات او ادوات مصادره کيږي.

## يوولسم فصل

## د مړيو او قبرونو بې حرمتي

**د قبر تخريب**

**۶۹۴ ماده:**

(۱) هغه شخص چې له شرعي يا قانوني جواز پرته قبر يا مقبره ويجاړه کړي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکوميږي.

(۲) هغه شخص چې هديرې ته

**تنظيم محل قمار بازی**

**مادۀ ۶۹۲:**

شخصی که محل يا منزلی را بمنظور قمار بازی آماده نموده باشد يا جزگيری نمايد، به حبس قصير، محکوم می گردد.

**مصادره**

**مادۀ ۶۹۳:**

در حالات مندرج اين فصل پول، آلات و ادوات قمار مصادره می گردد.

## فصل يازدهم

## بی حرمتی اموات و قبور

**تخريب قبر**

**مادۀ ۶۹۴:**

(۱) شخصی که بدون مجوز شرعی يا قانونی قبر يا مقبره را تخريب نمايد، به حبس قصير يا جزای نقدی ازسی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که زمين وقفی اختصاص

اختصاص شوې وقفي ځمکه غصب کړي، د ځمکې د غصب د جرم د مجازاتو په دوه چنده، محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوې ځمکې له پاسه ودانۍ جوړه شوې وي، ودانۍ ویجاړېږي او غاصب د ودانۍ د تخریب او د هدیرې د بیا احیاء د لګښتونو په ورکړه، هم محکومېږي.

## مړي ته بي حرمتي

**٦۹۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې عمداً د مړي ټول جسد یا یوه جزء ته بې حرمتي وکړي یا د مړي کفن وباسي په قصیر حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی فعل د انتقام یا د مړي د تشهیر په منظور ارتکاب شوی وي، مرتکب د قصیر حبس په اکثر حد محکومېږي.

یافته به قبرستان را غصب نماید، به دو چند مجازات جرم غصب زمین، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه بالای زمین مندرج فقرهٔ (۲) این ماده، ساختمان اعمار شده باشد، ساختمان تخریب وغاصب به پرداخت مصارف تخریب ساختمان و احیای مجدد قبرستان، نیز محکوم می گردد.

## بی حرمتی به میت

**مادهٔ ٦۹۵:**

(۱) شخصی که عمداً به تمام یا جزء از جسد مرده بی حرمتی نماید یا کفن میت را بکشد، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه فعل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده بمنظور انتقام یا تشهیر میت ارتکاب گردیده باشد، مرتکب به حد اکثرحبس قصیر، محکوم می گردد.

**د علمي يا تعليمي څېړنو په منظور د مړي د جسد اخيستل**

**٦۹٦ ماده:**

هغه شخص چې د علمي يـــا تعليمـــي څېړنو په قصد د وارث له اجازې پرته د مړي ټول جسد يا يو جزء واخلي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغـــانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د مړي د جنازې يا تدفين د مراسمو اخلال**

**٦۹۷ ماده:**

هغه شخص چې عمداً په تاوتريخوالي يا تهديد سره د مړي د جنازې يا تدفين په مراسمو کې جار او جنجال جوړ کړي او يا د هغۀ تدفين وځنډوي ، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شـــپېتو زرو افغانيو پورې پـــه نغـــدي جـــزا محکومېږي.

**گرفتن جسد میت بمنظور تحقیقات علمی یا تعلیمی**

**مادۀ ٦۹٦:**

شخصی که به قصد تحقیقات علمی یا تعلیمی بدون اجازه وارث تمام یا جزء از جسد میت را بگیرد، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

**اخلال مراسم جنازه یـــا تـــدفین میت**

**مادۀ ٦۹۷:**

شخصی که عمداً بـــا خشـــونت یـــا تهدید در مراسم جنـــازه یـــا تـــدفین میت جار و جنجال بر پا نماید و یا تدفین آن را معطـــل کنـــد، بـــه حـــبس قصیر یا جزای نقدی از سی هـــزار تـــا شصـــت هـــزار افغـــانی، محکـــوم می گردد.

**د واقعیت خلاف د مزار یا مقبرې جوړول**

**٦۹۸ ماده:**

هغه شخص چې د حقیقت خلاف، یو ځای د مقبرې یا مزار په توګه جوړ کړي، په قصیر حبس محکومېږي.

## نهم باب

## د مالونو ضد جرمونه

## لومړی فصل

## د منقولو مالونو سرقت (غلا)، غصب او نهب

**سرقت**

**٦۹۹ ماده:**

(۱) سرقت له رضایت پرته د تملک په مقصد دغیر ملکیت د منقول مال له اخیستلو څخه عبارت دی.

(۲) که چېرې د سرقت په جرم کې د حد د اقامې شرایط بشپړنشي یا په یو ډول نه یوه ډول د سرقت د حد جزا ساقطه شي، مرتکب تعزیراً د دې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

**ساختن مزار یا مقبره خلاف واقعیت**

**مادۀ ٦۹۸:**

شخصی که خلاف حقیقت، محلی را به حیث مقبره یا مزار بسازد، به حبس قصیر محکوم می گردد.

## باب نهم

## جرایم ضد اموال

## فصل اول

## سرقت، غصب و نهب اموال منقول

**سرقت**

**مادۀ ٦۹۹:**

(۱) سرقت عبارت است ازگرفتن مال منقول ملکیت غیر، بدون رضایت به مقصد تملک.

(۲) هرگاه درجرم سرقت شرایط اقامه حد تکمیل نگردد یا به نحوی از انحا جزای حد سرقت ساقط شود، مرتکب تعزیراً مطابق احکام این فصل، مجازات می گردد.

## د سرقت مجازات

**۷۰۰ ماده:**

هغه شخص چې مسکوني ځای یا هغه ځای ته چې د استوګنې لپاره چمتو شوی یا د هغهٔ له ملحقاتو یوهٔ ته په داخلېدو سره د سرقت د جرم مرتکب شي، په متوسط حبس محکومېږي.

## د سرقت په حکم کې جرمونه

**۷۰۱ ماده:**

(۱) هغه شخص چې عامه مالونه یا هغه مالونه چې د عامه استفادې په مقصد اختصاص شوي دي یا په عبادت ځایونو پورې اړوند مالونه یا تاریخي آثار یا د برېښنا، ګاز، اوبو د تأسیساتو وسایل یا نقلیه واسطه په غیر مجازه توګه واخلي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې برېښنا، ګاز یا اوبه په غیر مجازه توګه واخلي د نوموړي عمل د سرقت په حکم کې دی، مرتکب په قصیر حبس محکومېږي.

## مجازات سرقت

**مادهٔ ۷۰۰:**

شخصی که با داخل شدن به محل مسکونی یا محلی که برای سکونت آماده شده یا به یکی از ملحقات آن، مرتکب جرم سرقت گردد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

## جرایم در حکم سرقت

**مادهٔ ۷۰۱:**

(۱) شخصی که اموال عامه یا اموالی که به مقصد استفاده عامه اختصاص داده شده است یا اموال متعلق به عبادت گاه ها یا آثار تاریخی یا وسایل تأسیسات برق، گاز، آب یا واسطهٔ نقلیه را به شکل غیر مجاز اخذ نماید، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که برق، گاز یا آب را به شکل غیر مجاز اخذ نماید عمل وی در حکم سرقت بوده، مرتکب به حبس قصیر محکوم می گردد.

## د سرقت د جرم مشدده حالات

**۷۰۲ ماده:**

(۱) د سرقت د جرم ارتکاب له لاندې حالاتو څخه په یوۀ کې مشدده پېژندل کېږي، مرتکب په طویل حبس محکومېږي:

۱- د لمر د پرېوتلو او ختلو تر منځ.

۲- د دووتنو یا له هغو څخه د زیاتو په واسطه.

۳- د وسلې په حمل کولو سره.

۴- مسکوني ځای یا هغه ځای ته چې د استوګنې لپاره چمتو شوی یا د هغه له ملحقاتو څخه یوۀ ته له دېوال څخه د پورته کېدو یا د دېوال د سوري کولو په وسیله یا د دروازې یا پنجرې (کړکۍ) په ماتولو یا د ساختګي کلي ګانو په استعمال یا په هر بل ډول په داخلېدو سره.

۵- له نظامي جامو (لباس) یا د عامه خدمتونو د نورو مؤظفینو له لباس څخه په استفادې یا د تزویر شوي امر په واسطه پدې ادعا سره چې د دولت د

## حالات مشدده جرم سرقت

**مادۀ ۷۰۲:**

(۱) ارتکاب جرم سرقت در یکی از حالات ذیل مشدده شناخته شده، مرتکب به حبس طویل محکوم می گردد:

۱- بین غروب و طلوع آفتاب.

۲- توسط دوشخص یا بیشتر از آن.

۳- با حمل سلاح.

۴- با داخل شدن به محل مسکونی یا محلی که برای سکونت آماده شده یا به یکی از ملحقات آن به وسیله بالا شدن از دیوار یا سوراخ کردن دیوار یا شکستاندن دروازه یا پنجره، یا با استعمال کلیدهای ساخته‌گی یا هر شکل دیگری.

۵- با استفاده از لباس نظامی یا لباس سایر مؤظفین خدمات عامه یا به وسیله امر تزویر شده به ادعای این که از طرف مقامات با

واکمنو مقاماتو له خوا صادر شوی یا د ځای (محل) له استوګنو (ساکنینو) څخه د یوهٔ په وسیله کولو یا په نورو حیله آمیزو وسایلو سره.

٦- د کارګر په واسطه کارفرما ته د ضرر د واردولو په قصد.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب له امله، بل جرم ارتکاب شي، مرتکب د هغهٔ جرم د مجازاتو په اکثر حد، محکومېږي چې مجازات يې شدید وي.

## د وسلې په استعمال سره د اکراه یا تهدید له امله سرقت

**۷۰۳ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د اکراه یا د وسلې د استعمال په تهدید سره د سرقت مرتکب شي، د طویل حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۲) که چېرې د اکراه له امله ضرب یا ټپ پېښ شي مرتکب په۲درجه دوام حبس محکومېږي.

صلاحیت دولت صادر شده، یا با وسیله سازی یکی از ساکنین محل یا با استعمال سایر وسایل حیله آمیز.

٦- توسط کارگر به قصد وارد نمودن ضرر به کار فرما.

(۲) هرگاه در اثر ارتکاب جرایم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، جرم دیگری ارتکاب یابد، مرتکب به حد اکثر مجازات جرمی محکوم می گردد که مجازات آن شدید باشد.

## سرقت به اثر اکراه یا تهدید به استعمال سلاح

**مادهٔ ۷۰۳:**

(۱) شخصی که به اثر اکراه یا تهدید به استعمال سلاح مرتکب سرقت گردد، به حد اکثر حبس طویل، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه در اثر اکراه ضرب یا جرح واقع گردد مرتکب به حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد.

## د مشدده احوالو اجتماع

۷۰۴ ماده:

که څېرې دوه یا له دوو څخه زیات اشخاص، د لمر د پرې وتلو او ختلو تر منځ، پداسې حال کې چې له هغو څخه یوهٔ ظاهره (څرگنده) یا پټه وسله له ځانه سره حمل کړې وي او په مسکون ځای یا هغهٔ ځای کې چې د استوگنې لپاره چمتو شوی وي، د سرقت مرتکب شوی وي، له اووکلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي.

## د تېلفوني آلاتو یا وسایلو سرقت

۷۰۵ ماده:

هغه شخص چې هغه آلات یا وسایل چې په تېلفوني یا انترنتي ارتباطاتو کې یا هغه وسایل چې د برېښنا یا گاز یا نفتو په انتقال کې کارول شوي دي، سرقت کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

## د نقلیه واسطې د نمبر پلېټ سرقت

۷۰۶ ماده:

هغه شخص چې د نقلیه واسطې نمبرپلېټ سرقت کړي، په قصیر حبس

## اجتماع احوال مشدده

مادهٔ ۷۰۴:

هرگاه دو یا بیشتر از دوشخص، در بین غروب و طلوع آفتاب ، در حالی که یکی از آنها سلاح ظاهر یا پنهان شده را با خود حمل نموده باشد و در محل مسکون یا محلی که برای سکونت آماده شده باشد، مرتکب سرقت گردند، به حبس طویل بیش از هفت سال، محکوم می گردند.

## سرقت آلات یا وسایل تیلفونی

مادهٔ ۷۰۵:

شخصی که آلات یا وسایلی را که در ارتباطات تیلفونی یا انترنتی یا وسایلی را که در انتقال برق یا گاز یا نفت به کار رفته است، سرقت کند، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

## سرقت نمبر پلیت واسطه نقلیه

مادهٔ ۷۰۶:

شخصی که نمبر پلیت واسطه نقلیه را سرقت کند، به حبس قصیر، محکوم

محکومېږي.

**د غلې یا کرنیزو (زراعتي) محصولاتو سرقت**

**۷۰۷ ماده:**

هغه شخص چې غله یا هغه کرنیز محصولات چې تر اوسه ربېل شوي یا ټول شوي نه وي سرقت کړي، د مسروقه مال د بیې په دوه چنده نغدي جزا محکومېږي.

**په عبادت ځای کې سرقت**

**۷۰۸ ماده:**

هغه شخص چې عبادت ځای ته په داخلېدو سره د سرقت مرتکب شي، په متوسط حبس چې له دریو کلونو څخه لږ نه وي محکومېږي.

**د کم بها مالونو سرقت**

**۷۰۹ ماده:**

که چېرې د سرقت په جرم کې، پدې فصل کې له درج شوو مشدده احوالو څخه هېڅ یو موجود نشي یا د مسروقه مال بیه له پنځه زرو افغانیو څخه لږ وي، مرتکب په قصیر حبس یا له

می گردد.

**سرقت غله یا محصولات زراعتی**

**مادۀ ۷۰۷:**

شخصی که غله یا محصولات زراعتی را که هنوز درو یا چیده نشده باشد سرقت کند، به جزای نقدی دو چند قیمت مال مسروقه، محکوم می گردد.

**سرقت در عبادت گاه**

**مادۀ ۷۰۸:**

شخصی که با داخل شدن در عبادتگاه مرتکب سرقت شود، به حبس متوسط که از سه سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.

**سرقت اموال کم بها**

**مادۀ ۷۰۹:**

هرگاه در جرم سرقت هیچ یکی از احوال مشدده مندرج این فصل موجود نگردد یا قیمت مال مسروقه کمتر از پنج هزار افغانی باشد، مرتکب به حبس قصیر، یا جزای نقدی از ده هزار تا

لسو زروڅخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د مسروقه مال يا د هغې د بيې رد**

**۷۱۰ ماده:**

پدې فصل کې په ټولو درج شوو حالاتوکې محکمه سارق پر پيشبيني شوې جزا برسېره د مسروقه مال د ورځې په نرخ، د هغه د مثل يا بيې په رد، هم محکوموي.

**د منقولو مالونو غصب**

**۷۱۱ ماده:**

هغه شخص چې له عنف، اکراه، تهديد يا ارعاب څخه په استفادې سره په ځرګنده توګه پيسې يا د بل منقول مال واخلي د منقولو مالونو د غصب د جرم مرتکب پېژندل کېږي.

**دپيسو يا منقول مال دغصب مجازات**

**۷۱۲ ماده:**

د منقولو مالونو د غصب د جرم مرتکب د غصب شوي مال مقدار يا ارزښت ته

شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

**رد مال مسروقه يا قيمت آن**

**مادۀ ۷۱۰:**

در تمام حالات مندرج این فصل محکمه سارق را علاوه بر جزای پیش بینی شده به رد مال مسروقه، مثل یا قیمت آن، به نرخ روز، نیز محکوم می نماید.

**غصب اموال منقول**

**مادۀ ۷۱۱:**

شخصی که با استفاده از عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب، به طور آشکار پول یا مال منقول دیگری را اخذ نماید، مرتکب جرم غصب اموال منقول، شناخته می شود.

**مجازات غصب پول يا مال منقول**

**مادۀ ۷۱۲:**

مرتکب جرم غصب اموال منقول، با نظرداشت مقدار یا ارزش مال غصب

په پام سره، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې پیسې یا د مال ارزښت تر زرو افغانیو پورې وي، له پنځه زرو څخه تر لسو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له زرو څخه زیات تر لسو زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له لسو زرو څخه زیات ترسلو زرو افغانیو پورې وي، په متوسط حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د پیسو یا د مال ارزښت له سلو زرو افغانیو څخه زیات وي، په طویل حبس.

## د سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې د نښې د اخیستلو مجازات

### ۷۱۳ ماده:

(۱) هغه شخص چې له عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب څخه په ګټې اخیستنې د بل سند، لاسلیک، مهر یا د ګوتې

شده، قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که پول یا ارزش مال تا یک هزار افغانی باشد، به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی.

۲- در صورتی که پول یا ارزش مال بیش از یک هزار تا ده هزار افغانی باشد، به حبس قصیر.

۳- در صورتی که پول یا ارزش مال بیش از ده هزار تا یک صد هزار افغانی باشد، به حبس متوسط.

۴- در صورتی که پول یا ارزش مال بیش از یک صد هزار افغانی باشد، به حبس طویل.

## مجازات اخذ سند، امضاء، مهر یا نشان انگشت

### مادهٔ ۷۱۳:

(۱) شخصی که با استفاده از عنف، اکراه، تهدید یا ارعاب سند، امضاء، مهر یا نشان انگشت دیگری را اخذ

نبنه واخلي يا هغه د سند، لاسليک يا مهر الغاء، اتلاف يا تعديل ته اړ (وادار) کړي يا يې په سپينه پاڼه باندې لاسليک، مهر يا د ګوتې نښې اېښودلو ته مجبور کړي، په طويل حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د ارتکاب له امله مرتکب ته مفاد (ګټه) ترلاسه شوې او مجني عليه ته ضرر وارد شوی نه وي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

## چپاول ګري (نهب)

### ۷۱۴ ماده:

هغه شخص چې د راهزنۍ يا سرقت يا غصب د جرم د درج شوو په غير حالاتو کې، د بل کس منقول مال په ناقانونه ډول واخلي، د پيسو يا مال ارزښت ته په پام سره، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د مال پيسې يا د مال ارزښت تر زرو افغانيو پورې وي، له پنځه زرو څخه تر شلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.

نماید یا وی را به الغا ، اتلاف یا تعدیل سند، امضاء یا مهر وادار سازد ویا به امضاء، مهر یا گذاشتن شصت به ورق سفید مجبور نماید، به حبس طویل، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه از اثر ارتکاب جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مفادی به مرتکب عاید و ضرری به مجنی علیه وارد نگردیده باشد، مرتکب به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

## چپاول گری (نهب)

### مادهٔ ۷۱۴:

شخصی که در غیر از حالات مندرج جرم راهزنی یا سرقت یا غصب، مال منقول دیگری را به صورت غیر قانونی اخذ کند، با نظر داشت پول یا ارزش مال، قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که پول یا ارزش مال تا یک هزار افغانی باشد، به جزای نقدی از پنج هزار تا بیست هزار افغانی.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د مال پیسې یا د مال ارزښت له زرو څخه زیات تر لسو زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۳- په هغهٔ صورت کې چې پیسې یا د مال ارزښت له لسو زرو څخه زیات تر سلو زرو افغانیو پورې وي، تر دوو کلونو پورې، په متوسط حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې پیسې یا د مال ارزښت له سلو زرو افغانیو څخه زیات وي، له دوو کلونو څخه زیات، په متوسط حبس.

## دوه یم فصل

## د ځمکې او غیر منقولو مالونو غصب

### د ځمکې غصب

**۷۱۵ ماده:**

د اعتبار وړ سندونو له درلودلو یا د قانون له حکم پرته د دولتي، عامه، شخصي مرعي (عامه او خاصې) یا وقفي ځمکو تصرف، تصاحب، استفاده،

۲- در صورتی که پول یا ارزش مال بیش از یک هزار تا ده هزار افغانی باشد، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۳- در صورتی که پول یا ارزش مال بیش از ده هزار تا یک صد هزار افغانی باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۴- در صورتی که پول یا ارزش مال بیش از یک صد هزار افغانی باشد، به حبس متوسط بیش از دو سال.

## فصل دوم

## غصب زمین و اموال غیر منقول

### غصب زمین

**مادهٔ ۷۱۵:**

تصرف، تصاحب، استفاده، انتقال، رهن، تضمین، اجاره یا کرایه زمین های دولتی، عامه، شخصی، مرعی( عامه وخاصه) یا وقفی بدون داشتن اسناد

انتقال، رهن، تضمین، اجاره یا کرایه، د ځمکې غصب پېژندل کېږي.

## د ځمکې د غصب مجازات

**۷۱٦ ماده:**

(۱) د ځمکې د غصب مرتکب د ځمکې پر استرداد برسېره، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د ځمکې ارزښت تر درې سوه زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د ځمکې ارزښت له درې سوه زرو افغانیو څخه زیات تر یو میلیون افغانیو پورې وي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د ځمکې ارزښت له یوهٔ میلیون څخه زیات تر پنځه میلیونه افغانیو پورې وي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د ځمکې ارزښت له پنځه میلیونه افغانیو څخه زیات وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

مدار اعتبار یا حکم قانون، غصب زمین شناخته می شود.

## مجازات غصب زمین

**مادهٔ ۷۱٦:**

(۱) مرتکب غصب زمین علاوه بر استرداد زمین، قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که ارزش زمین تا سه صد هزار افغانی باشد، به حبس قصیر.

۲- در صورتی که ارزش زمین بیش از سه صد هزار تا یک میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط تا دوسال.

۳- در صورتی که ارزش زمین بیش از یک میلیون تا پنج میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط بیش از سه سال.

۴- در صورتی که ارزش زمین بیش از پنج میلیون افغانی باشد، به حبس طویل تا ده سال.

(۲) د ځمکې د غصب د جرم مرتکب مکلف دی د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دریو میاشتو په ترڅ کې، غصب شوې ځمکه تخلیه کړي او د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه د هغې قانوني مالک ته تسلیم کړي.

(۳) هغهٔ شخص چې غصب شوې ځمکه یې پلورلې وي، مکلف دی، د حکم د صادرېدو له نېټې څخه، د غصب شوې ځمکې بیه پیرودونکي ته ورکړي.

(۴) هغهٔ شخص چې غصب شوې ځمکه په اجاره یا کرایه ورکړې وي، مکلف دی، د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دریو میاشتو په ترڅ کې له اجارې یا کرایې څخه راپیدا شوی منفعت د ځمکې مالک ته ورکړي.

(۵) که چېرې غصب شوې ځمکه عامه یا وقفي ملکیت وي، د سرپناه (کور) د جوړولو لپاره پربل یوهٔ پلورل شوې وي، مرتکب پدې فصل کې درج د ځمکې د غصب پر مجازاتو برسېره، د دولت خزانې ته د اخیستل شوو پیسو

(۲) مرتکب جرم غصب زمین مکلف است در خلال سه ماه از تاریخ صدور حکم قطعی، زمین غصب شده را تخلیه نموده و اسناد ادعای مالکیت زمین را به مالک قانونی آن تسلیم نماید.

(۳) شخصی که زمین غصب شده را به فروش رسانیده باشد، مکلف است، در خلال سه ماه از تاریخ صدور حکم، قیمت زمین غصب شده را به خریدار بپردازد.

(۴) شخصی که زمین غصب شده را به اجاره یا کرایه داده باشد، مکلف است، در خلال سه ماه از تاریخ صدور حکم، منفعت ناشی از اجاره یا کرایه را به مالک زمین بپردازد.

(۵) هرگاه زمین غصب شده ملکیت عامه یا وقفی بوده جهت اعمار سرپناه به دیگری به فروش رسیده باشد، مرتکب علاوه بر مجازات غصب زمین مندرج این فصل ، مکلف به تأدیهٔ پول اخذ شده به خزانه دولت نیز

پر ورکړې هم مکلف دی.

(٦) که چېرې د غصب له امله، ځمکه ویجاړه یا هغې ته زیان رسېدلی وي، مرتکب مالک ته د وارد شوي زیان په جبران، هم محکومېږي، د وارد شوي زیان مقدار او د هغه پیسې د اهل خبره په واسطه چې د محکمې لخوا ټاکل کېږي، محاسبه کېږي.

(۷) د ځمکې د غصب د جرم مرتکب مکلف دی ځمکه مسترده کړي او د هغه د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه باطل ګڼل کېږي.

## د ځمکې د غصب مشدده حالات

**۷۱۷ماده:**

د ځمکې د غصب د جرم ارتکاب له لاندې حالاتو څخه په یوهٔ کې مشدده پېژندل کېږي، مرتکب د دې فصل د مرتکبه جرم دمجازاتو په اکثرحد محکومېږي:

۱- له زور، اجبار، اکراه، ارعاب یا تهدید څخه په استفادې یې صورت موندلی وي.

می باشد.

(٦) هرگاه به اثر غصب، زمین تخریب یا به آن خساره وارد گردیده باشد، مرتکب به جبران خساره وارده به مالک نیز محکوم می گردد. مقدار خساره وارده ومبلغ آن توسط اهل خبره که از طرف محکمه تعیین می گردد، محاسبه می گردد.

(۷) مرتکب جرم غصب زمین مکلف است زمین را مسترد نموده واسناد ادعای مالکیت زمین وی باطل شمرده می شود.

## حالات مشدده غصب زمین

**مادهٔ ۷۱۷:**

ارتکاب جرم غصب زمین در یکی از حالات ذیل مشدده شناخته شده، مرتکب به حد اکثر مجازات جرم مرتکبه این فصل، محکوم می گردد:

۱- با استفاده از زور، اجبار، اکراه، ارعاب یا تهدید صورت گرفته باشد.

۲- غاصب د اړوندو دولتي ادارو لخوا د شفاهي او يا کتبي اطـلاع اخطـار باوجود، د غصب شوې ځمکې تصرف ته ادامه ورکړي.

۳- د ځمکې د غصب لپاره د يوۀ يا له يوۀ څخه زياتو اشخاصو تـه دستور ورکول، امـر کـول، تمويلـول يـا اړايستل.

۲- غاصب با وجود اطـلاع اخطـار شفاهی ويا کتبـی از سـوی ادارات ذيربط دولتی، تصرف زمين غصب شده را ادامه دهد.

۳- دسـتور دادن، امـر کـردن، تمويل کردن يا وادار کـردن يـک يا بيش از يک شخص بـرای غصـب زمين.

## د ځمکې په غصب کې د جرم تعدد

**۷۱۸ ماده:**

که چېرې دځمکې دغصـب جـرم د رشوت په ورکولو او يا فريـب يـا د سندونو په تزوير اويا له دندې او موقف څخه په ناوړې استفادې او يا له نفوذ څخه په ناوړې استفادې سره صـورت موندلی وي، مرتکب د مرتکبه جرم پر مجازاتو برسېره د ځمکـې د غصـب دجرم په مجازاتو، هم محکومېږي.

## تعدد جرم در غصب زمين

**مادۀ ۷۱۸:**

هرگاه جرم غصب زمـين بـا دادن رشـوت ويـا فريـب يـا تزويـر اسناد و يا با سوء استفاده از وظيفه يا موقف ويا با سوء اسـتفاده از نفـوذ صورت گرفته باشد، مرتکب علاوه بر مجازات جرم مرتکبه به جزای جـرم غصـب زمـين، نيـز محکـوم می گردد.

## د غصب په حکم کې جرمونه

**۷۱۹ ماده:**

هغـه شـخص چـې د عامـه اوبـو د مجرا پر حـريم يـا د سـيندونو،

## جرايم در حکم غصب

**مادۀ ۷۱۹:**

شخصی که به حريم مجرای آب عامه يا حـريم وبسـتر درياها، کانال‌هـا،

کانالونو، ويالو، چېنو، کـــارېزونو او ترځمکـــې لانـــدې اوبـــو د نـــورو سرچينو، تالابونو پر حريم او تل (بستر) او هغو جبه زارو چــې دعامـــه اوبـــو سرچينې جوړوي يا غونډېو او غرونو، دښتو اوځړځايونو، تجاوز يا هـــر ډول مالکانه تصرف وکړي، د هغهٔ عمـــل د ځمکې د غصب په حکم کې دی، په متوسط حبس محکومېږي.

## دريم فصل

## په امانت کې خيانت او د هغه مجازات

**په امانت کې خيانت**

**۷۲۰ ماده:**

هغه شخص چې پيسې يا منقول مال يا سند يا مهر يا لاسليک چې د توافـــق، قرارداد، د قانون په حکم يا د محکمې د حکم پر بنسټ هغهٔ ته پـــه امانـــت سپارل شوي دي، د ځان يا دبل شخص د منفعت لپاره استعمال يـــا تصـــاحب کړي يا هغه په ناوړه نيت سره تلف يا پټ کړي يا په هغوی کې داسې تصرف

جوی‌ها، چشمه‌ها، کاریزهـــا وســـایر منابع آب‌های زیر زمینی، تالاب‌هـــا و جبه زارهایی‌که منابع آب‌های عامه را تشکیل میدهـــد یـــا بـــه تپـــه هـــا وکوه ها، دشت ها و عفلچر ها، تجاوز یا به هر نحوی تصرف مالکانه کنـــد، عمل وی در حکم غصب زمین بوده، بـــه حـــبس متوســـط، محکـــوم می‌گردد.

## فصل سوم

## خیانت در امانت و مجازات آن

**خیانت در امانت**

**مادهٔ ۷۲۰:**

شخصی که پول یا مال منقول یا سند یا مهر یا امضاء را کـــه بـــه اســـاس توافق، قرارداد، حکم قانون یا حکـــم محکمه به وی امانت ســـپرده شـــده است، برای خود یا منفعـــت شـــخص دیگری استعمال یا تصاحب کند یـــا آنها را با سوء نیت تلف یا پنهان سازد یا در آنها طوری تصرف کند که بـــه

وکړي چې د مال خاوند ته ضرر ورسېږي، په امانت کې د خیانت د جرم مرتکب پېژندل کېږي، ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

## په امانت کې د خیانت مجازات

**۷۲۱ ماده:**

(۱) په امانت کې د خیانت د جرم مرتکب په لاندې توګه، مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د جرم د موضوع ارزښت ترلسو زرو افغانیو پورې وي، تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د جرم د موضوع ارزښت له لسو زرو څخه زیات تر سلو زرو افغانیو پورې وي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د جرم د موضوع ارزښت له سلو زرو څخه زیات تر یو میلیون افغانیو پورې وي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس یا له

صاحب مال ضرر وارد شود، مرتکب جرم خیانت در امانت شناخته شده، مطابق احکام این فصل، مجازات می گردد.

## مجازات خیانت در امانت

**مادهٔ ۷۲۱:**

(۱) مرتکب جرم خیانت در امانت قرار ذیل، مجازات می گردد:

۱- در صورتی که ارزش موضوع جرم تا ده هزار افغانی باشد، به جزای نقدی تا سی هزار افغانی.

۲- در صورتی که ارزش موضوع جرم بیش از ده هزار تا یک صد هزار افغانی باشد، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۳-در صورتی که ارزش موضوع جرم بیش از یک صد هزار تا یک میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط تا دو سال یا جزای نقدی بیش

شپېتو زرو څخه زيات تر يوسلو شلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د جرم د موضوع ارزښت له يو ميليون څخه زيات تر لسو ميليونو افغانيو پورې وي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس يا له يو سلو شلو زرو څخه زيات تر يو سلو اتيا زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.

۵- په هغهٔ صورت کې چې د جرم د موضوع ارزښت له لسو ميليونو افغانيو څخه زيات وي، د متوسط حبس په اکثر حد.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوو حالاتو کې که چېرې د جرم موضوع په پيسو د سنجش وړنه وي، مرتکب له احوالو سره سم، په قصير يا متوسط حبس يا له دېرشو زرو څخه تر درې سوو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

از شصت هزار تا یک صد و بیست هزار افغانی.

۴-در صورتی که ارزش موضوع جرم بیش از یک میلیون تا ده میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط تا سه سال یا جزای نقدی بیش از یک صد و بیست هزار تا یک صد و هشتاد هزار افغانی.

۵- در صورتی که ارزش موضوع جرم بیش از ده میلیون افغانی باشد، به حد اکثر حبس متوسط.

(۲) در حالات مندرج فقرهٔ (۱) این ماده هرگاه موضوع جرم قابل سنجش به پول نباشد، مرتکب حسب احوال، به حبس قصیر یا متوسط یا جزای نقدی از سی هزار تا سه صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

## دپلورونکي له حیازت څخه د مال ایستل

**۷۲۲ ماده:**

(۱) هغه شخص چې منقول مال وپېري او پلورونکی هغه د مال د ټولې بیې (قیمت) د ورکړې په منظور په خپل ملکیت کې وساتي او پېرودونکی د پلورونکي له د مخه اجازې پرته پداسې ډول په هغهٔ کې تصرف وکړي چې نوموړی مال د پلورونکي له حیازت څخه وباسي، د هغهٔ عمل په امانت کې د خیانت په حکم کې پېژندل کېږي، د مال ارزښت ته په پام سره له پنځو زرو څخه تر سلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی فعل د پلورونکي په واسطه ارتکاب شي، مرتکب ددې مادې په (۱) فقره کې درج په عین جزا محکومېږي.

(۳) د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شوو جرمونو عدلي تعقیب د

## خارج ساختن مال از حیازت فروشنده

**مادهٔ ۷۲۲:**

(۱) شخصی که مال منقول را خریداری نماید و فروشنده آن را بمنظور پرداخت تمام قیمت مال در ملکیت خود نگهدارد و خریدار بدون اجازه قبلی فروشنده طوری در آن تصرف نماید که مال مذکور را از حیازت فروشنده خارج سازد، عمل وی در حکم خیانت در امانت شناخته شده، با نظر داشت ارزش مال به جزای نقدی از پنج هزار تا یک صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه فعل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده توسط فروشنده ارتکاب یابد، مرتکب به عین جزای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده محکوم می گردد.

(۳) تعقیب عدلی جرایم مندرج فقره های (۱ و۲) این ماده

متضرر په شکایت پورې مشروط دی. د عوې له قطعي حکم د مخه له شکایت څخه د متضرر په انصراف ساقطیږي، که انصراف د حکم له صادریدو وروسته ترسره شي، د حکم تنفیذ درول کیږي.

## په امانت کې د خیانت په جرم کې مشدده حالات

۷۲۳ ماده:

په امانت کې د خیانت د جرم ارتکاب له لاندې اشخاصو څخه د یوهٔ په واسطه مشدده پیژندل کیږي، مرتکب د ارتکابي جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومیږي:

۱- هغه شخص چې د محکمې په امر، یو مال هغهٔ ته سپارل شوی یا پر قاصر یا د اهلیت پر فاقد، وصي یا قیم ټاکل شوی وي یا هغه شخص چې د قانوني استازي په صفت ټاکل شوی په هغو مالونو کې چې هغهٔ ته سپارل شوي دي په امانت کې د خیانت د جرم مرتکب شي.

مشروط به شکایت متضرر می باشد. دعوی قبل از حکم قطعی به انصراف متضرر از شکایت ساقط می گردد، اگر انصراف بعد از صدورحکم بعمل آید، تنفیذ حکم متوقف می گردد.

## حالات مشدده در جرم خیانت در امانت

مادهٔ ۷۲۳:

ارتکاب جرم خیانت در امانت توسط یکی از اشخاص ذیل مشدده شناخته شده، مرتکب به حد اکثر مجازات جرم ارتکابی، محکوم می گردد:

۱- شخصی که به امر محکمه، مالی به او سپرده شده یا بالای قاصر یا فاقد اهلیت، وصی یا قیم تعیین شده باشد یا شخصی که به صفت نمایندهٔ قانونی تعیین گردیده در اموالی که به وی سپرده شده است مرتکب جرم خیانت در امانت گردد.

۲- حمال، د حمل او نقل دواسطې چلوونکی یا هغه شخص چې په هر ډول د مال په حمل او نقل یا مالک یا د هغه قانوني استازي ته د هغه پرتسلیمی مکلف وي.

۳- مدافع وکیل، دلال، د معاملو لاربنود، صراف یا کمېشنکار د هغو سندونو په رابطه چې هغوی ته په امانت سپارل شوي دي.

## په امانت کې د خیانت په حکم کې جرمونه

۷۲۴ ماده:

لاندې اعمال په امانت کې د خیانت په حکم کې پېژندل کېږي، مرتکب په قصیر حبس یا له لسو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د هغه منقول مال مالک چې د هغهٔ مالونه د قانون په حکم یا د محکمې په قرار تر حجز لاندې نیول شوي یا د قضا تر تصرف لاندې ایښودل شوي وي،

۲- حمال، راننده واسطهٔ حمل ونقل یا شخصی که به هر نحوی مکلف به حمل و نقل مال یا تسلیمی آن به مالک یا نماینده قانونی وی باشد.

۳- وکیل مدافع، دلال، رهنمای معاملات، صراف یا کمیشن کار در رابطه به اسنادی که به آنها به امانت سپرده شده است.

## جرایم در حکم خیانت در امانت

مادهٔ ۷۲۴:

اعمال ذیل در حکم خیانت در امانت شناخته شده، مرتکب به حبس قصیر یا جزای نقدی از ده هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مالک مال منقول که اموال وی به حکم قانون یا قرار محکمه تحت حجز قرار گرفته یا تحت تصرف قضا گذاشته شده باشد مال را به

مال په ناوړه نیت د ځان یا د بل شخص د منفعت لپاره استعمال یا په هغهٔ کې تصرف وکړي یا هغه پټ کړي یا یې هغهٔ شخص ته چې په نوموړي مال کې له هغهٔ څخه د مطالبې حق ولري، تسلیم نکړي، پداسې ډول چې د مال په هکله د نیول شوو اجراآتو منظور تر لاسه نکړای شي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې ګرو اخیستونکی، مرهونه مال د هغهٔ له مالک سره په امانت کېږدي او نوموړی مالک د ځان یا د ځان د منفعت یا د بل شخص د منفعت لپاره هغهٔ په ناوړه نیت سره استعمال یا د هغهٔ مقصد پرخلاف چې هغهٔ ته سپارل شوی، په هغهٔ کې تصرف وکړي.

## څلورم فصل

## فریب کاري او د هغې مجازات

**فریب کاري**

**۷۲۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د کاذب نوم، صفت یا سمت په کارولو یا له واقعي

سوء نیت برای خود یا منفعت شخص دیگری استعمال یا در آن تصرف نماید یا آن را پنهان کند یا برای شخصی که در مال مذکور حق مطالبه را از وی داشته باشد، تسلیم نکند، به نحوی که منظور اجراآت اتخاذ شده در مورد مال بر آورده شده نتواند.

۲- در صورتی که گرو گیرنده، مال مرهونه را نزد مالک آن به امانت بگذارد و مالک مذکور برای خود یا منفعت خود یا منفعت شخص دیگر آن را به سوءنیت استعمال یا بر خلاف مقصدی که به او سپرده شده، در آن تصرف نماید.

## فصل چهارم

## فریب کاری و مجازات آن

**فریب کاری**

**مادهٔ ۷۲۵:**

(۱) شخصی که با کار برد اسم، صفت یا سمت کاذب یا سوء استفاده

سمت څخه په ناوړې ګټې اخيستنې يا په ټاکلې پېښه (حادثه) کې د غلطې اطلاع ورکونې يا يوۀ غير واقعي امر (کار) ته په هيله من کولو يا لــه غيــر واقعي امر څخه په وېرولو يا نورو فريب کارانه وسايلو سره، بل شخص دپيسو يا مال د حيازت تسليمۍ يا انتقال يا د خدمت يا د ځان يا د بل شخص لپاره د منفعت ترلاسته کولــو تــه اړ (وادار) کړي، د فريب کارۍ د جرم مرتکــب پېژندل کېږي، پــه متوســط حــبس محکومېږي.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په مقصد فريب کارانه وسايل له هغو وسايلو څخه عبارت دي چې د هغو له امله فريــب خوړلی مجني عليه د پيسو يا مال يــا منفعت د حيازت تسليمۍ يا انتقال يــا دخدمت اجراء ته، اړشي.

(۳) که چېرې له زوجينو څخه يــو د نکاح له عقد څخه د مخه، خپل طرف ته په غير واقعي چارو لکــه د لــوړو زده کړو يا پانګې (سرمايې)، ټــولنيز موقف، شغل په لرلو يا مجرد والــي،

از سمت واقعــی یــا دادن اطــلاع نادرست در حادثه معین یــا امیــدوار کردن به یک امر غیــر واقعــی یــا ترساندن از یک امــر غیــر واقعــی یا ســایر وســایل فریــب کارانــه، شــخص دیگــری را بــه تســلیمی یا انتقال حیازت پول یا مال یا کسب خدمت یا منفعت بــرای خــود یــا برای شخص دیگــری وادار ســازد، مرتکب جرم فریب کاری شناخته شده، بــه حــبس متوســط، محکــوم می‌گردد.

(۲) به مقصد فقرۀ (۱) این ماده وسایل فریب کارانه عبارت از وسایلی اســت که به اثر آن مجنــی علیــه فریــب خورده به تسلیمی یا انتــقال حیــازت پول یا مال یا منفعــت یــا اجــرای خدمت، وادار گردد.

(۳) هرگاه هر یک از زوجین قبــل از عقد نکاح، طرف خود را به امور غیر واقعی از قبیل داشتن تحصیلات عالی یا سرمایه، موقف اجتماعی، شغل یا مجرد بودن، فریب دهد وعقد بــر مبنــای

فریب ورکړي او عقد د هغو څخــه د هریوهٔ پر مبنی صورت وموميٍ، مرتکب په قصیر حبس محکومېږي.

(۴) ددې مادې په (۳) فقره کې پــه درج شوي حالت کې د مرتکب عدلي تعقیب د شاکي په شکایت پورې تړلی دی. شاکي کولی شي د عدلي تعقیب په هر پړاو کې له خپل شکایت څخــه منصرف شي، پدې صورت کې دعوي ته رسیدګي او د جــزا تطبیــق درول کېږي.

## له فرېب څخه په استفادې د غیر په مالونو کې تصرف

۷۲٦ ماده:

هغه شخص چې د فرېب کارانه وسایلو په استعمال سره په نه ملکیت دعلم سره سره یا علم پدې چې په هغــهٔ کــې د تصرف حق نلري د غیر په منقول مال یا عقار کې تصرف وکړي یا په مال کې په هغهٔ کې په د دمخه تصــرف یــا د جانبینو ترمنځ په عقد د علم سره سره په هغه کې تصرف وکړي، پداسې ډول

هریــک از آنهــا صــورت گیــرد، مرتکب به حــبس قصــیر محکــوم می گردد.

(۴) در حالــت منــدرج فقــرهٔ (۳) این مــاده تعقیــب عــدلی مرتکــب منوط به شکایت شاکی مــی باشــد. شاکی می توانــد در هــر مرحلــهٔ از تعقیب عــدلی از شــکایت خــویش منصرف گردد، در اینصورت رسیدگی به دعــوی وتطبیــق جــزا متوقــف می گردد.

## تصرف در اموال غیر با استفاده از فریب

مادهٔ ۷۲٦:

شخصی کــه بــا اســتعمال وســایل فریب کارانــه و بــا وجــود علــم بــه عــدم ملکیــت یــا علــم بــه ایــن کــه حــق تصــرف را در آن نــدارد در مال منقــول یــا عقــار غیر، تصرف نماید یا در مال با وجود علم به تصرف قبلی در آن یــا عقــد جانبین به آن تصرف نماید، به نحــوی

چې د هغهٔ له امله غیر ته ضرر ورسېږي، په متوسط حبس محکومېږي.

**د مجني علیه له ناتوانۍ څخه په استفادې سره فریب کاري**

**۷۲۷ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د بل له احتیاج، نه مهارت یا د هغهٔ قاصر چې ۱۸ کلنې یې بشپړه کړې وي د نفس له ضعف څخه پداسې ډول ناوړه ګټه اخیستنه وکړي چې په حیلې سره د ملکیت د سندونو یا په دیونو یا طلباتو پورې د متعلق رسید خط د لاسلیک د لیکلو یا له سوداګریزو پاڼو څخه په فراغت یا د نورو مثبته سندونو په واسطه، نوموړي شخص ته ضرر ورسوي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) مجنون، معتوه، محجور او هغه شخص چې له ۱۸ کلنۍ وروسته پر هغهٔ باندې د وصایت د استمرار حکم صادر شوی وي، قاصر ګڼل کېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو مرتکب پر

که به اثر آن به غیر ضرر برسد، به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

**فریب کاری با استفاده از عدم توانایی مجنی علیه**

**مادهٔ ۷۲۷:**

(۱) شخصی که از احتیاج، عدم مهارت یا ضعف نفس قاصری که ۱۸ سالگی را تکمیل نموده باشد طوری سوء استفاده کند که به حیله به واسطه تحریر امضاء اسناد ملکیت یا رسید خط متعلق به دیون یا طلبات یا به فراغت از اوراق تجارتی یا سایر اسناد مثبته، ضرری به شخص مذکور برساند، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۲) مجنون، معتوه، محجور و شخصی که بعد از ۱۸ سالگی بالای او حکم استمرار و صایت صادر شده باشد، قاصر شمرده می شود.

(۳) هرگاه مرتکب جرایم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ولی، وصی یا قیم بر

مجني عليه ولي، وصي يا قيم وي يا په يوډول نه يوډول د هغۀ په سر پرستۍ يا د ګټو په ساتلو مکلف وي اعم لدې چې د قانون، د محکمې د حکم يـا د خاصې موافقې په مقتضـاء وي، تـر اووکلونو په طويل حبس محکومېږي.

## د بلا محل چک صادرول

**۷۲۸ ماده:**

(۱) هغه شخص چې په ناوړه نيت سره د نغدو پيسو يا اعتبار پـه ګـټون د شتمنۍ د لرلو پرته بل شخص ته چک ورکړي يا د هغۀ د اعتبار وجه له چک څخه کمه وي يا دا چې د چـک لـه ورکولو وروسته د هغې وجهې ټوله يـا يوۀ برخه چې د هغې په اعتبار يې چک صادر کړی له بانک څخـه و باسـي، داسې چې د هغۀ شتمني، په چک کې د درج شوې وجهې کفايت ونکړي يـا هغې مرجع ته چې له هغې څخه پيسـې اخلي د پيسو په نه ورکولو امر وکړي يا چک عمداً داسې وليکي يا لاسليک کړي چې د پيسو د ورکړې مانع شي،

مجنی علیه باشد یا به نحوی از انحا به سرپرستی یا حفظ منافع وی مکلــف باشد اعم از این‌که به مقتضای قانون، حکم محکمه یا موافقۀ خاص باشد، به حبس طویل تا هفت ســال، محکــوم می گردد.

## صدور چک بلا محل

**مادۀ ۷۲۸:**

(۱) شخصی کــه بــا ســوء نیــت بــدون داشــتن دارایــی اعــم از پول نقد یا اعتبار برای شخص دیگر چک بدهــد یــا وجــه اعتبــار وی کمتر از چک بــوده یــا ایــن‌کــه بعد از اعطای چک تمام یا قسمتی از وجهی را که به اعتبار آن چک صادر نموده از بانک خارج سازد، طوری که دارایی وی، وجه منــدرج چــک را کفایت نه کند یا به مرجعی کــه از آن پول اخذ می نماید بــه عــدم تأدیــه پول امر نماید یا چک را عمداً طوری تحریر یا امضاء نماید که مانع تأدیــه پول گردد، به حبس قصیر، محکــوم

په قصير حبس محکومېږي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم عدلي تعقيب د متضرر په شکايت پورې تړلی دی.

## پنځم فصل

## د جرم له ارتکاب څخه د راپيدا شوو شيانو اختفا

**د هغو شيانو د اختفا د جرم مجازات چې دجرم د ارتکاب په پايله کې لاسته راغلي**

**۷۲۹ ماده:**

(۱) هغه شخص چې هغه شيان چې د جرم د ارتکاب په پايله کې لاسته راغلي وي، د هغو په جرمي منشاء د علم باوجود، په خپل حيازت کې راولي يا يې پټ يا يې استعمال کړي يا په يو ډول نه يو ډول په هغو کې تصرف وکړي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې شيان د جنايت د ارتکاب په پايله کې لاسته راغلي وي د قصير حبس په اکثر حد،

می گردد.

(۲) تعقيب عدلی جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده منوط به شکايت متضرر می باشد.

## فصل پنجم

## اختفای اشيايی ناشی از ارتکاب جرم

**مجازات جرم اختفای اشيايی که در نتيجه ارتکاب جرم به دست آمده**

**مادهٔ ۷۲۹:**

(۱) شخصی که اشيايی را که در نتيجه ارتکاب جرم بدست آمده باشد، با وجود علم به منشاء جرمی آن، در حيازت خود در آورد يا پنهان يا استعمال کند يا به نحوی از انحا در آن تصرف کند، قرار ذيل مجازات می‌گردد:

۱- در صورتی که اشياء در نتيجه ارتکاب جنايت بدست آمده باشد به حد اکثر حبس قصير، مگر اين‌که اين

خودا چې دغه قانون د هغه لپاره لازياته (شديده) جزا پيشبيني کړې وي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې شيان د جنحې دارتکاب په پايله کې لاسته راغلي وي، د شپږو مياشتو په قصير حبس يا د مال د ارزښت معادل په نغدي جزا.

(۲) هغه شخص چې يو له هغو شيانو څخه چې د جنايت يا جنحې د ارتکاب په پايله کې حاصل شوي پداسې احوالو کې لاسته راوړي چې ښايي د هغهٔ په نه مشروعيت باندې يې علم پيدا کړی وای تر شپږو مياشتو په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د مرتکب نه عدلي تعقيب او د مخففه حالت تطبيق

۷۳۰ ماده:

(۱) که چېرې پدې فصل کې د درج شوو جرمونو مرتکب د هغو جرمونو د مرتکبينو په هکله چې ددې قانون په ۷۲۹ ماده کې درج شوي شيان، له

قانون برای آن جزای شديدتری پيشبينی نموده باشد.

۲- در صورتی که اشياء در نتيجه ارتکاب جنحه بدست آمده باشد، به حبس قصير شش ماه يا به جزای نقدی معادل ارزش مال.

(۲) شخصی که يکی از اشيايی را که در نتيجه ارتکاب جنايت يا جنحه حاصل شده در احوالی بدست آورد که بايست به عدم مشروعيت آن علم پيدا می کرد به حبس قصير تا شش ماه يا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

## عدم تعقيب عدلی مرتکب وتطبيق حالت مخففه

مادهٔ ۷۳۰:

(۱) هرگاه مرتکب جرايم مندرج اين فصل راجع به مرتکبين جرايمی که اشيای مندرج مادهٔ ۷۲۹ اين قانون، از نزد شان بدست آمده

هغوی څخه لاسته راغلي له تحقیــق د مخه واکمنو مراجعو ته اطلاع ورکړي، نه مجازات کېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې اطلاع د تحقیق په بهیر کې واکمنو مراجعو ته وړاندې شي، د مرتکب په هکله قضایي مخففه حالات د تطبیق وړ دي.

(۳) هغه شخص چې له علم یا خبرتیــا پرته هغه مال چې د جرم د ارتکاب په پایله کې لاسته راغلی دی، وپیري، نه مجازات کېږي.

## شپږم فصل

## د تاریخي یا فرهنگي آثارو پروړاندې جرمونه

**تاریخي یا فرهنگي اثر**

**۷۳۱ ماده:**

(۱) پدې فصل کــې لــه درج شــوو جرمونو څخه د یوهٔ ارتکاب، د تاریخي یا فرهنگي اثر پر وړاندې جرم پېژندل کېږي، مرتکب د ارتکابي جرم په ټاکلو مجازاتو محکومېږي.

قبل از تحقیق به مراجع با صــلاحیت اطـــــلاع بدهــــــد، مجـــــازات نمی گردد.

(۲) هرگاه اطلاع مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در جریان تحقیق به مراجــع بــا صلاحیت ارایه گردد، حالات مخففــه قضایی در مورد مرتکب قابل تطبیــق می‌باشد.

(۳) شخصی که بدون علم یا آگــاهی مالی را که در نتیجه ارتکــاب جــرم بدست آمده است، خریداری نمایــد، مجازات نمی گردد.

## فصل ششم

## جرایم علیه آثار تاریخی یا فرهنگی

**اثرتاریخی یا فرهنگی**

**مادهٔ ۷۳۱:**

(۱) ارتکاب یکی از جرایم مندرج این فصل، جــرم علیــه اثرتــاریخی یــا فرهنگی شناخته شده، مرتکــب بــه مجازات معینه جرم ارتکابی محکــوم می گردد.

(۲) د دې فصل په مقصد، تاريخي يــا فرهنګي اثر د هغهٔ منشاء يا مالکيت ته په نه کتو سره لانــدې مــواردو تــه شامليږي:

۱- هغه منقول يا غير منقول مالونه چې د فرهنګي آثارو له لحاظه ټولو ملتونو ته له خاص اهميت څخه برخمن دي لکه معماري، هنري يا تاريخي وداني، اعم له مذهبي يا غير مذهبي، لرغونې ساحې، هغه وداني چې په مجموع کې د هنري يا تاريخي ارزښت لرونکې دي، هنري آثار، خطي نسخې، کتاب او نور هنري شيان، تاريخي او لرغوني ارزښتونه او د علمي آثارو مجموعه او مهم کتابونه يا آرشيف يا د پورته يادو شوو مــواردو تکثير.

۲- هغه وداني چې د هغو اصلي موخه د فرهنګي منقولو شتمنيو ساتنه يا ښودنه چې ددې فقرې په ۱جزء کې تعريــف شوې لکه موزيمونه، سترې کتابخــانې (کتابتونونه) او د ســندونو د ســاتنې مرکزونه، مهاجران چې د هغو موخه د وسله والې شخړې پر وخت پناهندګي

(۲) به مقصد اين فصل، اثر تاريخی يا فرهنگی بدون در نظرداشت منشاء يا مالکيــت آن شــامل مــوارد ذيــل می گردد:

۱- اموال منقول يا غير منقولی که از لحاظ آثار فرهنگی برای تمام ملت ها از اهميت خاص برخوردار است مانند بنا های معماری، هنری يا تاريخی اعم از مذهبی يا غير مــذهبی، ســاحات باستانی، ساختمان های که در مجموع دارای ارزش هنری يا تاريخی بوده، آثار هنری، نسخه های خطی، کتاب و ساير اشيای هنری، ارزش های تــاريخی و باستانی ومجموعــه آثــار علمــی و کتاب های مهم يا آرشيف يــا تکثيــر موارد فوق الذکر.

۲- ساختمان های که هدف اصــلی آن محافظت يا به نمــايش گذاشــتن دارايی های منقول فرهنگــی کــه در جزء۱ اين فقــره تعريــف گرديــده مانند مــوزيم هــا، کتابخانــه هــای بزرگ و مراکز حفظ اسناد، مهاجران که هدف آنها حين منازعهٔ مســلحانه

ده او ددې فقرې په ۱ جزء کې درج فرهنګي منقوله شتمني.

(۳) منقول او غير منقول تاريخي يا فرهنګي اثر چې په هېواد کې کشف شوي يا تر ځمکې لاندې پټ وي، د دولت ملکيت دی.

**تاريخي يا فرهنګي اثر ته صدمه (زيان) رسول**

**۷۳۲ ماده:**

هغه شخص چې تاريخي يا فرهنګي اثر عمداً ويجاړ، تلف يا هغه ته صدمه ورسوي، له احوالو سره سم، په متوسط يا طويل حبس محکومېږي.

**د تاريخي يا فرهنګي اثر له کشف څخه نه اطلاع ورکول**

**۷۳۳ ماده:**

هغه شخص چې منقول يا غير منقول تاريخي يا فرهنګي اثر کشف کړي يا هغه شخص چې دغه ډول اثر د هغه په ملکيت کې کشف شوی وي په اړوند تقنيني سندونو کې په درج شوي موده کې، له موضوع څخه ډېرې نږدې

پناهندگی می باشد و دارایی منقول فرهنگی مندرج جزء۱ این فقره.

(۳) اثر تاریخی یا فرهنگی منقول و غیر منقول که در کشور کشف شده یا زیر زمین پنهان باشد، ملکیت دولت می باشد.

**صدمه رسانیدن به اثرتاریخی یا فرهنگی**

**مادهٔ ۷۳۲:**

شخصی که اثرتاریخی یا فرهنگی را عمداً تخریب، تلف یا به آن صدمه برساند، حسب احوال، به حبس متوسط یا طویل، محکوم می‌گردد.

**عدم اطلاع ازکشف اثر تاریخی یا فرهنگی**

**مادهٔ ۷۳۳:**

شخصی که اثرتاریخی یا فرهنگی منقول یا غیرمنقول را کشف کند یا شخصی که چنین اثردر ملکیت وی کشف شده است در مدت مندرج اسناد تقنینی مربوطه، موضوع را به نزدیک‌ترین ادارهٔ محلی اطلاع

محلي اداري ته اطلاع ورنکړي، په قصير حبس محکومېږي.

## د مسؤول يا ساتونکي په واسطه د تاريخي او فرهنګي اثر اختلاس

**۷۳۴ ماده:**

(۱) که چېرې مسؤول يا ساتونکی، تاريخی يا فرهنګي اثر اختلاس کړي، په طويل حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې د مسؤول يا ساتونکي د غفلت يا اهمال له امله، تاريخي يا فرهنګي اثر ويجاړ، تلف يا ورک شي يا په بل ډول هغهٔ ته صدمه ورسېږي، مرتکب له احوالو سره سم په متوسط يا قصير حبس محکومېږي.

## له موزيم څخه د تاريخي يا فرهنګي اثر نا قانونه اېستل

**۷۳۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې تاريخي يا فرهنګي اثر د واکمنو مراجعو له اجازې پرته، د ښودنې په منظور يا په بل هر مقصد، د هغهٔ د ساتنې له ځای څخه و باسي (بهرکړي)، تر دوو کلونو پورې په

ندهد، به حبس قصير، محکوم می‌گردد.

## اختلاس اثر تاريخی و فرهنگی توسط مسؤول يا محافظ

**مادهٔ ۷۳۴:**

(۱) هرگاه مسؤول يا محافظ، اثرتاريخی يا فرهنگی را اختلاس نمايد، به حبس طويل محکوم می گردد.

(۲) هرگاه از اثر غفلت يا اهمال مسؤول يا محافظ، اثرتاريخی يا فرهنگی تخريب، تلف يا مفقود گردد يا به نحو ديگری به آن صدمه وارد شود، مرتکب حسب احوال به حبس متوسط يا قصير، محکوم می‌گردد.

## خارج ساختن غير قانونی اثر تاريخی يا فرهنگی از موزيم

**مادهٔ ۷۳۵:**

(۱) شخصی که اثر تاريخی يا فرهنگی را بدون اجازه مراجع ذيصلاح، بمنظورنمايش يا هر مقصد ديگری، از محل نگهداشت آن خارج سازد، به حبس متوسط تا دو سال، محکوم

متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اعمالو د ارتکاب په پایله کې، تاریخي یا فرهنګي اثر تغییر، بدل، ویجاړ، تلف، ورک یا هغه ته صدمه رسېدلې وي، مرتکب له احوالو سره سم په متوسط یا تر اتو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي.

## د تاریخي یا فرهنګي اثر قاچاق

### ۷۳٦ ماده:

(۱) هغه شخص چې په نا قانونه توګه تاریخي یا فرهنګي اثر وپېري، وپلوري، وړاندې کړي، وغواړي، وساتي، انتقال، حمل او نقل، پټ، کمېشنکاري یا له هېواده وباسي، له احوالو سره سم، په متوسط یا طویل حبس، محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې تاریخي یا فرهنګي اثر چې واردېدل يې افغانستان ته ممنوع وي، هېواد ته وارد کړي، په قصير حبس یا له دېر شو زرو څخه تر شپېتو

می گردد.

(۲) هرگاه در نتیجه ای ارتکاب اعمال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، اثر تاریخی یا فرهنگی تغییر، تبدیل، تخریب، تلف، مفقود یا به آن صدمه وارد گردیده باشد، مرتکب حسب احوال به حبس متوسط یا حبس طویل تا هشت سال، محکوم می گردد.

## قاچاق اثرتاریخی یا فرهنگی

### مادهٔ ۷۳٦:

(۱) شخصی که به صورت غیر قانونی اثر تاریخی یا فرهنگی را خرید، فروش، عرضه، تقاضا، نگهداری، انتقال، حمل و نقل، پنهان، کمیشن کاری یا از کشور، خارج نماید، حسب احوال، به حبس متوسط یا طویل، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که اثر تاریخی یا فرهنگی را که ورود آن به افغانستان ممنوع باشد، به کشور وارد نماید، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا

زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې تاریخي یا فرهنګي اثر د افغانستان د اسلامی جمهوریت د دولت له قلمرو څخه چې د هغه تر تسلط لاندې نه وي قاچاق کړي یا هغه په نا قانونه توګه انتقال کړي یا په نوموړو ساحو کې کېندنه (حفاري) وکړي، په متوسط حبس محکومېږي.

<u>په ثبت شوې ساحه کې د ودانۍ جوړول</u>

۷۳۷ ماده:

(۱) هغه شخص چې په خپل ملکیت کې چې په لرغونې ثبت شوې ساحه کې واقع شوی وي په نا قانونه توګه ودانۍ جوړه کړي یا بل شخص ته د ودانۍ د جوړولو اجازه ورکړي، په قصیر حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې په عامه ملکیت کې چې په لرغونې ثبت شوې ساحه کې واقع شوی وي، په نا قانونه توګه ودانۍ جوړه کړي، د طویل حبس په اکثر حد،

شصت هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۳) شخصی که اثر تاریخی یا فرهنگی را از قلمرو دولت جمهوری اسلامی افغانستان که تحت تسلط آن نباشد قاچاق نماید یا آنرا بصورت غیر قانونی انتقال دهد یا در ساحات مذکور حفاری نماید، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

<u>اعمار ساختمان در ساحه ثبت شده</u>

مادهٔ ۷۳۷:

(۱) شخصی که در ملکیت خود که در ساحهٔ ثبت شده باستانی واقع شده باشد به صورت غیر قانونی ساختمان اعمار کند یا اجازه اعمار ساختمان را به شخص دیگری بدهد، به حبس قصیر، محکوم می‌گردد.

(۲) شخصی که در ملکیت عامه که در ساحهٔ ثبت شده باستانی واقع شده باشد، به صورت غیر قانونی ساختمان اعمار کند، به حد اکثر حبس طویل،

محکومېږي.

**د ثبت شوې ودانۍ په جوړښت کې بدلون**

**۷۳۸ ماده:**

هغه شخص چې په ثبت شوو تاریخي اماکنو، ودانۍ یا آبداتو کې چې د تاریخي او فرهنګي ارزښت لرونکې دي د اړوندې ادارې له اجازې پرته بدلون راولي، په قصیر حبس محکومېږي.

**لرغونو ثبت شوو حوزو ته ضرر یا زیان رسول**

**۷۳۹ ماده:**

هغه شخص چې د اړوندې ادارې له اجازې پرته د لرغونو ثبت شوو حوزو په داخل کې په سرنګ پرانۍ، د څا یا کاریز یا خندق په کېندلو، نقب وهلو، د داش په جوړولو، د نقلیه عراده جاتو په سوقولو، د مړي په خښولو یا ورته عملیاتو لاس پورې کړي، له احوالو سره سم په متوسط یا قصیر حبس محکومېږي.

محکوم می‌گردد.

**تغییر در ساختمان عمارت ثبت شده**

**مادۀ ۷۳۸:**

شخصی که در اماکن، عمارت یا آبدات تاریخی ثبت شده که دارای ارزش تاریخی و فرهنگی است بدون اجازۀ ادارۀ مربوط تغییر وارد سازد، به حبس قصیر، محکوم می‌گردد.

**وارد نمودن ضرر یا خساره به حوزه های ثبت شده باستانی**

**مادۀ ۷۳۹:**

شخصی که به داخل حوزه های ثبت شدۀ باستانی بدون اجازه ادارۀ مربوط به ُسرنگ پرانی، کندن چاه یا کاریز یا خندق، نقب زدن، اعمار داش، سوق دادن عراده جات نقلیه، دفن میت یا عملیات مشابه بپردازد، حسب احوال به حبس متوسط یا قصیر، محکوم می‌گردد.

## په لرغونو ساحو کې کېندنه يا پلټنه (کاوش)

**۷۴۰ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د تاريخي يا فرهنګي اثر د لاسته راوړلو په قصد له مجوز پرته يا په غير فني توګه په لرغونو ساحو کې په کېندنه يا کاوش لاس پورې کړي، له دوو کلونو څخه زيات په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم، په خپل شخصي ملکيت کې تر سره کړي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

## د زيان جبران او د تاريخي يا فرهنګي اثر ردول

**۷۴۱ ماده:**

هغه شخص چې پدې فصل کې له درج شوو جرمونو څخه د يوهٔ مرتکب شي، پدې فصل کې پر درج شوو مجازاتو برسېره د عين اثر په رد او د اتلاف يا د ضرر، زيان يا نقص د واردېدو په

## حفاری یا کاوش در ساحات باستانی

**مادهٔ ۷۴۰:**

(۱) شخصی که به قصد بدست آوردن اثر تاریخی یا فرهنگی، بدون مجوز یا به صورت غیر فنی در ساحات باستانی به حفاری یا کاوش بپردازد، به حبس متوسط بیش از دو سال، محکوم می‌گردد.

(۲) شخصی که جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را در ملکیت شخصی خویش انجام دهد، به حبس متوسط تا دو سال، محکوم می گردد.

## جبران خساره و رد اثر تاریخی یا فرهنگی

**مادهٔ ۷۴۱:**

شخصی که مرتکب یکی ازجرایم مندرج این فصل گردد، علاوه بر مجازات مندرج در این فصل به رد عین اثر و در صورت اتلاف یا وارد نمودن ضرر، خساره یا نقص، به

صورت کې، د زيان پر جبـــران، هـــم محکومېږي.

## اووم فصل
## د فکري ملکيتونو پر حقوقو تجاوز

**د فکري ملکيتونو حقوق**

**۷۴۲ ماده:**

(۱) هغه شخص چې کتـــاب، رســـاله، جزوه، شعر، تصنيف، نمايشنامه، ژباړه، د نقاشۍ يا رسامۍ تـــابلو، جغرافيـــايي نقشه، سندره، سينمايي فلم، تلويزيـــوني سريال، راديويي يا تلويزيوني برنـــامې، مجسمه، د خوش نويسۍ يا عکاسۍ اثر، ګرافيکي يا معماري اثر يا لاسي صنايع، اختراع، علمي کشف، صنعتي طرحې، سوداګريزې نښې (علايم) يا دبل شخص له فکري فعاليتونو څخه رامنځته شـــوي نور حقوق د هغو د مالک لـــه ليکلـــې اجازې پرته په خپل يا د بل شخص په نوم طبع او نشر يا اجراء يا ښودنه ورکړي يا بياتوليد کړي يا د خرڅلاو په قصـــد وړاندې کړي يا هغه تحريف يا يې شکل

جبـــران خســـاره، نيـــز محکـــوم می‌گردد.

## فصل هفتم
## تجاوز بر حقوق ملکيت های فکری

**حقوق ملکيت های فکری**

**مادۀ ۷۴۲:**

(۱) شخصی که کتاب، رساله، جزوه، شعر، تصنيف، نمايش‌نامـــه، ترجمـــه، تابلوی نقاشی يـــا رســـامی، نقشـــه جغرافيايی، آهنگ، فلم سينمايی، سريال تلويزيونی، برنامه های راديـــويی يـــا تلويزيونی، مجسمه، اثر خوش نويسی يا عکاسی، اثر گرافيکی يا معمـــاری ياصنايع دستی، اختراع، کشف علمی، طرح های صنعتی، علايم تجاری يـــا سايرحقوق ناشـــی ازفعاليـــت هـــای فکری شخص ديگری را به نام خود يا شخص ديگری بدون اجـــازه کتبـــی مالک آن، طبع و نشر يا اجـــراء يـــا نمايش دهد يا مجدداً توليد کند يا بـــه قصد فروش عرضه کند يـــا آنهـــا را

ته بدلون ورکړي یا په هغو کې تصرف وکړي یا په هره طریقه له هغو څخه مادي یا معنوي ګټه اخیستنه وکړي یا نوموړي ادبي آثار وژباړي، د فکري ملکیتونو پر حقوقو د تجاوز د جرم مرتکب پېژندل کېږي.

(۲) د فکري ملکیتونو پر حقوقو د تجاوز د جرم مرتکب، ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

**دمؤلف،مصنف،محقق او هنرمند پر حقوقود تجاوز مجازات**

**۷۴۳ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د خپل سوداګریز منفعت د ترلاسته کولو لپاره د بل چا کاپي رایت حق عمداً نقض کړي، د قصیر حبس په اکثر حد یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې د مؤلف، مصنف، هنرمند او محقق د حقوقو د ملاتړ (کاپي رایت) د قانون د درویشتمې مادې په (۲) فقره کې په درج شوي

تحریف یا تغییرشکل دهد یا درآنها تصرف کند یا به هرطریقی ازآن بهره برداری مادی یا معنوی انجام دهد یا آثار ادبی متذکره را ترجمه کند، مرتکب جرم تجاوز بر حقوق ملکیت های فکری، شناخته می شود.

(۲) مرتکب جرم تجاوز بر حقوق ملکیت های فکری، مطابق احکام این فصل، مجازات می گردد.

**مجازات تجاوز برحقوق مؤلف، مصنف، محقق و هنرمند**

**مادۀ ۷۴۳:**

(۱) شخصی که عمداً حق کاپی رایت دیگری را جهت کسب منفعت تجارتی خود نقض نماید، به حد اکثر حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که در موعد مندرج فقرۀ (۲) مادۀ بیست وسوم، قانون حمایت حقوق مؤلف، مصنف، هنرمند ومحقق(کاپی رایت)،

موعد کې د اثر د ښودونکي له ليکلې موافقې پرته، د اثر يا د هغــه د يــوې برخې په بيا خپرولو لاس پورې کړي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تــر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جــزا محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې د مالک له ليکلې موافقې پرته، د هغه ژباړه په خپل يــا د بل شخص به نوم چاپ، خپره او نشر کړي، له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د مؤلفو، مصنف، محقق او هنرمند پر حقوقو د تجاوز نور حالات

**۷۴۴ ماده:**

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوه مرتکب شي، پــه قصــير حــبس محکومېږي:

۱- د هغو ابزارو، وسايلو او ادواتو د بې اغېزې کولو په منظور د هــر ډول ابزارو، وسايلو يا ادواتــو توليــد يــا توريد چې د اثر د بيا توليد، د غــږ د ضبط يا خپرېدو او نشر د مخنيوي يــا

بدون موافقۀ کتبی نمايش دهندۀ اثر، به پخش مجدد اثر و يا بخشی از آن به هر وسيله يا روش اقدام نمايد، به حــبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تــا شصــت هــزار افغــانی، محکــوم می گردد.

(۳) شخصی که بدون موافقۀ کتبــی مالک، ترجمۀ وی را بنام خــود يــا شخص ديگر چاپ، پخــش و نشــر نمايد، به جزای نقدی سی هزار تــا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

## ساير حالات تجاوز بــر حقــوق مؤلف، مصنف، محقق و هنرمند

**مادۀ ۷۴۴:**

شخصی که مرتکب يکی از اعمال ذيل گردد، به حــبس قصــير، محکــوم می گردد:

۱- توليــد يــا توريــد هــر نــوع ابزار، وســايل يــا ادوات بمنظــور بــی اثــر ســاختن ابــزار، وســايل و ادواتی که ســبب جلــوگيری يــا محدود ساختن توليد مجدد اثر، ضبط

محدودولو لامل کېږي یا دا چې د هغو موخه د اثر د کیفیت کمزوري کول وي.

۲- عامه خلکو ته د خپرېدو وړ یا له بلې لارې د انتقال وړ مدونو برنامو د ترلاسه کولو په منظور د سپوږمکۍ یا د نوموړو ابزارو او ادواتو له لارې د برنامو د انتقال په شمول چې هغه شخص ته د دغه شان برنامو انتقال برابر کړي چې د هغو د ترلاسه کولو مستحق ندی، د هر ډول ابزارو یا ادواتو تولید یا واردول.

۳- د کاپي رایت د ملاتړ وړ هر ډول الکترونیکي معلوماتو خپرول، حذف یا بدلون (تغییر)، د هغو د رامنځته کوونکي له اجازې پرته.

۴- د منفعت د ترلاسه کولو په مقصد د نورو له آثاروڅخه نا قانونه ګټه اخیستنه چې د کاپي رایت تر ملا تړ لاندې دي.

صدا یا پخش و نشر می گردد یا این که هدف آن تضعیف کیفیت اثر باشد.

۲- تولید یا تورید هر نوع ابزار یا ادوات بمنظور دریافت برنامه های مدون قابل پخش یا قابل انتقال از طریق دیگر به عامۀ مردم، به شمول انتقال برنامه ها از طریق ماهواره (ستلایت) یا ابزار و ادوات مذکور که انتقال چنین برنامه ها را به شخص فراهم سازد که مستحق دریافت آنها نمی باشد.

۳- پخش، حذف یا تغییر هر نوع معلومات الکترونیکی مورد حمایت کاپی رایت، بدون اجازه پدید آورندۀ آن.

۴- استفادۀ غیر قانونی از آثار دیگران که تحت حمایت کاپی رایت قرار دارد به مقصد کسب منفعت.

## د مخترع او مکتشف پر حقوقو تجاوز

**۷۴۵ ماده:**

هغه شخص چې د مالک له لیکلې اجازې پرته، له لاندې اعمالو څخه د یوهٔ مرتکب شي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلو شلو زروافغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي:

۱- د اختراع یا علمي کشف یا صنعتي طرحې نا مجازه تولید.

۲- د اختراع یا علمي کشف یا صنعتې طرحې ساتل، پلورل یا د خرڅلاو لپاره وړاندې کول.

۳- د اختراع یا علمي کشف یا صنعتي طرحې مجاز استعمال.

۴- د بل شخص د اختراع یا علمي کشف تحریف یا شکل ته بدلون ورکول.

۵- د بل یوهٔ په اختراع یا علمي کشف کې تصرف.

## تجاوز بر حقوق مخترع و مکتشف

**مادهٔ ۷۴۵:**

شخصی که بدون اجازه کتبی مالک، مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حبس متوسط تا دوسال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یک صد وبیست هزار افغانی، محکوم می گردد:

۱- تولید غیر مجاز اختراع یا کشف علمی یا طرح صنعتی.

۲- نگهداری، فروش یا عرضه برای فروش اختراع یا کشف علمی یا طرح صنعتی.

۳- استعمال مجاز اختراع یا کشف علمی یا طرح صنعتی.

۴- تحریف یا تغییر شکل اختراع یا کشف علمی شخص دیگری.

۵- تصرف در اختراع یا کشف علمی دیگری.

**د حکم خپرول**

**۷۴٦ ماده:**

هغه شخص چې پدې فصل کــې درج شوي جرمونه په متکرر صورت مرتکب شي، پدې قانون کې درج شوي د جرم په تکرار له اړوندو حکمونو سره سم، مجازات کېږي او موضوع د زیانمن د غوښتنې له امله د مرتکب په لګښت له ټولیزو رسنیو څخه په یوې کې خپرېږي.

**د ترلاسه شوي منفعت اعاده**

**۷۴۷ ماده:**

د دې فصل په ټولو درج شوو حالاتوکې له معنوي ملکیتونو څخه تر لاسه شوی منفعت د هغــه مالــک تــه اعــاده کېږي.

**عدلي تعقیب**

**۷۴۸ ماده:**

پدې فصل کې د درج شوو جرمونـــو عدلي تعقیب، د فکــري ملکیتونـــو د مالک په شکایت پورې تړلی دی.

**نشر حکم**

**مادهٔ ۷۴٦:**

شخصی کــه جــرایم منــدرج ایــن فصل را به صورت متکــرر مرتکــب گردد، مطابق احکام مربوط به تکــرار جرم مندرج این قــانون، مجــازات گردیده وموضوع به اثر تقاضای متضرر بـــه مصـــرف مرتکـــب دریکـــی از رســـانه های همگانـــی نشر می گردد.

**اعاده منفعت حاصله**

**مادهٔ ۷۴۷:**

در تمام حالات منــدرج ایــن فصـــل منفعـــت حاصـــله از ملکیـــت هـــای معنـــوی بـــه مالـــک آن اعـــاده می گردد.

**تعقیب عدلی**

**مادهٔ ۷۴۸:**

تعقیب عدلی جرایم مندرج این فصل، منوط به شکایت مالک ملکیت هـــای فکری می باشد.

## اتم فصل

## د ويجاړولو، اتلاف او انتقال جرمونه

### د ويجاړولو او اتلاف مجازات

**۷۴۹ ماده:**

هغه شخص چې د غير ملکيت منقول يا غير منقول مال منهدم (وران)، ويجاړ يا تلف کړي يا هغه د نه ګټې اخيستنې وړ وګرځوي يا هغه ته ضرر ورسوي يا په هرډول چې وي هغه عاطل کـــړي، د ويجاړو او اتلاف د جرم مرتکب پېژندل کېږي، د رسېدلي زيان پر جبران برسېره په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جـــزا محکومېږي. خو داچې پدې قانون کې لاشديده جزا پيشبيني شوې وي.

### د ويجاړولو او اتلاف په جرم کې مشدده حالات

**۷۵۰ ماده:**

د ويجاړولو او اتلاف د جرم ارتکـــاب په هغه صورت کې چې د مال ارزښت

## فصل هشتم

## جرايم تخريب، اتلاف و انتقال

### مجازات تخريب و اتلاف

**مادۀ ۷۴۹:**

شخصی که مال منقول يا غير منقـــول ملکيت غير را منهدم، تخريب يا تلف نمايد يا آن را غير قابل استفاده گرداند يا به آن ضرر برساند يا به هر نحـــوی که باشد آن را عاطل گرداند، مرتکب جرم تخريب و اتلاف شناخته شـــده، علاوه بر جبران خساره وارده به حبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تـــا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد. مگر اين‌که در ايـــن قـــانون جـــزای شديدتری پيش بينی شده باشد.

### حالات مشدده در جرم تخريب و اتلاف

**مادۀ ۷۵۰:**

ارتکاب جرم تخريـــب واتـــلاف در صورتی که ارزش مال بيش از پنجـــاه

له پنځوس زره افغانيو څخه زيات وي، له لاندې حالاتو څخه په يوه کې مشدده ګڼل کېږي، مرتکب په لاندې مجازاتو، محکومېږي:

۱- په هغه صورت کې چې لـــه دوو نفرو څخه د زياتو په واسطه ارتکـــاب شوی وي، د قصير حبس په اکثرحد.

۲- په هغه صورت کې چې له ناريـــه وسلې څخه په ګټه اخيستنې ارتکـــاب شوی وي، تردووکلونو پورې په متوسط حبس.

۳- د ستر آشوب يا شورش په حالت کې لـــه دووکلونـــو څخـــه زيـــات په متوسط حبس.

## د ويجاړولو او اتلاف د جرم نـــور حالات

**۷۵۱ ماده:**

(۱) هغه اشخاص چې له لاندې جرمونو څخه د يوۀ مرتکب شي، دوارده زيان (خسارې) معـــادل پـــه نغـــدي جـــزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې په غير پورې اړوند

هزار افغانی باشد، در يکی از حـــالات آتـــی مشـــدده شـــناخته شـــده، مرتکب به مجـــازات ذيـــل محکـــوم می گردد:

۱- در صورتی که توسط بيش از دو نفر، ارتکاب گرديده باشد، به حداکثر حبس قصير.

۲- در صورتی که بـــا استفاده از ســـلاح ناريـــه، ارتکـــاب گرديـــده باشـــد، بـــه حـــبس متوســـط تـــا دو سال.

۳- در حالت آشـــوب يـــا شـــورش بـــزرگ بـــه حـــبس متوســـط بيش از دوسال.

## ساير حـــالات جـــرم تخريـــب و اتلاف

**مادۀ ۷۵۱:**

(۱) اشخاصی که مرتکـــب يکـــی از جرايم ذيل گردند، به جـــزای نقـــدی معـــادل خســـارۀ وارده، محکـــوم می گردند:

۱- شخصی که غله يـــا محصـــولات

**غله يا كرنيز محصولات چې لاتر اوسه رېبل شوي يا ټول شوي نه وي، ويجاړ، تلف يا د نه ګټې اخيستنې وړ وګرځوي.**

**۲-هغه شخص چې د غير د ملكيت كښت ويجاړ يا تلف يا دنه ګټې اخيستنې وړ وګرځوي يا په هغه كې د مضره نباتاتو مواد وشيندي يا له كښت مخكې په كرنيزه ځمكه كې مضره مواد يا نباتات و شيندي (پاش كړي).**

**۳- هغه شخص چې د غير ملكيت ونه له بېخه وكاږي (وباسي) يا يې قطع يا تلف كړي يا مضره شاخچه په هغه كې وكري يا هغه د وچېدو په منظور پوست كړي.**

**(۲) كه چېرې ددې مادې په (۱) فقره كې درج شوى جرم د لمرد لوېدو او راختو ترمنځ او اقلاً د دوو نفرو په واسطه چې يوله هغو له عنف څخه كار واخلي يا يوله هغو پټه يا ښكاره وسله حمل كړي، ارتكاب شي، له مرتكبينو څخه هريو په قصير حبس محكومېږي.**

**زراعتی متعلق به غير را كه هنوز درو يا چيده نشده باشد، تخريب، تلف يا غيرقابل استفاده گرداند.**

**۲- شخصی كه كشت ملكيت غير را تخريب يا تلف يا آنرا غيرقابل استفاده گرداند يا در آن موادی نباتات مضره را بپاشد يا قبل از كشت در زمين زراعتی مواد يا نباتات مضره را پاش دهد.**

**۳- شخصی كه درخت ملكيت غير را از بيخ بكشد يا قطع يا تلف نمايد يا شاخچه مضره را در آن زرع نمايد يا آن را بمنظور خشک شدن پوست كند.**

**(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده بين غروب و طلوع آفتاب و اقلاً توسط دو نفر كه يكی از آنها از عنف كار بگيرد يا يكی از آنها سلاح ظاهر يا پنهان حمل نمايد، ارتكاب گردد، هر يک از مرتكبين به حبس قصير، محكوم می گردند.**

(۳) که چېرې ددې مادې د (۱) فقرې په ۱ تر ۳ اجزاووکې د درج شوي جرم له امله د وارد شوي زیان اندازه،له پنځوس زره افغانیو څخه زیاته وي، مرتکب په قصیر حبس محکومېږي.

## د حدودو د انتقال جرم

**۷۵۲ ماده:**

هغه شخص چې د غیر ملکیت له حدودو څخه یو حد ویجاړ کړي یا یوه بله نښه چې د مساحت یا حدودو د ضبط په منظور یا د املاکو ترمنځ د بېلوالي په منظور نصب شوی وي، انتقال کړي یا هغه زایله کړي د حدودو د انتقال د جرم مرتکب پېژندل کېږي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۳) هرگاه از اثر جرم مندرج اجزای ۱تا ۳ فقرهٔ (۱) این ماده اندازه خساره وارده، بیش از پنجاه هزار افغانی باشد، مرتکب به حبس قصیر، محکوم می گردد.

## جرم انتقال حدود

**مادهٔ ۷۵۲:**

شخصی که حدی از حدود ملکیت غیر را تخریب کند یا علامت دیگری را که بمنظور ضبط مساحت یا حدود یا بمنظور جدایی دربین املاک نصب شده، انتقال دهد یا آن را زایل سازد، مرتکب جرم انتقال حدود شناخته شده، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

## لسم باب
## مالياتې او سوداګريز جرمونه
## لومړی فصل
## سوداګريز جرمونه

**په سوداګريزو چاروکې نا قانونه رقابت**

**۷۵۳ ماده:**

که چېرې سوداګر په سوءنيت سره له لاندې اعمالو څخه د يوۀ مرتکب شي، له پنځوسو زرو څخه تر يو ميليون افغانيو پورې په نغدي جزا، محکومېږي:

۱- په سوداګريزو چاروکې حيله يا دسيسه.

۲- د حقيقت د مخالفو مطالبو خپرول چې د بل تاجر منفعت يا تجارت ته ضرر ورسوي.

۳- د بل تا جر چې هم جنس کالي پلوري د مشتريانود جلب په مقصد د امتعې د منشاء يا اوصافو يا د خپل تجارت د اهميت په هکله د حقيقت مغايره شايعه او همدارنګه د هغه تصديق

## باب دهم
## جرايم مالياتی وتجارتی
## فصل اول
## جرايم تجارتی

**رقابت غير قانونی در امور تجارتی**

**مادۀ ۷۵۳:**

هرگاه تاجری با سوء نيت مرتکب يکی از اعمال ذيل شود، به جزای نقدی از پنجاه هزار تا يک ميليون افغانی، محکوم می‌گردد:

۱- حيله يا دسيسه در امور تجارتی.

۲- نشر مطالب مخالف حقيقت که به منفعت يا تجارت تاجرديگری ضرر واردکند.

۳- شايعۀ مغاير حقيقت راجع به منشاء يا اوصاف امتعه يا اهميت تجارت خود به مقصد جلب مشتريان تاجرديگری که کالای هم جنس را می فروشد و همچنان اعلان تصديقنامه

لیک او مکافاتو اعلان چې حایز یې نه وي له حیلې څخه په ګټې اخیستنې سره.

۴- د بل تاجر یا فابریکې د مستخدمینو تطمیع له مشتریانو څخه د اطلاع او د هغوی د جلب په مقصد.

۵- د بل تاجرد اغفال په منظور د حقیقت خلاف د حسن خدمت د شهادت لیک یا تصدیق ورکول.

٦- د بل تاجر د اخلاقو یا مالي اقتدار په اړه د حقیقت خلاف معلوماتو وړاندې کول.

## ترټاکلي عنوان لاندې د تجارت نه اجراء

**۷۵۴ ماده:**

که چېرې یو سوداګر په خپل تجارت پورې اړوندې پاڼې او معاملې د ټاکلي نوم په غیر چې د تجارت عنوان تعبیرېږي په نورو عناوینو اجراء یا لاسلیک کړي، وارد شوي زیان ته په پام سره، ترشلو زرو افغانیو پورې په نغدې جزا محکومېږي.

ومکافاتی که حایزآن نبوده باشد با استفاده ازحیله.

۴- تطمیع مستخدمین تاجر یا فابریکه دیگری به مقصد اطلاع ازمشتریان وجلب آنها.

۵- اعطای شهادت نامه یا تصدیق حسن خدمت خلاف حقیقت بمنظور اغفال تاجردیگر.

٦- ارایه معلومات خلاف حقیقت در باره اخلاق یا اقتدار مالی تاجر دیگری.

## عدم اجرای تجارت تحت عنوان معین

**مادۀ ۷۵۴:**

هرگاه تاجری اوراق و معاملات متعلقه تجارت خود را به غیر از اسم معین که عنوان تجارت تعبیر می شود به سایر عناوین اجراء یا امضاء نماید با نظر داشت خساره ای وارده، به جزای نقدی تا بیست هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

**د اجباري سوداګريزو دفترونو نــه ساتل او د سوداګــر يا دلال پــه واسطه په هغه کې درج**

**۷۵۵ ماده:**

که چېرې تاجــر يا دلال د اجبــاري سوداګريزو دفترونو د ترتيــب يــا د معاملاتو د نه ثبت په رابطه، په اړوندو قوانينو کې درج شوي شرايط رعايــت نکړي، د ټاکلې ماليې يا محصول پــر ورکړې برسېره د تحصيل وړلس سلنې ماليې په نغدي جزا هم محکومېږي.

**د مرکزي ثبت دفترته د ثبت لپاره د تزويري سند وړاندې کول**

**۷۵٦ ماده:**

که چېرې يو سوداګر قصداً تزويــري سند لاسليک يا د ثبت پــه غــرض د مرکزي ثبت دفترته وړاندې کړي، پدې قانون کې درج د تزوير د جرم په جزا محکومېږي.

**عدم حفظ دفاتر تجارتی اجباری و درج در آن توســط تــاجر يــا دلال**

**مادهٔ ۷۵۵:**

هرگاه تاجر يا دلال در رابطه به ترتيب دفاتر تجارتی اجباری يا عــدم ثبــت معاملات، شرايط مندرج قوانين مربوطه را رعايت نکند، علاوه بر پرداخــت ماليه يا محصول معينه به جزای نقدی ده فيصد ماليه قابل تحصيل، نيز محکوم می گردد.

**ارايه سند تزويری جهت ثبت بــه دفتر ثبت مرکزی**

**مادهٔ ۷۵٦:**

هرگاه تاجری قصداً سند تزويــری را امضاء يا غرض ثبت به دفتــر ثبــت مرکزی ارايه نمايد، به جــزای جــرم تزوير مندرج در اين قانون، محکــوم می‌گردد.

**د وا قعيت خلاف شکايت وړاندې کول**

**۷۵۷ ماده:**

هغه شخص چې د متشبث، سوداگر، مؤسسې، شرکت يا دهغو د رئيسانو سوداگريز يا حرفوي اعتبار ته د صدمې رسولو په قصد د واقعيت خلاف شکايت په ليکلي توگه له رقابت څخه د ملاتړ په قانون کې درج د ملي رقابت بورد يا واکمنې محکمې ته وړاندې کړي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

**د سوداگريزو او صنعتي اسرارو افشاء**

**۷۵۸ ماده:**

لاندې اشخاص له لاندې اعمالو څخه د يوۀ د ارتکاب په صورت کې،په قصير حبس محکومېږي:

۱- په هغه صورت کې چې له رقابت څخه د ملاتړ اداري رئيس، د بورد غړی يا کارکوونکی، د متشبث، سوداگر، مؤسسې، شرکتونو او نورو

**ارايه شکايت خلاف واقعيت**

**مادۀ ۷۵۷:**

شخصی که به قصد صدمه رساندن به اعتبار تجاری و حرفوی متشبث، تاجر، مؤسسه، شرکت يا رؤسای آن شکايت خلاف واقعيت را طور کتبی به بورد ملی رقابت مندرج قانون حمايت از رقابت، يا محکمۀ ذيصلاح ارايه نمايد، به حبس متوسط تا دو سال، محکوم می‌گردد.

**افشای اسرار تجارتی و صنعتی**

**مادۀ ۷۵۸:**

اشخاص ذيل در صورت ارتکاب يکی از اعمال آتی، به حبس قصير محکوم می گردند:

۱- در صورتی که رئيس، عضو بورد يا کارکن ادارۀ حمايت از رقابت، اسرار تجارتی متشبث، تاجر، مؤسسه، شرکت ها و ساير اشخاص را نشر،

اشخاصو سوداگريز اسرار خپاره، افشاء، يا له هغو څخه د ځان يا نورو اشخاصو په ګټه، ګټه اخيستنه وکړي.

۲- په هغه صورت کې چې شخص سوداگريز او صنعتي اسرار له معياري سوداگريز تګلارو سره په مغايرت کې يا د هغو د مالک له رضايت پرته، تر لاسه، استعمال يا افشاء کړي.

**د اطلاع ورکوونکي يا اهل خبره په واسطه غير واقعي اظهارات**

**۷۵۹ ماده:**

(۱) که چېرې اطلاع ورکوونکی، کارشناس، اهل خبره يا نور اشخاص عمداً په شفاهي توګه د واقعيت خلاف نظر څرګند کړي او دغه څرګندونې له رقابت څخه د ملاتړ په قانون کې درج درقابت دملي بورد په تصيم کې اغيزمن واقع شي، په قصيرحبس محکوميږي.

(۲) که چېري ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي اشخاص عمداً په ليکلي توګه د واقعيت خلاف نظر څرګنده کړي او دغه څرګندونې ددې مادې په

افشاء، يا از آن به نفع خود يا ساير اشخاص بهره برداری نمايد.

۲- در صورتی که شخص اسرار تجارتی و صنعتی را در مغايرت با روش های تجارتی معياری يا بدون رضايت مالک آن حصول، استعمال يا افشاء نمايد.

**اظهارات غير واقعی توسط اطلاع دهنده يا اهل خبره**

**مادۀ ۷۵۹:**

(۱) هرگاه اطلاع دهنده، کارشناس، اهل خبره يا ساير اشخاص عمداً خلاف واقعيت به شکل شفاهی اظهار نظر نمايند و اين اظهارات در تصميم بورد ملی رقابت مندرج قانون حمايت از رقابت، موثر واقع گردد، به حبس قصير، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه اشخاص مندرج فقرۀ (۱) اين ماده عمداً خلاف واقعيت به شکل تحريری اظهار نظر نمايند و اين اظهارات در تصميم

(۱) فقره کې درج د ملي رقابت د بورد په تصمیم کې اغیزمن واقع شي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

## له رقابت څخه د ملاتړ د ادارې د مؤظفینو په واسطه ناوړه ګټه اخیستنه

۷٦۰ ماده:

(۱) که چېرې له رقابت څخه د ملاتړ د ادارې رئیس، د بورد غړی یا کارکوونکی عامه ګټوته د صدمې رسولو په مقصد له رقابت څخه دملاتړ د قانون له حکمونو ناوړه ګټه اخیستنه وکړي، په قصیر حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو اشخاصو څخه یو د حقیقي یا حکمي اشخاصو سوداګریز یا حرفوي اعتبار ته د صدمې رسولو لپاره، له رقابت څخه د ملاتړ له قانون څخه ناوړه ګټه اخیستنه وکړي، له یوهٔ میلیون څخه تر دریو میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

بورد ملی رقابت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده موثر واقع شود، مرتکب به حبس متوسط، محکوم میگردد.

## سوءاستفاده توسط مؤظفین ادارهٔ حمایت از رقابت

مادهٔ ۷٦۰:

(۱) هرگاه رئیس، عضو بورد یا کارکن ادارهٔ حمایت از رقابت، به مقصد صدمه رسانیدن به منافع عامه از احکام قانون حمایت از رقابت سوء استفاده نماید، به حبس قصیر، محکوم میگردد.

(۲) هرگاه یکی از اشخاص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده جهت صدمه رسانیدن به اعتبار تجارتی یا حرفوی اشخاص حقیقی یا حکمی، از قانون حمایت از رقابت، سوء استفاده نماید، به جزای نقدی از یک میلیون تا سه میلیون افغانی، محکوم میگردد.

## د بازار انحصار

**۷٦۱ ماده:**

هغه شخص چې د احتکار په فصل کې د درج په غیر حالاتو کې، بازار په انحصار کې د راوستلو په منظور له نورو سره یولاس شي او د هغو له امله، په بازارکې بیې په غیر واقعي صورت زیاتې شي، یا دا چې نورو سوداګرو ته مالي صدمه ورسېږي، په قصیر حبس محکومېږي.

## انحصار بازار

**مادۀ ۷٦۱:**

شخصی که بمنظور در انحصار قرار دادن بازار در غیر از حالات مندرج فصل احتکار با دیگران هم دست گردیده و به اثر آن، قیمت ها در بازار به صورت غیر واقعی افزایش یابد یا این که به سایر تاجران صدمه مالی وارد شود، به حبس قصیر، محکوم می‌گردد.

## د مستهلک د حقوقو رعایت

**۷٦۲ ماده:**

(۱) هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي له لسو زرو څخه تر سلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي:

۱- د مستهلک له حقوقو څخه د ملاتړ په قانون کې درج ادارې یا کمېټې ته د ناسمو معلوماتو وړاندې کول.

۲- په کڅوړو کې په کم وزن مستهلک ته د جنس وړاندې کول.

۳- د تولیدوونکي لخوا د جنس د

## رعایت حقوق مستهلک

**مادۀ ۷٦۲:**

(۱) شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به جزای نقدی از ده هزار تا یکصد هزار افغانی، محکوم می گردد:

۱- ارایه معلومات نادرست به اداره یا کمیته مندرج قانون حمایت از حقوق مستهلک.

۲- عرضه جنس به مستهلک با وزن کم در بسته ها.

۳- عدم درج تاریخ تولید یا تاریخ

تولید د نېټې یا انقضاء د نېټې نه درجول.

۴- د جنس د تولید یا انقضاء په نېټه کې تحریف یا تقلب.

۵- د جنس په مشخصه، ترکیب، محتوي، هویت او د تولید په سرچینه کې تقلب یا تقلب په خدمت کې.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو ارتکاب د شخص په فزیکي یا رواني صدمې یا مړینې تمام شي، مرتکب پدې ماده کې پر درج شوو مجازاتو برسېره د مرتکبه جرم په مجازاتو، هم محکومېږي.

## د ملي ستندرد په قانون کې د درج شوو شرایطو نه رعایت

**۷۶۳ ماده:**

(۱) د افغانستان د ملي ستندرد د معیارونو خلاف د کالیو تولید، واردول، صادرول، انتقال، ساتل، پیر یا پلور، ممنوع دي، مرتکب پر مصادرې برسېره د نوموړو کالیو د بیې معادل په نغدي جزا، هم

انقضای جنس از طرف تولید کننده.

۴- تحریف یا تقلب در تاریخ تولید یا انقضای جنس.

۵- تقلب در مشخصه، ترکیب، محتوی، هویت و منبع تولید جنس یا تقلب در خدمت.

(۲) هرگاه ارتکاب جرایم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به صدمه فزیکی یا روانی یا مرگ شخص گردد، مرتکب علاوه به مجازات مندرج این ماده به جزای جرم مرتکبه، نیز محکوم می گردد.

## عدم رعایت شرایط مندرج قانون ستندرد ملی

**مادهٔ ۷۶۳:**

(۱) تولید، تورید، صدور، انتقال، نگهداشت، خرید یا فروش کالا، خلاف معیار های ستندرد ملی افغانستان، ممنوع بوده مرتکب علاوه بر مصادره به جزای نقدی معادل قیمت کالا های متذکره، نیزمحکوم

محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو ارتکـــاب د شخص په فزيکي يا رواني صـــدمه يـــا مړينه تمام شي، مرتکب د مرتکبه جرم په جزا محکومېږي.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقره کې په درج شوو حالاتو کې د افغانستان د ملي ستندرد د معيارونو خلاف کـــالي مصادره او د مرتکـــب پـــه لګښـــت ويجاړيږي.

## د مناقصو او مزايدو په آزادۍ کې مداخله

**٧٦۴ ماده:**

هغه شخص چې د تقلب يا نورو غيـــر مشروع وسايلو په واسطه د مناقصو او مزايدو په آزادۍ او سلامت کې چې په دولت، هغو مؤسسو يا شرکتونو چـــې دولت په هغو کې ونډه لري يا رسمي يا نيمه رسمي ادارو پورې تعلق نه مـــومي اخلال وارد کړي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو

می گردد.

(۲) هرگاه ارتکاب جرایم مندرج فقرۀ (۱) این ماده سبب وارد شدن صـــدمه فزیکی یا روانی یا مرگ شخص گردد، مرتکب به جزای جرم مرتکبه، محکوم می‌گردد.

(۳) در حالات مندرج فقـــره هـــای (۱ و ۲) این ماده کالا های خـــلاف معیار های ستندرد ملـــی افغانســـتان، مصادره و به مصرف مرتکب تخریب می‌گردد.

## مداخلـــه در آزادی مناقصـــات و مزایدات

**مادۀ ٧٦۴:**

شخصی که به وسیلۀ تقلب یـــا ســـایر وســـایل غیـــر مشـــروع در آزادی و سلامت مناقصات و مزایدات که بـــه دولت، مؤسسه ها یا شرکت های که دولت در آن ســـهم دارد یـــا ادارات رسمی یا نیمه رسمی تعلق نمی گیـــرد اخـــلال وارد نماید، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار

پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## ناقانونه ربح

**۷٦۵ ماده:**

هغه شخص چې په علني یا مخفي توګه بل شخص ته پور یا غیر مجاز ربح ورکړي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## په سوداګریزو معاملوکې تقلب

**۷٦٦ ماده:**

هغه شخص چې عمداً د مختلفو پېښو یا کاذبو خپرولو د خپرولو یا پروپاګند له لارې اویا دنورو هغواعمالو دارتکاب له لارې چې د تقلب یا فرېب متضمن وي، داجناسو یا ترویج ته چمتو مالي پاڼو د بیې د لوړېدو یا راښکته کېدو سبب شي یا استهلاک ته له چمتو اجناسو څخه یو جنس پټ کړي یا د هغه سبب شي، په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر سلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

افغانی، محکوم می گردد.

## ربح غیر قانونی

**مادۀ ۷٦۵:**

شخصی که طور علنی یا مخفی به شخص دیگر قرض یا ربح غیر مجاز بدهد، به حبس قصیریا جزای نقدی از سی هزارتا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

## تقلب در معاملات تجارتی

**مادۀ ۷٦٦:**

شخصی که عمداً از طریق نشر وقایع مختلفه یا اخبار کاذب یا پروپاگند و یا از طریق ارتکاب سایر اعمالی که متضمن تقلب یا فریب باشد، سبب بلند رفتن یا پائین آمدن قیمت اجناس، اوراق مالی آماده ترویج گردد یا جنسی از اجناس آماده استهلاک را پنهان نماید یا سبب آن گردد، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا یک صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

## په ترکیبي موادو کې تقلب

**۷۶۷ ماده:**

هغه شخص چې له عقد کوونکي سره له لاندې مواردو څخه په یوهٔ کې تقلب وکړي، په قصیر حبس او د حبس معادل په نغدي جزا محکومېږي:

۱- د ترکیبي موادو په شمېر، مقدار، مقیاس، وزن، پیمانې، طاقت او فیصدی کې.

۲- په عین جنس کې هغسې چې غیر له هغه څه چې تعهد یې کړی مقابل لوري ته تسلیم کړي.

۳- د شي په ماهیت، اساسي صفتونو، مفیده او مرکبه عناصروکې.

۴- د شي په ډول، جنس او سرچینه کې.

## تقلب در مواد ترکیبی

**مادۀ ۷۶۷:**

شخصی که با عقد کننده در یکی از موارد آتی تقلب نماید، به حبس قصیر و جزای نقدی معادل جنس، محکوم می گردد:

۱- در تعداد، مقدار، مقیاس، وزن، پیمانه، طاقت و فیصدی مواد ترکیبی.

۲- در عین جنس طوری که غیر آنچه را تعهد نموده به جانب مقابل تسلیم دهد.

۳- در ماهیت، صفات اساسی، عناصر مفیده و مرکبه شی.

۴- در نوع، جنس و منبع شی.

## دوه یم فصل
## په افلاس پورې اړوند
## جرمونه

**متقلب مفلس**

**۷٦۸ ماده:**

هغه سوداګر چې پر افلاس يې قطعي حکم صادر شوی له لاندې حالتونو څخه په يوۀ کې متقلب مفلس پېژندل کېږي:

۱- په هغۀ حالت کې چې خپل ټول يا ځينې دفترونه يې پټ، تلف، تغيير يا تبديل کړي وي.

۲- په هغۀ حالت کې چې داينينوته د ضرر د رسولو په غرض يې د خپل مال يو جزء پټ کړی وي.

۳- په هغۀ حالت کې چې په صوري دين يې اعتراف کړی يا يې ځان پداسې دين مديون کړی وي چې په حقيقت کې د هغه پر ذمه ندې اعم لدې چې دغه دين يې په خپلو دفترونو يا بودجه يا په نورو پاڼوکې ثبت کړي يا يې په شفاهي توګه پر هغه اقرار کړی وي.

## فصل دوم
## جرایم مربوط به
## افلاس

**مفلس متقلب**

**مادۀ ۷٦۸:**

تاجری که به افلاس وی حکم قطعی صادر گردیده در یکی از حالات ذیل مفلس متقلب، شناخته می شود:

۱- در حالتی که تمام یا بعضی دفاتر خود را پنهان، تلف، تغییر یا تبدیل نموده باشد.

۲- در حالتی که به غرض رساندن ضرر به داینین یک جزء مال خود را پنهان نموده باشد.

۳- در حالتی که به دین صوری اعتراف نموده یا خود را به دینی مدیون ساخته باشد که در حقیقت به ذمه او نمی باشد اعم از اینکه این دین در دفاتر یا بودجه یا در اوراق دیگر خود ثبت کرده یا طور شفاهی به آن اقرار نموده باشد.

۴- په هغهٔ حالت کې چې په ناوړه نیت سره یې د واکمنو مراجعو د مطالبې په صورت کې د پاڼو یا توضیحاتو (څرګندونو) له وړاندې کولو څخه ډډه کړې او هغه پر هغو آثارو چې دهغه پرامتناع مرتب کیږي، علم ولري.

## د متقلب مفلس مجازات

**٧٦٩ ماده:**

متقلب مفلس په متوسط حبس محکومیږي.

## د سوداګر لخوا داینینوته د زیان ایراد

**٧٧٠ ماده:**

(۱) هغه سوداګر چې پر افلاس یې قطعي حکم صادر شوی او د ستر تقصیر په سبب د خپلو داینینو د زیان لامل شي، مقصر مفلس پیژندل کیږي.

(۲) مفلس سوداګر له لاندې حالاتو څخه په یوه کې ستر مقصر پیژندل کیږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې د هغهٔ شخص یا کورنۍ لګښت نسبت د هغه

۴- در حالتی که به نیت سوء از تقدیم اوراق یا توضیحات در صورت مطالبه مراجع با صلاحیت امتناع ورزیده و وی به آثاری که بر امتناع وی مرتب می گردد، علم داشته باشد.

## مجازات مفلس متقلب

**مادهٔ ٧٦٩:**

مفلس متقلب به حبس متوسط، محکوم می گردد.

## ایراد خساره به داینین از جانب تاجر

**مادهٔ ٧٧٠:**

(۱) تاجری که به افلاس او حکم قطعی صادر گردیده و به سبب تقصیر بزرگ باعث خساره داینین خود گردد، مفلس مقصر شناخته می شود.

(۲) تاجر مفلس در یکی از حالات آتی مقصر بزرگ شناخته می شود:

۱- در حالتی که مصرف شخصی یا فامیلی او نسبت به عایدات وی زیاد

عایداتوته زیات وي.

۲- په هغهٔ حالت کې چې زیات مبالغ په قمار بازۍ، د بخت آزمايۍ په ټکټونو یا شرط بندۍ ولګوي.

۳- په هغهٔ حالت کې چې یو متاع وپېري او په کمه بیه یې وپلوري یا زیات مبالغ پور واخلي یا بها دارې پاڼې صادرې یا نور وسایل استعمال کړي، پداسې ډول چې د هغو په سبب زیات زیان هغه ته ورسېږي پدې منظور چې مال لاسته راوړي او لدې لارې خپل افلاس شاته (په تاخیر) واچوي.

۴- په هغهٔ حالت کې چې د دین د ورکړې له درولو وروسته نورو داینینوته د ضرر د رسولو په منظور یا مصالحې ته د رسېدو په قصد، له داینینو څخه د یوهٔ دین ورکړي.

۵- په هغهٔ حالت کې چې د تقلب په وسیله له داینینو سره مصالحې ته ورسېږي.

باشد.

۲- در حالتی که مبالغ هنگفت را در قمار بازی، تکت های بخت آزمایی یا شرط بندی صرف نماید.

۳- در حالتی که متاعی را بخرد و به قیمت نازلتر بفروشد یا مبالغ زیاد را قرض بگیرد یا اوراق بهادار را صادر یا وسایل دیگری را استعمال نماید، به نحوی که به سبب آن خساره ای بزرگ به او عاید گردد بمنظور اینکه مال را به دست آرد و از این طریق افلاس خود را به تاخیر اندازد.

۴- در حالتی که بعد از متوقف ساختن تأدیه دین بمنظور رساندن ضرر به سایر داینین یا به قصد رسیدن به مصالحه، دین یکی از داینین را تأدیه نماید.

۵- در حالتی که به وسیله تقلب با داینین به مصالحه برسد.

## مقصر مفلس

**۷۷۱ ماده:**

هغه سوداگر چې پر افلاس يې قطعي حکم صادر شوی له لاندې حالاتوڅخه په يوۀ کې مقصر مفلس پېژندل کېږي:

۱- په هغۀ حالت کې چې دسوداگريزو دفترونو د لرلو سوداگريز قوانين يې لازم گڼلي وي او هغه نوموړي دفترونه ونلري يا دفترونه داسې نابشپړ او نامنظم وي چې له هغو څخه د هغه د شتمنۍ او پوررونو حقيقت معلوم نشي.

۲- په هغه حالت کې چې خپله د بيلانس پاڼه په قانوني ميعاد کې وړاندې نکړي.

۳- په هغۀ حالت کې چې د تأدياتو له درولو وروسته، صحيح اظهارات چې قانوناً په هغو مکلف دی وړاندې نکړي.

۴- په هغۀ حالت کې چې له معقول عذر پرته د طلب په صورت کې، شخصاً هغې مرجع ته چې د هغه د افلاس حکم يې صادر کړی حاضر نشي

## مفلس مقصر

**مادۀ ۷۷۱:**

تاجری که به افلاس وی حکم قطعی صادر گرديده در يکی از حالات آتی مفلس مقصر شناخته می شود :

۱- در حالتی که قوانين تجارتی داشتن دفاتر تجارتی را لازم شمرده باشد و وی دفاتر مذکور را نداشته باشد يا دفاتر طوری نامکمل و نا منظم باشد که از آن حقيقت دارايی و قرض های وی معلوم نه گردد.

۲- در حالتی که ورقۀ بيلانس خود را در ميعاد قانونی تقديم نه نمايد.

۳- در حالتی که بعد ازمتوقف ساختن تأديات، اظهارات صحيح را که قانوناً به آن مکلف است تقديم نه نمايد.

۴- در حالتی که بدون عذر معقول در صورت طلب، شخصاً به مرجعی که حکم افلاس وی را صادر نموده حاضر نه گردد يا اظهاراتی را که مرجع

يا هغه اظهارات چې نوموړې مرجع يې له هغه څخه وغواړي وړاندې نکړي يا د دغو اظهاراتو نه صحت ظاهر شي.

۵- په هغهٔ حالت کې چې د غير د منفعت لپاره له عوض پرته ستر قرارداد عقد کړي چې د عقد په وخت کې د هغه مالي وضعيت اجازه ورنکړي.

## د ستر مقصر مفلس مجازات

**۷۷۲ ماده:**

د دې قانون د ۷۷۰ مادې په (۲) فقره کې درج شوی ستر مقصر مفلس، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس محکوميږي.

## د سوداګريز شرکت د افلاس په اشتهار د قطعي حکم صادرول

**۷۷۳ ماده:**

(۱) که چيرې د يوهٔ سوداګريز شرکت د افلاس په اشتهار قطعي حکم صادر شي، په هغهٔ صورت کې چې د عمومي مجمع يا مديره هيئت له غړو څخه پر يوهٔ ددې قانون په ۷۵۸ ماده کې له درج شوو افعالو څخه د يوهٔ ارتکاب

مذکور از وی مطالبه نمايد، تقديم نکند يا عدم صحت اين اظهارات ظاهر گردد.

۵- در حالتی که برای منفعت غير بدون عوض قرار داد بزرگی را عقد نمايد که هنگام عقد، وضع مالی او اجازه ندهد.

## مجازات مفلس مقصر بزرگ

**مادهٔ ۷۷۲:**

مفلس مقصر بزرگ مندرج فقرهٔ (۲) مادهٔ ۷۷۰ اين قانون به حبس متوسط بيش از سه سال، محکوم می گردد.

## صدور حکم قطعی به اشتهار افلاس شرکت تجارتی

**مادهٔ ۷۷۳:**

(۱)هرگاه به اشتهار افلاس يک شرکت تجارتی حکم قطعی صادر گردد در صورتی که بر يکی از اعضای مجمع عمومی يا هيئت مديره ارتکاب يکی از افعال مندرج مادهٔ ۷۵۸ اين قانون ثابت گردد

ثابت شي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې د عمومي مجمع یا مدیره هیئت له غړو څخه یو د فرېب یا تقلب په وسیله د داسې فعل مرتکب شي چې د هغه له امله شرکت مفلس شي یا د شرکت د تأدیاتو په درولوکې مرسته وکړي، په متوسط حبس محکومېږي.

## د صغیر یا محجور پر وړاندې د افلاس په اشتهار د قطعي حکم صادرېدل

**۷۷۴ ماده:**

که چېرې د صغیر، محجور علیه یا هغه شخص چې د هغه سوداګري امین شخص اداره کوي د افلاس په اشتهار قطعي حکم صادر شي د فرېب یا تقصیر د اعمالو جزایي مسؤولیت ولي، وصي یا هغه امین ته متوجه دی چې پدې فصل کې د درج شوي تقلب، فرېب یا تقصیر له اعمالو څخه د یوهٔ ارتکاب ثابت شي، له احوالو سره سم، مرتکب ددې فصل په پیشبیني شوې جزا محکومېږي.

مرتکب به حبس متوسط محکوم می گردد.

(۲) هرگاه یکی از اعضای مجمع عمومی یا هیئت مدیره بوسیله تقلب یا فریب مرتکب فعلی گردد که به اثر آن شرکت مفلس گردد یا در توقف تأدیات شرکت مساعدت نماید، به حبس متوسط محکوم می گردد.

## صدورحکم قطعی به اشتهار افلاس صغیریا محجور علیه

**مادهٔ ۷۷۴:**

هرگاه به اشتهار افلاس صغیر، محجور علیه یا شخصی که تجارت او را شخص امین اداره می کند حکم قطعی صادر گردد مسؤولیت جزایی اعمال فریب یا تقصیر متوجه ولی، وصی یا امینی می باشد که ارتکاب یکی از اعمال تقلب، فریب یا تقصیر مندرج این فصل ثابت گردد، مرتکب حسب احوال به جزای پیش بینی شده ای این فصل، محکوم می گردد.

## د مفلس د مـــالونو پټــول او پـــه مذاکراتو کې د داین مداخله

**۷۷۵ ماده:**

لاندې اشخاص تردوو کلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یو سلوشلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي. پدې شرط چې پـــه قانون کې لا زیاته (شـــدیدتره) جـــزا پیشبیني شوې نه وي:

۱- هغه شخص چې د مفلس ټول یـــا ځیني مالونه پټ کړي،که څه چې د هغه زوجه یا یو له اصولو یا فروعو څخـــه وي.

۲- هغه شخص چې د داینینو له جملې څخه نه وي او د تقلب په وسیله پـــه سولې پورې په اړوندو مـــذاکرو کـــې دخالت وکوي یا د حقیقت خـــلاف د تقلب په وسیله له مفلس مدیون سره د مرستې په منظور کوم دین په خپل نوم یا بل یوهٔ په نوم وښیې.

۳- هغه داین چې د ځان د ګټـــې او نورو داینینو د ضرر په منظور یوهٔ خاصه

## پنهان نمودن اموال مفلس ومداخله داین در مذاکرات

**مادهٔ ۷۷۵:**

اشخاص ذیل، به حبس متوسط تـــا دو سال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یک صد وبیست هزار افغانی، محکوم می گردند. مشروط بر اینکه در ایـــن قانون جزای شدید تری پـــیش بینـــی نگردیده باشد:

۱- شخصی که تمام یا بعضی امـــوال مفلس را پنهـــان کنـــد، گـــر چـــه زوجه یا یکی از اصول یـــا فـــروع او باشد.

۲- شخصی که از جمله داینین نبوده و بوسیله تقلب در مذاکرات مربوط بـــه صلح دخالت نماید یا به وسیله تقلـــب بمنظور مساعدت به مـــدیون مفلـــس دینی را خـــلاف حقیقـــت بـــه نـــام خود یا نام شخص دیگـــری وانمـــود سازد.

۳- داینی که موافقـــه ای خـــاص را بمنظور منفعت خود وضرر سایر داینین

موافقه عقد کړي.

۴- هغه داين چې د تقلب په وسيله د خپل دين اندازه زياته کړي يا پر مفلس يا پر يوۀ بل شخص د سولې په مذاکرو کې د رأيې ورکولو يا د مفلس شتمنۍ يا پر هغو د وعدې په بدل کې خاص امتيازونه شرط کېږي.

## د محکوميت د حکم خپرول

**۷۷٦ ماده:**

محکمه کولای شي پدې فصل د درج شوو جرمونو د محکوميت د حکم په خپرولو، حکم وکړي.

# دریيم فصل

# د مالونو قاچاق

## اصطلاحگانې

**۷۷۷ ماده:**

راتلونکې اصطلاحگانې پدې فصل کې د لاندو مفاهيمو لرونکې دي:

۱- مجاز مالونه: هغه مالونه دي چې د هغو توليد، واردول، صادرول، پېر، پلور، ساتل، انتقال او حمل او نقل د گمرکي، بانکي مراحلو د تېرولو او د

عقد نمايد.

۴- داينی که به وسيله تقلب اندازه ای دين خود را زياد نمايد يا بر مفلس يا بر شخص ديگری امتيازات خاص را در بدل دادن رأی در مذاکرات صلح يا دارايی مفلس يا وعده به آن شرط گذارد.

## نشرحکم محکوميت

**مادۀ ۷۷٦:**

محکمه می تواند به نشر حکم محکوميت جرايم مندرج اين فصل، حکم نمايد.

# فصل سوم

# قاچاق اموال

## اصطلاحات

**مادۀ ۷۷۷:**

اصطلاحات آتی، در اين فصل دارای مفاهيم ذيل می باشد:

۱- اموال مجاز: اموالی است که توليد، توريد، صدور، خريد، فروش، نگهداشت، انتقال و حمل و نقل آن با رعايت طی مراحل گمرکی، بانکی و

محصول د ورکولو په رعایت سره، د جواز اخیستلو ته اړتیا نلري.

۲- مشروط مجاز مالونه: هغه مجاز مالونه دي چې د هغو تولید، واردول، صادرول، پېر، پلور، ساتل، انتقال او حمل او نقل د ګمرکي، بانکي پړاوونو پر تېرولو او د محصول پر ورکولو برسېره، له قانون سره سم، له واکمنې مرجع څخه د دمخه جواز اخیستلو ته اړتیا لري.

۳- ممنوعه مالونه: هغه مالونه دي چې د هغو تولید، واردول، صادرول، پېر، پلور، ساتل، انتقال او حمل اونقل د قانون له حکمونو سره سم ممنوع دي.

## د مالونو قاچاق

### ۷۷۸ ماده:

(۱) هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي د مالونو د قاچاق د جرم مرتکب پېژندل کېږي، ددې فصل له حکمونو سره سم، مجازات کېږي:

۱- د ګمرکي بازرسۍ یا څارنې څخه د

پرداخت محصول، نیاز به کسب مجوز ندارد.

۲- اموال مجاز مشروط: اموال مجازیست که تولید، تورید، صدور، خرید، فروش، نگهداشت، انتقال و حمل و نقل آن علاوه بر طی مراحل گمرکی، بانکی و پرداخت محصول، حسب قانون نیاز به کسب مجوز قبلی از مرجع ذیصلاح دارد.

۳- اموال ممنوعه: اموالیست که تولید، تورید، صدور، خرید، فروش، نگهداشت، انتقال و حمل و نقل آن، مطا بق احکام قانون ممنوع است.

## قاچاق اموال

### مادهٔ ۷۷۸:

(۱) شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد مرتکب جرم قاچاق اموال شناخته شده، مطابق احکام این فصل، مجازات می‌گردد:

۱- داخل یا خارج نمودن اموال مجاز

تېښتې يا ډډې په منظور له غير معمولي ګمرکي لارې څخه د مجازو مالونو داخلول يا خارجول.

۲- د واکمنو مراجعو له اجازې پرته د غير مجازو (مشروط مجاز) مالونو توليد، واردول، صادرول، پېر، پلور، ويش، ساتل، انتقال او حمل او نقل.

۳- د ممنوعه مالونو توليد، واردول، صادرول، پېر، پلور، ويش، ساتل او حمل او نقل.

۴- د ګمرکي محصول له ورکولو پرته، په ترانزيت کې د شاملو مالونو پېر او پلور.

۵- د ګمرکي مقاماتو له اجازې پرته، د ګمرکي څارنې تابع مالونو د لېبل او سرغچ لرې کول يا تخريب.

٦- د نقليه وسايطو د تشخيصيه نمبر لرې کول يا په هغه کې تزوير.

۷- د قاچاقي وارداتي مالونو پېر او پلور، ساتل او تصرف، پدې شرط چې د هغو له قاچاقي والي څخه خبرتيا ولري.

از طريق غير معمول گمركى بمنظور فرار يا اجتناب از بازرسى يا نظارت گمركى.

۲- توليد، توريد، صدور، خريد، فروش، توزيع، نگهداشت، انتقال و حمل و نقل اموال غير مجاز (مجاز مشروط) بدون اجازه از مراجع ذيصلاح.

۳- توريد، توليد، صدور، خريد، فروش، توزيع، نگهداشت و حمل و نقل اموال ممنوعه.

۴- خريد و فروش اموال شامل ترانزيت بدون پرداخت محصول گمركى.

۵- برداشتن يا تخريب ليبل و سرغچ اموال تابع نظارت گمركى، بدون اجازه مقامات گمركى.

٦- دور نمودن نمبر تشخيصيهٔ وسايط نقليه يا تزوير در آن.

۷- خريد، فروش، نگهدارى و تصرف اموال وارداتى قاچاقى، مشروط بر اين‌كه از قاچاقى بودن آن آگاهى داشته باشد.

۸- د ګمرکي سندونو له کاپي پرته د ګدامدار په واسطه د مالونو اخيستل يا ساتل.

۹- د مهر او لاک ماتول، د نقليه وسايطو يا مالونو په نورو موجودو حفاظتي مميزاتو کې تعويض يا تغيير.

۱۰- د ګمرکي مامورينو له اجازې پرته په غير مجاز ځای (محل) کې له يوې نقليه واسطې څخه بلې نقليه واسطې ته د مالونو، د اړوند مسافرينو د محمولې بارګيري، تخليه او انتقال.

۱۱- د قاچاق په منظور، د مسافرينو بارګيري، تخليه او انتقال.

(۲) د هغو مالونو د نظر وړ ګټې اخيستنې له شرايطو څخه سرغړونه چې د قانون له حکمونو سره سم له ګمرکي دين څخه د قسمي يا کلي معافيت موجب کېږي، د تکرار په صورت کې، هم د مالونو قاچاق پېژندل کېږي.

(۳) د پرواز (الوتنې) د عملې يا د ګمرک د مؤظيفنو په واسطه، له لاندې فعاليتونو څخه د يوۀ ترسره کول هم د مالونو قاچاق پېژندل کېږي:

۸- اخذ يا نگهداری اموال توسط گدام دار بدون کاپی اسناد گمرکی.

۹- شکستن مهر و لاک، تعويض يا تغيير در ساير مميزات حفاظتی موجود در وسايط نقليه، يا اموال.

۱۰- بارگيری، تخليه و انتقال اموال، محمولۀ مسافرين مربوط از يک واسطه نقليه به واسطه نقليه ديگر در محل غير مجاز بدون اجازه مامورين گمرکی.

۱۱- بارگيری، تخليه و انتقال مسافرين بمنظور قاچاق.

(۲) تخلف از شرايط استفاده مورد نظر از اموالی‌که طبق احکام قانون موجب معافيت قسمی يا کلی از دين گمرکی می‌گردد، در صورت تکرار، نيز قاچاق اموال شناخته می شود.

(۳) انجام يکی از فعاليت های ذيل توسط مؤظفين عمله پرواز يا گمرک، نيز قاچاق اموال شناخته می شود:

۱- په هغه صورت کې چې مالونه د اړوندې هوايي بارنامې له موجوديت پرته انتقال کړي يا د الوتکې په د ننه کې مالونه له بارنامې سره مطابقت ونلري.

۲- هغه مالونه گمرکونو ته احضار کړي چې د هېواد گمرکي قلمروته د داخلېدو پروخت په بارنامه کې شامل، خو د عزيمت (تللو) پر موقع په الوتکه کې موجود نه وي.

۳- د مالونو د تخليې يا بارگيرۍ په منظور له گمرکي هوايي ډگر څخه په بهر ساحه کې ناسته وکړي او له هغې څخه په لنډ وخت کې گمرکي مامورينو يا نورو اړوندو مسئوولينو ته خبر ورنکړي.

## د مجازو مالونو د قاچاق د مرتکبينو مجازات

**۷۷۹ ماده:**

هغه شخص چې د مجازو مالونو د قاچاق مرتکب شي، د قاچاق د مالونو پر مصادرې سربېره، د قاچاق شوو

۱- در صورتی که اموال را بدون موجوديت بارنامهٔ هوايی مربوطه انتقال دهد يا اموال داخل طياره با بارنامه مطابقت نداشته باشد.

۲- اموالی را به گمرکات احضار نمايد که حين دخول به قلمرو گمرکی کشور در بارنامه شامل، ولی موقع عزيمت در داخل طياره موجود نباشد.

۳- در ساحهٔ خارج از ميدان هوايی گمرکی بمنظور تخليه يا بارگيری اموال نشست نموده و از آن به اسرع وقت به مامورين گمرکی يا ساير مسؤولين مربوطه اطلاع ندهد.

## مجازات مرتکبين قاچاق اموال مجاز

**مادهٔ ۷۷۹:**

شخصی که مرتکب جرم قاچاق اموال مجاز گردد، علاوه برمصادره اموال قاچاق، با نظرداشت قيمت اموال

مالونو بيې ته په پام سره، په لاندې ډول مجازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د هغو بيه له سلو زرو څخه زياته تر يو ميليون افغانيو پورې وي، د حبس په بديل.

۲- په هغه صورت کې چې د هغو بيه له يو ميليون څخه زياته تر پنځو ميليونو افغانيو پورې وي، په قصير حبس.

۳- په هغه صورت کې چې د هغو بيه له پنځو ميليونو څخه زياته تر لسو ميليونو افغانيو پورې وي، د قصير حبس په اکثرحد.

۴- په هغه صورت کې چې د هغو بيه له لسو ميليونو څخه زياته وي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس.

## د مشروطو مجازو مالونو د قاچاق د مرتکبينو مجازات

**۷۸۰ ماده:**

هغه شخص چې د مشروطو مجازو مالونو د قاچاق مرتکب شي، د قاچاق د مالونو پر مصادرې برسېره، د هغو بيې ته په پام سره، په لاندې ډول مجازات

قاچاق شده، قرار ذيل مجازات می‌گردد:

۱- در صورتی که قيمت آن بيش از يکصد هزار تا يک ميليون افغانی باشد، به بديل حبس.

۲- در صورتی که قيمت آن بيش از يک ميليون تا پنج ميليون افغانی باشد، به حبس قصير.

۳- در صورتی که قيمت آن بيش از پنج ميليون تا ده ميليون افغانی باشد، به حد اکثرحبس قصير.

۴- در صورتی که قيمت آن بيش از ده ميليون باشد، به حبس متوسط تا سه سال.

## مجازات مرتکبين قاچاق اموال مجاز مشروط

**مادهٔ ۷۸۰:**

شخصی که مرتکب جرم قاچاق اموال مجاز مشروط گردد، علاوه برمصادره اموال قاچاق، با نظرداشت قيمت آن، قرار ذيل مجازات

کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د هغو بیه تر پنځوسو زرو افغانیو پورې وي، د حبس په بدیل.

۲- په هغه صورت کې چې د هغو بیه له پنځوسو زرو څخه زیاته تر یو میلیون افغانیو پورې وي، د شپږو میاشتو په قصیر حبس.

۳- په هغه صورت کې چې د هغو بیه له یو میلیون څخه زیاته تر پنځو میلیونو افغانیو پورې وي، له شپږو میاشتو څخه زیات تر یو کال پورې په قصیر حبس.

۴- په هغه صورت کې چې د هغو بیه له پنځو میلیونو څخه زیاته ترلسو میلیونو افغانیو پورې وي، تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس.

۵- په هغه صورت کې چې د هغو بیه له لسو میلیونو څخه زیاته وي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس.

می گردد:

۱- در صورتی که قیمت آن تا پنجاه هزار افغانی باشد، به بدیل حبس.

۲- در صورتی که قیمت آن بیش از پنجاه هزارتا یک میلیون افغانی باشد، به حبس قصیر شش ماه.

۳- در صورتی که قیمت آن بیش از یک میلیون تا پنج میلیون افغانی باشد، به حبس قصیر بیش از شش ماه تا یک سال.

۴- در صورتی که قیمت آن بیش از پنج میلیون تا ده میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط تا سه سال.

۵- در صورتی که قیمت آن بیش از ده میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط بیش از سه سال.

## د ممنوعه مالونو د قاچاق د مرتکبينو مجازات

۷۸۱ ماده:

(۱) هغه شخص چې د ممنوعه مالونو د قاچاق د جرم مرتکب شي، د قاچاق د مالونو، د هغو اړوند وسايلو او لوازمو، پر مصادرې سربېره، د قاچاق شوو مالونو بيې ته په پام سره، په لاندې ډول مجازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې د هغو بيه تر پنځوسو زرو افغانيو پورې وي، د شپږو مياشتو په قصير حبس.

۲- په هغه صورت کې چې د هغو بيه له پنځوسو زرو افغانيو څخه زيات تر يو ميليون افغانيو پورې وي، له شپږو مياشتو څخه زيات په قصير حبس.

۳- په هغه صورت کې چې د هغو بيه له يو ميليون څخه زيات تر پنځو ميليونو افغانيو پورې وي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس.

۴- په هغه صورت کې چې د هغو بيه له پنځو ميليونو څخه زيات تر لسو

## مجازات مرتکبين قاچاق اموال ممنوعه

مادۀ ۷۸۱:

(۱) شخصی که مرتکب جرم قاچاق اموال ممنوعه گردد، علاوه برمصادره اموال قاچاق، وسایل ولوازم مرتبط با آن، با نظرداشت قیمت اموال قاچاق شده، قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که قیمت آن تا پنجاه هزار افغانی باشد، به حبس قصیر شش ماه.

۲- در صورتی که قیمت آن بیش از پنجاه هزار تا یک میلیون افغانی باشد، به حبس قصیر بیش از شش ماه.

۳- در صورتی که قیمت آن بیش از یک میلیون تا پنج میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط تا سه سال.

۴- در صورتی که قیمت آن بیش از پنج میلیون تا ده میلیون افغانی باشد،

میلیونو افغانیو پورې وي، لــه دریــو کلونو څخه زیات په متوسط حبس.

۵- په هغه صورت کې چې د هغو بیه له لسو میلیونو افغانیو څخه زیاته وي، تر اووکلونو پورې په طویل حبس.

(۲) د ستراتیژیکو مالونو او نورو هغو مالونو قاچاق چې د ناقانونه محصولاتو د تولید په مقصد له هغو څخــه ګټــه اخیستل کېږي، ددې مادې د (۱) فقرې له حکم څخه مســتثني دي، د هغــو مرتکبین د اړوندې برخې د جرمونو د متعلقو حکمونو سره ســم، مجــازات کېږي.

د مالونو د قاچاق په جــرم کــې مشدده احوال

۷۸۲ ماده:

د مالونو د قاچاق د جرم ارتکاب لــه لاندې حالتونو څخه په یوۀ کې، مشدده پېژندل شوي، مرتکب د دې فصــل د پیش بیني شوې جزا پــه اکثــر حــد محکومېږي:

۱- په هغۀ حالت کې چې د مالونو د

بـــه حـــبس متوســـط بـــیش از سه سال.

۵- در صورتی که قیمت آن بــیش از ده میلیون افغانی باشد، به حبس طویل تا هفت سال.

(۲) قاچـــاق امـــوال ســـتراتیژیک وسایر اموالی که بــه مقصــد تولیــد محصـــولات غیـــر قـــانونی از آن استفاده می شــود از حکــم فقــرۀ (۱) ایـــن مـــاده مســـتثنی بـــوده، مرتکبین آن مطابق احکام متعلــق بــه جرایم عرصـــۀ مربـــوط، مجـــازات می گردند.

احوال مشدده در جـــرم قاچـــاق اموال

مادۀ ۷۸۲:

ارتکاب جرم قاچاق اموال در یکی از حالات ذیل، مشدده شـــناخته شـــده، مرتکب به حد اکثر جزای پیش بینـــی شـــده ایـــن فصـــل، محکـــوم می گردد:

۱- در حالتی که جرم قاچاق امـــوال

قاچاق جرم له دندې، موقف یا نفوذ څخه په ناوړې ګټې اخیستنې سره د عامه خدمتونو د مؤظفو په واسطه، ارتکاب شي.

۲- په هغهٔ حالت کې چې د مالونو د قاچاق جرم له دوو څخه د زیاتو کسانو په ګډون ارتکاب شي.

۳- په هغهٔ حالت کې چې د مالونو د قاچاق جرم د جرمي سازمان موندل شوې ډلې له لارې صورت موندلی وي.

۴- په هغهٔ حالت کې چې په وسله مجهز شخص په قاچاق برې لاس پورې کړي.

۵- په هغهٔ حالت کې چې دمالونو قاچاقبرله قاچاق سره دمبارزې د مؤظف په وړاندې، وسله وال مقاومت وکړي.

٦- په هغهٔ حالت کې چې شخص دمالونود قاچاق د جرم د ارتکاب په منظور، د رشوت د جرم مرتکب، هم شي.

توسط مؤظف خدمات عامه با سوء استفاده از وظیفه، موقف یا نفوذ، ارتکاب یابد.

۲- در حالتی که جرم قاچاق اموال به اشتراک بیش از دو نفر ارتکاب یابد.

۳- در حالتی که جرم قاچاق اموال از طریق گروه سازمان یافته جرمی صورت گرفته باشد.

۴- در حالتی که شخص مجهز با سلاح به قاچاق بری مبادرت ورزد.

۵- در حالتی که قاچاقبر در مقابل مؤظف مبارزه با قاچاق اموال، مقاومت مسلحانه نماید.

٦- در حالتی که شخص بمنظور ارتکاب جرم قاچاق اموال، مرتکب جرم رشوت، نیز گردد.

## د نقلیه واسطې د مالک یا چلوونکي مجازات

**۷۸۳ ماده:**

د قاچاقو د مالونو د لېږدوونکو نقلیه وسایطو مالک یا چلوونکی په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د قاچاقو د مالونو د لېږدوونکي نقلیه واسطې مالک له نقلیه واسطې سره ونیول شي او ثابت شي چې د قاچاق د مالونو له وجود څخه خبر وو، د جرم د شریک په توګه پېژندل کېږي د قاچاق شوو مالونو نوعیت او بیې ته په کتو سره، پدې فصل‌کې په درج شوو مجازاتو محکومېږي.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د نقلیه واسطې مالک په مکرره توګه ددې مادې په ۱ جزء کې د درج شوي جرم مرتکب شي او د قاچاق شوي مال د ارزښت بیه د نقلیه واسطې د ارزښت معادل یا زیاته وي، ددې مادې په ۱جزء کې د درج شوو مجازاتو

## مجازات مالک یا راننده واسطه نقلیه

**مادهٔ ۷۸۳:**

مالک یا رانندهٔ وسایط نقلیه حامل اموال قاچاق، قرار ذیل، مجازات می گردد:

۱- در صورتی که مالک واسطهٔ نقلیه حامل اموال قاچاق با واسطهٔ نقلیه دستگیر و ثابت شود که از وجود اموال قاچاق مطلع بوده، به حیث شریک جرم شناخته شده با نظرداشت نوعیت و قیمت اموال قاچاق شده، به مجازات مندرج این فصل، محکوم می گردد.

۲- در صورتی که مالک واسطهٔ نقلیه به صورت مکرر مرتکب جرم مندرج جزء ۱ این ماده شود و قیمت ارزش مال قاچاق شده معادل یا بیش از ارزش واسطه نقلیه باشد علاوه بر مجازات مندرج جزء ۱ این ماده واسطهٔ نقلیه، نیز مصادره

برسېره، نقلیه واسطه هم مصادره کېږي.

۳- په هغهٔ صورت کې چې ثابت شي چې د نقلیه واسطې چلوونکی د لېږدول شوو مالونو له قاچاقي والي څخه علم درلود، د جرم شریک پېژندل کېږي.

د قاچاق له عمل سره د اړوندو وسایلو او لوازمو مصادره

**۷۸۴ ماده:**

(۱) هغه شخص چې د لیکلو، ویلو یا انځور یا د بلې وسیلې لــه لارې، لــه دولت یا نورو بنســټونو او اشخاصــو څخه د ټولیزو رسنیو د قانون او نورو قوانینود حکمونو په رعایتولو ســره د سایبر په فضاء کې انتقاد وکړي، تــر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.

(۲) که چېرې پدې فصل کــې د درج شوي سِر یا معلوماتو له افشاء څخــه موخه، د جنایت یا جنحې له جرم څخه خبر ورکول او یا د هغه له ارتکــاب څخه مخنیوی وي یا د سر خاوند یــا معلومات د هغو افشاء کولو ته اجــازه ورکړل شوي وي یا دا چې د هغو لــه تأمین څخه موخــه عامــه ګټــې وي، مرتکب تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي.

پنج سال.

## معافیت از تعقیب عــدلی جــرایم سایبری

**مادۀ ۸۷۹:**

(۱) شخصی که از طریــق نوشــتار، گفتار، یا تصویر یا هر وسیله دیگری، در فضای سایبر از دولت یا سایر نهادها و اشخاص با رعایت احکام قانون رسانه های همگانی و سایر قــوانین، انتقــاد نماید، تحت تعقیــب عــدلی قــرار نمی‌گیرد.

(۲) هرگـــاه هـــدف از افشـــای سر یا معلومات منــدرج ایــن فصــل اطلاع دادن از جرم جنایت یا جنحه و یــا جلــو گیــری از ارتکــاب آن باشد یا صاحب سر یا معلومــات بــه افشــای آن اجــازه داده باشــد یــا ایــن کــه هــدف از آن تــأمین منــافع عامــه باشــد، مرتکــب تحــت تعقیــب عــدلی، قــرار نمی‌گیرد.

## دوه يم فصل

## د مسافرت او اقامت جرمونه او

## د هغو مجازات

### له پولو څخه تګ راتګ

**۸۸۰ ماده:**

(۱) هغه بهرنی تبعه چې د پاسپورت، ويزې يا د مسافرت د سند له لرلو پرته د هېواد له پولو څخه تګ راتګ وکړي، د قصير حبس يا له شلو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا سربېره د قانون د حکمونو په رعايتولو سره، له هېواد څخه په اېستلو هم محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص، د دولت د مخالفو وسله والو ډلو ډلو يو ځای کېدو يا د تروريستي فعاليتونو د ترسره کولو په موخه د نورو اشخاصو په مرسته له پولې څخه تېر شوی وي، تېرشوی شخص او هغه اشخاص چې له هغه سره يې مرسته کړې، ددې قانون د ۲۷۷ مادې په (۴) فقره کې په درج شوو

## فصل دوم

## جرايم مسافرت و اقامت

## و مجازات آن

### عبور و مرور از سرحدات

**مادۀ ۸۸۰:**

(۱) تبعۀ خارجی که بدون داشتن پاسپورت، ويزه يا سند مسافرت از سرحدات کشور عبور ومرور نمايد، علاوه بر حبس قصير يا جزای نقدی از بيست هزار تا شصت هزار افغانی با رعايت احکام قانون، به اخراج از کشور نيز محکوم می گردد.

(۲) هر گاه شخص مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، به هدف پيوستن به گروه های مسلح مخالف دولت يا انجام فعاليت های تروريستی از سرحد به همکاری ساير اشخاص عبور نموده باشد، عبور کننده و اشخاصی که با وی همکاری نموده اند، به مجازات مندرج فقرۀ (۴) مادۀ ۲۷۷ اين قانون،

مجازاتو محکومېږي.

**له پاسپورت څخه د ناقانونه ګټې اخیستنې مجازات**

**۸۸۱ ماده:**

(۱) لاندې اشخاص، لـه راتلونکـو حالتونو څخه په یوهٔ کې په قصیر حبس محکومېږي:

۱- هغه شخص چې د پاسپورت یـا د مسافرت د سند د ترلاسه کولـو پـه منظور په خپل یا د بل شخص په نـوم، په آګاهانه او عمـدي ډول اړونـدو مراجعو ته د واقعیت خلاف سندونه او مدارک وړاندې کړي یا د پاسپورت د غوښتنلیک په فورم کې درج کړي او یا واقعي معلومات پټ کړي.

۲- هغه شخص چې هېواد ته د ننوتلو یا له هغه څخه د وتلو په منظور د بـل شخص له پاسپورت یا د مسافرت لـه سند څخه ګټه واخلي.

۳- هغه شخص چې له باطـل شـوي پاسپورت یا د مسافرت له سند څخـه ګټه واخلي.

محکوم می گردند.

**مجازات استفاده غیر قـانونی از پاسپورت**

**مادهٔ ۸۸۱:**

(۱) اشخاص ذیل، دریکی از حـالات آتـی بـه حـبس قصـیر، محکـوم می گردند:

۱- شخصـی کـه بمنظور دریافـت پاسپورت یا سند مسافرت به نام خـود یا شخص دیگـری، اسناد ومـدارک خلاف واقعیت را آگاهانه وعمدی بـه مراجـع مربوط ارایـه یا در فـورم درخواسـت پاسـپورت درج و یا معلـومات واقعـی را کتـمان نماید.

۲- شخصی که از پاسپورت یا سـند مسافرت شخص دیگری بمنظور ورود بـه کشور یا خروج از آن، اسـتفاده نماید.

۳- شخصـی کـه از پاسـپورت یـا سـند مسـافرت باطـل شـده، استفاده نماید.

۴- هغه شخص چې خپل پاسپورت یا د مسافرت سند د نا مجازه ګټې اخیستنې لپاره د بل شخص یا مرجع په واک کې ورکړي.

۵- هغه شخص چې خپل پاسپورت یا د مسافرت سند وپلوري.

٦- هغه شخص چې سپین پاسپورت یا د مسافرت سند د قانون د حکمونو خلاف وساتي.

(۲) که چېرې د پاسپورت یا د مسافرت د سند وېش یا پلورل بهرني شخص ته صورت موندلی وي، مرتکب د طویل حبس په مجازاتو چې له اووکلونو څخه لږ نه وي محکومېږي.

## د درغلۍ (تقلب) یا تهدید په وسیله د پاسپورت لاسته راوړل

**۸۸۲ ماده:**

هغه شخص چې پاسپورت یا د مسافرت سند له درغلۍ یا تهدید څخه په ګټې اخیستنې لاسته راوړي تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

۴- شخصی که پاسپورت یا سند مسافرت خود را جهت استفاده غیر مجاز در اختیار شخص یا مرجع دیگری قرار دهد.

۵- شخصی که پاسپورت یا سند مسافرت خود را به فروش برساند.

٦- شخصی که پاسپورت یا سند مسافرت سفید را خلاف احکام قانون، نگهداری نماید.

(۲) هرگاه توزیع یا فروش پاسپورت یا سند مسافرت به تبعهٔ خارجی صورت گرفته باشد، مرتکب به مجازات حبس طویل که از هفت سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.

## بدست آوردن پاسپورت به وسیلهٔ تقلب یا تهدید

**مادهٔ ۸۸۲:**

شخصی که پاسپورت یا سند مسافرت را با استفاده از تقلب یا تهدید به دست آورد، به حبس متوسط تا دو سال، محکوم می گردد.

## کمپیوټري سیستمونو تــه زیــان اړول

**۸۸۳ ماده:**

لاندې اشخاص له راتلونکو حــالتونو څخه په یوهٔ کې، په متوســط حــبس محکومېږي:

۱- هغه شخص چې د پاســپورټ د صادرېدو اړوند کمپیوټري سیســتم، برنامو یا اطلاعاتو یا هارډ ویر سیستم ته زیان ورسوي.

۲- هغه شخص چې د پاســپورټ د صادرېدو د سیستم سافت ویر یــا د ډېټابس ډیجیټلي کاپي د بل شخص په واک کې ورکړي.

## د قــانون خــلاف د پاســپورټ صادرول او د تګ راتګ په برخه کې همکاري

**۸۸۴ ماده:**

(۱) که چېرې شخص له لاندې اعمالو څخه د یوهٔ مرتکب شي، پــه قصــیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا پــه

## صدمه رسانیدن به سیستم هــای کمپیوتری

**مادهٔ ۸۸۳:**

اشخاص ذیل، در یکی از حالات آتی، بــه حــبس متوســط، محکــوم می گردند:

۱- شخصی که عمداً بــه سیســتم، برنامه یا اطلاعات کمپیوتری یا سیستم سخت افزار مربــوط بــه صــدور پاسپورت صدمه وارد نماید.

۲- شخصی که نرم افــزار سیســتم صدور پاسپورت یا کاپی دیجیتــالی دیتابس را در اختیار شخص دیگــری قرار دهد.

## صدور پاسپورت مغــایر قــانون وهمکــاری در زمینــه عبــور و مرور

**مادهٔ۸۸۴:**

(۱) هرگاه شخص یکی از اعمال ذیل را مرتکب شود، به حبس قصیر یــا جــزای نقــدی از ســـی هزار تا شصت هزار افغانــی یا هردو جــزا،

دوارو جزاګانو محکومېږي:

۱- په هغه صورت کې چې پاسپورت یا د مسافرت او یا د اقامت سند په آګاهانه ډول د قانون له حکمونو سره په مغایرت کې صادر کړي.

۲- په هغه صورت کې چې د کورنیو یا بهرنیو اتباعو د نامجازه تګ راتګ زمینه مساعده کړي یا له هغوی سره همکاري وکړي.

(۲) هغه شخص چې د تروریستي جرمونو د ارتکاب په منظور خپله یا د بل شخص د تابعیت تذکره، پاسپورت، د مسافرت او یا د اقامت سند د ګټې اخیستنې لپاره د بل شخص یا تروریستي سازمان په واک کې ورکړي یا هغه وپلوري، ددې قانون د ۲۷۷ مادې په (۴) فقره کې د درج شوي حکم په رعایت سره، مجازات کېږي.

## له قانوني واکونو څخه ناوړه ګټه اخیستنه

۸۸۵ ماده:

د پاسپورت د صادرېدو هغه مؤظف

محکوم می گردد:

۱- در صورتی که پاسپورت، سند مسافرت ویا اقامت را آگاهانه مغایر احکام قانون صادر نماید.

۲- در صورتی که زمینهٔ عبور ومرور غیر مجاز اتباع داخلی یا خارجی را مساعد ساخته یا با آنها همکاری نماید.

(۲) شخصی که بمنظور ارتکاب جرایم تروریستی، تذکره تابعیت، پاسپورت، سند مسافرت و یا اقامت خود یا شخص دیگری را جهت استفاده در اختیار شخص دیگر یا سازمان تروریستی قرار دهد یا آن را به فروش رساند، با رعایت حکم مندرج فقرهٔ (۴) مادهٔ ۲۷۷ این قانون، مجازات می گردد.

## سوء استفاده از صلاحیت های قانونی

مادهٔ۸۸۵:

مؤظف صدور پاسپورت که از

چې د خپل ځان يا بل شخص لپاره د مادي يا معنوي منفعت د ترلاسه کولو په منظور په قانون کې له درج شوو واکونو څخه ګټه واخلي، په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر درې سوو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## درېيم فصل

## د عامې روغتيا اړوند جرمونه او د هغو مجازات

### د تقلبي يا نامعياري درملو توليد يا واردول

**۸۸٦ ماده:**

(۱) هغه شخص چې تقلبي يا نامعياري درمل توليد، تورید، وپېري، وپلوري، عرضه، تقاضا، انتقال يا وساتي، د درملو په مصادرې او محوې سربېره، تر درېو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی

صلاحيت های مندرج قانون بمنظور کسب منفعت مادی يا معنوی برای خود يا شخص ديگری استفاده نمايد، به حبس متوسط يا جزای نقدی از شصت هزار تا سه صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

## فصل سوم

## جرايم مربوط به صحت عامه و مجازات آن

### توليد يا وارد کردن ادويه تقلبی يا غير معياری

**مادهٔ ۸۸٦:**

(۱) شخصی که ادويهٔ تقلبی يا غير معياری را توليد، تورید، خريد، فروش، عرضه، تقاضا، انتقال يا نگهداری نمايد، علاوه بر مصادره و محو ادويه، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده توسط شخص حکمی

جرم د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، د فاعل د مجازاتو او د درملو پر مصادرې او محو سربېره، مرتکب له احوالو سره سم له شلو زرو څخه تر دوو سوو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا د جواز په سلب محکومېږي.

## له تاریخ تېرو درملو څخه ناوړه ګټه اخیستنه

**۸۸۷ ماده:**

(۱) هغه شخص چې تاریخ تېر درمل تورید، وساتي، عرضه، تقاضا، وپېري، وپلوري یا ولېږدوي، د درمل د مصادرې او محوې سربېره، د مصادره شوو درملو د دوه برابره بیې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، د فاعل د مجازاتو او د درمل د مصادرې او محوې سربېره، مرتکب د مصادره شوو درملو د بیې په څلور چنده نغدي جزا

ارتکاب یابد، علاوه بر مجازات فاعل و مصادره و محو ادویه، مرتکب حسب احوال، به جزای نقدی از بیست هزار تا دو صد هزار افغانی یا سلب جواز، محکوم می‌گردد.

## استفادهٔ سوء از ادویه تاریخ گذشته

**مادهٔ ۸۸۷:**

(۱) شخصی که ادویه تاریخ گذشته را تورید، نگهداری، عرضه، تقاضا، خرید، فروش یا انتقال دهد، علاوه بر مصادره و محو ادویه، به مجازات نقدی دو چند قیمت ادویه مصادره شده، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده توسط شخص حکمی ارتکاب یابد، علاوه بر مجازات فاعل و مصادره و محو ادویه، مرتکب به جزای نقدی چهار چند قیمت ادویه مصادره شده یا سلب جواز، محکوم

یا د جواز په سلب محکومېږي.

(۳) که چېرې په ۸۸۶ ماده او د دې مادې په (۱ او۲) فقرو کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب له امله د شخص روغتیا ته زیان ورسېږي، مرتکب د مرتکبه جرم پر مجازاتو سربېره، د زیانمن د درملنې د لګښتونو په ورکړه هم محکومېږي.

## له درملنې ځخه د طبي مؤظف ډډه

**۸۸۸ ماده:**

(۱) که چېرې روغتیایي مؤسسه یا طبي مؤظف د دندې د ترسره کولو په وخت کې د ناروغ له درملنې ځخه ډډه وکړي، د جسمي یا رواني زیان د پېښېدو په صورت کې، مرتکب د خسارې په جبران سربېره ، په دې قانون کې درج د مرتکبه جرم په مجازاتو هم محکومېږي.

(۲) که چېرې روغتیایي مؤسسه یا اړوند طبي مؤظف، د اړتیا په وخت کې د عدلي طب له متخصص سره له همکارۍ ځخه ډډه وکړي، له پنځو زرو

می‌گردد.

(۳) هرگاه در اثر ارتکاب جرایم مندرج مادهٔ ۸۸۶ و فقره های (۱ و ۲) این ماده، به صحت شخص صدمه وارد گردد، مرتکب علاوه بر مجازات جرم مرتکبه به پرداخت مصارف تداوی متضرر، نیز محکوم می گردد.

## امتناع مؤظف طبی از تداوی

**مادهٔ ۸۸۸:**

(۱) هرگاه مؤسسهٔ صحی یا مؤظف طبی حین انجام وظیفه از تداوی مریض امتناع ورزد در صورت وقوع زیان جسمی یا روانی، مرتکب علاوه به جبران خساره، به مجازات جرم مرتکبه مندرج این قانون، نیز محکوم می گردد.

(۲) هرگاه مؤسسه ای صحی یا مؤظف طبی مربوط حین ضرورت از همکاری با متخصص طب عدلی امتناع ورزد، به جزای نقدی از پنج هزار تا

څخه تر پنځلسو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

**د طبي مؤظف په واسطه بې پامي، بې احتیاطي یا د طبي مقرراتو نه رعایتول**

**۸۸۹ ماده:**

که چېرې طبي مؤظف د بې پروایي، بې احتیاطي یا د طبي مقرراتو د نه رعایت له امله د ناروغ د ناروغۍ په تشخیص یا درملنې کې د داسې خطاء (عمل) مرتکب شي چې د هغه له امله ناروغ ته جسمي یا رواني زیان وارد شي، په دې قانون کې درج د خطاء د جرم په مجازاتو محکومېږي.

**د زهرجنو(سمي) یا مضره توکو واردول، پروسس او وېش**

**۸۹۰ ماده:**

هغه شخص چې په عفوني ارګانیزم یا زهرجنو توکو ککړ حیوان یا حیواني محصول، بیولوژیکي توکي یا د کنترول وړ نور توکي یا مضره توکي وارد یا صادر، پروسس، تولید، وپېري،

پانزده هزار افغانی، محکوم می گردد.

**بی دقتی، بی احتیاطی یا عدم رعایت مقررات طبی توسط مؤظف طبی**

**مادۀ ۸۸۹:**

هرگاه مؤظف طبی در تشخیص یا تداوی مریض به اثر غفلت، بی احتیاطی یا عدم رعایت مقررات طبی مرتکب چنان خطاء (عمل) شود که از اثر آن به مریض زیان جسمی یا روانی وارد گردد، به مجازات جرم خطاء مندرج این قانون، محکوم می‌گردد.

**ورود، پروسس وتوزیع مواد سمی یا مضره**

**مادۀ ۸۹۰:**

شخصی که حیوان یا محصول حیوانی، مواد بیولوژیکی یا سایر مواد قابل کنترول ملوث با ارگانیزم عفونی یا مواد سمی یا مادۀ مضره را وارد یا صادر، پروسس، تولید، خرید، فروش،

وپلوري، وساتي، عرضه، انتقال يا ووېشي يا د هغو زمينه برابره کړي، له شلو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

نورو ته د ناروغيو سرايت

۸۹۱ ماده:

(۱) شخص له لاندې اعمالو څخه د يوه د ارتکاب يا ډډې کولو په صورت کې چې نورو کسانو ته د ناروغيو په سرايت تمام شي، په قصير حبس محکومېږي:

۱- د رديابی د سيستم نه رامنځته کول.

۲- د خوراکي توکو د حفظ الصحې نه رعايت.

۳- د مقررو، کړنلارو او ستندردونو نه رعايت

۴- د خوراکي توکو د مصونيت د تدابيرو نه رعايت.

۵- د اخطار نه رعايت.

٦- د غير صحي خوراکي توکو توليد، برابرول، توريد، زېرمه، صادرول، وېشل او پلورل.

نگهداری، عرضه، انتقال يا توزيع نموده يا زمينهٔ آن را فراهم نمايد، به جزای نقدی از بيست هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

سرايت امراض به ديگران

مادهٔ ۸۹۱:

(۱) شخص در صورت ارتکاب يا امتناع از يکی از اعمال ذيل که منجر به سرايت امراض به ديگران گردد، به حبس قصير، محکوم می گردد:

۱- عدم ايجاد سيستم رد يابی.

۲- عدم رعايت حفظ الصحه مواد غذايی.

۳- عدم رعايت مقرره ها، طرزالعمل‌ها و ستندرد ها.

۴- عدم رعايت تدابير مصونيت مواد غذايی.

۵- عدم رعايت اخطار.

٦- توليد، تهيه، توريد، ذخيره، صدور، توزيع وفروش مواد غذايی غير صحی.

۷- د بیا پلورلو په مقصد د غیر صحي خوراکي توکو پیرل.

۸- د غولوونکي او ګمراه کوونکي اعلان خپرول.

۹- ناقانونه فعالیت.

(۲) که چیرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو ارتکاب د انسان د مړینې لامل شي، مرتکب په طویل حبس محکومیږي.

(۳) هغه شخص چې حرام خوراکي توکي تولید، تورید، صادر، وویشي، وپلوري یا د پلورلو په مقصد وپیري، د متوسط حبس په اکثر حد محکومیږي.

## له وظیفوي اصولو څخه غفلت او سرغړونه

**۸۹۲ ماده:**

که چیرې د حیواني طب کارکوونکی د دندې په ترسره کولو کې اهمال او غفلت وکړي او ددې اهمال او غفلت په پایله کې د هغو تر درملنې لاندې حیواناتو ته زیان ورسیږي، له پنځو زرو

۷- خرید مواد غذایی غیر صحی به مقصد فروش مجدد آن.

۸- نشر اعلان فریبنده و گمراه کننده.

۹- فعالیت غیر قانونی.

(۲) هرگاه ارتکاب جرایم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده سبب مرگ انسان گردد، مرتکب به حبس طویل، محکوم می گردد.

(۳) شخصی که مواد غذایی حرام را تولید، تورید، صدور، توزیع، فروش یا به مقصد فروش خریداری نماید، به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

## غفلت و تخلف از اصول وظیفوی

**مادهٔ ۸۹۲:**

هرگاه کارکن طب حیوانی در اجرای وظیفه اهمال و غفلت ورزد و در نتیجه این اهمال و غفلت به حیوان های تحت تداوی شان صدمه وارد شود، به جزای نقدی از پنج هزار

څخه تر لسو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## څلورم فصل

## د کرنې او حیواناتو اړوند جرمونه

**د بذري تخمونو د اړوندو جرمونو مجازات**

**۸۹۳ ماده:**

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوه مرتکب شي، له شلو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا د وارد شوي زیان په معادل هر یو چې شدید وي، محکومېږي:

۱- د قانون د حکمونو د مشخصاتو مغایر له بارجامې پرته د تصدیق شوو بذري تخمونو پلورل.

۲- د هغو بذري تخمونو د پلورلو په غرض چې د قانون له حکمونو سره سم د تصدیق شوو بذري تخمونو په لست کې شامل نه وي، د تصدیق شوو بذري تخمونو د هر یوه له نوم، ورته کلمو یا

تا ده هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

## فصل چهارم

## جرایم مربوط به زراعت وحیوان ها

**مجازات جرایم مربوط به تخم های بذری**

**مادهٔ ۸۹۳:**

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به جزای نقدی از بیست هزار تا سی هزار افغانی یا معادل خسارهٔ واردهٔ هرکدام که شدید باشد، محکوم می‌گردد:

۱- فروش تخم های بذری تصدیق شده، بدون بارجامه مغایر مشخصات احکام قانون.

۲- استفاده از نام، کلمات مشابه یا توصیف هر یک از تخم‌های بذری تصدیق شده غرض فروش تخم های بذری که مطابق احکام قانون شامل لست تخم های بذری

توصيف څخه ګټه اخيستنه.

۳-له جوازليک پرته د بذري تخمونو صادرول يا په ناقانونه ډول د هغو پلورل.

۴- د ارزونې او آزمايښت په منظور د بذري تخمونو نه تسليمي يا د قانون د حکمونو مغاير د بذري تخمونو په نمونه اخيستنه کې ساخته کاري يا د هغې لپاره د زمينې جوړول.

۵- د قانون د حکمونو مغاير د مشخصاتو، نښې، تصديق ليک، رسيد يا نورو رسمي سندونو تعويض، ويجاړول يا رامنځته کول.

٦- د قانون له حکمونو سره سم د تصديق شوو بذري تخمونو د فني کارکوونکو د واکونو له اعمال څخه ممانعت.

۷- د بذري تخمونو فني کارکوونکي ته د معلوماتو نه ورانډې کول يا د غلطو او ګمراه کوونکو معلوماتو ورانډې کول.

تصديق شده نباشد.

۳- صدور تخم‌های بذری بدون جوازنامه يا فروش آن به صورت غير قانونی.

۴- عدم تسليمی تخم‌های بذری بمنظور ارزيابی و آزمايش يا ساخته کاری در نمونه گيری تخم‌های بذری مغاير احکام قانون و يا زمينه سازی برای آن.

۵- تعويض، تخريب يا ايجاد مشخصات، نشانی، تصديق نامه، رسيد يا ساير اسناد رسمی مغاير احکام قانون.

٦- ممانعت از اعمال صلاحيت‌های کارکنان فنی تخم‌های بذری تصديق شده، با رعايت احکام قانون مربوط.

۷- عدم ارايه معلومات يا ارايه معلومات غلط و گمراه کننده به کارکن فنی تخم‌های بذری.

**د نباتي آفتونو او ناروغيو ضد بې کيفيته درملو څخه ګټه اخيستنه**

**۸۹۴ ماده:**

**(۱)هغه شخص چې دنباتي آفتونو او ناروغيو ضد بې کيفيته يا تاريخ تېر درمل توليد، تورید، وساتي، عرضه، تقاضا، وپېرې، وپلوري يا ولېږدوي يا هغه ترګټې اخيستنې لاندې راولي، د کرنيزو بې کيفيته يا تاريخ تېرو درملو د مصادرې او محوې سربېره، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.**

**(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، د فاعل د مجازاتو او د بې کيفيته يا تاريخ تېرو درملو پر مصادرې او محوې سربېره، مرتکب له احوالو سره سم د مصادره شوې وجهې معادل په نغدي جزا يا د جواز په سلب محکومېږي.**

**استفاده از ادویهٔ بی کیفیت ضد آفات و امراض نباتی**

**مادهٔ ۸۹۴:**

**(۱) شخصی که ادویه بی کیفیت ضد آفات و امراض نباتی یا تاریخ گذشته را تولید، تورید، نگهداری، عرضه، تقاضا، خرید، فروش یا انتقال دهد یا آنها را مورد استفاده قرار دهد، علاوه بر مصادره و محو ادویه زراعتی بی کیفیت یا تاریخ گذشته، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.**

**(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده توسط شخص حکمی ارتکاب یابد، علاوه بر مجازات فاعل و مصادره ومحو ادویه زراعتی بی کیفیت یا تاریخ گذشته، مرتکب حسب احوال به جزای نقدی معادل وجه مصادره شده یا سلب جواز، محکوم می‌گردد.**

## له بې کیفیت کیمیاوي کود څخه ګټه اخیستنه

**۸۹۵ ماده:**

(۱) هغه شخص چې بې کیفیته یا تاریخ تېر کیمیاوي کود تولید، تورید، وساتي، عرضه، تقاضا، وپېري، وپلوري یا ولېږدوي یا هغوی تر ګټې اخیستنې لاندې راولي، د بې کیفیته یا تاریخ تېر کیمیاوي کود پر مصادرې او محوې سربېره، په دې فقره کې درج د مصادره شوې وجهې معادل په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، د فاعل د مجازاتو او د بې کیفیته یا تاریخ تېر کیمیاوي کود پر مصادرې او محوې سربېره، مرتکب له احوالو سره سم ددې مادې په (۱) فقره کې درج په دوه چنده نغدي جزا یا د جواز په سلب محکومېږي.

## استفاده از کود کیمیاوی بی کیفیت

**مادۀ ۸۹۵:**

(۱) شخصی که کود کیمیاوی بی کیفیت یا تاریخ گذشته را تولید، تورید، نگهداری، عرضه، تقاضا، خرید، فروش یا انتقال دهد یا آنها را مورد استفاده قرار دهد، علاوه بر مصادره و محو کود کیمیاوی بی کیفیت یا تاریخ گذشته، به جزای نقدی معادل وجه مصادره شده مندرج این فقرۀ محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده توسط شخص حکمی ارتکاب یابد، علاوه بر مجازات فاعل و مصادره و محو کود کیمیاوی بی کیفیت یا تاریخ گذشته، مرتکب حسب احوال به جزای نقدی دوچند مندرج فقرۀ (۱) این ماده یا سلب جواز، محکوم می‌گردد.

## د مسموموونکو توکو کارول

**۸۹۶ ماده:**

لاندې اشخاص د حبس په بدیل یا لـــه پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغـــانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې په ســیند، نهــر، جهیل یا حوض کــې موجــود کبــان مسموم کړي یا د هغوي په ښکار کې د ټول وژنې له وسایلو لکه چاودېدونکي توکي، کیمیاوي توکي، جنراتور یا نورو وژونکو وسایلو څخه ګټه واخلي.

۲- هغه شخص چې د غیر د ملکیت د ورېښمو چېنجي یا د شـــاتو د مچیــو ټولګه (مجموعه) ووژني یا هغو ته لوي زیان ورسوي.

## په املاکو، مالونو او حیواناتو پورې اړوندې سرغړونې

**۸۹۷ ماده:**

لاندې اشخاص له پنځو زرو څخه تـــر لسو زرو افغانیو پورې په نغدي جـــزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې له حق پرته د بل

## استعمال مواد مسموم کننده

**مادۀ ۸۹۶:**

اشخاص ذیل، به بدیل حبس یا جزای نقدی از پنج هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردند:

۱- شخصی که ماهی های موجود در دریا، نهر، جهیل یا حوض را مســـموم نماید یا در شکار آنها از وسایل کشتار دسته جمعیماننـــد مـــواد منفجـــره، موادکیمیاوی، جنراتور یا سایر وسایل کشنده کار بگیرد.

۲- شخصی که کـــرم ابریشـــم یـــا مجموعه‌ی از زنبور عسل ملکیت غیر را بکشد یا به آن ضرر بـــزرگ وارد نماید.

## تخلفات مربوط به املاک، اموال و حیوان ها

**مادۀ ۸۹۷:**

اشخاص ذیل به جزای نقدی از پـــنج هزار تا ده هـــزار افغـــانی، محکـــوم می‌گردند:

۱- شخصی که بدون حق در زمـــین

چا کرنې ته په چمتو شوې ځمکې، یـا کښت شوې یا په نــه ریبــل شــوي کرنه(زراعت) کې د حیوان په واسطه یا د هغه پرته تګ او را تګ وکړي.

۲- هغه شخص چې له حق پرته د بل په ځمکه یا بڼ کې رمه یا نور حیوانــات وڅروي یا پرېږدي چې په هغــو کــې وڅري.

۳- هغه شخص د غیر د ملک نقلیــه وسایطو یا کور یا بنا یا بڼ یا احاطې ته تیږه یا نور کلک توکي یا کثافــات ور وغورځوي.

۴- هغه شخص چې په نهــر، ویالــه، حوض او یا د اوبو په نورو مجاریو کې هغه ادوات یا شیان واچوي چې د هغو په وسیله د اشخاصو لامبو اخلال شي یا د اوبو مجاري تنګه شي.

## د حیوان وژل یا ټپي کول

**۸۹۸ ماده:**

هغه شخص چې د خطاء په سبب د غیر ملکیت حیوان ووژني یا ټپي کــړي، د پنځو زرو افغــانیو پــه نغــدي جــزا

آماده شده برای زراعت، یا کشت شده یا در زراعت درو نا شــده دیگــری توســـط حیـــوان یـــا بـــدون آن، عبور و مرور کند.

۲- شخصی که بدون حق در زمین یا باغ دیگری رمه یا سایر حیوان هــا را بچرانـــد یـــا بگـــذارد کـــه در آن بچرد.

۳- شخصی که سنگ یا مواد سخت دیگر یا کثافات را به وسایط نقلیه یـــا خانه یا بنا یا باغ یا احاطه ملک غیـــر پرتاب نماید.

۴- شخصی که در نهر، جوی، حوض و یا در دیگر مجاری آب، ادوات یـــا اشیای را بیاندازد که بوسیله آن، آب بازی اشخاص اخلال گردد یا مجاری آب تنگ شود.

## کشتن یا مجروح نمودن حیوان

**مادۀ ۸۹۸:**

شخصی که به سبب خطــاء حیـــوان ملکیت غیر را بکشد یا مجروح نماید، به جزای نقدی پـــنج هـــزار افغـــانی،

محکومېږي.

## د اهلي حيوان تعذيب يا مثله کول

**۸۹۹ ماده:**

شخص له لاندې حالتونو څخه په يوۀ کې له پنځو زرو څخه تر لسو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې اهلي يا الفت اخيستونکی حيوان په بې رحمۍ سره تعذيب يا مثله کړي يا په بله وسيله له هغه سره ناوړه معامله وکړي.

۲- په هغۀ صورت کې چې د سوارلۍ يا بار وړونکي حيوان له طاقت پورته بار کړي يا هغه ناروغ، ټپي يا معيوب حيوان چې د کار طاقت ونلري، پکار واچوي.

## د حيواناتو او الوتونکو جنګول

**۹۰۰ ماده:**

هغه شخص چې د حيواناتو ( سپي، ګډه، اوښ) يا الوتونکو(چرګ، زرک، مرز) او دې ته ورته په جنګولو لاس پورې کړي، د لسو زرو افغانيو په نغدي جزا، محکومېږي.

محکوم می گردد.

## تعذیب یا مثله نمودن حیوان اهلی

**مادۀ ۸۹۹:**

شخص در یکی از حالات ذیل به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی، محکوم می گردد:

۱- در صورتی که حیوان اهلی یا الفت گیرنده را بیرحمانه تعذیب یا مثله یا به وسیله دیگر با آن معاملۀ سوء نماید.

۲- در صورتی که حیوان سواری یا بارکش را فوق طاقت بار نماید یا حیوان مریض، زخمی یا معیوب را که طاقت کار را نداشته باشد، بکار اندازد.

## جنگانیدن حیوان ها و پرندگان

**مادۀ ۹۰۰:**

شخصی که به جنگانیدن حیوان ها (سگ، قوچ، شتر) یا پرندگان (خروس، کبک، بودنه) وامثال آن مبادرت ورزد، به جزای نقدی ده هزار افغانی، محکوم می گردد.

## پنځم فصل
## د نفوسو د احوالو د ثبت جرمونه او مجازات

### د نفوسو د احوالو د ثبت جرمونه

**۹۰۱ ماده:**

(۱) هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوۀ مرتکب شي، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس محکومېږي:

۱- د ثبت شوي هويت د مندرجاتو په بدلون سره د تابعيت د تذکرې مکرر اخيستل.

۲- د ځان يا بل چا په ګټه د تابعيت له تذکرې څخه ناوړه ګټه اخيستنه.

۳- په قصدي ډول د تابعيت د تذکرې ماتول يا خرابول.

(۲) که چېرې د نفوسو د احوالو د ثبت مامور بهرني تبعه ته د افغانستان د تابعيت له ترلاسه کولو مخکې، د تابعيت تذکره برابره او صادره کړي، پدې قانون کې درج د تزوير د جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

## فصل پنجم
## جرایم و مجازات ثبت احوال نفوس

### جرایم ثبت احوال نفوس

**مادۀ ۹۰۱:**

(۱) شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حبس متوسط بیش از سه سال، محکوم می‌گردد:

۱- اخذ مکرر تذکره تابعیت با تغییر مندرجات هویت ثبت شده.

۲- سوء استفاده از تذکرۀ تابعیت به نفع خود یا دیگری.

۳- شکستاندن یا خراب نمودن قصدی تذکرۀ تابعیت.

(۲) هر گاه مامور ثبت احوال نفوس به تبعۀ خارجی قبل از اکتساب تابعیت افغانستان، تذکره تابعیت را ترتیب و صادر نماید، به حد اکثر مجازات جرم تزویر مندرج این قانون محکوم می گردد.

**د ناسمو معلوماتو وړاندې کول او د تابعیت تذکرې له لرلو پرته د شخص استخدام**

**۹۰۲ ماده:**

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي، په قصیر حبس محکومېږي:

۱- د تابعیت د تذکرې له لرلو پرته د شخص استخدام.

۲- په قصدي ډول د کورني او انفرادي ثبت په فورمه کې د غلطو معلوماتو وړاندې کول.

۳- په قصدي ډول د تولد، وفات، واده (ازدواج) او د هغه د انحلال غلط رپوټ.

## شپږم فصل

## قباحات

**په عامه لاره کې مزاحمت**

**۹۰۳ ماده:**

لاندې اشخاص له پنځو زرو څخه تر لسو زرو پورې په نغدي جزا

**ارایه معلومات نادرست و استخدام شخص بدون داشتن تذکره تابعیت**

**مادۀ ۹۰۲:**

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حبس قصیر، محکوم می‌گردد:

۱- استخدام شخص بدون داشتن تذکره تابعیت.

۲- ارایه معلومات غلط در فورمه ثبت خانوادگی و انفرادی به صورت قصدی.

۳- گزارش غلط تولد، وفات، ازدواج و انحلال آن به صورت قصدی.

## فصل ششم

## قباحات

**مزاحمت در راه عام**

**مادۀ ۹۰۳:**

اشخاص ذیل به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی، محکوم

محکومېږي:

۱- هغه شخص چې د ترافيکي مقرراتو خلاف د نقليه واسطې په پرېښودلو يا درولو، په لاره کې د مزاحمت لامل شي، که څه هم نوموړې واسطې د حيوان يا د هغه پرته وچلول شي. خو داچې پرېښودل يا درول د بار د لېږدولو، خالي کولو يا د سوارليو د پورته کېدلو يا ښکته کېدلو په منظور د هغو په لازم حد صورت موندلی وي.

۲- هغه شخص چې د اوبو د بهير پر سر د تللو پل يا پلچک چې خلک پر هغو د تلو حق ولري قطع کړي او د هغه پر ځای د تلو لار(راه رو) يا د خلکو د تلو راتلو لپاره بله وسيله کېښږدي.

### په عامه اماکنو کې د مزاحمت رامنځته کول

۹۰۴ ماده:

لاندې اشخاص د پنځو زرو افغانيو په نغدي جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې په عامه لار يا

می گردند:

۱- شخصی که با گذاشتن یا توقف دادن واسطه نقلیه، خلاف مقررات ترافیکی، سبب مزاحمت در راه عام شود، اعم از این‌که وسایط مذکور توسط حیوان یا بدون آن رانده شود. مگر این‌که گذاشتن یا توقف بمنظور حمل کردن، خالی کردن بار یا بالا شدن یا پائین شدن راکبین به حد لازم آن صورت گرفته باشد.

۲- شخصی که پل یا پلچک راه رو بالای جریان آب را که مردم بر آن حق عبور داشته باشند قطع نموده به جای آن راه رو یا وسیله دیگری برای عبور و مرور مردم نگذارد.

### ایجاد مزاحمت در اماکن عامه

مادهٔ ۹۰۴:

اشخاص ذیل، به جزای نقدی پنج هزار افغانی، محکوم می گردند:

۱- شخصی که در راه یا میدان های

ډګرونو کې له احتیاط پرته په بې پروایۍ سره د حیوان د سوارلۍ یا د هغــو د ځغلولو (دواندن) په واسطه یا د نقلیــه واسطې په وسیله د خلکو د اذیت لامل شي.

۲- هغه شخص چې د لمر د پریوتلو او د ختلو په منځ کې پــه عامــه لار یــا ډګرونو کې د دواړو خواوو د څراغ له لګولو پرته له نقلیه واسطې ګټه واخلي یا هغه وچلوي.

## د اخلاقو د منافي عملونو ارتکاب

**۹۰۵ ماده:**

لاندې اشخاص د پنځو زرو افغانیو پــه نغدي جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې د اشخاصــو پــه کورونو او نورو اماکنو کې د آدابو د منافي په موخه ترصد وکړي.

۲- هغه شخص چې په عام ځای کې د حیا د منافي په ډول غسل وکړي یا د ادب په منافي په لوڅ حالت کې څرګند شي.

عــــام بـــــدون احتیــــاط و بـــی پروایـــی توســـط ســـواری حیوان یا دواندن آن یـــا بـــه وســـیله واسطه نقلیه، ســـبب اذیـــت مـــردم گردد.

۲- شخصی که در بین غروب و طلوع آفتاب در راه یا میدان‌های عام واسطه نقلیه را بدون روشن کردن چراغ هر دو طرف، اســتفاده کــرده یــا آن را براند.

## ارتکاب اعمال منافی اخلاق

**مادهٔ ۹۰۵:**

اشخاص ذیل، به جزای نقدی پنج هزار افغانی، محکوم می‌گردند:

۱- شخصی که در منازل اشخاص و سایر اماکن به هدف منافی آداب ترصد نماید.

۲- شخصـــی کـــه در محـــل عـــام بصورت منافی حیا، غسل نماید یا در حالـــت عریـــان منـــافی ادب ظـــاهر گردد.

## په مېلمستون يا هوټل کې د مسافرو د پېژندنې (هويت) نه ثبت

۹۰۶ ماده:

هغه شخص چې په هوټل، مېلمستون، مسافر خانه يا هغو خونو کې چې د اشخاصو د اوسېدلو په منظور برابرې شوې،د مسافرو د پېژندلو په ثبت مکلف وي، د مشتريانو پېژندنه ثبت نکړي يا په هغو کې اهمال وکړي، له پنځو زرو څخه تر لسو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د پيدا شوي مال نه تسليمول

۹۰۷ ماده:

هغه شخص چې هغه ورک شوي سندونه يا مال چې د هغو بيه له زرو افغانيو څخه زياته وي، پيدا کړي او له مؤجه عذر څخه پرته د يوې اونۍ په موده کې له موضوع څخه د مال څښتن يا د پوليسو تر ټولو نږدې ادارې ته اطلاع ورنکړي، د مال په رد سربېره، د پنځو زرو افغانيو په نغدي جزا محکومېږي.

## عدم ثبت هويت مسافرين در مهمان خانه يا هوتل

مادۀ ۹۰۶:

شخصی که به ثبت هويت مسافردر هوتل، مهمان خانه، مسافر خانه يا اتاق های که بمنظور رهايش اشخاص تهيه شده است، مکلف باشد، هويت مشتريان را ثبت نه نمايد يا در آن اهمال ورزد، به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

## عدم تسليم دهی مال يافت شده

مادۀ ۹۰۷:

شخصی که اسناد يا مال گم شده را که قيمت آن بيش از يک هزار افغانی باشد، يافت نمايد و در مدت يک هفته بدون عذر مؤجه موضوع رابه صاحب مال يا به نزديک ترين ادارۀ پوليس اطلاع ندهد، علاوه بر رد مال، به جزای نقدی پنج هزار افغانی، محکوم می گردد.

## په عامه لار کې د ګڼه ګوڼې رامنځته کول

**۹۰۸ ماده:**

هغه شخص چې له اړتیا پرته یا د واکمنو مراجعو له اجازې پرته په لاره کې د کندو په کېندلو یا د هغو توکو او شیانو په ایښودلو سره چې په هغه کې تګ راتګ نامطمئن کړي یا په بله هره وسیله د خلکو د تګ راتګ د مخنیوي لامل شي، او پدې وسیله په لاره کې د ګڼه ګوڼې لامل شي، له پنځو زرو څخه تر لسو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د عابرینو مزاحمت

**۹۰۹ ماده:**

لاندې اشخاص د پنځو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې له لازم احتیاط پرته په عامه لار کې داسې توکي وغورځوي چې د عابرینو د اذیت لامل شي یا له لازم احتیاط پرته په عامه یا خاصه لار کې داسې شیان وځړوي چې د هغو

## ایجاد ازدحام در راه عام

**مادهٔ ۹۰۸:**

شخصی که بدون ضرورت یا بدون اجازه مراجع با صلاحیت، با حفر نمودن گودال در راه یا گذاشتن مواد یا اشیایی که رفت و آمد را در آن غیر مطمئن گرداند یا به هر وسیله دیگری سبب ممانعت در رفت و آمد مردم گردیده و بدین وسیله باعث ازدحام در راه گردد، به جزای نقدی از پنج هزار تا ده هزار افغانی، محکوم می گردد.

## مزاحمت عابرین

**مادهٔ ۹۰۹:**

اشخاص ذیل، به جزای نقدی پنج هزار افغانی، محکوم می گردند:

۱- شخصی که بدون احتیاط لازم در راه عام موادی را بیاندازد که باعث اذیت عابرین گردد یا بدون احتیاط لازم در راه عام یا خاص اشیایی را آویزان کند که

لوېدل د خلکو د ځوروني او اذيت لامل شي.

۲- هغه شخص چې له لازم احتياط پرته جامد، مايع مواد يا ګاز پر انسان وغورځوي که څه هم د هغو په پايله کې شخص ته کوم جسمي زيان ونرسېږي.

**په نامجازه ځای کې د انسان د جسد خښول**

**۹۱۰ ماده:**

هغه شخص چې په نامجازه ځای کې د انسان جسد خښ کړي، له پنځو زرو څخه تر لسو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## اووم فصل
## وروستني حکمونه

**د کار له ځواک څخه ناوړه ګټه اخيستنه (بهره کشي)**

**۹۱۱ ماده:**

هغه شخص چې د خلکو د کار له ځواک نه د فرېب او حيلې څخه په

افتيدن آن باعث آزار و اذيت مردم شود.

۲- شخصی که بدون احتياط لازم مواد جامد، مايع يا گاز را بر انسان بياندازد گر چه در نتيجهٔ آن کدام صدمه جسمی به شخص عايد نگردد.

**دفن جسد انسان در محل غير مجاز**

**مادهٔ ۹۱۰:**

شخصی که جسد انسان را در محل غير مجاز دفن نمايد، به جزای نقدی ازپنج هزار تا ده هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

## فصل هفتم
## احکام نهايی

**بهره کشی از نيروی کار**

**مادهٔ ۹۱۱:**

شخصی که نيروی کار مردم را با استفاده از فريب يا حيله بهره کشی

استفادې ناوړه ګټه واخلي یـا هغـه وپلوري یا په هرې بلې لارې د هغوی د کار ځواک تر معاملې لاندې راولي، په متوسط حبس محکومېږي.

**سقوط ته د نـږدې ودانـۍ پـه ويجاړولو يا ترميم کې اهمال**

**۹۱۲ ماده:**

(۱) هغه شخص چې واکمنو مراجعو، سقوط ته د نږدې ودانۍ په ترميم يـا تخريب اخطار ورکړي او هغه له هغـو څخه ډډه يا اهمال وکړي، د پنځو زرو افغانيو په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي شخص د اهمال لـه امله، ضرر يا زيان پيښ شي، مرتکب په دې ماده کې د درج شوې جزا سربېره، د مرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي.

**په عام ځای کې اورلوبه**

**۹۱۳ ماده:**

لاندې اشخاص، د پنځو زرو افغانيو په نغدي جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې د اړوندو مقاماتو

کند یا آن را به فروش برساند یا به هر طریقی نیروی کار آنها را مورد معامله قرار دهد، به حبس متوسط، محکـوم می‌گردد.

**اهمال در تخريب يا ترميم بنـای نزديک به سقوط**

**مادهٔ ۹۱۲:**

(۱) شخصی را که مراجع با صلاحیت به ترمیم یا تخریب بنای نزدیـک بـه سقوط اخطار داده و وی از آن امتناع یا اهمال ورزد، به جزای نقدی پـنج هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه در اثر اهمال شخص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، ضرر یا صدمه وارد گردد، مرتکب علاوه بر جزای مندرج این ماده به جزای جرم مرتکبه، نیـز محکوم می گردد.

**آتش بازی در محل عام**

**مادهٔ ۹۱۳:**

اشخاص ذیل، به جزای نقدی پنج هزار افغانی، محکوم می گردد:

۱- شخصـی کـه بـدون اجـازه

**له اجازې پرته په هغو محلاتو کې په اورلوبې لاس پورې کړي چې په هغو کې د اور لګېدنې، تلفېدو او یا ضرر خطر متصور وي.**

**۲- هغه شخص چې د ښار یا کلي په منځ کې ناریه وسله یا باروت یا نور چاودېدونکي توکي وکاروي.**

**۳- هغه شخص چې په عمدي ډول د هارن، شورماشور او تخریشوونکو غږونو په وسیله د نورو د اذیت لامل شي.**

**۴- هغه شخص چې داسې مجنون چې خلک له هغه څخه وېرېږي په عامه لار کې خوشې کړي.**

**۵- هغه شخص چې د هغه حیوان په هکله چې د هغه په حیازت کې دی یا د هغو مسؤولیت په غاړه لري، د ممکنه خطر یا ضرر د مخنیوي لپاره لازم احتیاط تر لاس لاندې ونه نیسي.**

**مقامات مربوط در محلات به آتش بازی بپردازد که در آن خطر حریق، تلف و یا ضرر متصور باشد.**

**۲- شخصی که در داخل شهر یا قریه، سلاح ناریه یا باروت یا دیگر مواد منفلقه را استعمال نماید.**

**۳- شخصی که عمداً بوسیله هارن، غالمغال وآوازهای تخریش کننده سبب اذیت دیگران گردد.**

**۴- شخصی که مجنونی را که مردم از او می ترسند در راه عام رها سازد.**

**۵- شخصی که درمورد حیوانی که در حیازت او است یا مسؤولیت آنرا بدوش دارد، احتیاط لازم را از جهت جلو گیری خطر یا ضرر ممکنه اتخاذ ننماید.**

## د کوډو او نورو عملونو له لارې د پيسو لاسته راوړل

**۹۱۴ ماده:**

هغه شخص چې له خلکو څخه د پيسو، مال يا منفعت د لاسته راوړلو په منظور، کف شناسي، کوډې، رمالي، وړاند وينه، پېرى نيونه، فال ليدل، بخت خلاصول، تعويض ليکل او نور ورته اعمال ترسره کړي يا د پورته ذکر شوو موخو لپاره ځاى (مکان) تخصيص کړي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

## د حرام حيوان د غوښې پلورل يا وېش

**۹۱۵ ماده:**

هغه شخص چې د حرام حيوان غوښه نورو ته د پلورلو يا وېش په قصد، ذبح، وساتي، عرضه يا وپېري، په متوسط حبس محکومېږي.

## بدست آوردن پول از طريق جادوگرى و ساير اعمال

**مادهٔ ۹۱۴:**

شخصى که بمنظور بدست آوردن پول، مال يا منفعت از مردم، کف شناسى، جادوگرى، رمالى، پيش گويى، جن گيرى، فال بينى، بخت گشايى، تعويض نويسى و ساير اعمال مشابه را انجام داده يا مکانى را به اهداف فوق الذکر تخصيص دهد، به جزاى نقدى از ده هزار تا سى هزار افغانى، محکوم مى گردد.

## فروش يا توزيع گوشت حيوان حرام

**مادهٔ ۹۱۵:**

شخصى که گوشت حيوان حرام را به قصد فروش يا توزيع به ديگران، ذبح، نگهدارى، عرضه يا خريد نمايد، به حبس متوسط، محکوم مى گردد.

## انفاذ

**۹۱٦ ماده:**

(۱) دغه قانون په رسمي جريده کې د خپرېدو له نېټې څخه نهه میاشتې وروسته نافذېږي.

(۲) ددې قانون په نافذېدو سره، د لاندې تقنيني سندونو حکمونه لغو کېږي:

۱- د ۱۳۵۵ کال په (۳۴۷) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د جزا قانون.

۲- د ۱۳۵٦ کال په (۳۹۱) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د جزا د قانون (۱) ګڼه ضميمه.

۳- د ۱۳٦۰ کال په (۴۹۸) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د جزا د قانون (۲) ګڼه ضميمه.

۴- د ۱۳٦۰ کال په (۴۸۴) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د جادې د ترافيک د قانون اووه ويشتمه ماده او له يوشپېتمې تر اته اويايمې پورې مادې.

## انفاذ

**مادۀ ۹۱٦:**

(۱) این قانون نه ماه بعد از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می گردد.

(۲) با انفاذ این قانون، احکام اسناد تقنینی ذیل لغو می گردد:

۱- قانون جزا منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۳۴۷) سال ۱۳۵۵.

۲- ضمیمۀ شماره (۱) قانون جزا منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۳۹۱) سال ۱۳۵٦.

۳- ضمیمۀ شماره (۲) قانون جزا منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۴۹۸) سال ۱۳٦۰.

۴- مادۀ بیست وهفتم و مواد شصت ویکم تا هفتاد وهشتم قانون ترافیک جاده منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۴۸۴) سال ۱۳٦۰.

۵- د ۱۳٦۲کال په (۵۴۷) ګڼه رسمي جريده کې خپره شوې د جزا د قانون (۳) ګڼه ضميمه.

٦- د ۱۳٦٦ کال په (٦۴۹) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د کورني او بهرني امنيت په وړاندې د جرمونو قانون.

۷- د ۱۳۷۰ کال په (۷٦۳) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د افغانستان په جمهوريت کې د اعدام د حکم د تحديد قانون.

۸- د ۱۴۲۱ هـ.ق کال په (۷۹۳) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د قاچاق د انسداد قانون.

۹- د ۱۴۲۱ هـ.ق کال په (۷۹۵) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د علفچر او مرعي د قانون د اتلسمې مادې (۳) فقره.

۱۰- د ۱۳۸۲ کال په (۸۱۹) ګڼه رسمي جريده خپور شوی د افغانستان بانک د قانون له نه څلوېښتمې تر اته پنځوسمې مادې پورې او شپېتمه ماده.

۵- ضميمهٔ شماره (۳) قانون جزا منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۵۴۷) سال ۱۳٦۲.

٦- قانون جرايم عليه امنيت داخلی وخارجی منتشرهٔ جريده رسمی شماره (٦۴۹) سال ۱۳٦٦.

۷- قانون تحديد حکم اعدام در جمهوری افغانستان منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۷٦۳) سال ۱۳۷۰.

۸- قانون انسداد قاچاق منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۷۹۳) سال ۱۴۲۱هـ.ق.

۹- فقرهٔ (۳) مادهٔ هجدهم قانون علفچر ومرعی منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۷۹۵) سال ۱۴۲۱هـ.ق.

۱۰- مواد چهل ونهم تا پنجاه وهشتم ومادهٔ شصتم قانون دافغانستان بانک منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۸۱۹) سال۱۳۸۲.

۱۱– د ۱۳۸۳ کال په (۸۲۸) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی د افغانستان د تاریخي او فرهنگي آثارو د ساتنې د قانون له څلور اویایمې مادې څخه تر اتیایمې مادې پورې.

۱۲– د ۱۳۸۴ کال په (۸۴٦) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی د اطفالو سرغړونو ته د رسیدگۍ د قانون د څلورمې مادې ۱ جز، د پنځمې مادې (۱) فقره، شپږمه، پنځه دېرشمه او نه دېرشمه ماده.

۱۳– د ۱۳۸۵ کال په (۹۱۲) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی د ژوند چاپېریال د قانون اویایمه ماده.

۱۴– د ۱۳۸۷ کال په (۹۵۲) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی د تروریستي جرمونو په وړاندې د مبارزې د قانون له اتمې تر شلمې مادې پورې.

۱۵– د ۱۳۸۸ کال په (۹۸۰) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی د اوبو د قانون پنځه دېرشمه ماده.

۱٦– د ۱۳۸۸ کال په (۱۰۰۵) گڼه رسمي جریده کې خپور شوی د بذري

۱۱– مواد هفتادو چهارم تا هشتادم قانون حفظ آثار تاریخی وفرهنگی افغانستان منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۸۲۸) سال ۱۳۸۳.

۱۲– جزء ۱ مادۀ چهارم، فقرۀ (۱) مادۀ پنجم، مواد ششم، سی وپنجم وسی ونهم قانون رسیدگی به تخلفات اطفال منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۸۴٦) سال ۱۳۸۴.

۱۳– مادۀ هفتادم قانون محیط زیست منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۹۱۲) سال ۱۳۸۵.

۱۴– مواد هشتم تا بیستم قانون مبارزه علیه جرایم تروریستی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۹۵۲) سال ۱۳۸۷.

۱۵– مادۀ سی وپنجم قانون آب منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۹۸۰) سال ۱۳۸۸.

۱٦– مادۀ بیست وپنجم قانون تخم های بذری منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره

تخمونو د قانون پنځه ویشتمه ماده.

۱۷- د ۱۳۸۹ کال په (۱۰۲۵) ګڼه رسمي جریده‌کې خپور شوی د مسکراتو اومخدره توکو په وړاندې د مبارزې او د هغو د کنترول د قانون له یو څلوېښتمې تر څلور شپېتمې مادې پورې.

۱۸- د ۱۳۹۱ کال په (۱۰۸۷) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د ځنګلونو د چارو د تنظیم د قانون له درویشتمې تر څلوېښتمې مادې پورې.

۱۹- د ۱۳۹۲ کال په (۱۱۱۰) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د احصائیې د قانون درویشتمه ماده.

۲۰- د ۱۳۹۳ کال په (۱۱۳۲) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د جزایي اجراآتو د قانون دوه سوه او پنځمه ماده.

۲۱- د ۱۳۹۳ کال په (۱۱۴۲) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي د قانون نه دېرشمه ماده، له پنځوسمې تر څلور

(۱۰۰۵) سال ۱۳۸۸.

۱۷- مواد چهل ویکم تا شصت و چهارم قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۰۲۵) سال ۱۳۸۹.

۱۸- مواد بیست وسوم تا چهلم قانون تنظیم امور جنگلات منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۰۸۷) سال ۱۳۹۱.

۱۹- مادۀ بیست وسوم قانون احصائیه منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۱۱۰) سال۱۳۹۲.

۲۰- مادۀ دوصد وپنجم قانون اجراآت جزایی منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۱۳۲) سال ۱۳۹۳.

۲۱- مواد سی ونهم، پنجاهم تا پنجاه وچهارم قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۱۴۲) سال

پنځوسمې مادې پورې.

۲۲- د ۱۳۹۳ کال په (۱۱۴٦) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي د قانون د درييمې مادې ۱ جزء، څلورمه ماده، له شلمې تر څلور ويشتمې مادې پورې.

۲۳- د ۱۳۹۳ کال په (۱۱۴٦) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی په نظامي قطعاتو کې د اطفالو د استخدام د منع قانون.

۲۴- د ۱۳۹۴ کال په (۱۱۸۲) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د هستوي انرژۍ د قانون پنځه پنځوسمه ماده.

۲۵- د ۱۳۹۴ کال په (۱۱۹۸) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د مالياتو د چارو د ادارې د قانون له پنځه څلويښتمې تر اووه څلويښتمې مادې پورې.

۲٦- د ۱۳۹۵ کال په (۱۲۱۰) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوی د پيسو وينځلو او له جرمونو څخه د راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي د قانون د پنځوسمې مادې د (۱) فقرې د ۲ جز،

۱۳۹۳.

۲۲- جزء ۱ مادهٔ سوم، مواد چهارم، بيستم تا بيست وچهارم قانون جلوگيری از تمويل تروريزم منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۱۱۴٦) سال ۱۳۹۳.

۲۳- قانون منع استخدام اطفال در قطعات نظامی منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۱۱۴٦) سال ۱۳۹۳.

۲۴- مادهٔ پنجاه وپنجم قانون انرژی هستوی منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۱۱۸۲) سال ۱۳۹۴.

۲۵- مواد چهل وپنجم تا چهل وهفتم قانون ادارهٔ امور ماليات منتشرهٔ جريدهٔ رسمی شماره (۱۱۹۸) سال ۱۳۹۴.

۲٦- تعديل جزء ۲ فقرهٔ (۱) مادهٔ پنجاهم، جزء ۱ فقره های (۲ و۳) و فقره های( ۴ و٦) مادهٔ پنجاه ويکم و فقرهٔ (۱) مادهٔ پنجاه ودوم قانون جلوگيری از پول شويی وعوايد

د يو پنځوسمې مادې د (۲ او ۳) فقرو د ۱ جز او د(۴ او ٦) فقرې او د دوه پنځوسمې مادې د (۱) فقرې تعديل.

۲۷- د ۱۳۹۵ کال په (۱۲۲٦) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د ټاکنو د قانون نهه نوي يمه ماده.

۲۸- د ۱۳۹۵ کال په (۱۲۳۰) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د مؤلف، مصنف، هنرمند او څېړونکي د حقوقو د ملاتړ د قانون (کاپی رایت) یو دېرشمه ماده.

۲۹- د ۱۳۹۵ کال په (۱۲۳۵) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د گمرکاتو د قانون له يو سلو دوه نوي يمې مادې څخه تر يوسلو څلور نوي يمې مادې پورې.

۳۰- د ۱۳۹۵ کال په (۱۲۴۴) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د انسان له قاچاق او مهاجرينو له قاچاق سره د مبارزې د قانون له لسمې مادې تر يو ويشتمې مادې او د دوه ويشتمې مادې (۲او ۳) فقرې.

۳۱- د ۱۳۹۵ کال په (۱۲۴۴) گڼه

ناشی از جرايم منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۲۱۰) سال ۱۳۹۵.

۲۷- مادۀ نود ونهم قانون انتخابات منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۲۲٦)سال۱۳۹۵.

۲۸- مادۀ سی ويکم قانون حمايت حقوق مؤلف، مصنف، هنرمند ومحقق (کاپی رايت) منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۲۳۰) سال ۱۳۹۵.

۲۹- مواد يکصدو نود ودوم تا يکصد ونود وچهارم قانون گمرکات منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۲۳۵) سال ۱۳۹۵.

۳۰- مواد دهم تا بيست ويکم و فقره های (۲ و۳) مادۀ بيست ودوم قانون مبارزه با قاچاق انسان و قاچاق مهاجران منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره(۱۲۴۴) سال ۱۳۹۵.

۳۱- ضميمۀ شماره (۴) قانون جزا

رسمي جريده کې خپره شوې د جزا د قانون (۴) گڼه ضميمه.

۳۲- د اختطاف د جرم په هکله د ۱۳۹۵ کال په (۱۲۴۴) گڼه رسمي جريده کې خپره شوې د ۱۳۵۵ کال په (۳۴۷) گڼه رسمي جريده کې خپور شوي د جزا د قانون (۵) گڼه ضميمه.

۳۳- د ۱۳۹٦ کال په (۱۲۵۴) گڼه رسمي جريده کې خپور شوی د ځمکوالۍ د چارو د تنظيم د قانون شپږ نوي يمه تر يوسلويوه يمې مادې پورې او يوسلو څلورمه ماده.

۳۴- د نورو قوانينو هغه جزايي حکمونه چې ددې قانون د حکمونو له کوم حکم سره په مغايرت کې وي.

منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۲۴۴) سال ۱۳۹۵.

۳۲- ضميمۀ شماره (۵) قانون جزا منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۳۴۷) سال ۱۳۵۵ در مورد جرم اختطاف منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۲۴۴) سال ۱۳۹۵.

۳۳- مواد نود وششم تا يکصد و يکم و مادۀ يکصد وچهارم قانون تنظيم امور زمينداری منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۲۵۴) سال ۱۳۹٦.

۳۴- احکام جزايی ساير قوانين که با حکمی از احکامی اين قانون در مغايرت قرار داشته باشد.

# اشتراک سالانه:

در مرکز و ولایات : (۹۰۰) افغانی

برای مامورین دولت: با ۲۵ فیصد تخفیف

برای متعلمین و محصلین با ارائه تصدیق، نصف قیمت

برای کتاب فروشی ها با ۱۰ فیصد تخفیف از قیمت روی جلد

خارج از کشور: (۲۰۰) دالر امریکائی

**ISLAMIC REPUBLIC**
**OF**
**AFGHANISTAN**
**MINISTRY OF JUSTICE**

# OFFICIAL GAZETTE

**Extraordinary Issue**

# Penal Code

**Date:15th May.2017**
**ISSUE NO:(1260)**